فتاویٰ یعقوبیہ

تألیف

ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الباہر

شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نورزئی چرک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ نوری کاریزی



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

فتاوٰی

یعقوبیه

جلد (۱۲)

تألیف:

ذو المجد الفاخر و العلم الذاخر و الفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ
کانسی روڈ کوئٹہ

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاتہ الجاری بانی و مدیر جامعہ ام القراء چمن ۔

الحمدللہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آلہ و صحبہ و کل من اھتدیٰ بھدیہ المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی اللہ الشیخ الفقیہہ المفتي النبیہ الشیخ عبدالرازق زید مجدہ المدیر بالمدرسة المحمدیة فی کویتہ و علی الاسف انی لم آستوعب المطالعة لتزاھم آشغالی و تفاقم ھمومی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منھا عثرت علی تفوقہہ و عموم و قوفہہ فی آنحا العلوم من درایة الحدیث وروایة و من ناحیة الفقہ الحنفی دقا وجلا و من ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیہ ذلک من رد البدع و المنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السھلة الوجیزة الی لغتنا الافغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جھودہ و مساعیہ فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفھا قبلھا و وفقہ لتالیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوھا و یستفیدوا منھاخذما نظرت ودع شیئا سمعت بہ . فی طلعة الشمس مایغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره ہائی پاس آخری استیاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښی برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولوالاباب وصلوات ربي و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چې ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چې پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چې د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص داوویل چې صادق هغه قائل ښې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چې ډیری داسی جدیده مسائل پکښی سته چې متقد مینونه دي بیان کړي خو به دي، مذکور کتاب، کی سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینکل صاحب شیخ الحدیث مدرسة صدیقیة کراچی باکستان .

الحمد اللہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الہدیٰ وفقہاء ماء الی یوم الجزی ۔ امابعد :

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ ادعیٰ من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہوکر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودة والحوادث محدودة کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دارالعلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اوار دوزبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات اورتراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود ببوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالیٰ اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب ﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

دمطالبو فهرست

فتاویٰ
یعقوبیه

جلد (١٢)

کتاب التجارت

تألیف:

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم الله لوی کاریزی

مکتبه حقانیه
کانسی روڈ۔ کوئٹه

دكتاب لنډه پيژند ګلوي

****

دكتاب نوم: كتاب التجارت

مؤلف: مفتي عبدُالرّازق كدنوي

كمپوزر: راز محمّد راز،مركز كتابت كوټه

دخپرېدو كال: ۲۰۲۰ عيسوي

صفحات: ( )

كتاب التجارت

محترمو لوستونكو! دا كتاب په نامه د تجارت دى . د تجارت هر قسم احكام پكښې ذكر دي او دا ذكر په طريقه د حساب د حروفو د ابجد يا حروف مقطعات ذكر راغلى دى معنى اول هغه مسائل ذكر دي چې په اول سره د مسئلې كې (آ، الف) وي بيا چې (با، تا) ذكر وي تر پايه پورې نو لهذا په كتاب كې به تكرار ډېر وي ولې يو واري موږ كتاب ته مفصل باب نا كه ذكر شويدى بيا په دې جلد كې د حروفو په ترتيب مسائل ذكر شويدي نو ځكه به تكراروي بلكې په ټولې فتاوى كې تكرار سته ولې چې مسائل يا خو د سائل دطرفه راغلې وي موږ ليكلې وي بيا بعينه دا مسئله راغلې وي بيا ليكلې وي البته لږ تغير به وي .

بسم الله الرحمن الرحیم

د نامناسبه امورو اصلاح:

نبي کریم ﷺ په خپله بازار ته تلی او د نامناسبه امورو (کارو) اصلا ح به يې کوله . په حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ د غلې یعني غنمو په یوه کوټه تېر سو، نو آنحضرت ؐ خپل لاس مبارک په دغه غله کي داخل کئ او کوتي يې په لندې سوې نو نبي کریم ﷺ د غلې خرڅولو والا څخه پوښتنه وکړه چي دا څه شی دي هغه ورته وویل چي په غلې اوبه د باران لګېدلی دی ځکه غله لنده ده، نبي کریم ﷺ ورته وویل چي تا لنده غله د غلې د کوټي پر سر لوړ ولي نه دي وراچولي چي خلګ يې ووینې او ويې فرمایل چي څوک ملاوټ یعني ګډوالی وکړي هغه زموږ څخه نه دی .

"عن ابی هریرةؓ ان رسول اللّٰه ﷺ مر علی صبرة من طعام ، فأدخل یده فیها : فنالت ا صابعة بللاً ، فقال یا صاحب الطعام ، ماهذا؟ قال أصابته السماء یا رسول اللّٰه قال ، افلا جعلته فوق الطعام حتی یراه الناس ، ثم قال من غش فلیس منا "(جامع الترمذی ۱/۲۷۵) ابواب البیوع ، باب ما جاء فی کراهیة الغش فی البیوع قدیمی)



د موجوده نظام اثرات:

نن په معاشره کي د حلال د ګټلو کسب معاش د ښو طریقو فقدان دی، یو ډېر لوی جماعت خلګو، چاپلوسي، خوشامد، غوړ زباني او د حکومت کاسه لیسي د معاش او ګټې ذریعه جوړه کړې ده، دا یو هنر بلل کیږي . دغه لوړ فکرونه او ذهني وسعت تمامي خوبیاني ختمي کړي او د پستي او ذلت والا ژوند د تېرولو عادت یې جوړ کړی دی او دغه فاسد او موذي جراثم د وبا په شکل خوریږي او د خلګو په زړو ننوزي . دغه رنګه په انساني نفوس کي خسیسیت او کمینګي څخه ډک کول کیږي او طبیعتونه، نېک اخلاق نېک سیرت او د دینداري څه نفرت کول شروع کوي دغه ټول د موجوده معاشي او اقتصادي نظام اثرات دي:

"وربما كان اقليم واسع ليس فيهم احديهمه دينه، ولم يكن ليحصل ايضا إلا بقوم تكسبون بتهيئة تلك المطاعم والملابس وإلا بنية وغيرها ويتروكون اصول المكاسب التى عليها بناء نظام العالم ، وصار عامة من يطوف عليهم يتكلفون محاكاة العناد يد فى هذا الاشياء، وإلا لم يجدوا عنهم خطوة ، ولا كانوا عندهم على بال، وصار جمهور الناس عيالاً على الخليفة يتكففون منه ولتوقف مكاسبهم على صحبة الملوك والرفق بهم وحسن المعاودة معهم و التملق منهم ، كان ذلك هو الفن الذى تتعمق افكارهم فيه، وتضيع اوقاتهم معه فلما كثرت هذه الاشغال تشبّح فى نفوس الناس هيأت خسية واعرضوا عن الاخلاق الصالحة (حجة البالغة (١٨٨/١) القسم الاول فى القواعد الكلية المبحث السادس، مبحث السياسيات الليلة، باب الاقامة الارتفاقات و اصلاح

الرسوم)



په رزق کي وسعت او پراخي:

د رزق پراخي په دنيا کي د سرکشي او فساد د سبب دی، که چيري الله تعالی په پخپل فضل او کرم ټوله خلک مالداره کړي نو به ددغه د دنيا نظام چلول مشکل سي که چيري ټوله خلک د ميلانو او کارخانو مالکان سي، نو په ميلان او کارخانو کي به کار څوک کوي که چيري ټوله آقا او مالک جوړ سي نو غلام او مزدور به څوک وي، کله چي انسان د مال او دولت د ډېر بښت د وجهي بې نيازه سي نو سرکښه او باغي جوړيږي (علق ٧٧٦)

د عربو په باره کي مشهوره ده چي کوم کال به په پيداوار کي کثرت سو نو عربو به يو د بله قيد کول او قتل کول شروع کړل او کله چي به وچکالي سوه نوبه ټوله شيان پرېښول . په قرآن مجيد کي دي: ﴿ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ وَلَكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴾

ترجمه: او که چيري الله تعالی د خپلو ټولو بندګانو روزي فراخه کړي نو هغه به په دنيا کي شرارت شروع کړي، ليکن څونه رزق چي وغواړي (مناسب) اندازه باندي ور نازلوي او د خپلو بندګانو (مصالح) پيژندلو والا او (د هغوی حال) ليدلو والا دی .

و قیل نزلت فی العرب کانوا إذا اخصبوا تحاربو او إذا جدبوا او اصابهم الجدب و لقحط انتجعوا ای طلبوا الماء والکلاء و تضرعوا وفی ذلک یقول شاعر:

قوم إذا انبت الربیع بارضهم
نبتت عدواتهـــم مع البقل



د مال او دولت کثرت (ډېر والی)

د مال او دولت ډېروالی د خپل ذات په اعتبار څه خوښ یا محبوب شی نه دی بلکه غټ د خسارې او نقصان شی دی، ځکه ډېر والی د مال د الله تعالی د لیري والي سبب جوړیږي .د روزمره مشاهده او لیدنه ده چې د تنګ دستي بغیره د الله تعالی و طرفته رجوع ډېره کمه وي .

او هغه خلک چې و ځلور طرفته د خپل سخا صدقه، خیرات لاسونه غځوي او په نېکو کارو کي حصه اخلي دداسي خلکو دپاره مال نقصانده نه دی لیکن داسي خلک ډېر کم دي .عام دا لیدل سوي دي چیري چې د مال دولت کثرت وي هلته فسق، فجور، عیاشي رقم رقم بدیاني (ګناهونه) موجود وي، بې ځایه خرڅول، نوم نشان یعني ریا او نور خرافات وغیره باندي صرفول خو د مال دولت د معمولي کرشو څه دي پر کوزده او واده او نورو فضول بې فائده رسمو رواجو باندي مال دولت د او بو په رقم بېهول کیږي، لیکن چې د ضرورت مندانو، ورو او حاجتمندانو باندي د خرڅېدو دپاره ورته ووایي نو زړبه یې ګرنکی سي، تجریاني یې په دغه حال کي خالسي پر غرباء او مساکینو باندي د خرڅ دپاره د دوی سره هیڅ

مـال نـه وي دو نه لوى مالداره فوراً فقير سي ، دا خو د مال او دولت كمال دى چي فقير خو دا وله څخه فقير وو ليكن مال داره يې هم فقير كړى .

امـام غـزالـيؒ د حـضـرت يـحيىٰ عليـه السلام څخه روايت نقل كړى دى: چي يو وار هغـوى د شيـطـان څخـه پـوښتنه وكړه چي تا ته تر ټولو كوم سړى محبوب دى او تر ټولو زيات د كوم سړي څخه نفرت كوې هغه و رته وويـل چي زمـا تـر ټـولـو زيـات مـحبت د بخيـل مومن سره دى او تر ټولو زيـات نـفـرت مـي د فـاسق سـخي څخه دى هغه پوښتنه څيني وكړه چي د دغـه وجـه څـه ده؟شيـطـان وويل چي د بخيـل د خپـل بخل په وجه ما د ځان بې فـكـر كـوي ځـكـه چي د ده بـخل د ده د جهنم ته د بېولو لپاره كافي دى ليـكـن د فاسق سـخي په حقله ماته هميشه دا فكر وي چي داسي نه وي چي الله تعالى د ده د سخاوت په وجه و ده ته معافي وكړي:

حـضـرت ابـوذر غـفـاريؓ فرمايي چي زه يو وار د حضور اقدسﷺ په خدمت كـي حـاضـر سـوم حـضـورﷺ هغه وخت د بيت الله و سايې تـه ناست وو زه چي يې وليدم نبي كريمﷺ وفرمايل :

پـه رب د كـعبې دي مـي قسـم وي هـغـه خلك ډېر په نقصان كي دي، ما عـرض وكـړ چـي زمـا مـور او پـلار دي پـر تـا قربان وي هغه كوم خلك دي هـغـه ﷺ وفـرمـايـل د چا سره چي مال ډېر وي ، ماسوى د هغو خلكو چي داسـي داسـي يـې خـرڅـوي د خپـل راستـه څه چپـه څه مخ څه شا څه، ليـكـن داسي خلك ډېر كم دي .

”ولـقـى يـحيـى بـن زكـريـا عـليـه السلام ابليس فى صورته ، فقال يا ابليس اخبرنـى بـأحـب الـنـاس اليك و ابغض الناس اليك؟ قال : احب الناس إلى

المؤمن البخيل و ابغض الناس إلى الفاسق السخى ، قال له لِمَ؟ قال لأن البخيل قد كفانى بخله و الفاسق اَتخوف ان يطلع الله عليه فى سخائه فيقبله ـ"(احياء العلوم ۱۰/۱۷۹۵)

"عن ابى ذر رضى الله تعالى عنه قال انتهيت إلى النبىﷺ و هو جالس فى ظلة كعبة فلما رانى قال "هم الخاسرون و رب الكعبة" قال: فجئت حتى جلست فلم اتقاء ان قمت ، قلت : يا رسول الله ، فداك ابى و امى ، من هم قال هم الاكثرون اموالا، إلا من قال هكذا و هكذا و هكذا، من بين يديه و من خلفه و عن يمينه و عن شماله ، و قليل ما هم "(الحديث ـ الصحيح مسلم ۱/۳۲۰ ـ كتاب الزكوة)



مالداره کېدل:

مالداره کېدل څه بده خبره نه ده . اسلام دا نه غواړي چې د ده منونکي دي ناداره او غريبان وي . يووار حضورﷺ د صحابه کرامو پر يو مجلس تشريف راوړى يعني راغلى هغه وخت د نبي کريمﷺ پر سر مبارک داوبو اثرات وو صحابه کرامو عرض وکړ چې اې رسول خداﷺ نن مو ډېر تا خوشحاله وينو ، حضورﷺ وفرمايل چې هو ، بيا د مالداره خلکو ذکر شروع سو نو نبي عليه السلام وفرمايل:

"لا بأس بالغنى لمن اتقى الله عزوجل ، و الصحة لمن اتقى خير من الغنى و طيب النفس من النعيم"

ترجمه: کوم سړی چې د الله تعالى څخه ډېرېږي د هغه دپاره په مال داري کې څه حرج نسته ، د يو متقي سړي دپاره تندرستي (صحت) تر مالداري

بهتر دی او د زړه خوشحاله کېدل هم د نعمتو څه یو نعمت دی . (مسند احمد ۵/ ۳۷۲ رقم الحدیث ۲۳۲۰۶ ، احادیث رجال من أصحاب النبی)

☆......مالداره باید خپل ظاهري حالت ښه وساتي:

عبد الحکیم فهدي لیکلي دي: امام اعظم ابو حنیفهؒ یوه ورځ په خپلو ناستو خلکو کې دیوه سړي کالي (کپړې) زړې، څیري ولیدې، کله چې مجلس ختم شو او صرف هغه سړی پاته شو نو امام صاحب و هغه ته وفرمایل دغه (جای نماز) مصلیٰ پورته کړه تر دغه لاندي جو (اوربشي) دي دغه واخله هغه سړي چې جای نماز پورته کړی تر هغه لاندي یو زر درهم وختل ، ده ورته وفرمایل دغه واخله خپله حال دي په ټهیک کړه هغه سړي ورته وویل ما ته ضرورت نسته زه مالداره یم، امام صاحب ورته وفرمایل آیا تا دغه حدیث نه دی اورېدلی: ان الله یحب ان یری اثر نعمته علی عبده .

ترجمه: الله تعالی د خپل نعمت اثر پر خپل بنده باندي لیدل خوښوي .

تا ته په کار ده چې ته خپل حالت ښه وساتې دپاره د دې چې ستا دوست ستا حال وویني پرېشانه نه سي .

☆......مالداره د الله تعالی په مخ کې:

نبي کریم د پخوا زماني دیو سړي واقعه بیان کړه د دغه حضرت حذیفهؓ روایت کړی دی، وفرمایل: چې د الله په دربار کې یو بنده راوستل سو چې و هغه ته الله مال ورکړی وو، الله تعالی د هغه څخه پوښتنه وکړه

چي تا په دنیاکي څه عمل وکړی، د راوي بیان دی د الله څخه هیڅ خبره نسي پټیدای، هغو غرض وکړی اې رب تا و ماته مال راکړی وو ما د خلګو سره کاروبار کاوه او د رګزر تېره پاته زما عادت وو، ما به د پیسو والا مالدارانو سره هم د آساني معامله کوله او و غریبانو او مفلسانو ته به مي وخت او مهملت ورکاوه او ورته ویل به مي چي کله وغواړې را ته ادا یې کړه، الله تعالی ارشاد وفرمایی زه تر تا زیات د دګردي تیري وپاتي حق لرم زما د دغه بنده سره درګزر وکړئ .

عقبه بن عامر او ابو مسعودؓ فرمایی چي موږ د رسول الله ﷺ د زبان مبارک څخه داسي واورېدل:

"عن حذيفة قال آتى الله بعبد من عباده اتاه الله مالاً ، فقال ماذا عملت في الدنيا؟ قال : و لا يكتمون الله حديثاً(النساء: ٤٢) قال يا رب اتيتنى ما لا فكنت ابايع الناس و كان من خلقى الجواز ، فكنت ايسر على الميسر و انظر المعسر فقال الله تعالى انا حق بذاك منه ، تجاوزوا عن عبدى هكذا سمعنا من رسول الله ؐ"(رواه مسلم هكذا موقوفا على حذيفه و مرفوعاً عن عقبة و ابى مسعود ـ (الترغيب و الرهيب ٢/٤٤٧ ـ رقم الحديث ٢٧٢٤ـ كتاب البيوع)

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل چي دقیامت په ورځ به انسان د حساب دپاره راوستل سي د الله تعالی و مخ ته به ودرول سي الله تعالی به سوال ځیني وکړي چي ما و تا ته مال درکړی وو او داسي نعمتونه مي درکړي وو تا په هغه څه وکړو هغه عرض وکړي چي اې ربه ما هغه جمع کړل او ګټه مي په وکړه د هغه

څخـه ډېر پرېښـوو چي زماڅه وو ما و دنيا ته بيرته واستوه زه به ټوله را حاضر کړم الله تعالی به ارشاد (حکم) وفرمايي چي د دې ځای څخه د بيرته تلـلـو قانـون نسته، تاچي د دلته د راتګ څخه دمخه دلته را هستولي دي هغه را ښکاره کړه، نتيجه به دا ووزي چي هغه سړی به ددغه ځای د راتګ دپاره هيڅ شي نه وي راهستولي لهذا د ده په باره کي به د دوزخ د داخلېدو فيصله وسي.

"عن انسؓ عن النبیﷺ قال: يجاء بابن آدم كانه بذج فيوقف بين يدی الله جل جلالـه فيقـول الله لـه اعطيتك و خـولتك و انعمت عليك فمـاذا صـنـعـت؟ فيقـول: يـا رب جمعته و ثمرته فتركه اكثر ما كان فارجعنی اتك به، فيقـول الله له أرنی ما قدمت فيقول: يا رب جمعته و ثمرته فتركه اكثر ما كان فـارجعـنـی اتك بـه فـاذا عبد لـم يقدم خيراً فيمضیٰ به إلی النار-"(الترغيب والترهيب ۲/ ٤٤١- رقم الحديث ٢٦٦٩- كتاب البيوع)



د سپين ږيري سړي زړه:

د حـضـرت ابـو هـريـره رضـی الله عـنــه څـخـه روايت دی چي نبي كريم وفرمايل د سپين ږيري سړي زړه د دوو شيانو په محبت كي ځوان وي:

"عـن ابـی هريرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال قلب الشيخ شاب عـلـی حـب اثـنـين حـب العيش او قال طول الحياة وكثرة المال"(الترغيب و الترهيب ۲/ ٤٤٠، رقم الحديث ٢٦٦٣ كتاب البيوع)

حلال مال پر ښه ځای خرڅیږي:

حلال مال پر ښه ځای خرڅیږي او حرام مال پر ځای نه خرڅیږي . په دې باره کي یو سبق آموز حکایت (قصه) شیخ علی متقی عارف بالله فرمایي : چي یو متقي او پرهیزګار نیک او صالح سړي کسب معاش یې کاوی او د هغه معمول داوو چي څه به یې ګټل د هغه څخه به یې یوه دریمه حصه د الله په لار کي خرڅول او یوه دریمه حصه به یې پر خپله ضرورتو باندي خرڅوله او یوه دریمه حصه به یې پر خپله ذریعه معاش باندي لګوله .

یوه ورځ ده ته یو دنیادار سړی راغلی او وویل یې چي ای شیخه! زه غوارم چي یو څه مال د الله په لار کي خرڅ کړم لهذا ته و ماته دیو مستحق پته راکړه، هغه ورته وویل چي اول خو ته حلال مال وګټه او بیا د هغه څخه یې د الله په لار کي خرڅ کړه هغه و مستحق سړي ته رسیږي، دنیادار سړي دغه پر مبالغه محمول کړه، شیخ وویل ښه ته ولاړ سه تا ته چي هر داسي سړی ملاو سي چي د هغه دپاره ستا په زړه کي شفقت او مهرباني جذبه پیدا سوه و هغه ته د صدقې مال ورکړه نو کله چي هغه سړی د شیخ څخه ولاړ سو ولاړی نو هغه یو سپین ږیری ړوند ولید، د نیادار په زړه کي د هغه دپاره د رحم جذبه پیدا سوه او دایې وویل چي تر دغه بې چاره څوک زیات د صدقې مستحق کېدای سي د خپلي د ګټي د مال څخه یې یو څه حصه و هغه ته ور خیرات کړه کله چي دنیاداره دا بله ورځ د ړانده بیچاره و څنګ ته تېرېدی نو هغو واورېدل چي هغه و یو سړي ته د پرون ورځي قصه بیانوله چي پرون زما سره یو مالدار سړی تېر سو د هغه پر ما رحم راغلی او ما ته یې دومره مال راکړی چي هغه ما د

پلانکي بد کاره سړي سره په شراب نوشي کي صرف کړ، دنیادار چي واقعه واورېده، و شیخ ته راغلی او و هغه ته یې ټوله قصه بیان کړه شیخ چي واقعه واورېده د خپلي ګټي څخه یو درهم و ده ته ورکړی او وویل چي دا واخله او چي د دې ځایه ولاړې اول چي هر څوک دي ولیدی و هغه ته دغه درهم په خیرات کي ورکړه نو هغه د شیخ درهم واخیستی د کور څخه دباندي راووتی د هغه نظر تر ټولو دمخه پر یو ښه سړي ولګېدی چي په ظاهره د مال او دولت والا معلومېدی اول خو هغه و دغه سړي ته هغه درهم ورکولو کي سام محسوس کړی مګر د شیخ حکم وو ددې وجهي هغه مجبوراً هغه درهم ودغه سړي ته ورکړی .

هغه سړي درهم واخیستی او خپلي شا خوا ته ولاړی، د ده سره سره مالداره هم ولاړی، مالداره ولیدل چي هغه سړی و یو کنډواله ته ور ننوتی او د هغې کنډوالي څخه پر هغه بله خوا وواتی او بازار ته ولاړی، مالداره هم و هغه کنډواله ته داخل سو، او هغه په کنډواله کي هیڅ شی نه ولیدی ، البته هغه یو مړه کوتره ولیده او بیا مالداره د هغه سړي په شاپسي ولاړی ، بیا یې و ده ته قسم ورکړی او پوښتنه یې ځیني وکړه چي ته څوک یې اوڅه حال دي دی هغه وویل چي زه یو غریب انسان یم، زما کوچني کوچني بچیان دي هغه ډېر وږي وو کله چي ما د دوی لوږه نه سوه لیدای نو ډېر د اضطراب او پریشاني په حالت کي د دوی د خوراک د انتظام د برابرېدو دپاره د کور ووتم او سرګردانه ګرځېدم چي مړه کوتره ما ولیده کوتره مي راپورته کړه او هغه مي راواخیسته او د کور و خوا ته روان سوم چي د دغه په ذریعه لوږي څخه بغاري وهونکي کوچنیانو ته یو څه

تسکین او آرام ورکړم مګر کله چي الله ستا په ذریعه ما ته درهم راکړی نو هغه کوتره مي چي د کومه ځایه پورته کړې وه هلته مي وغورځوله او س ددغه مالداره ستر کي خلاصي سوې او ده ته معلومه سره چي د شیخ قول پر مبالغه محمول نه دی بلکه حقیقت دی حلال مال بنه ځای او حرام پر بد ځای خرڅیږي . (مرقاة المفاتیح / ج: ۴ ، ۳۲۹، کتاب الزکوة باب فضل الصدقة الفصل اول، رشیدیه)



د بیزو واقعه

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایی چي د خرڅولو په شیدو کي اوبه مه ګډوئ، بیا نبي کریم د شیدو ورکولو والا هغه حیوانانو ذکر وکړی . د هغه خرڅونکي یو دوه وخته شیدې نه ځیني لوشي او هغه حیوان چي غولانځه یې ډکه سي خرڅوي یې (د پاره د دې چي خریدار یې غولانځه ډکه وویني، دوکوه وخوري د ډېرو شیدو کولو په نیت یې ګرانه رانیسي . دغه نبي کریم ناجائز وبلله .

د دغه بعد حضور ﷺ وفرمایل ستاسو څخه دمخه یو سړی تېر سوی دی هغه یو بل ځای شراب د خرڅولو دپاره ویوړو، هغه په شرابو کي اوبه ګډې کړې او شراب یې څو چنده په زیات کړو (د شرابو د خرڅېدو بعد هغه یوه بیزو رانیوله او په کښتۍ کي سپور سو او روان سو، کله چي د سمندر (دریاب) و مابین ته ورسېدی نو الله تعالی د بیزو په زړه کي د دد د

پيسو په باره کي ور واچوله چې هغه د پيسو تهيلۍ واخلي او د کښتۍ په بادبان پر بانس دي وخيژي، نو بيزو د خپل مال د پيسو تهيلۍ واخيسته او د کښتۍ د بادبان پر بانس وختله او تهيلۍ يې خلاصه کړه . دغه سړي و بيزو ته په افسوس سره کتل بيزو له هغه څخه اشرفۍ راوکښه او په درياب کې يې واچلوه او يوه يې راوکښله په کښتۍ کي يې واچوله .

دغه رنګه بيزو نيمي اشرفۍ په درياب کي واچولې او نيمي يې په کښتۍ کي واچولې يعني د اوبو قيمت په درياب کي ولوېدى او د شرابو قيمت په کښتۍ کي ولوېدى، د شرابو قيمت ورته ميلاؤ سو او د اوبو قيمت ځيني ولاړى .

دا دي واضحه و چې په ګذشته امتو کي دي و يوه امت ته شراب رواوه ليکن زموږ په شريعت کي شراب حرام دي . له دغي قصې څخه مقصد د دهوکه بازۍ د بې برکتي او انجام بيان کول دي :

”وفى رواية بيهقى : قال رسول الله ﷺ : لا تشربوا لبن للبيع ، ثم ذكر حديث المحفلة ثم قال موصولاً بالحديث ، ألا و ان رجلا ممن قبلكم جلب خمراً إلى قرية فشابها بالماء فاضعف اضعافا ، فاشترىٰ ، قرداً فركب البحر حتى إذا لجج فيه الهم الله القرد صورة الدنانير ، فاخذها ، فصد الدقل ، ففتح الصرة ، و صاحبها ينظر إليه فاخذ ديناراً ، فرمى به فى البحر ، و ديناراً فى السفينة حتى قسمها نصفين “(الترغيب والترهيب ٢/٤٥١۔ كتاب البيوع)



تجارتي بائيكاټ:

په هر دور کې د تجارت اهميت ډېر زيات وو او آئنده به هم وي، د دغه اندازه له دې څخه کيږي چې د يو ملک يا قوم نقصان کول مقصود وي نو د هغه سوشل او تجارتي بائيکاټ کول کيږي لکه چې د مکې قريشو د مسلمانانو سره کړي وو، هغه دا چې قريشو يو د ليکلې متفقه معاهده تيره کړې وه چې تر څو پورې بنو هاشم او بنو مطلب محمد ﷺ د قتل وژلو دپاره زموږ په حواله نه کړي تر هغه وخته پورې دې د دغه دوو خاندانو سره هر قسم تعلقات منقطع کړل سي، هيڅ سړي به د دوی سره ميل جول او خبري نه کوي، او د دوی سره به تجارت نه کوي، و دوی ته به د خوراک څيښاک سامان نه ورکوي، که څيري دوی د خوراک سامان رانيول غواړي هم به نه پر خرڅول کيږي، هيڅ سړی به د دوی سره رواداري او همدردي نه کوي، او هيڅوک به د دوی سره رشته او نکاح نه کوي. بعض سيرت نګاران په نزدې دغه معاهده نضر بن حرث ليکلې وه او په بعض روايت کې دي چې عمر بن هشم دغه معاهده ليکلې وه، بهر حال هر څا چې معاهده ليکلې وه نبي کريم و هغه ته بد دعا (ښېرا) وکړه او د هغه لاس شل سو چې کوم لاس يې دغه معاهده ليکلې وه.

دغه معاهده د قريشو د قبائلو تمامو سردارانو دستخط کړې وه و کله چې دغه معاهده مرتب سوه نو دغه يې د کعبې د چت سره راوځوړنه. د دې معاهدې وروسته د بنو هاشم او بنو مطلب څخه مکمل تجارتي و سوشل بائيکاټ وکول سو او د ابو لهب مسوا د بنو هاشم و بنو مطلب د

تمامو افرادو که هغه مسلمانانو وو که کافران وو ټوله په "شعب بني هاشم" کي محبوس او بند سول .

دغه دواړه خاندانه په دغه دره کي مسلسل درې کاله بند پاته سول، دغه درې کاله نهایت دردناک، دل خراش، او سنګین وو، د اسلام دښمنانو د بنو هاشم او بنو مطلب سر مېل جول ، ملاقات، سلام کلام، رشته، پیغام ، تجارت، لین دین ټوله په یوه قلم موقوف کړل، دوکاندارانو پر دوی سودا، سامان د نه خرڅولو قسم وکړی، هر قسم تعاون یې ځیني ختم کړی، هر قسم د خوراک چیښاک شیانو په باره کي چي به معمولي شک وو چي دا به و بنو هاشم یا بنو مطلب ته رسیږي دوی به په هر قیمت رانیوی، او هاشمیانو ته به یې د رانیولو موقع نه ورکوله . کله چي به د دوی و غوږو ته ورسېلده چي د یو ځای څخه سوداګر غله راوړي دوی به د ښار څخه لیري ورغلو هلته به یې د هغو څخه هغه سامان رانیوی، ټوله غله به په هر قمیت چي ورته میلاوېده رانیوله یې، په دغه بائیکاټ کي د بنو هاشم او بنو مطلب ټوله خلګ سخت نقصاني سول او سکونتي مکانات یې بند سول، دوی په یوه دره کي بند سول او په دره کي و دوی ته هیڅ شی نه میلاوېدی، ځکه چي قریشو دره د هر طرف څخه محصور او بنده کړې وه قریشو و دوی ته د خوراک چیښاک هیڅ شی نه ورپرېښووی .

کله چي به د هاشمیانو کوچنیانو د لوږي څخه بغاري وهلې، بې قراره به وو نو د هغوی بغاري به دباندي تر لیري لیري ځایو رسېدلې نو به سیاه دل ، ظالم قریش به په خوشحاله کېدل، لیکن چي په دوی کي به رحم دل

وو هغه به دغه کار ناخوښه باله او صفا به یې ویل چې تاسې نه وینئ چې د دې معاهدې پر لیکونکي باندې څه آفت نازل سو .



بخل او سخاوت:

بخل او سخاوت د انساني فطرت دوه خویونه دي، د دې څه خصوصیات او لوازمات دي:

د بخل، حرص، طمع ، تنګ نظري، خود غرضي ، بزدلي، بې رحمي او سنګدلي صفات دي چې ددغه په نتیجه کې ذخیره اندوزي، چوربازاري، رشوت، خیانت او سود قمار غوندې زهرجن او د انسان ختمولو والا جراثم تولیدوي ، چې د عوامو خوشحالي او دغه رنګه انسان چیچي، او په انسانیت کې د بې اطمینانۍ او پرېشانۍ زهر خوروي .

بخل په مقابله کې د سخاوت فیاضي ده چې د زړه بهادري او حوصله بلندي غواړي، سخاوت په طبیعت کې بې نیازي پیدا کوي د نورو ضرورتو احساس، فکر او د هغو ضرورتونه پر خپل ضرورت مقدم کول د سخاوت او جود کرم اصل روح دی . دغه د سخاوت روح کې کار فرما وي نو همدردي، غمخواري، رحم او د خدمت خلق جوهر موجودوي یعنې د انسانیت نوم په ښایسته کیږي، د شرافت بیرغ په بلنده کیږي، د میلاوېدو او محبت فضا په هموراه کیږي تر څه وخته چې سخاوت موجود وي د طبقاتي جنګ واری یا نوبت هم نه راځي . ځکه چې دولت منده طبقه د غرباء او مساکینو همدرده او غم ګساره وي او غریب او نادار د

دوى وفادار او جانثار وي . دغه رنگه يو داسي نظم و ضبط قائميږي چي د انسـانـي فطرت عين مطابق وي چي معاشره او ټولني ته د اطمينان دولت ورکوي چي د هغه ځخه يو د بل سره د نفرت او بغض نه بلکه د محبت او باهمي اعتماد نعمت ميسر کيږي او کله چي د محبت او اعتماد د تعاون شکوفې وغوړيږي نو پـه معاشره او ټولنه کي د روا داري او شريفانه اخلاقو گلدسته جوړيږي . (پيغمبر اسلام اور تجارت / ص: ۱۱۷، ۱۱۸ . طبع ،بيت العلوم)



اسلام د بيوع مختلف شکلونه متعارف کړي دي:

پـه بازار کي د کمزور ايمان والا افرادو د بازار د آزادانه صورت حال ځخه پـه فائده اخيستلو کي د ذاتي اغراضو حاصلولو کي د دهوکه دهي او ذخيره اندوزي وغيره غوندي ناپاکه کارو ځخه د بازار آزاد ور متاثره کولي سي . د دغه د سد باب دپاره اسلام د بيوع مختلف شکلونه متعارف کړي دي، چي پـه هغو کي د خريد او فروخت رانيول خرڅول پاکيزه طريقې وضع کړل سوي دي . دپاره ددې چي د بازار د سلامتي سره سره د هغه آزادي هم قائمه وساتله سي او بازارونه په اقتصادي مشکلاتو اخته کېدو ځخه بچاو سي او د عامي معاشرې دپاره فائده مند ثابت سي .



دامام ابو حنيفهؒ د لمانځه خولی:

ابو نعيمؒ فرمايي:چي د ډېرو بزرګانو علماء کرامو سره ميلاو سوی يم، مثال اعمش، مسعر، حمزه الزيات، مالک بن مغول، اسرائيل، عمرو بن ثابت او نور اکابر علماء چي هغه زه نه سم شمېرلای، د دوی سره مي لمنځونه کړي ليکن ما د ابو حنيفهؒ غوندي ښه لمونځ کونکی نه کی پيدا د لمانځه کولو څخه دمخه به امام صاحبؒ دعا کوله او د الله څخه به يې دعا کوله او ژړله به يې او د ده حالت چي به چا وليدی هغه به ويل چي په خدای قسم دغه سړی د الله تعالی څخه بېرېږي .

"اخبرنا عبد الله بن ابراهيم الحلوانى قال ثنا مكرم قال ثنا احمد قال سمعت ابا نعيم يقول لقيت الاعمش و مسعرا و حمزة الزيات و مالك بن مغول و اسرائيل و عمر و بن ثابت و شريكا و جماعة من العلماء لا احصيهم معهم فما رأيت رجلا احسن صلاة من ابى حنيفة و لقد كان قبل الدخول فى الصلوة يدعو و يسال و يبكى فيقول القائل هذا و الله يخشى الله "(اخبار ابى حنيفه و أصحابه / ص: ٤٥)



ښه ماينه ښه ښځه:

بهترينه شی چي هغه سړی لکه خزانه داسي محفوظه وساتي هغه نېکه ماينه ده چي ورته وګوري زړه دي خوشحاله سي، چي حکم ورکول سي فوراً اطاعت وکړي چي خاوند غائب وي يعني په سفر ولاړ سي نو د

خپل ځان او د مېړه د مال حفاظت کوي:

"عن ابن عباس قال لما نزلت هذه الاية (والذين يكنزون الذهب والفضة) شق قال ذلك على المسلمين فقال عمر انا افرج عنكم ، فانطلق ، فقال يا نبي الله انه كبر على أصحابك هذه الاية ، فقال رسول الله ﷺ ان الله لم يفرض الزكاة إلا ليطيب ما بقي من اموالكم ، و انما فرض المواريث لتكون لمن بعدكم قال فكبر عمر ثم قال له إلا اخبرك بخير ما يكنز المرء؟ المرأة الصالحة إذا نظر اليها سرته ، و إذا امرها اطاعته ، و إذا غاب عنها حفيظتة"(سنن ابو داود ۲٤٦/۱ ـ كتاب الزكاة باب حقوق المال - ط رحمانيه)



آپرتېنګ لیز Operating Lease

☆.......په عام حالاتو کې چې کومه اجاره معروفه مشهوره ده و دغه ته "آپرتېنګ لیز ویل کیږي .

☆.......دا هغه اجاره ده چې عام معروفه ده په دغه کې واقعت په فریقنو کې موجِر (په اجاره ورکولو والا) او مستجر (په اجاره اخیستلو والا) تعلق وي .

☆.......آپرتېنګ لیز یعني استعمالي اجاره (کرایه داري) هغه اجاره ده چې د هغه تصور شریعت ورکړی دی . په دغه کې د فریقینو په مابین کې واقعه په اجاره باندي ورکولو والا او په اجاره د اخیستلو والا رسم ته او تعلق قائمیږي . دغه قسم د سرمایې د پروخت کولو ذریعه نه ده .

"حكم التجارة الصحيحة و هو ثبوت الملك في المنفعة للمستاجر و ثبوت

الملك فى الاجرة المسماة للموجر "(الفقه الاسلامى وادلته ۵/ ۳۷_۲۸)



دآتش بازي تجارت:

داور هغه بمونه چي په فضا كي كلان جوړوي دغه بمونه پټاوول:

☆......دآتش بازي شيان جوړول گناه او تجارت يې مكروه دى او آمدن يې حلال طيب نه دى:

قال الله تعالى:﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾(المائدة:۲)

☆......مال فضول اوبې ځايه ضائع كولو په جه آتش بازي كول ناجائز ده:

﴿إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ﴾(اسراء:۲۷)

☆......دغه د گناه په كاركي تعاون كول دي او الله تعالى په قران مجيد كي دگناه په كار كي دتعاون كولو څخه منعه كړې ده:

﴿ وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ﴾(المائدة:۲)



دغنمو دوړه كېدو په بدل كي غله اخيستل:

دغنمو دوړو كېدو په عوض كي جواري يا يو بله غله وغيره ايستل جائز ده دغه رنګه جواري غله وغيره جمع كول او استعمالول يا خرڅول تول جائز دي البته له ميده سوي وړو څخه وړه خاص طور په مزدوري كي

اخیستل جائز نه دي ځکه چې دا د "قفیز الطحان" په حکم کي کیږي چې هغه فاسده اجاره ده .



(سری) د سري اجزاء

د سړي وېښتان او هډوکي وغیره خرڅول ناجائز او باطل دی او دغه شیان په خپل کار کي راوستل هم درست نه دي پر انساني وېښتانو باندي مشتمل (ویګ) یا انساني وېښتان پر خړلي سر استعمال دپاره یا په یو بل صورت کي دغه اخیستل یا استعالول حرام دي :

"و بطل بیع قن ضم إلی حر(و شعر الامتان) لکرامة الآدمی و لو کافراً ذکره مصنف فی بحث شعر الخنزیر (قوله و شعر الانسان) و لا یجوز الانتفاع به لحدیث "لعن الله الواصلة و المستوصلة کذا فی الفتح القدیر ببطلانه ۔

(الدر مع الرد ۵/۵۸ ط۔ کتاب البیوع باب البیع فاسد مطلب آدمی مکرما شرعا و لو کافراً ۔ ط سعید)



دیو سامان د جوړېدو حکم (آډر ورکولوکي) د بائع او مشتري ذمه داري:

☆......دیو پروډکټ (سامان ، شي) په تیارېدو کي د آرډر ورکولو والا ډېري ذمه داریاني او فرائض دي د هغه څخه څو اهم دا دي:

۱﴾......د آرډر ورکولو والا ذمه داري‌ده چي هغه به وصانع (کاریګر، بائع) ته د خپل مطلوبه شي اوصاف واضح بیانوي .

۲﴾......که چیري پروډکټ (سامان) داسي وي چي د هغه پر پورته کېدو او

وړلو باندې مشقت لګیږي نو په دغه صورت کې د آرډر ورکولو والا ذمه دارې جوړیږي چې هغه د کاریګر سره دا خلاسه کړي چې کاریګر به و ده ته دغه سامان چیرې په لاس ورکوي دپاره د دې چې کاریګر د سمان د ورکولو مقام مطابق قیمت متعین کړي .

۳﴾......که چیرې د صانع جوړ کړی شی د آرډر ورکونکې د بیان او شرائطو سره برابر مطابق وي، اوس که چیرې د آرډر ورکولو والا د دغه شي له قبلولو څخه انکار وکړي نو بايد آرډر ورکولو والا مجبور کړل سي چې دی دغه شی قبول کړي او قیمت و کاریګر ته ادا کړي، دپاره د دې چې د کاریګر نقصان نه وي .که چیرې بائع (صانع ،کاریګر) په سامان تیارولو کې یا آرډر ورکولووالا په حواله کولو کې په طی شده مدت کې تاخیر وکړي نو آرډر ورکولو والا د مال د اخیستلو پابند به نه وي .

۴﴾......کله چې صانع (کاریګر) د آرډر ورکولو والا سامان تیار کړي او هغه و آرډر ورکولو والا ته اطلاع هم ورکړي نو که چیرې و آرډر ورکولو والا ته څه معقول عذور و ر پېښ نه وي نو ده ته خپل شی اخیستل پور ته کول د ځان سره ایښوول لازم دي، ددې وجه دا ده چې کله صانع (کاریګر) د هغه د سمي څخه فارغ سو او هغو د آرډر والا ته د سامان د تیارېدو اطلاع هم ورکړه نو ددې څخه وروسته د آرډر ورکولو والا دغه سامان په قبضه کې د نه اخیستل صانع ، کاریګر په مشقت کې د اچولو مترادف دی، د دې وجهې د سامان د تیارېدو بعد آرډر ورکولو و قبضې ته د رسېدو پورې پر صانع ، کاریګر د دغه شي حفاظت او چوکیدارې اضافي بوج راځي ځکه چې دغه سامان د جوړولو والا سره بطور امانت نه پاته کیږي بلکه د ده په

ضمان او په ذمه داري کي وي:

"ان الصانع إذا اكمل المصنوع على المواصفات المطلوبة فانه يلزم المستصنع اين ياخذه و ينفع ثمنه المتفقه عليه ـ و اما إذا كان فيه خلل او عيب فان المستصنع بالخيار (بحوث فيفقه المعاملات المالية المعاصرة، للدكتور على محى الدين القرة داعى / ص: ١٥٨ ـ عقد الاستصناع بين الاتباع و الاستقلال و بين اللزوم والجواز، خلاصة البحث ـ ط: دار البشائر الاسلامية"

٥﴾ ...... د کوم شي د جوړېدو آرډر چي ورکول سوى وي تر کومه وخته چي دارډر ورکولو والا و قبضه ته نه وي سوى د دغه شي مخته خرڅول جائز نه دي:

"عن ابن عباس رضى الله عن هما قال: اما لذين نهى عنه النبى ﷺ فهو الطعام ان يباع حتى يقبض قال ابن عباس: ولا احسب كل شيئ الامثال متفق عليه ـ"(مشكوة المصابيح / ص: ٢٤٧ ـ باب المنهى عنهامن البيوع، الفصل الاول: ط: قديمى)

٦﴾ ......کله چي يو وار آرډر ورکولو وال خپل تيار شده سامان په قبضه کي واخلي هيا که قبضه حقيقي وي که حکمي وي قبضه حکمي دا ده چي بائع (خرڅولو والا) مشتري (خريدار) او مبيع (خرڅ سوي شي) دآرډر ورکولو والا په ضمان کي داخليږي نو د قبضي بعد په دغه کي د نقصان کېدو په صورت کي نقصان ذمه داري به دآډر ورکولو وال باندي وي او صانع، کاريکر به د نقصان څخه بري الذمه وي:

"عن ابن عباسؓ قال اما الذى نهى عنه النبىؐ فهو طعام ان يباع حتى

يقبض قال ابن عباسؓ و لا احسب كل شيئ الامثله "(متفق عليه۔ مشكوة (۲٤۷) باب المنهى عنها من ا لبيوع)



زر په آرډر تيارول:

نن صبا پـه آرډر د تيارولو رواج عرف عام دى چونكه دغه د استصناع يو صورت دى د دې وجهي په آرډر زر تيارول جائز دي:

"كل شيئ تعومل استصناعه يصح فيه الاستصناع على الاطلاق .... و جواز استحساناً فى ما جرى العرف و العادة فى التعامل به من أوانى الحديد و الرصاص والنحاس ... والسكاكين والطشت والقمقمة و نحو ذلك ۔"(شرح المجلة لخالد الاتاسى ٤۰۳/۲ ۔ المادة ۳۸۹۔ الكتاب الاول فى البيوع، الباب السابع فى بيان انواع البيع، الفصل الرابع فى بيان الاستصناع و ا حكامه ۔ ط رشيديه ۔ شرح المجلة لرستم باز (۱۷۵/۱) المادة ۳۸۹ ايضا ۔ ط فاروقيه)

☆......آرډر وركولو والا مبيع (خرڅ سوى شى) واپس كړي نو تر بائع رسول پر چا دي؟

كه چيري يو چا ديو شي د جوړولو آرډر وركړى او د قبضې اخيستلو څخه بعد يې وليدل چي پـه جوړ سوي شي كي عيب دى نـو د آرډر وركولو والا دغه شى واپس كولى سي:

"و إذا كان المصنوع غير موافق للاوصاف المطلوبة بان كان النقص الموجود فيه من قبيل العيب فللمستصنع خيار العيب و ان كان من قبيل

الوصف ، فله خيار الوصف ان شاء قبله و ان شاء رده۔(درر الحكام فى شرح مجلة الاحكام (١ / ٤٢٥) المادة ٣٩٢ ۔ كتاب البيوع الاستصناع ۔ ط: دار عالم الكتب۔ المبسوط للسرخسی (١٥ / ٩٣) كتاب الاجارات ، باب كل رجل يستصنع الشی ط : دار المعرفة)"

که چیري هغه مال یا شی داسي وو چي د هغه پر پورته کولو او وړلو خرڅه روپۍ لګېدلې نو د هغه اخراجات یعني خرڅه به د چا پر ذمه وي په دغه کي تفصیل دی:

که چیري مال جوړلو الا (مینوفیکچر) کار دی او پر دغه باندي راغلې خرچه او اخراجات د بائع (مینوفیکچر، صانع) باندي وي او که چیري آرډر یې ورکړی شی تیار سو، آرډر ورکولو والا شی وصول کړ او عیب جوړولو والا نه وو پېټ کړی نو که چیري آرډر والا ته خوښ نه سو نو په دغه صورت کي آرډر ورکولو والا دغه شی به تر هغه ځای منتقل کولي چیري چي د هغه خریداري سوې وه او پر ده به د واپسي خرچه هم لازمه وي:

"ان كان ربها قد دلس فيها العيب الذى اصابه المشترى كان له ان يصرفها وان كان البائع لميدلس له بالعيب الذى اصابها للمشترى كان على المبتاع صرفها إلى الموضع الذى ابتاعها فيه و يكون مونتها و حملها عليه "(الاحكام قاضی ابو المطرف عبد الرحمن الشعبی / ص: ٢٧١))

☆......دآرډر پر کېنسل کېدو باندي تاوان وصولول:

بعضي اوقات یو تاجر د مال آرډر ورکوي لیکن وروسته د یو وجهي څخه په مارکیټ کي د دغه مال قیمت کم سي او د آرډر ورکولو والا ددغه

وجهي څخه خپل نقصان محسوس کړي او د خرڅولو والا څخه خپل آرډر
د کېنسل کېدو خواست وکړي نو اوس د مال د تیارولو والا د آرډر د
منسوخولو والا څخه د مال د آرډر د منسوخه کېدو تاوان (هرجانة)
غواړي، په شریعت کې په دغه صورت کې تاوان او هرجانه اخیستل
ناجائز او حرام دي، البته د مال د تیارولو والا چې واقعتاً کوم نقصان سوی
دی هغه نقصان وصولول درست دي:

"قال فی الفتح : وعن ابی یوسف رحمه الله تعالی یجوز التعزیر للسطان بأخذ المال وعندهما وباقی الائمة لا یجوز، ومثله فی المعراج، وظاهره ان ذلك روایة عن ابی یوسف ـ قال فی الشرنبلالیة ولا یفتی بهذا لمافیه من تسلیط الظلمة علی اخذ المال للناس فیما یاکلون اهـ، ومثله فی شرح الوهبانیه عن ابن وهبان ـ وافاد فی البزازیة ان معنی التعزیر یاخذ المال علی القول به : امساك شیئ من ماله عنده لینزجر، ثم یعیده الحاکم إلیه، لا ان یاخذه الحاکم بنفسه او لبیت المال یتوهمه الظلمة، إذا لا یجوز لاحد من السلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی وفی شرح الاثار التعزیر بالمال کان ا فی ابداء الاسلام ثم نسخ اهـ ـ والحاصل ان المذهب عدم التعزیر بأخذ المال "

(شامی / ج: ٤ / ص: ٦٢ ـ ٦١ ـ کتاب الحدود، باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال ـ ط: سعید)

(حاشیة طحطاوی علی الدر المختار / ج: ٢ / ص: ٤١١، کتاب الحدود باب التعزیر ـ ط: دار المعارف ـ)

(البحر الرائق / ج: ٥ / ص: ٤١ ـ کتاب حدود باب حد القذف، فصل فی

التعزیر ۔ ط : سعید)

"المتسبب لا یضمن إلا بالتعمد: المتسبب ما كان فعله مفضيا إلى الحكم ،كالتلف مثلا من تاثير ، و انما المؤثر هو علت المتوسطة و لكن تلك علة قد لا يصح اضافة الحكم إليها فيضاف إلى السبب ، فعند ذلك ينظر إلى ان كان التلف حاصلاً عن فعل المتسبب بغير حق كحفر البير فى الطريق العام او فى الملك الغير يضمن ما تلف فيه و ان لم يتعمد انه متعمد بنفس الفعل "(شرح مجلة لخالدالاتاسى/ ج:١ / ص: ١٥٦)



دلال ، دلالي:

دلال هغه څوک دی چې د خرڅونکي او رانيونکي سودا په اجرت (مزدوري) جوړوي . په انګريزي کي و دلال ته کميشن ايجنټ , وايي Commition Agent دغه کار جائز دی البته د دغه دپاره ضروري خبره دا ده چې دلال به د بنار د خلکو مفاد عامه خيال ساتي . او په صحيح قيمتو به خرڅلاو کوي:

"و فى الدلال و السمسار يجب اجر المثل ، وما تواضعوا عليه ان فى كل عشر دنانير كذا فذاك حرام عليهم ۔ و فى الحاوى : سهل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال : ارجو انه لا بأس به وان كان فى الاصل فاسداً لكثرة تعامل وكثير من هذا غير جائز مجوزه لحاجة الناس إليه كدخول الحمام"(شامى / ج: ٦ / ص: ٦٣ ۔ كتاب الاجارة باب الاجارة فاسده مطلب فى اجرة دلال)



آزاده ښځه خرڅول او رانیول:

آزاده ښځه خرڅول یا رانیول حرام ده . الله تعالی د قیامت په ورځ کي داسي خلکو څخه به داسي ناراضه وي چي خبره به هم نه ورسره کوي او د چا څخه چي الله ناراضه سي د هغه د الله د عذاب څخه د بچ کېدو هیڅ لاره به نه وي:

”بطل بیع ما لیس بمال کالدم والمیتة والحر ..... الخ “(الرد مع رد / ج: ۵ / ص: ۵۰ ـ ۵۲ـ کتاب البیوع باب بیع الفاسد)

”عن سعید بن ابی سعیدؓ عن ابی هریرة عن النبی ﷺ قال اللّٰه تعای ثلاثة انا خصمهم یوم القیامة : رجل اعطی بی ثم غدر ، و رجل باع حرًا فاکله ثمنه و رجل استاجر اجیر فاستوفی منه و لم یعط اجره“(صحیح البخاری / ج: ۱ / ص: ۲۹۷ ـ کتاب البیوع باب اثم من باع حراً)۔



د آزادي ښځي د خرڅول او رانیول برابر دي:

په بعضي علاقو کي دا رواج دی چي د خور یا لور د واده په وخت پلار یا سرپرست د لور (مهر) په ډېر زیات روپۍ وصول کړي او بیا یې پخپله استعمالوي د هغه څخه یو څه حصه پر کور کولو یعني (جهیز) باندي

ولـکوي، کـه څـه هـم پـه ښـکاره توګه و دغـه ته ولـور ویل کیږي لیکن په حقیـقت کـي دغـه دآزادي ښځي د خرڅولو او رانیولو سره برابر دی ، د دې وجهــي دا نــاجـائـز او حـرام دی . دا خبـره دي واضحــه وي چـي دهـر ولـور مقررول ښه نه دی بلکه باید ولور متوسط او درمیانه وي .

او ولور (مهر) چي د کومي نجلۍ دپاره مقرر کیږي هغـه د دغي نجلۍ حق دی . د پلار یا د سرپرست حق نه دی . د دې وجهي دغه نجلۍ د اجازت بغیـره بـل چا تـه د دغـه ولـور استعمالول اجازه یا حق نسته، که چیري چا استعمال کړی نو پر هغه لازمه ده چي هغه یې واپس کړي .

"و بطل بیع ما لیس بمال کالدم والمیتة والحر" (تنویر الابصار مع الشامی / ج: ۵ / ص: ۵۲)

إذا کـان احـد الـعـوضیـن او کـلاهـمـا مـحـرمًـا فـالبیـع فـاسـد کـالبیع بالمیتة والـخـنـزیر والخمر ، و کذا إذا کان غیر مملوك الحر. (فتح القدیر مع الکفایة / ج: ٦ / ص: ۳٦۹ ـ ۳٦۸ـ کتـاب البیـوع ـ بـاب البیـع الـفـاسـد ـ ط: رشیدیه کوئته)

شـرح مـجله لرستم باز (۱ / ۸۰) الکتب الاول ، فی البیوع ، الباب الثانی فی بیـان الـمـسـائل المتعلقة بالمبیع ، رقم المادة : ۲۰۵ ، الفصل ثانی فی ما یجوز بیعه و ما لا یجوز ، ط: فاروقیه کوئته)

"عـن ابـی الـعـجـفـاء قـال : قال عمر بن الخطابؓ : إلا لا تغلوا صدقة النساء فـانهـا لـو کـانـت مـکـرمة فی الدنیا اوتقوی عند الله فکان او لاکم بها نبی الله ﷺ مـا عـلـمـت رسـول الله ﷺ نـکح شیئاً من نسائه ولا انکح شئیا من بناته علـی اکثر مـن ثـنتی عشرة اوقیة ، هذا حدیث حـسن صحیح، جامع الترمذی

(۱) ابواب نکاح ، باب ما جاء فی مهور النساء ، ط: قدیمی۔ "(سنن ابی داؤد / ج: ۱ / ص: ۲۹٤ ، کتاب النکاح ، باب الصداق ، ط : امدادیه ملتان)

عن عائشة رضی الله عنها عن رسول الله ﷺ قال : ان اعظم النکاح برکة الیسر مؤنة ۔ (اعلاء السنن (۱۱ ۔ ۸۸ ۔ ۸۷) رقم الحدیث ۳۱٦۰ کتاب النکاح باب استحباب تقلیل المهر ۔ ط : ادارة القرآن)

"و صح حطّها : لکله او بعضه (عنه) قبل او لا ، و صحّ حطها) ... و قید بحطها ، لأن حط ابیها غیر صحیح لو صغیرة و لو کبیرة توقف علی اجازتها ولا بد من رضائها ۔"(الدرر الرد ۔ / ج: ۳ / ص: ۱۱۳ ، کتاب النکاح باب المهر ، مطلب فی حط المهر و الابراء منه ، ط : سعید)



د عکس د جوړولو آلاتو (پرزو) خرید و فروخت:

د عکس د جوړلو د آلاتو څخه دواړه قسمه عکسونه جوړېدای سي جائز عکسونه او ناجائز عکسونه .

د بې جانه (بې روحه) شیانو عکسونه جوړول جائز دي مثلاً ګاډی، جهاز ، غر ، دریاب ، ځنګل ، درخته ، مځکه ، آسمان ، سرای ، مکان ، فضاء ، خلاء وغیره ددغه شیانو تصویران جوړول جائز دي .

او د جاندار عکسونه جوړول جائز نه دي او پر دغه سخت وعید راغلی دی . د پیدائش سرټیفیکټ ، شناختي کارډ ، پاسپورټ او تعلیمي اسنادو دپاره چي کوم تصویران ، عکسونه جوړیږي د هغه ګناه د قانون پر جوړونکو باندي ده . نور د غلا د مال ، د اسلحې رنګه آلاتو عکسونه خرید

و فروخت هم جائز دی ځکه چي ددغه څخه د جائز او ناجائز دواړو قسمو تصويران اخيستل کېدای سي البته د جاندار شي عکس اخيستلو والا به ګناهګار وي او د بې جانه شيانو د عکسو جوړولو والا به ګناهګار نه وي .

"و هذا يفيد آلة اللهو ليست محرمة لعينها ، بل لقصد اللهو منها اما من سامعها او من المشتغل بها ... إلا ترىٰ ان ضرب تلك الالات بعينها حل تارة و حرم اخرىٰ باختلاف النية بسماعها والامور بمقاصدها "(شامی / ج: ٦ / ص: ٢٥٠ ، كتاب الحظر و الاباحة ، قبيل : فصل فی اللبس ، ط : سعيد)

"والقسم الثالث : ما وضع لاغراض عامة و يمكن استعماله فی حالتها الموجودة فی مباح او غيره .... و الظاهر من مذهب الحنيفية انهم يجيزونه بيع هذا القسم و ان كان معظم منافعه محرماً ، ولكن جواز البيع فی هذا الاشياء بمعنی صحة العقد اما الاثم ، فيتاتی فيه ما ذكرناه فی شروط العاقد من انه إذا كان يقصد به معصية بائعا او مشترياً، فالبيع يكره تحريماً ـ و ذلك اما بنية فی القلب او بالتصريح فی العقد ان البيع يصعد به محظور اما إذا خلا العقد من الامرين و لايعلم البائع بيقين ان المشتری يستعمله فی محظور ، فلا اثم فی بيعه ، وان علم البائع انه يستعمله فی محظور و كان سبباً قريباً داعياً إلی معصية ، فيكره له البيع تحريماً و ان كان سببًا بعيداً ، لا يكره مثل بيع الحديد من اهل الحرب او اهل البغی .... و تبين بذلك حكم بيع المذياع (الراديو) والمسجل والحاكی فان الجميع هذه الاشياء وضعت لاغراض عامة تحتمل الاستعمال فی مباح وغيره ... والظاهر ان هذا هو الحكم فی بيع الكاميرا ، فانه وضع للاغراض عامة ، و لا يتمحّض لتصوير ما فيه الروح فيمكن

استخدامه فی تصویر ما لا روح فیه ، و هو جائز بالاجماع ، نعم إذا علم البائع یقینا ان المشتری یقصده لمحظور لا غیر ، فیکره بیعه تحریماً۔"(فقه البیوع علی المذاهب الأربعة۔ (۱/۳۲۳، ۳۲۵۔ المبحث الثالث ، الباب الاول فی البیع ، و یشترط فیه لصحة البیع ، الشرط الثانی : کون المبیع متقوماً ، معارف القرآن)

و اما إذا کان سبباً للمحظور فهو محظور ۔ (شامی / ج: ٦ / ص: ۳۵۰) کتاب الحظر والاباحة ، ط: سعید۔)

عن سعید بن ابی الحسن قال کنت عن ابن عباسؓ : إذا آتاه رجل فقال یا ابن عباسؓ انی انسان انما معیشتی من صنعة یدی و انی اصنع هذه التصاویر فقال ابن عباس : لا احدثك إلا ما سمعت رسول الله ﷺ یقول من صور صورة فان الله معذبه حتی ینفخ فیها الروح ، ولیس بنافخ فیه ابداً ، فربا الرجل ربوة شدیدة ، و اصفر وجهه ، فقال و یحك ان ابیت إلا ان تصنع فعلیك بهذا شجر ، و کل شیئ لیس فیه الروح ۔(الصحیح البخاری / ج: ۱ / ص: ۲۹۷ ، کتاب البیوع ، باب بیع التصاویر التی لیس فیها روح و ما یکره من ذلك ، ط: قدیمی۔ مشکوة مصابیح / ص: ۳۸٦ ، کتاب اللباس ، باب التصاویر ، الفصل الثالث ۔ط: قدیمی)



د بازی د شیانو بیع:

د لهو او لعب یعنی سات بازی د شیانو مثلا د باجې یا د سروز د شیانو دو کان خلاصول او د دغه شیانو خرید و فروخت کول مکروه تحریمي دی

پر مسلمانانو . د دغه شیانو څخه اجتناب کول لازم دی .

"و یکره تحریما بیع السلاح من اهل الفتنة انعلم ، لانه اعانة المعصيةو بيع ما يتخذ منه كالحديد و نحوه (الدر المختار) (قوله : لانه اعانة على المعصية لانه يقاتل يعينه ، بخلاف ما لا يقاتل به إلا بصنعة تحدث فيه كالحديد ، و نظيره كراهة بيع المعارف ، لأن المعصية تقام بعينها ولا يكره بيع الخشب المتخذة هى منه "(شامی مع الدر / ج: ٤ / ص: ٢٦٨ ، كتاب الجهاد ، باب البغاة ، ط : سعيد)

د سروز د سامان (آلاتو) خرڅول او رانیول:

سروز په اسلام کې ناجائز او حرام دی، ددې وجهې څخه هغه سامانونه چې صرف د موسیقې دپاره استعمالیږي د هر قسم تغیر او تبدیل بغیر د دغه څخه د سروز کار اخیستل کیږي نو د گناه د آلاتو کېدو د وجهې څخه د دغو خرید او فروخت ناجائز دی:

"ویکره تحریماً بیع السلاح من اهل الفتنة ان علم ، لانه اعانة على المعصية .... قلت : و افاد كلامهم ان ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً و إلا فتنزيها (نهر) (قوله) لانه اعانة على المعصية .... و نظيره كراهة بيع المعازف ، لأن المعصية تقام بها عينها"(الدر مع الدر / ج: ٤ / ص: ٢٦٨ ـ كتاب الجهاد ، باب البغات ، مطلب فى كراهة بيع ما تقوم المعصية بعينه ، ط : سعيد)



پتاتې په مځکه کې خرڅول:

پتاتې، پیاز، وږه، ادرک (لوند شونډ)، کورکمن وغیره چې په مځکه

کي دننه وي په اندازه خرخول جائز نه دي .

ځکه چي په دغه کي ډېر وختونه سړی دهوکه کيږي، او په دغه کي د خريدار يا ملک نقصان يقيني وي، او جنجال هم پر کيږي، هو، که چيري دهوکه نه وه بيا صحيح ده . مثلا په دغه وخت يې دی وکاږي، د ختلو بعد دی د خريد و فروخت معامله وکړي .

که چيري په مځکه کي دننه د پتاټو وغيره موجودگي يقيني وي هم به يې بيع خريد او فروخت صحيح وي البته خريدار ته اختيار وي چي د کښلو بعد يې اخلي يا نه .

"ولبن فی الضرع) ای لا یجوز بیعه الغرر، فعساه انتفاخ و لانه ینازع فی کیفیة الحلب و ربما یزاد فیختلط المبیع بغیره .... او للؤلؤ فی الصدف، للغرر، و هومجهول لا یعلم وجوده و لا قدره "(بحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٢٢، کتاب البیوع، باب البیع فاسد، ط : رشیدیه .)

بیع ما اصله غائب و علم وجوده یجوز و له خیار الرؤیة، ان شاء اخذه و تکفی رؤیة بعض عندهما و علیه الفتوی . (الفتاویٰ تنقیح الحامدیة / ج: ١ / ص: ٢٥١، کتاب البیوع، مکتبه مصر)



آمدني خرخول:

مثلاً دوو کسانو په مشترکه (شراکت) سره يو بس رانيوی، اوس د دواړو څخه يوه وويل چي د بس سالانه ټوله منافع پر ما باندي په دومره روپۍ خرڅه کړه . دغه سودا شرعاً جائز نه ده، ځکه چي د خريد او فروخت

پـه وخـت کـې د مبيـعـه (يعني خرڅ کړل سوي شي) موجودېدل ضروري دي نـو سـالانــه منـافـع مـعـدومـه (فـي الـوقـت نـه مـوجـوده) او مـجهـولـه (نامعلومه) ده نو ددې وجهې بيع د معدوم کې داخله ده او بيع د معدوم جائز نه ده، د دې وجهې متوقع آمدني خرڅول جائز نه ده:

”منها ان يكون موجوداً ، فلا ينعقد بيع المعدوم و ما له خطر العدم“(بدائع الصنـائع / ج: ٥ / ص: ١٣٨ ـ كتـاب البيـوع ، فصل و اما الذى يرجع إلى المعقود ، ط: سعيد)

و بيع مـاليس فـى مـلـكـه لبطلانه المعدوم ، اذ من شروط المعقود عليه ان يـكـون موجوداً مالاً متقوماً فى نفسه ـ(شامى / ج: ٥ / ص: ٥٨ ، كتاب البيوع مطلب : الأدمى مكرم شرعاً و لو كان كافراً ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١١٦ ، كتاب البيوع ، باب البيع الفاسد ـ ط : سعيد ـ ط رشيديه ـ)



د آمد و رفت خرچه پـه اصل قـيمت کې شاملول:

پـه بيـع مـرابـحـه کـې د تګ او راتګ خـرچـه د شي پـه اصل قيمت کې شـاملـول او کـيـراک تـه دا ويـل چې دا شي مـاپـه دومره رانيولى دى اوس دومـره ګـټـه پـر اچـوم پـر تا يې خرڅوم دا جائز نه دى، ځکه چې په دغه کې خيـانـت او درواغ دي، هـو، دا ويـل صـحـيـح دي چې دا شي ما تـه پـه دومره پروت دى او زه دومره ګټه پر اچوم او تا ته يې په دومره درکوم دا صحيح دي ځکه چې په دغه کې درواغ، دهوکه نسته لهذا دغه رنګه ويل درست دي:

"هی بیع بثمن سابق ، المرابحة به و بزیادة ، و شرطها کون الثمن الاول مثلیاً ، وله ان یضم إلی رأس المال اجر اقصار والصبغ الطراز والفتل و حمل الطعام و سوق الغنم ، و یقول قام علی بکذا (قوله : یقول قام علی بکذا) ولا یقول اشتریته لانه کذب و هو حرام "(البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٧٧ ـ ١٨٢ ـ ١٨٣ ، کتاب البیوع ، باب المرابحة و التولیة ـ ط: رشیدیه) (الهندیة / ج: ٤ / ص: ٣٠١ ، کتاب البیوع ، الباب الثامن فی المرابحة والتوالیه فی المضاربة الفصل الاول فی البیع المضاربة مرابحة و تولیة علی الرقم او غیره ، ط: رشیدیه) (الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ١٣٦ ـ کتاب البیوع ، بالمرابحة والتولیه ، ط: سعید)



د کولمو خرڅول:

مذبوحهٔ حلال د حلالولو څخه وروسته د هغه کولمې چې د نجاست څخه پاکي سي بیا یې خرڅول جائز دي او آمدني یې حلاله ده:

"و یباع عظمها و ینتفع به و کذا عصبها و قرنها و شعرها و دبرها و کذا اعظم الفیل "(ملتقی الابحر مع مجمع الانهر / ج: ٣ / ج: ٨٦ ، باب البیع الفاسد ، ط: دار الکتب العلمیة)(تبین الحقائق / ج: ٤ / ص: ٣٧٧ ، کتاب البیوع ، باب البیع الفاسد ، ط : دار الکتب العلمیة ـ)

قوله علیه السلام فی شاة میمونة : انما حرم اکلها ، و فی روایة : لحمها ، فدلّ علی ان ما عدا اللحم لا یحرم ، فدخلت الاجزاء المذکورة ـ (رد المختار / ج: ١ / ص: ٢٠٦ ، کتاب الطهارة ، باب المیاه ، مطلب فی احکام الدباغة ،

ط: سعيد)

والصحيح انه يجوز بيع كل شيئ ينفع به ـ (الفتاوى الهندية / ج: ٣ / ص: ١١٤ ، الباب التاسع من كتاب البيوع ، الفصل الخامس في بيع المحرم الصيد وفي بيع المحرمات ، ط : رشيديه)

كل ما ينتفع به فجائز بيعه و الاجارة عليه (القواعد الفقهه / ص: ١٢٨ ، ط: دارالعلم دمشق؛

الحاصل ان جواز البيع يدور مع حل الانتفاع ـ (الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٦٩ ، كتاب البيوع ، باب البيع الفاسد ، ط : سعيد)

آيسكريم يا شير يخ

د آيسكريم په باره كي بين الاقوامي اصول دا دي چي آيسكريم په يوه وجه باندي ويلي سي او بيا دويم وار بيرته يخى سي دغه قابله د خوراك نه پاته كيږي ، ځكه چي ددغه د خوراك څخه په معده كي ناجوړي پيدا كيږي او د معدې د ناجوړي علاوه د نورو ناروغيو خطره هم ځيني وي لهذا دغسي آيسكريم ته خراب آيسكريم ويل كيږي .

د دغسي آيسكريم د خريد و فروخت څخه ځان ساتل پكار دي ، دپاره د دې چي د خلكو نقصان نه وسي:

﴿وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوَاْ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ (البقرة: ١٩٥)

"عن عبادة بن الصامت رضى الله تعالى عنه ان رسول الله ﷺ قضى ان لا ضرر و لا ضرار "(سنن ابن ماجة / ص: ١٦٩ ، كتاب الاحكام ، باب من بنىٰ في حقه ما يحق بجاره ، ط: قديمى) (شرح المجلة للاتاسى / ج: ١ / ص: ٥٢

ـ المادة ١٩ ، القواعد الفقهية ، ط :رشيديه)



دیو شي پر رانیولو باندي د خلګو دو رګرمولو دپاره قیمت ورکول:

که چیري د سړي دیو سامان د رانیولو اراده نه وي مګر دی د هغه سامان زیات قیمت وایي او خپل ځان د دغه سامان خریدار ظاهروي دپاره ددې چي نور خلک د ده په دهوکه کي راسي هغه سامان ژر رانیسي نو دغه سړی د دغه سامان په خریداري خلک راګرموي او پخپله یې نه رانیسي نو چونکه دا درواغ او دهوکه ده لهذا جائز نه ده .

د حضرت ابو هریرهؓ څخه مروي دي چي نبي کریم د ګرمولو والا د بیع څخه منعه وفرمایلو :

"عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ : لا تناجشوا ـ اخرجه الترمذی و قال حدیث حسن ـ قوله "لا تناجشوا" اقول : الحدیث نص فی الباب ، ومعنی النجش ان یزید فی الثمن ، و لا یرید الشراء او یمدحه بما لیس فیه لیروّجه .... فلان فیه خداعاً اضراراً ، اما الخداع فلانه اظهر الشراء و هو لا یریده ، و لا خفاء فی کونه خداعاً، و اما الاضرار فلان السلعة لما کانت محتملة الحصول للمشتری باقل من القیمة علی الوجه المشروع ثم اشتراها بالقیمة بسبب نجشه فکان الناجشه اخذ الزائد من المشتری و اعطاه البائع من غیر رضاه فیکون هذا اضراراً بالمشتری لا محالة "(اعلاء السنن / ج: ١٨٥٤ ـ ١٨٦ ، کتاب البیوع ، باب تحریم النجش ، ط: ادارة القرآن)

(الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۱۰۱ ، کتاب البیوع ، باب البیع الفاسد ، مطلب احکام نقصان المبیع فاسداً ، طبع : سعید)

"عن ابن عمرؓ ان النبی ﷺ نهی عن النجش .... و عن ابی هریرةؓ عن النبی ﷺ قال لا تناجشوا"(سنن ابن ماجه / ص: ۱۵۷ ، ابواب التجارات ، باب ما جاء فی النهی عن النجش ، ط : قدیمی)

(جامع الترمذی / ج: ۱ / ص: ۲٤٤ ، ابواب البیوع ، باب ما جاء فی کراهیة النجش ، ط: قدیمی)

(اعلاء السنن / ج: ٤ / ص: ۱۸۵ ، کتاب البیوع باب التحریم النجش ، ط : ادارة القرآن)



خپله حصه خرڅول:

مثلاً د دوو ورونو يو سراى شريک دی ، د ابتداء څخه شريک دي يا و دوارو ورونو ته په وراثت کي ميلاو سوی دی نو هر وارث يا هر شريک خپله حصه د وارث يا شريک د اجازت بغيره خرڅوی سي ليکن که چيري د حصي د خرڅهدو څخه و داېل وارث يا شريک ته ضرر رسېدی يا د شريک يا وارث د اجازت بغيره خرڅهدل جائز نه دي مثلاً عمارت ، فصل ، درختي وغيره خرڅول لهذا په دغه صورت کي د شريک يا د وارث د اجازت بغيره حصه خرڅول جائز نه دي:

"لاحد شريكين شاء باع حصته إلى شريكه و ان شاء باعها لاخر بدون اذن شريكه ... اما في صور خلط الاموال و اختلاطها التي بينت في الفصل الاول

لا یسوغ لاحد شریکین ان یبیع حصته فی الاموال المشترکة المخلوطة او المختلطة بدون اذن شریکه ، اما لو باعها باذن شریکه او باعها من شریکه جاز کما فی المتلقیٰ وغیره ، والفرق ان الشرکة إذا کانت بینهما من الابتداء بان اشتریا حنطة او ورثاها کانت کل حبة مشترکة بینهما ، فبیع کل منهما نصیبه شائعا جائز من الشریك و الاجنبی ، بخلاف ما إذا کان بالخلط او الاختلاط ، لأن کل حبة مملوکة لاحدهما بجمیع اجزاء ها لیس للآخر فیها شرکة ، فاذا باع نصیبه من غیر اذن شریك لا یقدر علی تسلیمه إلا مخلوطاً بنصیب الشریك فیتوقف علی اذنه ، بخلاف بیعه من الشریك للقدرة علی تسلیم (مجمع الانهر) قلت و مثل الخلط و الاختلاف بیعه ما فیه ضرر علی الشرکی او المشتری کبیع الحصة الشائعة من البناء او الغراس او الزرع بدون الارض ، و قد استوفینا الکلام علی ذلك فی شرح المادة (۲۱۵) و مثله لو باع احد الشریکین بیتاً معیناً باع من دار مشترکه او باع نصیبه من البیت معین منها فالبیع لایجوز "(رد المحتار ، شرح المجلة لرستم باز / ج: ۱ / ص: ۴۸۳ ۔ الماده ۱۰۸۸ ۔ الکتاب العاشر)



اتحاد المجلس

د خرید و فروخت په معامله کي اتحادِ مجلس (یعنی د یو مجلس) مطلب چي د ایجاب څخه بعد د دویم فریق د طرفه څخه داسي څه خبره نه سي پیدا چي د هغه د ایجاب رو گرداني اعراض (Refuse) باندي دلالت کوي که چیري د دویم فریق د طرفه څه د رو گرداني او اعراض عمل پیداسو نو د

هغه بعد قبلولو و قبلېدو ته به اعتبار نه وي مثلاً يوه دوكاندار وويل چي ما دغه موبايل   په ۱۰۰۰۰ روپۍ خرڅ كړی، دويم فريق د اورېدلو سره سره توجه نه كړه او، د بل دريم سړي سره يې خبري شروع كړې نو اول ايجاب ختم سو، اوس ترڅه وخته چي دويم وار نوی ايجاب نه وي سوی قبل ته به اعتبار نه وي .

"لو صدر من احد العاقدين بعد الايجاب و قبل القبول قول او فعل يدل على الاعراض بطل الايجاب ، و لا عبرة بالقبول الواقع بعد ذلك مثلاً لو قال احد المتبايعين بعت واشتريت و اشتغل الاخر قبل القبول بامر آخر او بكلام اجنبى و لا تعلق له بعقد البيع بطل الايجاب و لا عبرة بالقبول الواقع بعده و لو قبل انقباض المجلس "(شرح المجلة لرستم باز / ج: ١ / ص: ٦٩ ، المادة ١٨٣ ، الكتاب الاول فى البيوع ، الباب الاول فى بيان المسائل المتعلق بعقد البيع ، الفصل الثالث ، فى حق مجلس البيع ، ط: مكتبة فاروقيه)

فالمراد بالمجلس ما لا يوجد فيه ما يدل على الاعراض، و ان لا يشتغل بمفوت له فيه و ان لم يكن للاغراض افاده فى النهر ، فان وجد بطل و لو اتحد المكان -(شامى / ج: ٤ / ص: ٥٢٦- كتاب البيوع ، ط : دار المعرفة)



د خرڅ كړل سوي شي تلف (ضائع) كول:

مثلاً خرڅ كړل سوی شی حيوان وو ، خريدار (رانيونكی) يې د قبضه اخيستلو وروسته قتل كړ يا كپړه (توكر) وو، څيري يې كړ ، يايې

وسوځاوه یا یې دریاب ته واچاوه بیا معلومه سوه چې په مبعیه کې عیب وو اوس نو مشتري (خرڅونکې) ته د عیب په وجه د واپس کولو اختیار نسته او د عیب په وجه چې په قیمت کې کومه کمي راتله هغه هم خریدار د غوښتلو حق نلري .

"رجل اشترى عبداً و قبضه و لم يعلم بعيب حتى قتله هو و غيره ثم علم بعيب فانه لا يرجع على البائع بشيئ....... إذا اشترى طعاماً او ثوباً و خرق الثوب او استهلك الطعام على عيب كان به لا يرجع بنقصان العيب فلا خلاف "(الفتاوى الهندية / ج: ۳ / ص: ۸۳ ، كتاب البيوع ، الباب الثامن في خيار العيب الفصل الثالث فيما يمنع الرد بالعيب الخ ، ط : رشيديه)

(المحيط البرهاني / ج: ۱۰ / ص: ۱۱۳ ، كتاب البيوع ، الفصل الرابع عشر في العيوب ، نوع آخر في بيان ما يمنع الرجوع بالارش ، ولا يمنع ، ط: ادارة القرآن)

(الفتاوى التتارخانية ج۹ / ص: ۱۵۹ ،كتاب البيوع الفصل الخامس عشر في العتوب ، ط : مكتبه فاروقيه)



اجاره:

اجاره د شریعت اصطلا ح ده او د قرآن او حدیث څخه ثابته ده په علم فقه، کتب فقه کې د دغه تفصیلات موجود دي، د اجارې لغوي معنی د "معاوضه" ده د شرعیت په ژبه د اجارې معنی دا ده چې د یو طرف څخه د یو شي د استعمال حق ورکول سي یا د یو سړي محنت وي او بل طرفته د هغه معاوضه وي دغه ته اجاره ویل کیږي .

په شریعت کي د اجارې اصطلا ح په دوو صورتو کي استعمالیږي:

۱ . د معلوم وخت دپاره د خپل یو شي (اثاثه) یا جائیداد د استعمال حق د دویم سړي و طرفته منتقل کول او د هغه په عوض کي کرایه وصولول و دغه ته په اردو ژبه کي پټه واري په انګرېزي کي لیز(Lease)او په عربي ژبه اجارة الاعیان ویل کیږي .

د استعمال حق استعمالول الفاظو کي و دې خبري ته اشاره ده چي په اجاره کي صرف د فائدې حاصلولو حق خرڅول کیږي پخپله هغه شی د اجاره ورکونکي په ملک کي پاته کیږي .

په اجرت باندي یو کار کول یا په کول هغه ذهني کار وي او که جسماني کار وي، دا رنګه د مزدور، ملازم، ډاکټر، انجینر او د وکیل خدمت په معاوضه حاصلول په اجاره کي داخل دي . و دغه ته په انګریزي ژبه کي (Employment) ایمپلائمنټ او په عربي ژبه کي ''اجارةالاشخاص'' یا ''اجیر الخاص'' ویل کیږي .

☆...... د اجارې دغه دواړه صورتونه جائز دي:

''۱ ـ الاجارة من الاجر وهو العوض ... وهی لغةً: المجازاة .... و شرعًا: عقد علی منفعة مباحة معلومة من عین معینة او موصوفة فی الذمة) کسکنٰی هذه الدار سنة ... (او علی عمل معلوم) کحمله إلی موضع کذا(بعوض معلوم) ''(شرح منتهی الارادات / ج: ۲ / ص: ۲٤۰ ، کتاب الشرکة ، باب الاجارة ، ط : عالم الکتب)

(کشاف القناع / ج: ۳ / ص: ٥٤٦ـ باب الاجارة ، ط: دارالکتب العلمیة)

''۲ـ و اما اقسامها فانها تنقسم إلی قسمین : قسم یرد علی منافع الاعیان

کاستجار الاراضی و الدور والدواب والثیاب و ما اشبه ذلك فان عقد الاجارة لهذه الاشياء وارد علی منفعتها إذا الغرض من تاجير الاراضی الانتفاع بزرعها من تاجير الدور الانتفاع بالسکنی فيا .... فالعقد متعلق بمنعتها و قسم يردی علی نفس العمل کاستيجار ارباب المهن علی الاعمال التی يقومون بها من تجارة او حدادة او صيانة او نحو ذلك فان العقد وارد علی ما يقومون به من الاعمال "(کتاب فقه علی المذاهب الأربعة / ج: ۲ـ / ص: ۹۶، ۹۷ـ الاجارة تعريفها ارکانها اقسامها ، ط : دار الحياء التراث العربی ، شرح المجلة رستم باز / ج: ۱ / ص: ۱۸۸ ـ المادة ۴۲۱)



د اجازت بغیره یې شی خرڅ کړی:

دیو شي یو سړی پخپله مالک نه دی هغه د مالک د اجازت بغیره هغه شی د خپل طرف څخه خرڅ کړی نو دغه بیعه د مالک پر اجازت باندي موقوفه ده که چیري مالک اجازت ورکړ نو بیع صحیح ده او که چیري مالک د شي د خرڅلاو اجازت نه کړي ور نو بیع صحیح نه ده . او دغه د غیر موجود شي په حکم کي به وي:

"البيع نوعان صحيح و فاسد والصحيح نوعان لازم و غير لازم و منهم من جعله قسماً لصحيح و عله مشى الشارح الزيعلى فانه قسمه إلى صحيح ، و باطل و فاسد و موقوف ، فجعله من غير الجائز مريداً بالجائز النافذ.... و قال قيله فی جواب شافعی فی بيع الفضولی : انه غير صحيح لانه لا يفيد حکمه و صحة التصرف عبارة عن اعتباره فی حق الکم ، فقال قلنا نعم ، و عندنا هذا لتصرف يفيد فی الجملة و هو ثبوت الملك موقوفاً علی الاجارة اما من کلوجه او من

وجه لکن لا یظهر شیئٌ من ذلك عند العقد و انما یظهر عند الاجارة ۔ "(البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١١٤ ـ ١١٥ـ کتاب البیوع ، باب البیع الفاسد و انما یظهر عند الاجارة ۔ البحر الرائق / ج: ٦ـ / ص: ١١٤ ، ١١٥ ، کتاب البیوع باب البیع الفاسد ، رشیدیه)



د اجازت بغیره د چا مځکه خرڅول:

په بعضو علاقو کي و خوندو ، لوڼو ته په وراثت کي حصه نه ورکول کیږي، ورونه او زامن د مړي پر توله متروکه مال او جائیداد باندي قبضه کوي دغه ناجائز او حرامه ده دغسي خلک به د جنت څخه محروم پاته کیږي . داسي ورور د خوندو پر حصو باندي د ناجائزي قبضي کولو د وجهي څخه غاصب او ظالم دی، که چیري داسي ورور د خوندو د حصي مځکي د هغوی د اجازت بغیر خرڅي کړي نو دا به بیع فضولي وي، او د خوندو پر اجازت باندي به بیع موقوفه وي که چیري خوندي اجازت د بیع ورکړي نو به بیع نافذه سي او که چیري خوندي اجازت ور نه کړي ن به بیع باطله سي:

"عن انسؓ قال قال رسول الله ﷺ : من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیٰمة ، رواه ابن ماجه و رواه البیهقی فی شعب الایمان ، عن ابی هریرة ۔ " (مشکوة المصابیح / ص: ٢٦٦، باب الوصایا ، الفصل الثالث ، ط : قدیمی)

"عن سعيد بن زيد قال قا ل رسول الله ﷺ : من اخذ شبرًا من الارض ظلماً فانه يطوقه يوم القيٰمة من سبع ارضين۔ (متفق عليه ، مشكوة المصابيح / ص: ٢٥٤ ،باب الغصب و العارية ، الفصل الاول ، ط : قديمى) (بدائع الصنائع / ج: ٧ / ص: ١٤٨ ۔ كتاب الغصب ، فصل و امّا حكم الغصب ، ط: سعيد)

٢۔ كل واحد من الشركاء فى شركة الملك اجنبى فى حصة الاخر و لا يعتبر احد وكيلاً عن الآخر فلذلك لا يجوز تصرف احدهما فى حصة الآخر بدون اذنه(شرح مجلة الاحكام لسليم رستم باز / ج: ١ / ص: ٤٧٧۔ المادة ١٠٧٥ ، الكتاب العاشر فى انواع الشركات ، الباب الاول فى شركة الملك و تقسيمها ، الفصل الثانى فى كيفية التصرف فى الاعيان المشتركة ، ط : فاروقيه كوئته)

ولا يجوز لاحدهما ان يتصرف فى نصيب الاخر إلا بامره ، و كل واحد منهما كالاجنبى فى نصيب صاحبه ۔ (الفتاوى الهنديه / ج: ٢ / ص: ٣٠١۔ كتاب الشركات ، الباب الاول فى بيان انواع الشركة و اركانها ... الفصل الاول فى بيان انواع الشركة ، ط: رشيديه)

(شرح المجلة للاتاسى / ج: ٤ / ص: ١٥ رقم المادة ١٠٧٥ ، كتاب العاشر فى انواع الشركات الباب الاول فى شركة الملك و تقسيمها ، الفصل الثانى فى كيفية التصرف فى الاعيان المشتركة ، ط : فاروقيه كوئته)



اجرت ، مزدوري ، كرايه پيشكي وركول:

اجاره (د كرايې په معامله كي) اصول او قاعده دا ده چي كله مزدور (اجير) كار پوره كړي نو دی د خپل اجرت (مزدوري) حقدار كيږي او د مالك په ذمه د مزدوري ادا كول لازميږي ليكن كه چيري مزدور (ملازم) د پيشكي اجرت شرط كښيږدي يا د دوكان سرای مالك پيشكي د كرايي مطالبه وكړي او كرايه دار هم دغه شرط تسليم كړي يا يوه اداره يا كمپنی په خپله و خپلو ملازمينو ته د مياشتي په شروع كي پيشكي تنخواه ادا كړي دا ټوله صورتونه د فريقينو د رضامندي په وجه شرعاً جائز دي:

"لا تلزم الاجرة بالعقد المطلق ، يعنی لا يلزم تسليم بدل الاجارة بمجرد انعقادها حالاً سواء كان البدل عيناً او ديناً .... تلزم الاجرة بالتعجيل يعنی لو سلم المستاجر الاجرة نقداً ملكها الاجرة و ليس للمستأجر استردادها سواء كانت الاجارة منجزة او مضافة .... تلزم الاجرة بشرط التعجيل يعنی لو شرط كون الاجرة معجلة يلزم المستاجر تسليمها ان عقد الاجارة وارداً علی منافع الاعيان او علی العمل ففی الصورة الاولی للاجر ان يمتنع عن تسليم المأجور ، و فی الصورة الثانية للاجير ان يمتنع عن العمل ان يستوفيا الاجرة ، و علی كلنا الصورتين لهما المطالبة بالاجرة نقداً فان امتنع المستجر عن الايفاء فلها فسخ الاجارة"(شرح المجلة لرستم باز / ج: ۱ / ص: ۲۰۸ ـ رقم مادة ٤٦٦ ـ ٤٦٧ـ٤٦٨ ، الكتاب الثانی فی الاجارة ، الباب الثالث فی المسائل المتعلقة بلزوم الاجرة و كيفية استحقاقها للمؤجر ـ فاروقيه كوئته)

(الدر مع الرد / ج: ٦ / ص: ٦٤ ، کتاب الاجارة ، باب ضمان الاجیر ، ط : سعید)
(شرح المجلة للاتاسی / ج: ٢ / ص: ٥٤٩ ، ٥١١ ـ رقم الماده ٤٦٦ ، ٤٦٧ ، ٤٦٨ ـ الکتاب الثانی فی الاجارة ، الباب الثالث ، الفصل الثانی فی المسائل المتعلقة بسبب لزوم الاجرة وکیفیة استحقاق الاجر الاجرة ـ ط: رشیدیه)



د کار د پوره کېدو دمخه د اجرت رسید خرڅول:

د مزدوري رسید د کار د مکمل کېدو دمخه خرید یا فروخت جائز نه دی او کار د مکمل کېدو وروسته د اجرت رسید چي څومره روپۍ لیکلي دي د هغومره رقم په عوض د دغه رسید خرڅول یا حواله کول جائز دي .مثلاً زید د ټېکدار کار کوي د زید د کار طریقه دا ده چي هغه د نور حلګو ګاډیاني په کرایه اخلي او د اجرت مزدوري رسید ورکو چي په هغه کې روپۍ لیکلي وي لیکن دغه روپۍ چي کار پره سي بیا يې ورکوي . اوس که چیري د ګاډۍ و مالک ته ورپۍ ضرورت سوې نو د ګاډۍ مالک غواړي چي د ټېکدار رسید پر بل چاخر څ کړي نو د کار پوره کېدو څخه دمخه د رسید خرڅول یا حواله کول جائز نه دی . او د کار د مکمل کېدو بعد په رسید کي د لیکل سوي رقم پر برابر رقم باندي تبادله جائز ده .

"وعن ابن عباسؓ قال : اما الذی نهی عنه النبی ﷺ فهو الطعام ان یباع حتی یقبض ، قال ابن عباس : و لا احسب کل شیئ الامثله ـ متفق علیه ـ

مشكوة المصابيح ص: ٢٤٧ ـ كتاب البيوع ، باب المنهى عنها من البيوع ، الفصل الاول ، و فيه ايضا و عنه قال رسول الله ﷺ لا يحل سلف و بيع ، ولا شرطا فى بيع و لا ربح ما لم يضمن ، و لا بيع ما ليس عندك ـ "(رواه الترمذى / ص: ٢٤٨ ، الفصل الثانى ، ط: قديمى)

ولا يملك الاجرة إلا بواحد من هذه الأربعة ، والمراد انه لا ستحقها الموجر إلا بذلك..... ولكن ليس له بيعها قبل قبضها ـ (البحر الرائق / ج: ٧ / ص: ٣٠٠ ـ كتاب الاجارة ، ط: رشيديه كوئته)

(قوله و ما يستجره الانسان) ذكر فى البحر : ان من شرائط المعقود عليه ان يكون موجوداً ، فلم ينقعد بيع المعدوم ـ (شامى / ج: ٤ / ص: ٥١٦ ، كتاب البيوع ، قبيل مطلب فى البيع الاستجرار ـ ط : سعيد)(الفتاوى هنديه / ج: ٣ / ص: ٣ ـ كتاب البيوع ، الباب الاول فى تعريف البيع ... ط : رشيديه ـ

هى نقل الدين من ذمة إلى ذمة وتصح الدين لا فى العين برضا المحتال والمحتال عليه ـ (البحر الرائق ج٦ / ص: ٤١٠ ـ كتاب الحواله ـ ط: رشيديه) (الهندية / ج: ٣ / ص: ٢٩٥) كتاب الحواله ، ط : رشيديه) (الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٣٤٠ ، كتاب الحواله ، ط: سعيد)



د اجنبي ښځي سره مصافحه (روغبړ) کول:

د سختي مجبوري بغيره وغير محرمي ښځي ته لاس ور وړل شرعاً

سخته ګناه ده د دې وجهې د اجنبي ښځې سره د لاس روغبړ هرګز مه کوئ . نبي کریم و دې ته د لاس زنا ویلې ده په حدیث شریف کې راغلي دي : والیدان تزینان و زناهما البطش . یعني د لاسو هم زنا سته، د لاسو زنا دا ده کله چې (اجنبي نر او ښځې) یو د بله تر لاسو سره نیول .

په یو روایت کې دي : په خپل سر کې ستن دننه کول ډېر بهتر دي تر دې چې یو داسې ښځې لره لاس ور وړې چې هغه درته حلاله نه وي .

رسول الله ﷺ هم د اجنبي ښځو سره روغبړ یا مصافحه نه کوله بلکه که ښځې پخپله دراخواست کاوی بیا به هم نبي کریم به صاف انکار کاوی .

د دې وجهې دوکاندارانو و نامحرمو ښځو ته ګهړی، زېورات، کالي کوتونه وغیره ور اغوستل او د هغو سره مصافحه کول ناجائز او ګناه ده .

دغه رنګه د بهرني ممالکو د مختلفه کمپنیانو ښځینه نمائنده سره مصافحه کول هم حرام ده .

"عن ابی هریرة قال : ان النبی ﷺ قال لکل ابن آدم حظه من الزنا بهذه القصه قال والیدان تزنیان فزناهما البطش والرجلان تزنیان فزنهما المشی والفمّ یزنی فزناه القبل "(ابو داؤد / ج: ۱ / ص: ۳۱۰ـ کتاب النکاح ،باب ما یؤمر به من غض البصر ـ رقم الحدیث : ۲۱۵۳ ، ط: رحمانیه کوئٹه ـ (سنن البیهقی الکبریٰ / ج: ۷ / ص: ۸۹ ، رقم الحدیث : ۱۳۲۸۹ ، کتاب النکاح باب تحریم النظر إلی الاجنبیات من غیر سبب مبیح ، ط: مکتبه دار باز مکة مکرمة)

(مسند احمد بن حنبل / ج: ۲ / ص: ۳٤۳ ـ رقم الحدیث : ۸۵۰۷ مسند

المکثرین من الصحابة ، مسند ابی هریرةؓ ، ط: مؤسسة القرطبة القاهرة)

"قال رسول اللہ ﷺ : لأن یطعن فی رأس احدکم بمخیط من حدید خیر لہ من ان یمس امرأة لا تحل له" (المعجم الکبیر للطبرانی / ج: ۲۰ / ص: ۲۱۱ ۔ رقم الحدیث ۴۸۶ ، باب المیم معقل بن یسار یکنی ابا علی ، ط: مکتبه العلوم والحکم)

(کنزالعمال / ج: ۵ / ص: ۳۲۸ ۔ رقم الحدیث ۱۳۵۶۵ ۔ کتاب الحدود من قسم الاقوال الباب الثانی فی انواع الحدود الفصل الاول ، فی زنا الفرع الثانی فی مقدمات الزنا والخلوة بالاجنبیة ، ط : مؤسسة رسالة)

(فیض القدیر / ج: ۵ / ص: ۳۲۹ ۔ رقم الحدیث ۷۲۱۶ حرف اللام ، ط : دار اکتب العلمیة)

"اخبرنا مالك اخبرنا محمد بن المنکدر عن أمیمة بن رقیقة أنها قلت : آتیت رسول اللہؐ فی نسوة بتاعد فقلنا یا رسول اللہ ﷺ نبایعك علی أن لا نشرك باللہ شیئاً و لا نسرق و لا نزنی و لا نقتل اولادنا لا نأتی ببهتان تفتریه بین ایدینا و ارجلنا ولا نعصیك فی معروف قال رسول اللہ ﷺ فیما استطقن و أطقن قلنا اللہ و رسوله أرحم منا بأنفسنا ۔۔۔۔ نبایعك یا رسول اللہ قال انی لا اصافح النساء و انما قولی لمائه امرأة و اجرة او مثل قولی لامرأة واجره ۔"

(موطا امام محمد / ص: ۷۳۵ ۔ کتاب السیر باب ما یره من مصافحة النساء ، ط: قدیمی کتب خانه ۔)

(موطا الامام مالك / ص: ۷۴۰ ۔ کتاب الجامع ما جاء فی البیعة ۔ ط : قدیمی)

(فیض القدیر / ج: ۳ / ص: ۲۲ ۔ رقم الحدیث ۲۶۳۶ ۔ حرف الالف ۔ ط : کتب العلمیة)



اجیر خاص:

کـه چیـري دلال یـا یو سړي ته یو خاص سړی یا اداره د وقتِ معلوم سره د کار کولو دپاره ودري نو دغه ته اجیر خاص ویل کیږي .

تـاجـر چـي د دلال سـره کـوم عـقـد کـوي هغـه عقد د اجارې دی .لهذا کـه چیـري د اجارې د شرائطو لحاظ وساتل سي نو د دلالي کار جائز دی که نه وي نو نه دی جائز .

"الاجیر عـلـی قسیـمـن : قسم الاول هو الاجیر الخاخ الذی استؤجر علی انیعمل للمستأجر فقط ... کالخادم الموظف۔

والـقـسـم الـثـانـی هـو الاجیر المشترك الذی لیس بمقید بشرط اَلّا یعمل لغیر الـمـسـتـاجـر ، و بـعبارة اخری : الاجیر المشترك منیعمل لا لواحد ... او یعمل له عـمـلاً غیر موقت او مؤقتا بلا تخصیص .... کالمال والدلال والخیاط والساعاتی والـصـائع ... "(شرح المجلد لسلیم رستم باز / ج: ۱ / ص: ۱۸۸ ـ ۱۸۹ ـ رقم الـمـادـة ۴۲۲ ،الـکـتـاب الـثـانـی فـی الاجـارة ، الباب الاول : فی الضوابط العمومیه ، ط : فاروقیه کوئٹه)

☆...... د دلالي د جواز شرائط دا دي:

۱ . کـه چیـري دلال اجیـر خـاص وي نـو د هـغــه د کـار اجرت او د معاوضې مـدت او د اجـرت مـعـلـومېدل ضـروري دي مـثـلا یـوه میاشتـه د کار کولو مـزدوري بـه درکـوو یـا د کـال مـزدوري بـه درته درکوو یا کم و بېش چي هر مدت متـعـین سـو .

او دويم د دلال د اجرت مزدوري تعين به هم كوي مثلا روزانه به ۵۰۰ روپۍ يا ماهنه به ۲۰۰۰۰ روپۍ در كوو .
(۲) او كه چيري دلال وكيل يا اجير مشترك وي نو د هغه څخه چي كوم كار مطلوب وي د هغه كار او د اجرت د دواړو متعين كېدل ضروري دي .
(انظر إلى الحاشيه السابقة رقم ۱، ۲ على الصفحة السابقة تحت نفس العنوان)



اخبارات:

روزنامه، هفته وار، ماهنامه وغيره كي د پرچو او صفحاتو تعداد متعين نه وي او ذا تفصيل هم معلوم نه وي چي د مضامينو او د اخبار د صفحاتو د تعداد به څو وي او اشتهارات به پر څو صفحاتو باندي راځي . خصوصي نمبرونه به څو وي، د تعطيلاتو (چهټيانو) په وجه به څو ورځي اخبارات بند وي، ليكن د دغه باوجود اخبارات او ماهنامې د اوله څخه يا روزانه رانيول جائز دي . د دغه قسم جهالت څخه بيع (خريد و فروخت) فاسده او معامله ناجائزه نه كيږي . ځكه چي د دغه قسم جهالت څخه جنګ نه پيدا كيږي ، او د كوم جهالت څخه چي جګړه نه پيدا كيږي د هغه څخه بيع نه فاسديږي . له همدې وجهي دغه بيع نه فاسديږي .

"وما كل جهالة تفسد البيع ، فان كثيرا من الامور يترك مهملاً في البيع ، و اشتراط الاستقصاء ضرر و لكن المفسد هو المفضى إلى المنازعة ـ"(حجة الله البالغة / ج: ۲ / ص: ۱۰۹ ـ البيوع المنهي عنها ، ط : قديمي)

"و ذلك لأن العقود على نحوين : نحو يكون معصية فى نفسه و ذا لا يجوز مطلقاً او نحو آخر لا يكون معصية ، و انما يحكم عليه بعدم الجواز لافضائه إلى المنازعة فاذا لم تقع فيه منازعة جاز"(فيض البارى للكشميرى / ج: ۳ / ص: ۲۸۹ ، كتاب الوكالة ، باب وكالة الشاهد ، ط: اشرفيه كوئته۔

(الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۸۸ ۔ كتاب البيوع ، باب البيع الفاسد ، ط : سعيد)



د اخباراتو خريد او فروخت:

د اخباراتو خريد او فروخت بنيادي مقصد ملکي او د غير ملکي حالاتو او واقعاتو څخه خبرېدل دي . په اخباراتو کي د جاندارو د عکسو ګناه، د عکسو پر جوړولو والا وو باندي ده . دغه رنګه دروا غ او بې بنياده خبري شائع کولو ګناه هم پر شائع کوونکي ده د اخبار د اخيستلو والا به ګناهکار نه وي، البته که چيري ديو اخبار يا ميګزين وغيره د اشاعت مقصد د عقائدو خرابول وي د دين څخه مزاق جوړول، فحاشي، عرياني لا دينيت ته فروغ او فراخي ورکول وي او د دغه معاشري (ټولني) د افرادو عادات، اخلاق او عقائد ځيني متاثره کيږي بيا نو د داسي اخباراتو خريد و فروخت څخه ځان ساتل ضروري دي:

﴿وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾(الانعام:۱٦٤)

قال أصحابنا وغيرهم من العلماء تصوير صورة حيوان حرام شديد التحريم ... و اما اتخاذ المصور بحيوان فان كان معلقًا على الحائط سواء كان له ظل ام لا ، او ثوباً ملبوساً او حمامة اونحو ذلك فهو حرام ۔ و اما الواسادة و نحوها

مما يمتهن فليس بحرام۔(المرقاة شرح المشكوة / ج: ٨ / ص: ٣٢٦، باب التصاوير الفصل الاول ،ط : امداديه ملتان)

و إذا سئل الرجل وغيره الاخبار المحدثة فى البلد ، قال بعضهم : يكره الاخبار والاستخبار و قال بعضهم لا يكره الاستخبار و يكره الاخبار والصحيح انه لا بأس بالاخبار ايضا ، ليكون عالماً بالمصالح۔(الفتاوى الخانية على هامش الفتاوى الهندية / ص: ٤٢٥ ۔ / ج: ٣ ، كتاب الحظر و الاباحة فصل فى التسبيح والتسليم ، ط : رشيديه كوئٹه۔)

(الصحيح المسلم / ج: ٢ / ص: ١٩٩ ، كتاب اللباس والزينة ، باب التحريم تصوير الحيوان و تحريم اتخاذ ما فيه صورة ، ط : قديمى)

(الاعانة فى المعصية و ترويجها و تقريب الناس إليها معصية و فساد فى الارض ۔ حجة الله البالغ / ج: ٢ / ص: ٢٠٩ ، البيوع المنهى عنها ، ط : كتب خانه رشيديه كوئٹه)



د اختياراتو مفهوم (معنىٰ):

په سرمايه دارانه نظام معشيت كي رائج اختيارات او په شريعت كي جائز اختيارات جلا جلا دي . د دواړو په مابين كي هيڅ مناسبت او تعلق نسته .

د اختيار شرعي مفهوم دا دى چي بيع باقي پرېښو دل يا بيع فسخ كول كي كوم صورت ښه معلوم سو د هغه انتخاب دي وكړل سي . د دغه هيڅ فيس مقرر نه دى او دغه حق پر يو بل چا بندلي خرڅول هم جائز نه دى .

او په سرمايه دارانه نظام معيشت كي رائج اختيار څخه مراد دا دى چي يو شي د اخيستلو يا خرڅولو محض يو حق وي او دا هم يو داسي مالي حق

هم نه وي چي د هغه معاوضه اخيستل جائز وي ، لهذا د اختيار اتو خريد او فروخت ناجائز او حرام دی .

دغسي چي کومه آمدني حاصله سي د غه هم حرامه ده .

مزيد دا چي د اختيار اتو خريد او فروخت يو داسي عمل دی چي د غرور او ستہ بازي غوندي قباحتونو څخه خالي نه وي .

"الخيار كون احد العاقدين مخيراً ـ) الخيار هو ان يكون الانسان مخيراً بين تنفيذ العقد و بين الفسخة "(در الحكام شرح مجلة الحكام ١/ ١١٠ـ الماده ١١٦ ـ المقالة الثانية فى البيان القواعد الكلية الفقهية ، ط : دار الجيل ؛ (شرح المجلة لرستم باز / ج: ١ / ص: ٥٥ ، المادة ١١٦ ـ ايضا ط : مكتبه فاروقيه ـ)

(و فى الاشباه لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة ـ(الدر المختار مع الرد ـ / ج: ٤ / ص: ٥١٨ ـ كتاب البيوع ، ط : سعيد)

" و ان المقصود بعقود الاختيارات الاعتياض عن الالتزام بيع شيئ محدد موصوف او شرائه بسعر محدد خلال فترة زمنية او فى وقت معين اما مباشرة اومن خلال هيئة ضامنة لحقوق طرفين ، حكمه الشرعى ان العقود الاختيارات كما تجرى اليوم فى الاسواق المالية العالمية ، لا تنصوى تحت اى عقد من العقود الشرعية المسماة ، فهى العقود مستحدثه ، و بما ان لمعقود عليه ليس ما لاولا منفعة و لا حقاً مالياً يجو ز الاعتياض عنه ، فانه غير جائزاً شرعًا و بما ان هذا العقود لا تجوز ابتداء فلا يجوز تداولها ـ" (الفقه الاسلامى و ادلته / ج: ٧ / ص: ٥١٩٥ ، القسم الرابع الملكية و توابعها ، المبحث السابع ، عائد الاستثمار ، الاسواق المالية ثانياً بيع الاختيارات ، ط: رشيديه)

(فقه البیوع عن المذاهب الأربعة / ج: ١ / ص: ٢٨٨ ـ المبحث الثالث فی الاحکام البیع والثمن ..... الخ ، الشرط الاول : مالية المبیع ، بیع الاختیارات ، ط : معارف القرآن)

”فان هذا التزام لیس حقا یقبل الانتقال إلی المشتری ، و انما هو وعد محض من قبل الملتزم و لا یجوز اخذ العوض علی مثل هذا الوعد“ (فقه البیوع / ج: ١ / ص: ٢٨٨ ـ ط: معارف القرآن)

عن ابن عباسؓ عن النبیؐ قا ل : ان اللّٰه تعالی إذا حرم شیئاً حرم الثمیة ـ(سنن دار القطنی / ج: ٣ / ص: ٣٨٨ ـ رقم الحدیث ٢٨١٥ موسسة الرسالة)

(اعلاء السنن / ج: ٤ / ص: ١١٣ ، کتاب البیوع باب حرمة البیع والخمر والمیتة ... الخ ، ط : ادارة القرآن)

”والواقع ان هذا التعاملات داخلة فی المضاربات التی هی اشبه بالمقامرة منها بالبیع والتجارة و ذلك ان البائع الاختیار لا یملك ما یلتزم فی البیعة و انما یدخل فی هذا الالتزام علی اساس التوقعات التی یخمنها للمستقبل و کذلك المشتری“

(فقة البیوع المذاهب الأربعة / ج: ١ / ص: ٢٨٨ ـ المبحث الثالث فی احکام البیع والثمن الخ ، الشرط الاول مالية المبیع ، بیع الاختیارات ، ط : معارف)



که اختیار (خیار شرط) ختمېدل غواړي:

که چیري صاحب اختیار د خیار شرط په صورت کي سودا ختمېدل وغواړي نو د دغه دپاره و دویم فریق ته د دغه خبر ورکول ضروري دي، ودویم فریق ته د خبر ورکولو بغیر یکطرفه سودا نه سي ختمېدای:

"کل من شرط له الخیار فی البیع یسیر مخیراً بفسخ البیع فی المدة المعینة للخیار ..... فسخ البیع و اجازته فی مدة الخیار کما یکون بالقول یکون بالفعل ایضاً۔ اما الفسخ ... ان کان بالقول فلا ینفسخ البیع إلا بعلم صاحبه فی مدة الخیار فلو لم یعلم حتی مضت المـــدة لزم العقد" (شرح المجلة للاتاسی / ج: ۲ / ص: ۲۳٦ ، ۲۳۷ ، رقم المادة ۱۔۳۔۲۔۳ ۔ الکتاب الاول فی البیوع الباب السادس فی بیان التحیارات ، الفصل الاول فی بیان الخیار شرط ، ط : رشیدیه ۔)

(الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ٥٨٠ ، کتاب البیوع ، باب الخیار شرط ، ط : سعید)

(شرح المجلة لرستم باز / ج: ۱ / ص: ۱۲٦ ، رقم المادة (۳۰۱۔ الکتاب الاول فی البیوع الباب السادس فی البطلان الخیارات الفصل الاول فی البیان خیار الشرط ۔ ط : فاروقیه کوئٹه)



که ادائیګي پر وخت نه وسي نو بیعانه (بیانه) د ضبط کولو شرط:

که چیري عقد بیع (خرید و فروخت) د کولو په وخت دا شرط کښېښول سي چي که چیري خریدار پر وخت ادائیګي نه وکړي نو د هغه بیعانه به ضبط سي . نو دا بیع فاسدیږي ځکه چي په دغه شرط کي د بائع فائده ده او که چیري د عقد بیع کولو په وخت شرط ذکر نه سي بلکه د بیع کولو څخه وروسته دغه شرط ذکر سي نو بیع خو به صحیح سي لیکن دغه شرط لغو کیږي .

که چیري بیعانه دورکولو په وخت داشرط ولګوي چي که چیري خریدار پر وخت ادائیګي و نه کړه نو د هغه بیعانه به ضبط کړل سي او که چیري بائع د خپلي سودا څخه پر شا سو نو هغه به و خریدار ته د بیعانه غوندي ډبل رقم ورپی ورکوي ، نو دغه شرط ناجائز دی نه بائع بیعانه ضبطوای سي او نه خریدار ډبل رقم اخیستلای سي . خریدار که چیري د بیع پر ختمېدو راضي وي نو هغه صرف خپله بیعانه اخیستلای سي او که چیري د بیع پر ختمېدو فسخ کېدو راضي نه وي نو د عدالت په ذریعه رانیولی سي د وصولو حقدار دی .

"عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده رضی الله تعالی عنه : ان رسول الله ﷺ نهی عن بیع ـ ـ ـ ـ قال مالك و ذلك فیما نری و الله اعلم ، یشتری الرجلالعبد او الولیده او یتکاری الدابة ثم یقول للذی اشتری منه او تکاری منه اعطیتك دیناراً او درهماً او اکثر من ذلك او اقل علی انی اخذت السعلة

او ركبت اتكاريت منك فالذى اعطيتك من ثمن السعلة اوكراء الدابة و ان تركت اتباع السعلت او كرائه الدابة فى اعتيط ـ ـ ـ ان يغير شيئ ـ "(اعلاء السنن / ج: ١٤ / ص: ١٧٣ ـ ١٧٦ ، كتاب البيوع عن بيع العمربان ، ط, ادارة القرآن)

(موطا الامام مالكؒ / ص: ٥٦٨ ، كتاب البيوع ، ما جاء فى بيع العمربان)

"قوله : نهى عن بيع العمربان بضم المهملة وفيه نعمتان العربون بضمالعين و فتحها اى عن بيع الذى فيه العربان فى النهاية هو أن يشترى السلعة و يرفع إلى صاحبها شيئ على انه ان امضى البيع حسب من الثمن و إلا كان لصاحب السلعة و لم يرجعه المشترى و هو بيع باطل عند الفقهاء لما فيه من الغرور الشرط عدم الرد والهبة ان لم يرض السلعة ـ

(كشف المغطاء عن وجه الموطا على الموطا امام مالك / ص: ٥٦٨ ـ كتاب البيوع ماجاء فى العمربان ، ط: قديمى كتب خانه)

و نهى عن بيع العمربان أن يقدم إليه شيئ من الثمن فان اشترى حسب من الثمن و إلا فهو له مجاناً و فيه معنى اليسر ـ(حجة الله البالغة / ج: ٢ / ص: ١٥٨ ،البيوع المنهى عنها من البيوع ما يجرى فيه معنى اليسر ، ط :رشيديه دهلى ـ

قوله : و حكم ثبوت الملك ، اى فى البدلين لكل منهما فى بدل و هذا حكمه الاصلى والتابع وجوب تسليم المبيع و الثمن ـ (شامى / ج: ٤ / ص: ٥٥٦ ، كتاب البيوع ، ط : سعيد ـ) (البحر الرائق / ج: ٥ / ص: ٣٦١ ، كتاب البيع ، ط : سعيد)



د ادائيـګي پـه ورځ پـه قـيمت كـي كمېدل يا زياتېدل:

كـه چيـري يو سړ سونا چاندي بغيره د يو بل شي د ډالرو په پور (قرض) رانيـوى مثلاً پـه زر ډالـره يې كپـړه رانيـولـه او ډالـر بـه يوه مياشت بعد ادا كـوي نـو پـه كـومـه ورځ چـي سـودا وسـوه پـه هغـه ورځ د ډالر قيمت سل روپـۍ وو او د يوې مياشتي بعد كله چې د ادائيګي وخت راغلى نو يو ډالر

و سل و شل روپـۍ سو نو په زر ډالر كي د پاكستاني روپـۍ په حساب و ده تـه شل زره روپـۍ نـقـصـان وسـو ځكه چي خريدار به وو په يو لک روپـۍ پاكستاني روپـۍ پر ځاى به يو لک او شل زره روپـۍ به زر ډالره راسي .

او كـه چيـري د ادائيـګي په ورځ د ډالر قيمت د سلو روپو پر ځاى نيوي روپـۍ وي نـو خريدار ته به لس زره پاكستاني روپـۍ فائده وي او هغه د يو لک روپـۍ وركـولـو پـر ځـاى بـه نيـوي زره روپـۍ وركړي او يو زر ډالر بـه حـاصـل كړي او بائع ته به يې وركړي، چي په هغه كي به د خريدار لس زره روپـۍ فائده وسي او دغه ټوله د ډالر په قيمت كي د كمي او بيشي په وجه وسـو، نـو پـه دغـه باره كي حكم دا دى چي پر خريدار په هر حالت يو زر ډالر ادا كول لازم دي په قيمت كي كمي او بيشي د كيدو په وجه د ډالر په مقدار (تـعـداد) كـي كمي و بيشي كول جائز نه دى، په دغـه اعـتبار د ډالر قيمت د كبنتـه كېدو پـه وجـه كـي و خـريدار ته كومه نفعه وسوه هغه و خريدار ته حلاله ده .

او د ډالرو قیمت د لوړېدو په وجه چې و خریدار ته کوم نقصان وسو او ډالر دپاره ډېري پیسې ورکړي وایي خیستې دغه نقصان به هم خریدار پورته کوي . عرض مختصر دا چې د کومي کرنسۍ چې څومره تعداد مقرر سو هغه کرنسي په دغو نه تعداد ادا کول لازم دي .

"فی الفتاوی الانقرویة رجل اقرض من الناصری مبلغا قیمته سبعة مثاقیل نصف دینار بوری و مضت سنون و تغیر سعر الناصری حتی صارت قیمته ثمانیة عشر بدینار نسیابوري فله أن یطالبه بالنقد الذی دفعه إلیه "(الفتاوی الانقرویة / ج: ۱ / ص: ۳۰۹)



که په پور اخیستي شي کي تأخیر وسي:

په پور اخیستل سوي شي چې یو وار قیمت مقرر سي په ادائیګي کي د تاخیر په وجه اضافه کول جائز نه دي ځکه چې د تاخیر په وجه چې کومه اضافه کیږي هغه چې په هر نامه وي هغه به ناجائز وي ځکه چې هغه به په حقیقت کي پر قرض اضافه وي او پر قرض اضافه رقم اخیستل دسود کېدو په وجه ناجائز او حرام دي .

"قال علیه الصلاة والسلام : کل قرض جرّ منفعه فهو رباء"(فیض القدیر اللفتاوی / ج: ٦ / ص: ۲۸۲)



۞.. پلار ته دري ورځي اختیار سته:

سوال:......

چې یو څوک ووایي چې دري ورځي زما پلار ته اختیار سته که چیري

هغه راته ووایي نو اخلم یې او که نه ووایي نوزه یې بیرته واپس کوم نو داسي کول څنګه دي؟

جواب:......

دا صحیح دی اوس په دریو ورځو کي دی یا د ده پلار هغه شي واپس کولای سي او که دی یا د ده پلار ووایي چي ما دا شي واخیستی بیا یې نه واپس کوم نو بیا یې نه سي واپس کولای. (شامي/ ج: ٦/ ص: ۳۹۱، ۳۹۲، شرح المجلة للاتاسی/ ج: ۲/ ص: ۲۳۵)

۞..په خبرو سره د ایجاب و قبول شرائط:

سوال:......

په خبرو یا په لیک سره ایجاب و قبول څه شرائط لري؟

جواب:......

د ایجاب و قبول دپاره دي د ماضي یا د حال صیغه استعمال کړي لکه ما واخیستی ما رانیوی یا زه ئې اوس رانیسم. زه یې اوس اخلم وغیره. د مستقبل په صغیه سره سودا نه صحیح کیږي لکه زه یې رانیسم زه به یې واخلم. (شامي/ ج: ٦/ ص: ۳۹۱، ۳۹۲)

دسوالیه کلام سره ایجاب او قبول

سوال:......

آیا په سوالیه کلام سره ایجاب او قبول صحیح کیږي که یا؟

جواب:......

نه صحیح کیږي د ایجاب او قبول دپاره دي داسي الفاظ استعمال کړل سي چي په هغه سره د اخیستلو یا رانیولو یا د مالک جوړېدلو معنی ښکاره

سي لکه ما واخیستی، ما ور رانیوی، ما داشی ور کړی، زه یې مالک جوړ سوم، زه پر دې راضي سوم . (تجارت کے مسائل کا انسائیکلو پیڈیا/ج: ۲/ص: ۲۱)

۞..د نرې کالیو تجارت:

سوال:......

د نري کالیو تجارت کول څنګه دی داسي کالي چي ډبل یې کړې بیا هم بدن تر معلومیږي؟

جواب:......

نري کالي بې حیایی، عریاني او فحاشي ته ګواکي دعوت ورکوي نو د دې وجهي نري کالي اخیستل او رانیول ګناه ده نو ددې وجهي باید د دغه کاروبار څخه ځان وساتي . او که چیري یې دا سودا وکړه نو سودا صحیح ده:

"ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریماً و إلا فتنزیهاً .... وقال الشامی و بیع المکعب المضغض للرجل ان لیلبسه یکره لأنه اعانة علی لبس الحرام"(شامی)

۞..بازار د الله سترخان دی:

سوال:......

بعضي خلک داسي وایي چي بازار د الله سترخان دی په داسي ویلو سره څوک ګناهکار کیږي که نه؟

جواب:......

الله (ج) د معاش او د کسب مرکزونه بازارونه جوړ کړي دي کوم څوک چي د حلالو پیسو د ګټلو دپاره بازار ته ولاړ سي هغه به یې ضرور

ومونديٍ او ځوک چي بې ضرورته په کور کي ناستوي هغه به د خدای د رزق څخه محروم سي . حضرت حسن بصريؒ فرمايي چيدغه بازار د الله (ج) سترخان دی ځوک چي دلته راځي هغه به يې پيدا کوي:

"الاسواق موائد الله فمن أتاها أصاب فيها"شرح احياء العلوم / ج: ٥ / ص: ٤١٧ ـ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول فى فضل الكسب والحث عليه ، مؤسسة التاريخ العربى قوت القلوب ـ / ج: ٢ / ص: ٤٥١)

۞ ..بازار د بدترينه مقاماتو څخه دی:

سوال:......

آيا دا حقيقتۍ چي بد ترين ځای د الله په نزد بازار دی؟

جواب:......

هو! د حضرت جابرؓ څخه روايت دی چي يو سړي د نبي عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چي بد ځای د الله په نزد کوم يو دی، نبي عليه السلام ورته وفرمايل چي ما ته نه دی را معلوم زه د جبرائيلؑ څخه پوښتنه کوم بيا درته وايم، بيا نبي ﷺ وته وويل چي ښه ځايونه د الله په نزد مساجد او بد ځايونه د الله په نزد بازارونه دي:

"عن محمد بن جبير بن مطعم عن أبيهؓ ان رجلاً قال يا رسول الله اى البلدان أحب إلى الله ؟ و أى البلدان أبغض إلى الله؟ قال لا ادرى حتى أسال جبرئيل فلما اتاه جبرئيل فأخبره ان احب البقاع إلى الله المساجد و أبغض البقاع إلى الله الاسواق"(مسند البزاز ج٨ ص٣٥٢)

۞ ..د بازار تر عام نرخ شی ارزانه خرڅول:

سوال:......

ایا دیو تاجر دپاره دا جائز دي چې د بازار تر عام نرخ شی ډېر ارزانه خرڅ کړي؟

جواب:......

یا، داسي کول ناجائز دي د څو وجوهاتو څخه:

(۱):۔ که چیري یو تاجر شیان ډېر ارزانه خرڅوي نو د هغه نورو تاجرانو دپاره د سودا لاره او د هغو نان او نفقه یې وربنده کړه.

(۲):۔ چې کله شی ډېر ارزانه سي نو خلک یې د ارزان والي په سبب ډېر اخلي نو دا اسراف سو.

(۳):۔ خلک به د غ ارزانه شي اخلي او جمع کوي ذخیره کوي به یې.

(٤):۔ د دغه وجهې څخه به د تجارانو په مابین کي جګړه، حسد، بغض او کینه پیدا سي. نو که چیري یو سړي داسي فعل کوی (یعني ډېر ارزانه خرڅېده) نو خلک دي په نرمي سر ور خلاص کړي. که چیري یې نه ومنله نو بیا خلک دي پخپله یا دي حکومت ته رجوع وکړي او دغه سړي دي د بازار څخه پسي واخلي.

حضرت سعید بن مسیب فرمایي چې حضرت عمرؓ د حضرت حاطبؓ سره تېرېدی هغه په بازار کي کشمش ارزانه خرڅول، حضرت عمرؓ ورته وفرمایل چې یا خو یې نرخ ور زیات کړه یا زموږ د بازار څخه ووزه، او که چیري تاجران په مناسب ریټ شیان نه خرڅوي نو په دغه صورت کي شیان ارزانه خرڅول نه صرف جائز بلکي ثواب لري.

"عن سعید بن المسب قال: مر عمرؓ علی حاطب بن ابی بلتعة و هو یبیع زبیباً له فی السوق فقال له عمر اما ان تزید فی السعر و اما انترفع من

سوقنا"(کنز العمال / ج: ٤ / ص: ١٨٣ ، کتاب البیوع)

۞..باغ :چې څه میوه ئې ښکاره سي

سوال :......

بعضې خلک باغ چې یو څو مېوې یې ښکاره سي نو خرڅ یې کړي حال هم دا دی چې دا نه وي معلوم چې د مېوې مقدار نه وي معلوم او نه هم دا معلوم وي چې په مستقبل کې به ددې څه کیفیت وي؟

جواب :...... د دې په باره کې حکم دا دی چې هغه کومه مېوه چې ښکاره سوې ده هغه که د انسان او که د حیوان د خوړولو لائقه وي نو دغه بیع به جائز وي او که چیرې باغ خرڅوي مېوه نه وي ښکاره سوې دلته دوه صورته دي:

یو صورت دا دی چې مېوه بالکل هیڅ نه وي ښکاره سوې نو دلته بیع د معدوم راځي دا قسم بیع ناجائز ده . بل صورت دا دی چې په باغ کې خو یو څو مېوې ښکاره سوي وي خو اوس ورځ په ورځ نوري مېوې ښکاره کېدل شروع سوي وې نو د هغه ښکاره سوو مېوو بیع جائز ده او د هغه ناښکاره بیع ناجائز ده . په دغه صورت کې د دغه اخیستلو جائزه طریقه دا ده چې کومه مېوه چې اوس پیدا کیږي د هغه دپاره دې باغ په اجاره واخلي او د باغ د اجارې په عوض کې دې مشتري ته ډېره حصه مقرره کړي . (مثلا بائع ته دې د زرمې ١٠٠٠ حصې د ورکولو حیله جوړه کړي) نو دغه به بیا د مجبورې د وجهې څخه سودا جائزه سي)

"مهما کثر الباطل فی الاسواق و ظهرت فیها المناکیر کره دخولها لأرباب الفضل والمقتدی بهم فی الدین "(الجامع الاحکام القرآن ١٣/١٦) سورة

الفرقان ـ الآية ۳۰)

۞ ..د باغ د مېوې د اخيستلو جائز صورت:

سـوال:......

کـه چيـري ديـوچا د مېوې د اخيستلو وروسته علی الفور د هغه د کاتېدلو اراده نه وي د دې وجهي چې هغه مېوه پخه سي نو دلته د سودا آسانه طريقه څنګه ده؟

جواب:......

مثلًا چـي د ميـوې قيـمت لک .....۱ روپۍ دي نو اتيا زره ....۸ دي مقرر کړل سي او پـه شـل زره ....۲ دي د بـاغ مـځکه په اجاره شمار کړلسي او د اجارې مـوده دي هغـه د ميـوې د کـاتېـدو آخـري ورځ مـقـرر کړل سي نو پـه دغـه صورت کي مېوه تر مقرره سوي مودې پوري په درختو کي ساتل به جائز سي:

"والحيلة ان ياخـذ الشجـرة معاملة على أن لـه جزء اً من الف جزء و ان يشترى اصـول الرطبة كـالباذنجان و اشجار البطيخ والخيار ليكون الحادث لـلـمشترى و فـى الـزرع والـحشيـش يشترى الـموجود ببعض الثمن و يستأجر الارض مدة معلومة يعلم فيها الادراك بباقى الثمن و فى الاشجار الموجودة و يحل له البائع مايوجد"(الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ٥٥٧ ، ٥٥٨ ، كتاب البيوع ، فصل فيما يدخل فى البيع تبعاً وما لا يدخل)

۞ ..د باغ د ميوې د بيع مختلف صورتونه:

(۱):.. تر څه وخته چي مېوه ګل نه سي ددې بيع (اخيستل يا رانيول) اتفاقًا ناجائز ده .

(۲):.. چـي مېـوه بنـکـاره سـي بيـا کـه د انسـان يا د حيوان دپاره قابل انتفاع

وي نو دا بيعه جائز ده .

چې يو څه مېوه ښکاره او يو څه لا نه وي ښکاره سوي ، نو دغه بيع راجح قول دا دی چې جائز ده .

(۳):۔ د بيع صحيح وروسته اخستونکی که دلالةً يا صراحةً دا اجازه وکړه چې مېوه دې په درختو کې وي نو مېوه حلاله ده:

"و من باع ثمـرة لم يبد صلاحها او قد بداء جاز البيع ، لانه مال متقوم ، اما لكونه منتفعاً به في الحال اوفى الثاني و على المشترى قطعها في الحال تفريعاً لملك البائع وهذا إذا اشتراها مطقاً و تركها باذن البائع طاب له الفضل و ان تركها بغير اذنه تصدق بمازاد في ذاته لحصوله بجهة محظورة و ان تركها بعد ما تناهى عظمها لم يتصدق بشيئ لأن هذا التغير حالة لا تحقق زيادة و ان اشتراها مطلقاًو تركها على النخيل و قد استأجر النخيل إلى وقت الادراك طاب له الفضل لأن الاجارة باطلة لعدم التعارف والحاجة فبقى الاذن معتبراً "(فتح القدير مع الكفاية / ج: ٦ / ص: ٢٦٦ ـ ٢٦٧ ـ ٢٦٨ ـ كتاب البيوع)

۞..باغ د څو کالو دپاره اخيستل:

سوال:......

بائع به د ميوې باغ د څو کالو لپاره اخلي، که د درو يا څلورو کالو دپاره دابيع وکړي نو دا جائز ده که نه؟

جواب:......

دا جائز نه ده ځکه په دې کې غرور ، دهوکه او جهالت دی چې کله مېوه پر درخته کی ظاهره سي هغه بيا د انسانانو يا حيوانانو د نفعي قابله سي مثلا د هغه څخه چټني يا اچار جوړېدای سي او يا د حيوانانو دخوراک

دپاره مستعمل كېداى سي نو بيع جائز كيږي كه نه وي نو بيع ناجائز ده .
د حضرت جابر رضى الله عنه څخه روايت دى چي نبي عليه السلام د څو كالو دپاره د باغ د ميوې د رانيولو څخه منع كړې ده . نن سبا تاجرانو د آمو ، امروتو او د نورو موسمي ميوو په بيع كي ناجائزي طريقې غوره كړي دي د دې كبله به دوى په آخرت كي ګناهګار او د عذاب مستحق وي:
"عن جابر بن عبد الله ان النبي نهى عن البيع و وضع الجوائح "(سنن ابى داؤد / ج: ٢ / ص: ١٢٣ ، ١٢٤ـ كتاب البيوع)

۞..د باغي حاكم فوجي نوكري كول:

سوال:.....

د داسي باغي حاكم په فوج كي نوكري كول څنګه دي چي هغه د امام عادل په مقابل كي د كفارو په مرسته و مسلمانانو ته دهمكى وركوي؟

جواب:......

دا ناجائز ده . ددې وجهي چي د امن په حالت كي خو به د دغه حاكم باغي فوج صفا مسلمانان به بيروي او د هغوى مبارك خيالات او عقائدو ته به ضرر ورسوي او كوښښ به كوي چي د خپلي عقيدې څخه يې واړوي او هغه به د جنګ په حالت كي على الاعلان كلمه د كفر او دبغاوت اعلان به كوي او دا خو داسلام ښكاره دښمني ده . داسي نوكري كول ګناه هم ده، اجرت يې هم حلال نه دى، خاص د دغه كار اجرت هم حرام دى، مسلمان دي د دغې نوكري څخه ځان ضرور او په هر حال كي وساتي:
"البغي لغة: الطلب ... و شرعاً هم الخارجون عن الامام الحق بغير حق (قوله على الامام الحق) الظاهر ان مراد به ما يعم المتغلب ، لانه بعد استقرار

سلطنته و نفوذ قهره لا يجوز الخروج عليه كما صرحوا به ... فعلى كل من يقوى على القتال ان ينصروا امام المسلمين على هؤلاء الخارجين لانهم ملعونون على لسان صاحب الشرع قال عليه السلام : الفتنة نائمة لعن الله من أيقظها'

'(الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ٢٦١ ـ كتاب السير ، باب البغاة)

۞..د ښېښتانو د جوړولو اجرت:

سوال:......

په شريعت كي د ښېښتانو د جوړولو اجرت اخيستل څنګه دي؟

جواب:......

جائز دى ليكن د شريعت خلاف ښېښتان جوړول او اجرت پر اخستل ناجائز دى:

"فاما استئجار الحجام لغير الحجامة كالفصد و حلق الرأس و تقصيره و الختان و قطع شيئ من الجسد للحاجة إليه فجائز و لأن هذه الامور تدعو الحاجة إليها و لا تحريم فيها فجازت الاجارة فيها و اخذ الاجرة عليها كسائر المنافع المباحة"(اعلاء السنن / ج: ١٦ / ص: ١٦١ ـ ١٦٠)

ليكن داسي ښېښتان جوړول چي هغه ټول يو لېول وي د نن سبا رقم نه چي مخ ته كوچني شاته غټ يا عكس .

۞..د پسه يا بزې وړى د پريكېدو د مخه:

سوال:......

د پسه يا بزې څخه ما وړى نه دي شكولي آيا دا جائز دى چي زه يې پر قصاب خرڅ كړم هغه يې زما څخه رانيول غواړي؟

جواب:......
یا دا بیع ناجائز او باطله ده ځکه دا د حیوان محض وصف او تابع دی نو ددې وجهي دا په مستقله توګه غیر متقوم دی، او که چیري پرې سي نو دا بیا متقوم (قیمت والا) شی دی او د متقوم شي اخیستل او خرخول جائز وي:
"والصوف على الظهر الغنم: لانه من اوصاف الحيوان و لانه ينبت فى اسفل فيختلط المبيع بغيره فيقع التنازع فى موضع القطع و قد صح انه عليه السلام نهى عن البيع الصوف على الظهر الغنم"(البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٢٢ كتاب البيع)

۞..د بالغ زوی جائیداد بغیر اجازت خرڅول:

سوال:......
ما د خپل زوی محمد قاسم مځکه د هغه د اجازت بغیر خرڅه کړه نو دا سودا صحیح سوه که نه؟
جواب:......دا بیع دفضولي په زمره کي داخله ده د زوی پر اجازت موقوفه ده، که چیري د علم راتلو وروسته قاسم اجازت وکړي نو بیع صحیح سوه که نه بیع باطله ده . یعني که اجازت و نه کړي:
"ومن باع ملك غيره فللمالك ان يفسخه او يجيزه ان بقى العاقدين والمعقود عليه وله و به يعنى انه صحيح موقوف على الاجازة بالشرائط الأربعه ولو قال لا اجيز يكون رد البيع بخلاف الرضاء"(بحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٢٤٥، ٢٤٧ ـ كتاب البيع)

۞..د انساني ښښتانو تجارت:

سوال:......

ښښتـان چـي نـايـان يـې و غـور ځوي ددې تجارت كاروبار جائز دى او كه نه دى جائز؟

جواب: ......يا دا نـاجـائز دى كه څه هم ددې استـعـمـال و كښتـو ته او يا د نورو فوائدو دپاره وي ناجائز دى . دا بايد پر محفوظ ځاى دفن سي:

"و لا يجـوز بيع شعـر الآدمـى و لا الانتفـاع بـه ولا بشى من اجزائه لأن الآدمى مكرم غيرمبتذل "(مجمع الانهر / ج: ٣ / ص: ٨٥ ، كتاب البيوع)

سـوال:......

د نورو ښښتانو څه حكم دى؟

جواب:......

د پلاسـتـكـي ښښتـانو كاروبار جائز دى دغه رقم د حيوانانو د ښښتانو . مـګر د فاسق مسلمان يا كافر استعمالونكي ښښتـان (يعني پلاستكي يا د حيـوانـانو) بايد د هغو د تجارت څخه ځان وساتل سي . دغه رقم د خنزير د ښښتـانـو بيـع و شـراء هم ناجائز ده، ځكه هغه نجس العين دي ځكه هغه تـه لاس ور وړل لا هـم نـاجـائز دى نو د اهانت د وجهي د هغه تجارت و غيره ناجائز دى:

"قـال: و لا يـجـوز بيع والشراء الخنزير لأنه نجس العين فلا يجوز بيعه اهانة لـه ولا يـجـوز بيـع شـعـور الانسان و لا الانتفاع به لأن الآدمى مكرم لا مبتذل فـلايـجـوز ان يـكـون شيئ من اجزائه مهانا مبتذلاً ، و قد قال عليه السلام: لعن الله الـواصـلة و الـمستـوصـلة ـ الحديث ـ و انما يرخص فى ما يتخذ من الوبر فيزيد فى قرون النساء و ذوائبهن "(هدايه / ج: ٥ / ص: ١٠٥ ـ ١٠٦)

۞ ..پانډ:

سـوال:......
كله چي د كمپنۍ يا د حكومت و پور ته ضرورت سي نو بيا دى په عوامو كي دستاويزات جاري كړي چي بايد نو خلك دغه اخلي او پور وركوي په دغه دستاويزاتو كي يوه ته بانډ وايي Bond او يا بانډ ديو معين وخت دپاره جاري كيږي، تر هغه وخته پوري و دوى ته سالانه سود وركول كيږي مدت كله زيات كله كم وي داسي لا كېداى سي چي تر ننوي ۹۹ كالو پوري وي، بانډ اخيستونكي د وقت تر مخه هم دغه خرڅوى سي او بانډ اخيستونكي په كمپنۍ كي حصه دار نه وي، صرف پور وركوي چي و هغه ته سالانه سود وركړل كيږي او پر هغه مقرر سوي وخت ور واپس كيږي نو دغه بانډ جائز دى كه نه؟

جواب:......
د بانډ اخيستل او خرڅول او د قرعه اندازي وروسته چي كومه نفع وركول كيږي هغه اخيستل ناجائز او حرام ده:

"السند Bonds فى الاصطلاح المعاصر وثيقة يصدرها المديون لمقرضه اعترافاً فيه بان استقرض من حاملها مبلغا معلوما يلتزم باداثه فى وقت معلوم و ان هذه السندات، سواء أصدرتها الشركات اواصدرتها الحكومة انما تلتزم بأدائه فوائد ربوية إلى من يحملها، فالسند الذى قيمته الاسمية مائة ربية مثل تستحق ن يدفع لحاملها مائة و عشرة بعد سنة"(بحوث فى قضايا فقهية معاصرة / ج: ۲ / ص: ۱۱۱)

❁..د بائع او مشتري جلا جلا كېدل:

سـوال:......

د اخيستلو او خرڅولو دپاره د رانيونكي او خرڅونكي جلا جلا كېدل ضروري دي نو ديوه سړي دپاره د بائع او مشتري د دواړو وكيل كېدل څنګه دي؟

جواب :......

ديو سړي د دواړو طرفو څخه وكېل جوړېدل يا ديو سړي د خپل طرف څخه اصل او د هغه د طرف څخه وكيل جوړېدل بيا د بيع عقد كول جائز نه دي:

"والثانى العدد فى العاقد فلايصلح الواحد عاقداً عن الجانبين فى باب البيع "(بدائع الصنائع / ج: ۵ / ص: ۱۳۵)

۞ ..د اول بائع د مشتري ثاني څخه بيرته رانيول:

سوال :......

ايا د بائع اول دپاره يوشى د مشتري ثاني دپاره په هغ ياتر هغه په يوه څه كم مقدار سره خرڅول جائز دي كه نه ؟ مثلاً زيد پر عمرو يو موټر په پنځه لكه خرڅ كړى بيا عمر هغه موټر پر بكر درې مياشتي وروسته په اوه لكه خرڅ كړى، ددې وروسته اول بائع يعني زيد دغه موټر د بكر څخه په څلور يا پنځه لكه واخيستى دا خو به سود نه وي؟

جواب :......

يا، په دې كي د سود هيڅ صورت نسته:

"ولو باع المشترى من رجل ثم ان البائع الاول اشتراه من الثانى المشترى بأقل مما باع جاز"

(هنديه / ج: ۳ / ص: ۳۲ ـ كتاب البيوع)

۞ .تر قبض دمخه بيرته بائع ته شى وركول:

سـوال:......

رانيـونـكي يـو شي واخيـست قبض يې لا نه وو كړى چې و بائع ته يې وويل چې دا ته خپله د ځان دپاره واخله نو دا جائز دى كه نه؟

جواب:......

كـه بـائـع واخيستـى نـو بيـعه جائز ده او د هغه زړې بيعي اقاله به وسي او هغـه بله بيع به فسخ سي . او كه رانيونكي ورته وويل چې زما دپاره يې رانيسـه يـا داسـي ووايي چې پـر هر چاېې خرڅوې خر څ يې كړه يا صرف داسي ورته ووايي چې خر څ يې كړه نور هيڅ نه ووايي نو په دغه درو سره صـورتـو كـي بيـع نـه ده صـحيـح، اقـالـه هـم نـه وسوه ځكه د قبض د مخه پربائع چې خر څ سو نو په دغه وخت كي وكيـل جوړول جائز نه دي:

"اشترى عبداً ولـم يقبضه حتى قال للبائع بعه لنفسك فلو باع جاز وانفسخ الاول ولـو قال بعه لى او بعه ممن شئت او بعه ولم يزد عليه لا يصح وظاهره انـه فـى الـصـورـة الاولـى يـنـفـسـخ .... بـخـلاف بقية الصور فانـه توكيل لا اقالة"(شامى / ج: ۵ / ص: ۱۲۰)

۞..د بائع په غطلي سره شى ارزانه اخيستل:

سـوال:......

كـه دوكـانـدار يو شى خر څ كړي او ګيراک پيسـې هم وركړي بيا دى ورته ووايي چې داشـى ګران دى ما په هېره سره ارزانه درباندي خر څ كړى دى، نو اوس د ګيراک دپاره نوري پيسـې وركول څنګه دي، آيا پر لازمي دي كه نه، ور يې كړي كه يا؟

جواب:......

په دغه صورت کي سودا مکمله سوې ده لهذا پر کېراک زياتي پيسې ورکول لازمي نه دي مګر هو که چيري دوکاندار واقعتاً خطا سوی وي او په بازار کي د دې قيمت زيات وي نو زياتي پيسې ورکول مستحب ښه او بهتره خبره ده:

"(و) اعلم انه (لا رد بغبن فاحش) هو ما لا يدخل تحت تقويم المقومين (في ظاهر الرواية)"(الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ١٤٢ ، ١٤٣)

۞..د بائع د غير قابض مشتري له طرفه څخه بيع کول:

سوال:......

مثلاً يو سړي پټاټې په کولډ سټور يا فريج کي اېښي وې يو چا دغه پټاټې بغير له ليدو واخيستې او پوره پيسې يې ورکړې بيا يې و بائع ته وويل چي پټاټې خرڅي کړه بائع پټاټې خرڅي کړې او پيسې يې و ده ته ورکړې او رانيونکي د اخيستلو په وخت کي هم مال نه وليدی او د خرڅلاو په وخت کي يې هم و نه ليدی او ده ته چي کومه نفع ور ورسېده هغه ور ورسېدله نو دا طريقه څنګه ده؟

جواب:......

دا طريقه نه ده صحيح او نه هم دغه نفع حلاله ده . د دغي مسئلې جائز صورت دا دی چي بائع په کولډ سټور کي چي کومي پټاټې دي هغه دي د مشتري پر لاس خرڅي کړي بيا دي و ده ته په قبضه ورکړي او د هغه د قبض څخه وروسته دي په کولډ سټور کي کېښېږدي ، بيا دي د دې وروسته مشتري بائع د پټاټو د خرڅولو دپاره وکيل جوړ کړي نو دا طريقه به صحيح سي او نفع به حلاله سي:

"عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال : من ا شترى طعاماً فلايبعه حتى يستوفيه و يقبضه" (صحيح مسلم / ج: ٢ / ص: ٥)

۞.. د بائع وكيل د ځان دپاره شی نه سي اخيستی:

سـوال :......

د بائع (خرڅونكي) وكيل د بائع مال د ځان دپاره اخيستی سي كه نه؟

جواب :......

يا، نه يې سي اخيستی ځكه بيا به خرڅونكی رانيونكی هم سي او دا جائز نه دی:

"اذا اشترى الوكيل بالبيع مال موكله لنفسه لا يصح و ان اطلق له الموكل بقوله بع ممن شئت لانه يصير حينئذٍ متوليا طرفي العقد و هو لا يجوز" (شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ٨٠٨)

۞..بائع ته مبيعه تر يو كاله پوري د واپس كولو اختيار وركول:

سـوال :......

په بعضي علاقو كي داسي رواج دی چي مالداره خلك د يو ضرورتمند شخه د هغهٔ مكان تر بازاري قيمت په يو څه كم قيمت رانيسي او د سودا د مكمل كېدو وروسته بائع (خرڅونكی) په ژبه سره يا په خطه كي دا وعده كوي چي كه مثلاً د نن څخه په يوه كال كي دننه ته دغه سرای رانيسې نو د بيعه په صورت كي به زه دغه تا ته بيرته په همدغه قيمت دركوم چي په كوم قيمت ما ستا څخه اخيستې دی خو دومره پيسې زياتي در څخه اخلم كومي چي ما په يوه سرای مصرف كړي وې او د يوه كال وروسته د دغه معاهدې د پابندي ذمه دار به زه نه يم د فريقينو دغه نيت وي چي بائع ته به

پیسې پـه لاس ورسـي او مشـتـري بـه د پیسـو پـه عوض کي تر یوه کالـه پوري د سرای څخه حلاله نفع واخلي نو دا سودا جائز ده که غیر جائز؟

جواب:......

د دې حـکـم دا دی کـه د فـریـقـینو په مابین کي دمخه لا خبره وسي چې بیع نامې وروسته به د واپسي اقرار نامه هم لیکل کیږي نو دا بیع دیانةً فاسده ده . پـه آخـرت کـي به دواړه د عذاب مسـتـحق وي او که د فریقـینو په مابـین کـي داولـه څخـه پـه دغـه هـکـلـه خبـره نـه وي کړې، د سودا وروستـه علی الاتفاق داسي اقرارنامه ولیـکل سي بیا نه ده فاسده:

"وفـی الـخیریة فی ما لو اطلق البیع ولم یذکر الوفاء إلا انه عهد إلی البائع انـه ان . وفـی مثل الثـمـن یـفسخ البیع معه ؟ اجاب هذه المسألة اختلف فیه مشـائـخـنا عـلـی اقوال ، ونص فی الحاوی الزاهدی ان الفتوی فی ذلك ان البیـع إذا اطـلـق ولـم یـذکـر فیه الوفاء إلا ان المشتری عهد إلی البائع انه ان اوفـی مثل ثمنه فانه یفسخ معه البیع یکون باتا حیث کان الثمن ثمن المثل او بغبن یسیر"(شامی / ج: ۵ / ص: ۲۷۷ ـ کتاب البیوع ، باب الصرف مطلب فی بیع الوفاء)

۞..د بائع د طرف څخه استول سوی مال:

سـوال:......

د سـودا کېـدلـو وروستـه د بائع د جانبه چي کوم مال و مشـتري تـه ور روان سي نو دلتـه د اخسـتـونکي قبـضـه ثابتیږي که نه؟

جواب:......

قبـضـه نـه ثـابتـیـږي که څه هم اخیسـتـونکي دا ویلي وي چي مال و ما تـه را

واستوه زه يې ذمه واره يم . بلكه تر هغه وخته چې مال تر كودام يا تر اخيستونكي تر ځاى نه ورسيږي تر هغه وخته د اخيستونكي قبضه نه ثابتيږي نو كه مال په لاره كې ضائع سو يا غلا سو او اخيستونكي ته نه ورسېدى نقصان به پر بائع وي .

كه چيري اخيستونكي بائع ته وويل چې ته د خپلو خلكو يا زما د خلكو سره مال را واستوه ليكن اخيستونكي خپل سړى وكيل نه كړى جوړ ، بيا بائع و خپل يا د اخيستونكي سړي سره مال ور واستوى نو مال پر لاره ضائع ياتر اخيستونكي پوري نه ور ورسيږي هم نقصان پر بائع دى ، مګر كه اخيستونكي خپل سړى خپل وكيل مقرر كړ او بائع مال د اخيستونكي وكيل ته وركړ نو دلته به د اخيستونكي قبضه ثابته سي او د مال ضمان به پر ده سي . نو اوس كه مال ضائع سي دا به د اخيستونكي پر ذمه وي .

او كه يې قيمت نه وو وركړى بيا به مال د قيمت ادائيګي هم پر اخيستونكي وي .

په هدايه كي دي كوم مال چې په اوركاډي (رېل ګاډى ، ترېن) يا د ډاك په ذريعه واستول سي نو چې څنګه يې دا مال ور واستاوه دا به د مشتري (چاچې مال را غوښتى وي) په قبضه كي ګڼل كيږي . كه اخيستونكي ليكلي وي چې " د فلانكي مال د رېل ګاډى يا ډاك په ذريعه پارسل كړه" او مال يې د حكم مطابق ور واستوى نو كه دغه مال پر لاره ضائع سي بائع نه دى ذمه وار . ځكه چې بائع د مشتري د وكيل (يعني رېل يا ډاك) په حواله كړى او كه چيري مشتري مال نه وي راغوښتى بلكه بائع خپله ور

استولي وي نو دا بيا د مشتري قبضه نه ده اوس كه دغه مال پر لاره ضائع سي نو مشتري به ذمه وار نه وي:

"وحاصله ان التخلية قبض حكما لو مع القدرة عليه بلا كلفة ، لكن ذلك يختلف بحسب حال المبيع قال اجمعوا على ان التخلية فى البيع جائز تكون قبضا ... اشترى وعاء تبن خائر فى السوق فأمر البائع بنقله إلى منزله فسقط فى الطريق فعلى البائع ان لم يقبضه المشترى..... إلا ان يقول (المشترى) ادفعه إلى الغلام ، لانه توكيل للغلام والدفع إليه كالدفع إلى المشترى" (شامى / ج: ٤ / ص: ٥٦٢ - ٥٦٣ ، كتاب البيوع)

اما اذا سلم البائع المبيع إلى شخص امر المشترى بتسليمه إليه فقد حصل القبض كما لو سلم البائع المبيع إلى المشترى نفسه -(درر الحكام شرح مجلة الاحكام / ج: ١ / ص: ٢٤٩ - شرح المادة ٢٦٢ ، كتاب البيوع)

۞..د بائع د حق د وجهي واپس كول:

سـوال:......

يو چا يو شى واخيست نو دا خيستلو وروسته دى په خبر سو چي په دې كي عيب سته ، اوس د دغه شي په كوم كي چي عيب دى دا يې و بائع ته نه وو ور واپس كړى چي نوى عيب كي پيدا سو نو اوس دغه شي زه و بائع ته ور واپس كوم ، سم دى كه نه؟

جواب:......

يا نه واپس كيږي دا مال ، البته د بائع له طرفه چي كوم عيب كي وو د هغه د وجهي په مال كي د كمي د قيمت مطالبه كولى سي:

"فلوحدث آخر عند المشترى رجع بنقصانه اورد برضا بائعه اى لو حدث

عند المشتری عیب و اطلع علی عیب کان فیه عند البائع فله ان یرجع بالنقصان و لیس له ان یرده إلا برضاء البائع.... بخلاف ما إذا خاط الثوب قمیض ثم اطلع علی عیب حیث یرجع علیه بالنقصان ولیس له ان یأخذ الثوب لأن امتناع الرد هناك لحق الشرع کی لا یلزم الربا فلایقدر علی اسقاطه و هنا امتنع لحق البائع فیسقط باسقاطه"(تبین الحقائق / ج: ٤ / ص: ٣٤ ، کتاب البیوع)

۞..د بائع سره خیر خواهي:

سوال:......

یو شی بائع پر مشتري مثلا په رز روپۍ خر ځ کړی بیا مشتری د زړه د اطمینان د وجهي چي د ده قیمت به زیات وي مشتري ته نوري پیسي ورکولی سي ، داخو به سود یا څه نور زیان سودا ته نه رسوي؟

جواب:......

یا دا سودا ته ضرر نه رسوي، سودا جائز ده، ځکه چي یو صحابي یو آس واخیستی مثلاً په رز روپۍ یې دغه آس اخیستی وو نو د ده یو دوست چي راغلی ورته و یې ویل چي دا خو ډېر ښه آس دی تقریباً په پنځلس سوه به وي نو هغه صحابي ورغلی او هغه بائع ته یې پنځه سوه روپۍ نوري ورکړ چي د دې اصل قیمت یا یو ه اندازه ولګول سوه چي دابه په دومره روپیو وي نو زه ستا خیر خواه یم لهذا ته دا پیسي واخله .

(المعجم الکبیر للطبرانی ابراهیم بن جریر عن ابیه / ج: ٢/ ص: ٣٣۴، رقم الحدیث ٢٣٩٥)

۞..د بائع د فائدې شرط لګول:

سـوال:.....
ايا دا جائز دی چي مثلاً يو چا يو ځای خر څ کړی نو د رهن په توګه يې دغه شرط و لګاوه چي کلـه پيسې واپس کوي نو به مکان هم بيرته ما ته را واپس کوي؟

جواب:.....
په کومه بيعه کي چي دبائع د فائدې شرط ولګيږي هغه بيعه فاسده ده نو دغه بيعه فاسده سوه نو بيعه به ختموئ که نه نو دواړه به ګناهګاره ياست:

"وكل شرط لا يقتضيه العقد و فيه منفعة لأحد المتعاقدين اوالمعقود عليه و هو من اهل الاستحقاق يفسده"(هدايه / ج: ۵ / ص: ۱۱۷)

❁..بائع پر يو شي پيسې مصرف کړې:

سـوال:.....
بائع يو شی مزين او ښايسته کړی يعني مصرف يې پر وکړی نو اوس دغه دمصرف پيسې هم پر اچولای سي که نه؟

جواب:.....
هو! پر اچولای يې سي، خو بيا هم چي کله هغه شی پر خرڅوي داسي دي ورته وايي چي دا شی ما ته چي په دومره پروت دی داسي دي نه وايي چي دا ما په دومره واخيستی:

"(و يضم) البائع (الى راس المال اجرالقصار و الصبغ) بأى لون كان (والطراز) بالكسر على الثوب (و فتل و حمل الطعام) و ضابطة كل ما يزيد فى المبيع او فى قيمته يضم (و يقول قام على بكذا و لا يقول اشتريته) لانه كذب

" (الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ١٣٦ ، کتاب البیوع)

۞..که بائع و مشتري ته دهوکه ورکړه:

سوال:......

که چیري بائع و مشتري ته یا مشتري وبائع ته دهوکه ورکي او دغه دهوکه په داسي حال کي ورکړل سي چي مشرتي په مبیعې کي تصرف نه وي کړی اویا بائع په ثمن کي تصرف نه وي کړی نو رد کېدای سي؟

جواب:......

فریقینو ته د رد کولو اختیار سته او که چیري بائع د دهوکې په باره کي د معلومېدلو دمخه په ثمن کي تصرف وکړي یا مشتري د دهوکې په باره کي د معلومېدلو دمخه په مبیعې کي تصرف وکړي نو بیا د ردولو اختیار نسته ځکه په تصرف کولو سره رضامندي معلومېږي او د رضامندي ورونسته د واپس کولو اختیار ختم کیږي:

"قال ان غر ای غر المشتری البائع او بالعکس اوغره الدلال فله الرد (والالا) و به افتی صدر الاسلام و غیره ثم قال :(و تصرفه فی بعض المبیع) قبل علمه بالغبن (غیر مانع منه) فیرد مثل ما اتلفه و یرجع لکل الثمن علی الصواب

"(شامی / ج: ٥ / ص: ١٤٣)

۞..بائیکاټ:

سوال:......

که چیري په بازارو کي د شیانو نرخ زیات سي نو د قیمت د کمولو دپاره بائیکاټ کول او هغه شی نه اخیستل جائز دی که نه؟

جواب:......

هـو ا جـائـز دى ځـكـه چـي قـمـيـت بيـر تـه پـخـوانـي حالت تـه راسـي او بيـا دي د هغـه رانـيـول او خرڅول شرو ع كړي .

د حـضـرت عـلـيؓ پـه دورِ خـلافـت كي كشمش او تـپل ګران سول خلګو چـي كـلـه شـكـايـت وكـړى نـو حـضـرت عـليؓ څو ورځي د كشمشو نـه اخيستلو مشوره وركړله ځكه چي واپس خپل اصلي قيمت ته راسي :

"حـدثـنا يـحيى قـال حـدثـنا الـقاسم بن مالك عن يوسف بن درفس قال حـدثـنـى مغيـرة بـن عـطية عن رزين بن الاعرج مولى لآل العباس قال : غلا عـلينـا الـزبيب بمكة فكتبنا إلى على بن ابى طالب بالكوفة ان الزبيب قد غلا عـلينـا فكتب ان ارخصوه بالتمر "(تاريخ يحيى بن معين التابعين و من بعدهم من اهل مكة / ج: ۳ / ص: ۱۱۳ ، حيلة الاولياء / ج: ۸ / ص: ۳۲)

۞..د بائيكاټ فتوى لګول:

سـوال:......

كـه چيـري عـلـماء پر يو شي ديو ملك پر مصنوعاتو يا پر كـمپنۍ د افتوى جـاري كـړي چي بائيـكاټ ځيني وكړي نوپـه داسي حال كي څه كول په كار دي؟

جواب :......

بـايـد د اسـلام د سر بـلـنـدي او د غيرت دپاره بائيـكاټ ځيني وسي ليـكن د بـائيـكاټ د فتوى څخه هغه شى حرام نه ګرځي ليـكن د غيـرت او د حميت د اسلام خلاف دى:

"كـل ذلك يكره و لا يفسد به البيع : لأن الفساد فى معنى خارج زائد لا فى صلب العقد و لا فى شرائط الصحة"

(هدایه / ج: ۳ / ص: ۷۰)

۞..دبتانو کاروبار:

سوال:......

د بتانو سودا څنګه ده کاروبار کول یې؟

جواب:......بت که د سونې که د سپینو زرو او که د ژړو که د هر شي وي بیع و شراء یې ناجائز ده مګر که چیري د ویلي کولو دپاره یعني بیا نور ځیني جوړوي بیا جائزدی:

"عن جابر عن عبد الله انه سمع رسول الله ﷺ يقول عام الفتح و هو بمكة ان الله و رسوله حرم بيع الخمر و الميتة والخنزير و الاصنام"(بخاری / ج: ۱ / ص: ۲۹۸)

۞..بټ کوئن:

سوال:......

نن سبا په عالمي مارکیټو کي یوه سکه (coin)رائج ده هغه ته بټ کوئن (bit coin)یا ډیجیټل کرنسي ورته وایي، دا محض یو فرضي کرنسي وي په دغه کي د حقیقي کرنسي اوصاف او شرائط بالکل نه وي نو په نن زمانه کي چي پر نیټ یا په الیکټرونک مارکیټو کي چي کوم کاروبار کیږي دا حلال او جائز دی که نه؟

جواب:......یا دا ناجائز دی، دا صرف یو دهوکه ده . په دغه کي په حقیقت کي هیڅ مبیع او یا داسي نور مادي شی نه وي دلته قبضه هم نه وي صرف و اکاؤنټ ته یو څو عدده ورځي او دا د فاریکسټریډنګ رقم سود او د خمار یو شکل دی نو ددې وجهي د بټ کوئن په نامه یا یو د ډیجیټل نام

نهاد کار کول پیسې پر لګول اخیستل او خرڅول دا به ناجائز وي:

"قال الله تعالی: ﴿و احل الله البیع و حرم الربوا﴾(سورة البقرة: ٢٧٥)"

۞..د بجلي زیات بل :

سـوال:......

بعضې وختونه د بجلي چې څومره یونټونه استعمال سوي وي بِل تر هغه زیات وي چې کـلـه اداري تـه وویـل سي هغه پیسـې کموي او ثبوت هم نه در کوي خپـلـه صفايي هم نه ثابتوي که چیري دا فرضاً صفا وګڼل هم سي نـو پـه دغـه صـورت کې چې کـمـپـنـی کومي پیسې ناحقه اخیستي دي یعـنـي خـلـک خـو مجبوره سي ، بِل بیا هم ادا کړي نو دا جائز دی چې په یو طریقه سره دا پیسې ددوي څخه وصول سي که نه دی جائز ؟

جواب:......

جائز دی که چیري دغه اداره پرائیوټ نه وي سرکاري وي نو د سرکار د دغـه داري څـخـه پیسـې وصـول کـوی سي او کـه چیري د بجلی اداره پرائیوټ ري نـو پـه دغـه صـورت کې زائد رقم د حکومت د یو اداري څخه وصولول نـاجائز دي او که اداره سرکاري وه نو بیا د سرکاري اداري څخه خپـل حق دی وصـول کـولـی سـي دا نـه ده ضروري چې خاص او خاص به بیا د دغه اداري څخه دی پیسې باسي:

"اذا ظفر بمال مدیونه له الاخذ دیانة بل الاخذ من خلاف الجنس علی ما نذکره "(شامی / ج: ٤ / ص: ٩٥)

۞..پاته سوی مال واپس کول:

سـوال:......

بعضي کوچني تاجران د غتو تاجرانو څخه سامان واخلي بيا يې مخته په نفع خر څ کړي، کله کله څه مال پاته سي نه سي خر څ، نو دغه بيا بيرته دوکاندار ته واپس کولای سي که نه؟

جواب:......

واپس کولای يې سي ، خو د دې بنه صورت دا دی چي دغه کوم مرتبت کوچنی تاجر چي کله سامان اخلي نو د ځان دپاره دي د خيار شرط کنبېږدي بيا دي د خيار شرط پر بنياد په درې ورځي کي دي واپس کړي او که کوچنی تاجر د خيار شرط نه ولګاوه بيا هم غټ تاجر په خوشحالي سره مال واپس واخيستی نو هم هيڅ حرج نسته او که چيري غټ تاجر دغه مال نه غواړي نو دی نه سي مجبوره کېدای د مال پر اخيستلو:

"للعاقدين ان يتقايلا البيع برضاهما بعد انعقاده لو كان بعض المبيع قد تلف صحت الاقالة فى الباقى"(شرح المجلة لرستم باز / ج: ١ / ص: ٧٤ ، ٧٦ ، المادة ١٩ ، ١٩٠ ، كتاب البيوع)

۞..له کوچني سره سودا:

سوال:......

که چيري پر دوکان کوچنی هلک يا نجلۍ ناسته وي او يو کس سودا ورسره وکړي يا دغسي بل ځای سودا وسي دابه څنګه وي؟

جواب:......

کوچنی که عقلمند هوښيار وي نو د هغه بيع و شراء جائز ده او که عقلمند نه وي نو د هغه خرڅول رانويل به صحيح نه وي:

"قوله وشرطه اهلية المتعاقدين: اى بكونها عاقلين ولا يشترط البلوغ

والحریةفشرط العاقد اثنان ، العقل و العدد فلم ینعقد بیع المجنون و صبی لا یعقل ، ولا یشترط فیه البلوغ و لا الحریة فیصح بیع الصبی والعبد لنفسه موقوفاً و لغیره نافذاً"(شامی / ج: ٤ / ص: ٥٠٤ ، ٥٠٥)

۞..بدل سوی سامان :

سوال:......

که چیري د تجارت مال د بل چا د مال سره په غلطي کي بدل سي نو بیا څه کول پکار دي؟

جواب:......

اول خو خپل مال ځیني اخیستل او د هغه مال ورکول که چیري ممکن وي ضروري دی لیکن که مالک نه وي معلوم او نه هم د هغه د معلومولو یوه طریقه وي او پر داخبره هم د ده یقین وي چي مال بدل سوی دی نو دغه مال خپله را کرځول جائز دی لیکن که چیري د هغه سامان د قیمت په لحاظ سره د ده تر مال ډېر وي نو بیا به هغه زیاتي پیسې ضرور صدقه کوي:

"و کذلك الجواب فی المکعب إذا سرق اهـ و قید بعضهم بان یکون المکعب الثانی کالاول او اجود فلو دونه له الانتفاع به بدون هذا التکلف لأن اخذ الاجود و ترك الادون دلیل الرضاء بالانتفاع به۔

قلت ما ذکر من التفصیل بین الادون و غیره انما یظهر فی المکعب المسروق .... اما لو اخذ مکعب غیره و ترك مکعبه غلطاً لظلمه او نحوها او یعلم ذلك بالقرائن فهو فی حکم اللقطة لا بد من السؤال عن صاحبه بلا فرق بین اجود و ادون و کذا لو اشتبه کونه غلطا او عمدا لعدم دلیل الاغراض هذا

مماظهر لی فتأمله "(شامی / ج: ٤ / ص: ٢٨٦)

۞ ..په برقي آلاتو كي تحريري ايجاب و قبول:

سوال :......

علماء وايي چي د ايجاب سره د قبول اتصال په يوه مجلس كي ضروري دى نو كه چيري د برقي آلاتو په ذريعه په كوم مجلس كي چي فريق ثاني ته پيغام موصول سي نو بيا به مجلس عقد كوم مجلس وي؟

جواب :......

فريق ثاني ته چي پيغام موصول سي نو مجلس عقد به همدغه مجلس وي نو پر فريق ثاني به لازم وي چي كله د فريق اول پيغام ده ته ور ورسيږي دى به په همدغه مجلس كي د اياجب جواب وركوي ځكه چي سودا منعقده سي . كه نه د مجلس په بدلولو سره به سودا ن ه كيږي ځكه د مجلس بدلولو سره ايجاب ختم كيږي ، هو ، كه چيري فريق اول بيرته د فريق ثاني خبره قبول كړي نو د بيرته ايجاب و قبول كېدو د وجهي به بيع بيرته منعقده سي .

"مجلس البيع هو الاجتماع الواقع العقد البيع لكن زاد لفظ الاجتماع ليفيد انه لا بد من اجتماع العاقدين حقيقة او حكما و امّا اجتماعها حكماً فكما إذا وقع الايجاب بكتابه او رسالة وصورة الكتابة كما فی رد المحتار ان يكتب الموجب اما بعد فقد بعت عبدی فلانا منك بكذا فما بلغه الكتاب قال فی مجلسه ذلك اشتريت ثم البيع بينهما فان قراء ت الكتاب اخبار الرسل بما قال المرسل بمنزلة الايجاب من الكاتب او المرسل فاذا قبل المكتوب إليه او المرسل إليه فی مجلس القراء ة و الاخبار فقد صدر الايجاب و القبول فی

مجلس واحد انه إذا قراء المكتوب إليه الكتاب او سمع المرسل إليه الرسالة فلم يقبل في مجلس قرائته و سماعه يبطل الايجاب حتى لو قراء الكتاب مرة ثانية في مجلس آخر لا ينعقد البيع والكتاب كالخطاب و كذا الارسال حتى اعتبر المجلس بلوغ الكتاب و ادا الرسالة "(شرح المجلة للاتاسی / ج: ٢ / ص: ٥٤٥٣)

۞ ..د برقي تجارت په ذريعه بيع كول:

سوال:......

د انټرنيټ او ويب سائټ په ذريعه تجارت كول جائز دي كه نه؟

جواب:......

جائز نه دي ځکه په بيع و صرف کي د فريقينو د جانبه په همدغه مجلس کي قبضه کول ضروري دي او د دواړو طرفو څخه ادائيگي هم شرط ده په برقي تجارت کي دغه شيان معدوم دي . نو د دې وجهي برقي تجارت، انټر نيټ ويب سائټ په ذريعه سونا، سپين زر وغيره اخيستل صحيح نه دي ، خو په كرنسي کي دا صورت كېداى سي چي هر فريق د هغه بل و اكاؤنټ ته پيسې ور واستوي، د دواړو په اكاؤنټ کي چي رقم جمع سي بيا دي تبادله وكړي نو بيا صحيح ده:

" و كذا يجوز ان ينعقد البيع بالكتابة والرسالة قال ابن عابدين ، صورة الكتابة ان يكتب امابعد فقد بعت عبدى فلاناً منك بكذا فلما بلغه الكتاب قال في مجلس ذلك اشتريت ثم البيع بينهما و يقاس عليه التلكس و الفاكس حيث يجوز الايجاب والقبول بهما بشرط ان يكونا آمنين من التزوير۔ و اما الهاتف (التليفون) و الجهاز للآسلكى فالتعقاد بهما كالتعاقد مشافهة و ان كان احدهما

لایری الآخر لأن ذلك لیس بشرط لصحة العقد ۔ انما یصح فیما لا یشترط فیه القبض فی مجلس العقد ۔ اما لعقود التی یشترط فیه التقابض من الجانبین کالصرف فانها لا تتم بهذه الآلات إلا إذا کان لکل واحد منهما وکیل بالتسلیم عند الآخر متسلم وکیل کل واحد منهما ما وجب لموکله فی مجلس اجراء الاتصال او عن طریق بنك فی بلد کل واحد منهما فیه رصید لکلیهما ..... و إلا یعتبر هذا الاتصال الآلی مساومة او عدا بالقعد و یتم العقد فی وقت لاحق یتحقق فیه القبض المشروط "(فقه البیوع / ج: ۱ / ص: ۳۹، ۴۰)

❁ ..د دلال اجرت :

سـوال :......

کـه چیـري دلال (بروکر Broker) د بـائـع او مشـتـري پـه مـابین کي د سودا کوښښ کوي نو دلال د رواج مطابق آیا د بائع یا مشتري او یا د دواړو څخه پیسې وصول کولی سي که یې نه سي وصول کولی؟

جواب :......

وصـول کولی یې سي، که چیري همدغه دلال د مالک په اجازت خر څ کړي نو دی د مـالک بـائـع وکیـل ګڼل کیږي او په دغه صورت کي صرف د بائع مـالک څـخه اجرته وصولولی سي د رانیونکي څخه یې نه سي اخیستی، ځکه دغه دلال د رانیونکي وکیل نه دی که چیري دلته دا رواج وي چي د دواړو څخه اجرت اخلي نو دا به ناجائز وي:

"ان سعی بینهما و باع المالك بنفسه یعتبر العرف (قوله یعتبر العرف)متجب الدلالة علی البائع او المشتری او علیها بحسب العرف"(رد المحتار مع الدر / ج: ۴ / ص: ۵۶۰)

و اما الدلال فان باع العين بنفسه باذن ربها فاجرته على البائع (قوله فاجرته على البائع) و ليس اخذ شيئ من المشترى لانه هو العاقد حقيقة ـ و ظاهره انه لا يعتبر العرف هنا لانه لا وجه له ـ(رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٥٦٠)

۞ ..دلال کېدل به څنګه وي:

سوال:......

دلال به څنګه وي؟

جواب:......

د دلال لپاره دا ضروري دي چې دی به و بائع او مشتري دواړو ته ور معلوم وي چې دغه سړی دلال دی که چیري یوازي بائع خبر وي یا یوازي مشتري نو دا ناکافي ده . (رد المحتار ج ۴ / ص: ٥٦٠)

منقولي اشياء تر قبض مخ کي خرڅول

سوال:......

د منقولي اشياء په باره کي خبره وسوه زانیول سول اوس دغه د قبضې تر مخه خرڅول څنګه دي؟

جواب:......

ناجائز دي ، خو غير منقول شيان لکه مځکه، مکان ، دوکان ، که چیري رانیول سي نو اوس که چیري لړ یا پوره جوړ سوي وي او متعين سوي هم وي نو د قبض دمخه هم مختته په نفع سره خرڅول جائز دي او که تر اوسه یو شی جوړ سوی نه وي نو په دغه وخت کي په نفع سره مختته خرڅول جائز نه دي:

”صح بيع عقار لا يخشى هلاكه قبل قبضه : من بائعه لعدم الغرر لندرة هلاك

العقار حتى لو كان علوا او على شط نهر و نحوه كان كمنقول فلا يصح اتفاقا ككتابة و اجارة و (بيع منقول) قبل قبضه"(الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ١٤٧)

۞..بلټي:

سوال:......

په موجوده دور کې غټې غټې ګاډياني او ټرکان مالونه ديوې علاقې څخه تر بلې علاقې پورې په اجرت وړي، ددغو موټرانو په ذريعه مال استونکي خپل مال د لوډ کولو وروسته د کرايې پيسې و بلټي ګاډۍ والا ته ورکوي، ګاډۍ چې کله پنځلس يا لس ورځې وروسته هغه معين ځاى ته ور ورسيږي نو و ده ته هغه کرايه ورکړل سي، کله کله و موټروانانو ته دغه انتظار سخت سي او و دوى ته د نغدو ضرورت پيدا سي نو د ګاډۍ والا د دغه بلټي ليکل سوي په کمو پيسو واخلي داجائز ده که نه؟

جواب:......

دا معامله ناجائز ده، ځکه مبيعه خو هغه بلټي کاغذ نه دى بلکه هغه پيسې دي کومې چې په بلټي کاغذ کې ليکلې سوي دي خو په بلټي کې چې څومره پيسې ليکلې دي په هغومره پيسو سره به تبادله جائز وي.

(تجارت کے مسائل کا انسائیکلوپیڈیا / ج: ۲/ص: ۱۱۷)

بلډ بينک:

سوال:......

نن صبا دغه بلډ بينکونه دي دا څنګه دي؟

جواب:......بلډ بينکونه جوړول جائز دي خو وينه خرڅول رانيول جائز نه ده که چيرې ديو مريض اشد ضرورت وي و ويني ته او د پيسو بغيره وينه نه

پيدا كيږده نو د ضرورتمند سړي دپاره وينه په پيسو اخيستل ګناه نه ده خو د خرڅونكي دپاره هغه پيسې حلالې نه دي:

"بطل بيع ما ليس بمال كالدم المسفوح "(الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۵۰)

خو جائزه طريقه به دغه وي چې د وينو په بدله كې به ويني اخلي . مثلًا يو بوتل وينه يې واخيستله او يو بوتل ورکړئ، نو دا به بيا جائز وي .

۞ ..د بِل د پيسو د كموالي (ډسكاؤنټنګ) جائزه طريقه:

سـوال:.......

د بل پيسې كه زياتې راغلې وي نو بيا جائز طريقه څنګه ده، بايد په څه طريقه سره وسي؟

جواب:.......

كوم سړی چې د بينک وغيره څخه "بل ډسكاؤنټنګ" وغيره كول غواړي هغه دي د بينک وغيره سره دوه معاملات (ټرانزكشن) عليحده عليحده وكړي، يو دي دا معامله وكړي چې د بينک ايكسپورټر (درامد) وغيره دي دامپورټر (برامد) څخه پيسې وصول كړي بيا دي و ما ته . . . . او بينک وغيره دي د ايجنټ جوړيږدو او د امپورټر څخه د قيمت د وصولېدو د وجهې دي د ايكسپورټر څخه دي اجرت متعين كړي او وصول دي كړي .

دويم دي دا معامله وكړي چې بينک وغيرد دي د ايل، سي څخه يو څه پيسې په قرض واخلي (بې له سوده) بيا دي ايكسپورټر ته وركړي نو دا صورت به جائز وي ليكن بينک به بې سوده قرض وركړي كه راضي وي او كه نه وي راضي، دا يوه جلا مسئله ده .

مثلًا فرض يې كړه چې ايكسپورټر چې بل ډسكاؤنټينګ كول غواړي

هغه بل دیولکو (۱۰۰۰۰) دی او س دی ایسکپورټر د بینک سره یوه دا معامله وکړي چې بینک دي خپل ایجنټ جوړ کړي او هغه ته دي ووایي چې ته دا پیسې امپورټر ته ورکړه بیا یې بیرته ما ته راکړه زه به تا ته پر دې پنځه زره (۵۰۰۰) اجرت درکړم دویمه دي دامعامله وکړي چې دئ دي د بینک څخه پنځه نوي زره بې سوده قرض واخلي او بینک ته دي دا ووایي چې کله زما د بل پیسې تاسو ته در ورسیږي نو تاسو په هغه کې خپلې پنځه نوي زره قرض وصول کړئ او پنځه سره د سرورس چارج (اجرت) وصول کړئ، نو داسې به معامله برابر ه او سر په سر به سي نو په دې کې هیڅ قباحت شرعاً نسته .

او دا خبره دي واضحه وي چې کومې پیسې چې بطور اجرت ورکول کیږي هغه به معلومې وي یعني د هغه یقین ضروري دی . مثلاً پنځه زره د بل د ادائیګې د مدت سره منسلک کول دا ناجائز دی . مثلاً داسې نه سي کېدای چې که د بل د ادائیګې موده درې میاشتې وي نو به اجرت څلور زره وي او که د ادائیګې مدت څلور میاشتې وي نو به اجرت شپږ زره وي . غرض دا چې د بل په مودې کې د اضافې د وجهې په اجرت کې اضافه کول جائز نه دی بلکه اجرت متعین کول ضروري دی :

"وفی التتارخانیة وفی الدلال والسمسار یجب اجر المثل ، وماتواضعوا علیه ان فی کل عشر دنانیر کذا فذلك حرام علیهم وفی کل عشر دنانیر کذا فذلك حرام علیهم وفی الحاوی : سئل محمد بن سلمة عن أجرة السمسار ، فقال ارجو انه لابأس به "(شامی / ج: ٦ / ص: ٦٣ ، کتاب الاجارة)

القرض هو عقد مخصوص یرد علی دفع مال مثلی لیرد مثله ـ (شرح المجلة

للأتاسی / ج: ۲ / ص: ٤٣٧)

و شرطها کون الأجرت و المنفعة معلومتین لأن جهالتها تقضی إلی المنازعة ـ(الدر مع الرد ٦/٥)

۞ ..بِل خرڅول د کمي سره:

سوال :......

تاجران یو پر بل په پور شیان سره خرڅوي او بائع (خرڅونکی) یو خط ولیکي چي پر فلانکي تاریخ پیسي درکوم اوس خو د بائع د پیسو د اخیستلو تاریخ لیري وي او بائع ته دپیسو ژر ضرورت وي نو د دې وجهي څخه بائع و بینک یا ویوه سړي ته یو خط ورکړي او هغه نغدي پیسي واخلي بینک یا هغه سړی د هغه پیسو څخه یو څه پیسي وکرڅوي او هغه نورپیسي بائع ته ورکړي نو داسي معامله کول شرعاً جواز لري که نه؟

جواب :......

د شریعت د رویه دا معامله ناجائز ده ځکه په دې کي د یوه ملک د کرنسۍ بیع د بل ملک د کرنسۍ سره کیږي چي په دې کي کمی او زیاتوالی او د نغدو په بدله کي په پیسو کي کموالی کیږي او داسي کول ناجائز او حرام دي نو د دې وجهي پر (بل آف ایکسچینج) باندي کموالی (کټوتي) ناجائز دی .

خو د دې یو جائز صورت داسي کېدای سي چي بائع دي بینک یا بل کس ته خط ورکړي او د خط جاري کولو والا سړي څخه دي د قرض د وصول کولو وکیل جوړ کړي او پر دغه وکالت دي بائع و بینک یا هغه سړي ته یو څه اجرت هم ورکړي، له دې وروسته دي د نوي معاملې په توګه یو په

خط کي چي څومره پيسې ليکلي دي هغومره پيسې دي د بينک څخه پور واخلي او بيا دي بينک يا سړي ته (هغه سړی له چا څخه چي ئې پور اخيستی وي) دی د دې خبري اختيار ورکړي چي هغه جاري کونکي څخه دي د خط جاري کولو په عوض کي پيسې وصول کړي نو هغه دي بيا په دغه پيسو خپل قرض وصول کړي نو دا رقم به د دواړو معاملات جلا جلا سي . اوله معامله دا ده چي بائع دي بينک يا بل سړی د خط د پيسو د وصولېدو دپاره په معين اجرت خپل وکيل جوړ کړي . او دويمه معامله دا ده چي بائع دي په خپله د بينک يا ديو سړي څخه قرض واخلي او بينک يا هغه سړي ته دي د خط په مقابل کي چي کومي پيسې وصول سوي دي په هغو پيسو دي د قرض د وصولېدو اختيار دي هم ورکړي نو په شرعي اعتبار سره دا دواړي معاملې صحيح سوې .

" و ربما يقع توثيق الدين بتوقيع المشترىٰ على وثيقة مكتوبة يعترف بها بكونه مديوناً للبائع بمبلغ مسمى إلى اجل مسمى ويلتزم بادا مبلغها فى تاريخ معين و تسمى هذه الوثيقة الكمبيالة فى العرف المعاصر كميالة بل آف ايكسچنج (Bill of Exchange) و ان حامل الكمبيالة هو الدائن الاصيل ربما يبعها إلى طرف ثالث باقل من ا لمبلغ المكتوب عليها طمعاً فى استعجال الحصول على المبلغ قبل حلول الاجل و ان هذا البيع يسمى خصم الكمبيالة و ان خصم الكمبيالة بهذا الشكل غير جائز شرعاً اما لكنه بيعه الدين من غير من عليه الدين او لانه من قبيل البيع النقود بالنقود متفاضلة و مؤجلة و حرمة منصوصة فى احاديث ربا الفضل ، و لكن هذه المعاملة يمكن تصححيها بتغيير طريقها و ذلك انيؤكل صاحب الكمبيالة البنك باستيفاء دينه من

المشترى (و هو مصدر الكمبيالة) و يدفع إليه اجرة على ذلك ، ثم يستقرض منه مبلغ الكمبيالة و ياذن له ان يستوفى هذا القرض مما يقبض فى المشترى بعد نضبح الكمبيالة فتكون هناك معاملتان مستقلتان الاولى۔ معاملة التوكيل باستيفاء الدين باجره المعينة و الثانية معاملة الاستقراض من البنك و الاذن باستيفاء القرض من الدين المرجوه حصوله بعد نضبح الكمبيالة فتصح كلتا المعاملتين على اسس شرعية"(بحوث فى قضايا فقيهة معاصرة / ج: ۱ / ص: ۲۰، ۲۱، احكام البيع بالتقسيط)

۞..د بِل پيسې زياتي ليكل:

سوال:......

زيد په يوې كمپنۍ كي ملازم دى، كمپنۍ و ده ته دا كار وركړى دى چي دوكانو يا نورو كارخانو ته ورځه او هلته د ضرورت د شيانو تكميل كوه (يعني هغه پوره كوه او رانيسه يې) زيد شيان خو اخلي يا د شيانو اډر خو وركوي مگر زيد د دوكاندارانو يا د كارخانو والا سره دغه كار كوي چي و هغو ته وايي چي تاسي دغه شى تر خپل اصل قيمت زياتي پيسې د كمپنۍ يا دوكان څخه اخلئ او بيا هغه پيسې ما ته راكوئ نو داسي كول به څنكه وي؟

جواب:......

د دوكاندارانو او يا د كارخانو والا داسي بِل جوړول او د زيد داسي منافقت كول دا ټول ناجائز دى، د زيد دپاره داسي كول بلكه د دوكاندارانو او كارخانو والاؤ د درو سره وو دپاره داسي كول حرام او ناجائز دي او زيد دپاره دغه پيسې حرامي دي، بايد دوى ټول له داسي كارو څخه توبه

وباسي ﴿وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ (سورة المائدة: ۲)

۞..د بلېد کاروبار:

سوال:......

د بلېد (پنر چاړه) خرڅول جائز ده که نه ددې کاروبار کول څرنګه دی؟

جواب:......

د بلېد کاروبار جائز دی مګر که دې چیري دا یقین وي چې ږیره په دې خرېږي یا یو بل د ګناه کار په کوي نو بی باید پر هغه خرڅ نه سي:

"و ان المعاونة على المعصية حرام مطلقا بنص القرآن ثم السبب ان كان سببا محرماً و داعيا إلى المعصية فالتسبب منه حرام كالاعانة على المعصية بنص القرآن و ان لم يكن محرما و داعيا بل موصوللا محضاً و هو مع ذلك سبب قريب بحيث لا يحتاج فى اقامة المعصية بله إلى احداث صنعة من الفاعل كبيع السلاح من اهل الفتنة فكله مكره تحريما بشرط ان يعلم به البائع و الآجر من دون به التصريح به باللسان فانه ان لم يعلم كان معذوراً و ان علم و صرح كان داخلا فى الاعانة المحرمة" (جواهر الفقه / ج: ۲ / ص: ۴۵۳)

۞..بلیک (یعني د حکومت په پټه کاروبار):

سوال:......

بلیک کول (یعني د حکو مت په پټه کاروبار) څنګه دی؟

جواب:......

دا قانوني جرم دی . د فائدې دپاره ځان ، مال او خپل عزت په خطره کي اچول بنه نه دي: ﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ (سورة البقرة: ۱۹۵)

او که چیري بیاپه دغه کاروبار کي د درواغو ویلو ضرورت وي نو بیا دا حرام دی:قال الله تعالی ﴿ لَعْنَةَ اللّٰهِ عَلَی الْکَاذِبِیْنَ ﴾ (آل عمران) البته واضحه خبره دا ده چي کته حرام نه ده ولي د وخت حکمران د ظلم ټیکس اخلي . فتاوىٰ هادیه وګورئ

که حکومت نرخ تعین کړي

سوال:......

که حکومت دیو شي نرخ مقرر کړی وي نو بیا تر دغه متعینه نرخ ګران خرڅول څنګه دي؟

جواب:......

ادا د قانون خلاف ورزي ده باید داسي نه وکړل سي که څه هم هغه محصول فائده وغیره یې حرامه نه ده:

"لان اطاعة الامام فی ما لیس بمعیة واجبة"(شامی / ج: ۲ / ص: ۱۷۲)

سوال:......

د حکومت په پټه د بهر (بیرون) ملکو سامان خرڅولو ته (بلیک مارکیټ) (دو نمبر دهندا) ویل کیږي دا تجارت جائز دی که نه؟

جواب:......

د دغه تجارت په هکله تفصیل دا دی چي که چیري هغه مال ناپاکه نه وي نو د شریعت د رویه بیا ناجائز نه دی او خرڅونکی د مالک څخه مال اخیستی دی نو دغه تجارت د ذات په اعتبار سره حلال دی لیکن دا چي دا د حکومت د قوانینو خلاف دی حکومتي اداري چي یې کله ونیسي سزا ورکوي ذلیل کوي یې او د خپل ځان ذلیله کول ناجائز دی نو د دې وجهي

داسي نه کول بنه دي: ﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾ (سورة البقرة: ۱۹۵)

۞..بغیر له لیدو د مځکي تبادله:

سوال:......

د مځکي پر خرڅولو رانیولو او د تبادلې په وخت کي رانیونکی او خرڅونکی باید خرڅه سوې مځکه یا دواړه عوضونه ووییني اوس که چیري سودا یا تبادله بې له لیدو وسي دا جائز ده که نه؟

جواب:......

اوس و دواړو ته د خپل شي د بیرته اخیستلو او د بیرته ورکولو حق سته. مثلا زید او عمر بې له لیدو د مځکي تبادله سره وکړه، وروسته معلومه سوه چي د زید مځکه د کرلو قابل ده آباده ده او د عمر مځکه ناکاره ده، شی نه پر کرل کیږي نو اوس زید دا حق لري چي د عمر څخه خپله مځکه بیرته واخلي او دا حکم صرف د مځکي نه دی بلکه د نورو شیانو هم داسي حکم دی:

"ومن اشترى شيئاً لم يره فالبيع جائز وله الخيار إذا رآه ان شاء اخذه بجميع الثمن و ان شاء ردّه .... ولنا قوله عليه السلام من اشترىٰ شيئاً لم يره فله الخيار إذا رآه .... ومن باع ما لم يره فلا خيار له "(فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٣٣٦_٣٣٧)

۞..د پشیانو کاروبار:

سوال:......

د پشیانو رانیول او خرڅول جائز دي که نه؟

جواب:......

د پشيانو کاروبار کړل خرڅول او رانيول جائز دي او آمدني يې حلاله ده:

"بيع الكلب عندنا جائز و كذلك بيع السنور "(هنديه / ج: ٣ / ص: ١١٤)

۞..د مرغانو کاروبار:

سـوال:......

د چوغکو، مرغانو خرڅول او رانيول جواز لري که نه؟

جواب:...... جائز دی:

"وكذلك بيع السنور والسباع الوحش والطير جائز "(هنديه / ج: ٣ / ص: ١١٤)

۞..په بنډو ډبو کي د نامعلومه شي تجارت:

سـوال:......

په بنډو ډبو کي د نامعلومه شيانو خرڅول او رانيول جائز دي که نه؟

جواب:......

دا جائز دي خو يو ځل شی سته هغه دا چې و مشتري ته دا حق سته او دا اختيار ورته سته چې دی ډبه خلاصه کړي او و يې ګوري بيا که ده بيع کوله او که يې نه کوله، دا اختيار دی لري. که چيري دی ډبه خلاصه کړي او هغه شی وګوري او خوښ يې نه سي نو دی يې واپس کولی سي او پر بائع باندي يې واپس کول لازم دي او که چيري د واپس کېدو اختيار ور نه کړل سي نو بيا به بيع فاسده سي او دا رقم نو بيا تجارت کول جائز نه دی:

"و ان اشترى شيئا و لم يره كان له الخيار إلى ان يراه فاذا رآه فان شاء قبله و ان شاء فسخ البيع و يقال لهذا الخيار خيار الرؤية ..... و له ان يفسخ إذا رآه بعد ذلك لأن خياره معلق بالرؤية بالنص اى بحديث من اشترى شيئاً لم يره

فهـو بـالـخيار ـ إذا رآه ان شاء اخذه و ان شاء تركه والمعلق بالشرط عدم قبل وجوده و الاسقاط لا يتحقق قبل الثبوت ، و حيث كان الخيار معلقا بالرؤية كان عـدمـا قبـلهـا فـلا يصح اسقاطه بالرضى"(شرح المجلة للأتاسى / ج: ۲۰ / ص: ۲٦۸ ، ۲٦۹)

۞ ..د شي د ځای د جوړېدو په هکله غلط بياني کول:

سـوال:......

دا هـم پـه بـازارو کـي زيات دي په دغـه طريقه سره خلکو ته دهو کې ور کول کيږي مثلا د مشتري د رانيونکي په نزد د يو خاص ځای يا د يو خاص ملک شـی ده پـــه نـظـر ښـه او عـمـده وي نـو خـلـک داسـي کـوي چـي پـر خـپـلـو مـصـنـوعـاتـو پـر خـپـلـو شيئو هغه خاص ځای او د هغه خاص ملک نوم پر کي حال هم دا وي چي دغه شی د هغه ځای نه وي نو دغه به بيا جائز وي او که نه؟

جواب:......دا صريح دهو که ده، دا جائز کار نه دی:

"مـن غـش فليس منا ، والعمل على هذا عند اهل العلم كرهوا الغش و قالوا الغش حرام"(جامع الترمذى / ج: ۱ / ص: ۲٤۵)

۞ ..د بوفې د خوړلو خرڅول او رانيول:

سـوال:......

د بـوفـې طـريقه داسي ده چي د هوټل د طرفه په يو غټ هال کي پر يوه تېبل مېز بـانـدي مـخـتـلـف قـسـم خـوراکـونـه پراته وي او هر سړي ته اجازه وي دا اختيـار دی لـري چـي هـر څـومـره شـی چـي رااخـلـي او هرشی چي را اخلي هيـڅـو ک و ده ته څه نه سي ويلای او دا اختيار هم وي ورته چي هر څومره

واري دی ولاړ سي د خپل ټبل څخه اوو رسي خپل پلېټ (غاب) ته شیان ور واچوي او و یې خوري او بل یعني پیسې د ټولو دپاره یو دي که څه هم دی یوه ګوله کړي او که مکمله ځان موړ کړي، د هوټل د طرفه هیڅ قید نه وي لیکن پیسې به ټول برابري ادا کوي، رقم عوض متعین دی دا جائز دی که نه؟ مثلا پر هر کس پنځه سوه روپۍ دي دا څنګه دي؟

جواب:......

دلته که څه هم په خوراک کي د مبیع (هغه خرڅ سوی خوراک) مقدار مجهول دی متعین نه دی مګر دا د جهالت یا د جګړې باعث نه دی ځکه دلته تفاوت او جهالت قلیل او د برداشت قابل دی او پر دې د خلکو عرف او تعامل سوی دی نو د دې وجهي د بوفې د خوړلو دغه طریقه د کاروبار او حرڅولو او رانیولو په اعتبار سره جائز ده . (شرح المجلة لسلیم رستم باز ۱/۱۰۲ . . شرح المجلة للآتاسی ۲ / ۲٦٨، ۲٦٩)

۞ .-په بونډ باندي ځای رانیول:

سوال:......

(بونډ هغه قرض ته ویل کیږي چي هغه د حکومت یا د کمپنۍ د طرفه پر دې شرط ورکول کیږي چي قرضدار به دغه قرض د سود د یو خاص مقدار سره ادا کوي) نو اوس په بونډ باندي سرای مکان اخیستل جواز لري که نه؟

جواب:......

په بونډ باندي مکان اخیستل جائز نه دی ځکه دا یو سودي معامله ده او سود اخیستل او ورکول دواړه ناجائز دي .

تبنتېدلی حیوان:

سـوال :......
چي يو حيوان وتښتي او درک يې نه وي معلوم نو بيع او شراء يې څنګه وي؟
جواب :......
چي حيـوان وتښتـي اولادرکـه وي نـو ددغـه حيوان بيع او شراء ناجائز ده، ځـکـه خـرڅـونـکـي د خـرڅولو وروسـتـه د رانيونكي په حواله كولو باندي قادر نه دی:
”بيع ما هـو غيـر مقدور التسليم باطل كبيع سفينة غرقت لا يمكن اخراجها مـن البحـر او حيـوان نـادر لا يـمكن مسكه و تسليمه اى كظبى صيد ثم ندو لا يـمكن مسكه او سمك اخذ ثم القى فى مكان لا يمكن اخذه إلا بحيلة او طير مسك ثم ارسل فى الهواء فلا يرجع إلا بصيد جديد فان بيع هذا باطل على ما هـو إلا ظهر مـن الرواية كما فى التنوير ، و هو اختيار مشائخ بلخ ، و قيل فاسد لـكـونـكـه مـملوكا و فساده لعدم القدرة على التسليم“(شرح المجلة للأتاسى / ج: ۲ / ص: ۱۰۰، ۱۰۲ ، ماده ۲۰۹)

۞..ورور د ورور مځکه بغير اجازته خرڅه کړه:
سـوال :......
يـوه مـځـکـه يـوه ورور د خپـل بـل ورور بـغيـر اجـازتـه خـرڅـه کـړه دا بيع صحيح کيږي که نه؟
جواب :......
دا بيـع د ورور (د مـالک) پـر اجـازت مـوقـوفـه ده، كه ورور اجازت وركړي صـحيـح ده کـه نـه نو بيع باطله ده او مالک به د مشتري څخه خپله مځکه

بير ته اخلي .

دا خبره دي پـر تا واضحه وي چي ديو چا مملوكه مځکه د هغه د مالک د اجازت بغيره و هيڅ چا ته په هغه کي د تصرف حق نسته:

"ومن باع ملك غيره بغير امره فالمالك بالخيار ان شاء اجاز البيع و ان شاء فسخ ، و ان شاء فسخ"(هداية / ج: ٣ / ص: ٩٠)

لا يجوز االتصرف فى مال غيره بلا اذنه و لا ولايته ـ(الدر مختار مع الرد / ج: ٦ / ص: ٢٠٠)

۞..ښه کاروبار :

سـوال :......

ښه کاروبار او ښه تجارت د څه شي دئ؟

جواب :......

د کاليو او د عطرو تجارت ښه دی . د حضرت ابن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دی چي نبي عليه السلام وفرمايل چي که چيري د جنت والاؤ ته موقع ورکړل کېدای او اجازت ورکړل سوی وای نو دوی به د کاليو او د عطرو تجارت کاوه .

امام اعظم ابو حنيفهؒ هم د کاليو کاروبار کاوه:

"وعن ابن عمرؓ: قال رسول الله ﷺ لو اذن الله فى التجارة لأهل الجنة لا تجرو فى البز والعطر"(مجمع الزوائد / ج: ٤ / ص: ٦٣)

۞..ښه ګټلي ښه پيسې :

سـوال : .....

ښه پيسي کومي دي چي انسان يې وګټي کسب يې وکړي؟

جواب :......

د نبي ﷺ حدیث دی : چی بنه پیسې د هغه تاجرانو دي چي هغه درواغ نه ووايي ، په امانت کي خيانت نه کوي وعده خلافي نه کوي او د رانيولو په وخت کي د هغه شي عيب نه ووايي (د دې وجهي چي هغه يې بيا په کمه بيع ورکړي) او کله چي يې خپله خرڅوي نو بيا يې ډېر تعريف نه کوي (د دې وجهي چي ګران خرڅ سي) او که چيري پر ده باندي يو شی وي نو بيا دي ځان ايسته او دوري نه کوي او که چيري د ده پر يو چا شی وي نو بيا دي هغه ډېر نه تنګوي . (الترغيب والترهيب / ج: ۱/ ص: ۲۴۹)

❁ ..د فقر خيرات مال:

سوال :......

کوم خلک چي د فقر د خيرات پيسې يا غنم سره جمع کړي د دغه استعمال و ده ته څنګه دئ ، دی د دغه شيانو مالک جوړيږي که نه او د دې څخه خرڅول جائز دي که نه؟

جواب :......

د دې څخه شيان رانيول او د دوی شيان خرڅول جائز دي:

”و شرط المعقود عليه ستة كونه موجوداً مالا متقوما مملوكا في نفسه و كون الملك للبائع في ما يبيعه لنفسه“(شامی / ج: ٤ / ص: ٥٠٥)

❁ ..د کامیبني کوچنیان خرڅول:

سوال :......

بعضي خلک د کاميبني د شيدو د بچاولو د پاره د کاميبني بچان خرڅ کړي پر قصاب او قصاب هغه حلال کړي دا څنګه دي؟

جواب :......
داسي کول حرام نه دي ځکه بې کاره يې نه ضائع کوي او بل هر چاته په خپل مال کې د جائز تصرف کولو حق وي، او داسي کول نه دي ښه ناجائز دي چې څوک يې خرڅ هم نه کړي او د حلالېدو بعد يې د خوړلو پر ځای ضائع کړي:

"كل يتصرف في ملكه كيف شاء"(شرح المجلة لرستم باز ۱/۵۱۷، درر الاحكام شرح مجلة الاحكام / ج: ۳ / ص: ۱۱۰)

۞..د ګاميښې په بدل کې غوا رانيول :

سوال :......
ګاميښه د غوا په بدله کې او غوا د ګاميښې په بدله کې رانيول څنګه دي؟

جواب :......لاس په لاس خرڅول جائز دي، په پور (قرض) خرڅول جائز نه دي . ځکه د دواړو جنس يو دی او جنس چې يو وي بيا د پور معامله ناجائز وي:

"و في حديث طويل اخرجه عن عبادة بن الصامت رضى الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ فيه فاذا اختلف هذه الاصناف فبيعوا كيف شئتم إذا كان يد بيد"

(صحيح مسلم / ج: ۳ / ص: ۱۲۰۸ ـ هدايه / ج: ۳ / ص: ۸۹ ـ شامى / ج: ۵ / ص: ۸۰)

۞..زوی د شفعې دعوه نسي کوی:

سوال :......
که پلار خپله مځکه خرڅوي نو زوی د شفعې دعوه کوای سي که نه؟

جواب :......
زوی د شفعي دعوه نسي کولای ځکه زوی شفیع نه دی، مګر هو! که چیري زوی د همسایه (ګاونډي) د مځکي یا د مکان مالک یاشریک وي نو بیا د شفعي دعوه کولای سي، ځکه چي دی په دغه صورت کي شفیع دی:

"تجب بعد البیع ..... للخلیط في نفس المبیع ثم له في حق المبیع ...... ثم لجار ملاصق"(تنویر الابصار مع الدر / ج: ٦ / ص: ٢١٩، ٢٢٠، ٢٢١) شرح المجلة لرستم باز / ص: ٤٤٨، ٤٤٩۔ فتاوی خانیه علی هامش فتوی هندیه / ج: ٣ / ص: ٥٤٢)

۞ ..پر زوی مځکه خرڅول:

سوال :......
پلار پر خپل زوی مځکه خرڅولی سي که نه، په شریعت کي د دې اجازت سته که نه؟

جواب :......
اجازت سته، په دې کي هیڅ قباحت نسته، بلا شک او شبهې دا امرِ جائز دی:

"دار لرجل او مشترک بین الأب و الرجل و للأب ابن صغیر، له أم فقالت، اشتریت هذه الدار لابني بماله، والأب حاضر، او اشتریت منکما لابني بماله، فقالا بعنا، وقع الملک للابن ۔"(بزازیه علی هامش الهندیة / ج: ٤ / ص: ٤٧٢۔ قاضي خان علی هامش الهندیة / ج: ٢ / ص: ١٨٤ ۔ شرح مجلة لسلیم رستم باز / ج: ١ / ص: ٦١)

۞ ..د زوی پر نامه تجارت نامه:

سوال :......

زما د زوی پر نامه تجارت دی نو د نامه له کبله زما زوی اوس د دغه تجارت مالک گرځي که نه؟

جواب:......

تر هغه وخته یې مالک نسي جوړېدای تر څه وخته چي یې په قبضه ور نه کړي او مالک یې نه کړي جوړ، نو دی فی الحال مالک نه دی:

"**و تتم الهبة بالقبض الكامل**"(**تنوير الابصار مع الدر / ج: ٥ / ص: ٦٩٠ ، فتاوی تنقيح الحامدية / ج: ٢ / ص: ٩٣ ـ شرح مجلة لرستم باز / ج: ١ / ص: ٣٧١ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٦٩٤**)

۞..بیعانه:

سوال:......

د بائع او مشتري په مابین کي تر اوسه سودا نه وه مکمله، خو رانیونکي او خرڅونکي پخپل مینځ کي وعده سره وکړه چي په پلانکي تاریخ به موږ سودا سره کوو او د دې دپاره رانیونکي و خرڅونکي ته یو څه پیسې د ایډوانس په توګه ورکړې، و دغه ایډوانس ته بیعانه وایي، دا جائز دی که نه؟

جواب:......

که چیري رانیونکي پر هغه ټاکل سوي تاریخ د خرڅونکي سره سواد نه وکړه نو د خرڅونکي دپاره د بیعانې پیسې ښوول او د بیعانې د پیسو ورکولو والا ته (تهوکن مني) واپس نه ورکول ناجائز او حرام دي او د وعده خلافي له وجهي به هم دی ډېر زیات ګنهګار وي:

"**من عمر ابن شعيب عن ابيه عن جده ، ان رسول الله ﷺ نهى عن بيع العربان قال مالك ، و ذلك فيما نرى و الله اعلم يشترى الرجل العبد او**

الوليدة او يتكارى الدابة ثم يقول للذى اشترى منه او تكارى منه اعطيتك ديناراً او درهماً او اكثر من او اقل على انى اخذت السلعة او ركبت ما تكاريت منك ، فالذى اعطيتك منى الثمنى السلعة اوكراء الدابة وان تركت ابتياع السلعة او كراء الدابة مما اعطيتك لك باطل بغير شيئ "(اعلاء السنن / ج: ١٤ / ص: ١٧٣ ، ١٧٦ ـ موطا امام الك / ص: ٥٦٨)

۞ ..په بیعانه باندې مځکه یا کور مخته خرڅول:

سوال:......

په اوسني دور کې د کاروبار یو صورت دا هم دی چې بیعانه پر غیر منقولي شیانو باندې لکه کور، مکان، دوکان، پلاټ یا بنګله وغیره باندې کیږي او د هغه نورو پیسو د ادا کېدو دپاره د دوو یا درو میاشتو وخت ورکړل سي، بیا په دغه وخت کې (یعني په دوو یادرو میاشتو کې) پر نوي ګیراک تر هغه اول په ګرانه بیعه خرڅ کړل سي. حالانکه هغه اول مشتري تر اوسه پوري د هغه مکان پیسې پوره لا نه وي ادا کړي، او په قانوني توکه یې په خپل نامه لا نه وي کړي، نو په دغه صورت کې به داسې سودا څنګه وي؟

جواب:......

دا جائز ده ، په غیر منقولي شیانو کې د سودا کېدو وروسته مشتري د هغه خرڅ سوي شي مالک جوړیږي او د قبض کولو دمخه هم دی دغه شی مخته پر بل چا خرڅولی سي، ځکه د داسې شیانو هلاکت شاذ و نادر کیږي، او د کله کله یعني شاذ و نادر اعتبار نه وي، مګر په منقولي شیانو کې د قبض کولو وروسته د هغه خرڅول جائز دي، د قبض دمخه

جائز نه دی .

"ومن اشتری شیئاً مما ینقل و یحول لم یجز له بیعه فی قبضه ... و یجوز بیع العقار قبل القبض عند ابی حنیفة و ابی یوسف ... فان هلاك العقار نادر، و النادر لا عبــرة به ، ولا یبنی الفقه باعتباره فلا یمنع الجواز "(فتح القدير / ج: ٦ / ص: ١٣٥ ـ ١٣٧، البناية شرح الهداية / ج: ٧ / ص: ٣٢٢، بحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١١٦)

۞..د بيعانې د ضبط كولو رواج:

سوال:......

په دغه اوسني دور كې په بعضي علاقو كې د بيع كولو په وخت كې دغه رواج هم دی چې د بيعې د خبرې (پخېدلو) كولو وروسته بائع د مشتري څخه يو څو روپۍ د بيعانې په توګه اخلي، او په دغه بيع كې د بائع او مشتري په مابين كې دا خبره وسي، دغه شرط ولكول سي چې كه تر يو معيني مودې پورې بائع د بيعې څخه انكار وكړي نو هغه به مثلا و مشتري ته پنځوس زره د جرمانې په توګه وركوي او كه چيرې مشتري پر دغه معينه موده هغه پيسې نه كړي ادا نو بيا دغه بيع ختميږي او بيعانه هم ځيني ضبط كيږي په داسي شرائطو كې داسي بيع كول جائز ده كه نه؟

جواب:......

دا بيعه فاسده ده، په بائع او مشتري كې به هر يوه ته د بيعې د فسخ كولو اختيار وي . او بائع ته د بيعانې د ضبط كولو شرعاً هيڅ حق او اجازت نسته:

"قوله علیه السلام : نهی عن بیع العربان "(اعلاء السنن / ج: ١٤ / ص: ١٧٣ ـ هدایه / ج: ٣ / ص: ٦٢ ـ حجة الله البالغة / ج: ٢ / ص: ٣٢٢)

۞..د بیعانې د ضبط کولو شرط صحیح نه دی:

سـوال :......

د بائع او مشتري په مابین کې د سودا کېدو وروسته د مشتري دپاره و بائع ته بیعانه یا ایډوانس ورکول جائز دی که نه؟

جواب :......

جائز دی لیکن دا شرط لکول چې که چیري مشتري د شي د اخیستلو څخه انکار وکړي نو بیا به بائع بیعانه ضبط کړي او که بائع انکار وکړي نو بیا به هغه د بیعانې پیسې دوچنده ورکوي، داسې شرط ناجائز دی او په داسې شرط سره بیعه فاسدیږي او دا بیعه ختمول پر دواړو لازمه ده . که چیري مشتري د بیعې څخه انکار وکړي پر بائع لازمه ده چې بیعانه به واپس ورکوي چې کله دغه بائع تسلیم کړي . د بیعانې پیسې ایښودل و بائع ته حرامې دي او که چیري بائع د سود ورکولو څخه انکار کوي نو مشتري صرف د بیعانې پیسې اخیستلی سي ، د دې څخه بیا یوه روپی زیاته اخیستل هم حرام دی:

"البیع ینعقد بایجاب و قبول"(شرح مجلة لرستم باز / ج: ١ / ص: ٦١ ـ ملتقی الابحر مع المجمع ج٣ / ص: ٤ـ هدایه / ج: ٣ / ص: ٦١ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٨٥،٨٤)

۞..د بیعانې د ضبط کولو د شرط لګولو د نه صحت وجوهات:

سـوال :......

په کوموشرائطو لکولو سره بیا د بیعانې ضبط نه صحیح کیږي؟

جواب:......

د بیعانې په ضبط کولو کې دبل مال بې له عوضه لاس ته راځي دا ناجائز دی ځکه په دې کې دهوکه او خمار دی ځکه دا نه دی معلوم چې وروسته به څه کیږي دا هم ممکنه ده چې د بیعانې پیسې دې بائع واخلي او دا هم ممکنه ده چې مشتري دې د دغه څخه دوچنده پیسې واخلي نو دا خو خمار او دهوکه ده، په دغه کې په یوه عقد کې دوه عقده وي یعني د بیعې سره د هبه کولو شرط وي، که چیري مشتري بیعه نه وکړي نو د بیعانې پیسې و بائع ته هبه وي او که بائع انکار وکړي نو بائع د بیعانې د پیسو په مقدار پیسې و مشتري ته ورکوي او په بیع کې د هبې شرط لکول شرطِ فاسد دی او په شرطِ فاسد سره بیعه فاسدیږي:

"وقال ابن رشد، جمهور علماء الأمصار على أن بيع العربان غير جائز، و انما صار الجمهور إلى منعه لانه من باب الغرور و المخاطرة و اكل المال بغير عوض"(اوجز المسالك شرح موطا امام مالك / ج: ۱۲ / ص: ۲۸۵ ـ بدايه المجتهد / ج: ۵ / ص: ۸ ـ سورة المائدة : ۹۰ ـ شامی ج۶ / ص: ۴۰۲)

۞ ..د بیعانې حکم:

سوال:......

په بعضي علاقو کې دا دستور دی چې کله د بیع و شراء خبري کیږي نو د خبري د پخولو دپاره د شي مالک د مشتري څخه یو څو روپۍ واخلي (دا خو بیعانه ده) نو اوس که چیري مشتري هغه شی د وعدې مطابق واخیستی نو صحیح ده او که داسې نه وسي نو هغه اولي کومې پیسې

چې د خبرې د سودا د پخېدو دپاره ورکړل سوې وي هغه ضبط کړل سي (يعني بيعانه) هغه پيسې بيا مشتري ته نه ورکړل کيږي دا جواز لري که نه؟

جواب :......

داسې کول شرعاً جواز نلري، بلکه د بيعانې پيسې بيرته مشتري ته ورکول ضروري دي، دغه پيسې راګرځول او ضبط کول صحيح نه دي:

"عن عمر ابن شعيب عن ابيه عن جده رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ نهی عن بيع العربان، قال مالك و ذلك فی ما نری، والله اعلم، يشتری الرجل العبد او الوليدة او يتكاری الدابة ثم يقول للذی اشتری فيه او تكاری فيه اعطيتك دينارا و درهماً او اكثر من ذلك او اقل علی انی اخذت السلعة او ركبت ما تكاريت منك فالذی اعطيتك من ثمن السلعة او كراء الدابة فما اعطيتك لك۔ باطل بغير شيئ۔ (اعلاء السنن ج ١٤ / ص: ١٧٣، ١٧٦، حجة الله البالغه ج ٢ / ص: ٢٨٨)

۞..د بيعانې د پيسو حکم:

سوال :......

که چيرې د سودا د مکمل کېدو وروسته بائع بيعانه واخيسته نو دغه د بيعانې پيسې به د هغه قيمت حصه شمارل کيږي که نه او که چيري دغه پيسې د بائع سره ضائع سي نو بيا دا د بائع پيسې ضائع سوې او که د مشتري؟

جواب :......

هو، دا په هغه قيمت کې شمارل کيږي او که چيري د بائع سره بيعانه ضائع سي نو دا ګواکې د بائع پيسې ضائع سوې نو د دې وجهې به بائع

بیرته د مشتري څخه د هغه ضائع سوو پیسو مطالبه نه کوي او که چیري د بیعانې د اخیستلو په وخت کي سودا نه وه مکمل سوې نو دغه پیسې د مشتري د بائع سره امانت دي او پر دغه پیسو به بیا د امانت احکام جاري کیږي او که چیري په عرف او اصطلاح کي د دې حیثیت د قرض وي نو بیا قرض دي او یا بائع د مشتري څخه د دغه پیسو د استعمالولو اجازت واخلي نو بیا دا د قرض په زمره کي راځي . چي د ضیاع په وخت کي به ضمان پر بائع وي:

"قلت و بین ذلك ان المساوم انمایلزم الضمان إذا رضی باخذه بالثمن المسلمی علی وجه الشراء، فاذا سمّی الثمن البائع و تسلیم المساوم الثوب علی وجه الشراء یکون راضیاً بذلك کما انه إذا سمی هو الثمن و سلم البائع یکون راضیا بذلك فکان التسمیة صدرت فیهما معاً بخلاف ما ذا اخذه علی وجه النظر لانه لا یکون ذلك رضا بالشراء بالثمن المسمی، فلم یوجد القبض علی وجه الشراء بل علی وجه النظر منه اومن غیره مکانه امانة عنده فلم یضمنه"(الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ۵۷۳ ـ شرح المجلة لرستم باز / ج: ۱ / ص: ۳۳۸ـ ۳۳۹ ـ فتاوی تنقیح الحامدیة / ج: ۱ / ص: ۲۵۷)

۞ ..د بیعانې په اخیستلو سره د بیعي حکم:

سوال:......

د بیعانې د اخیستلو وروسته و بائع ته د بیعي د فسخي اختیار سته که نه؟

جواب:......

یک طرفه اختیار نه لري، او پر بائع هغه شی و مشتري ته حواله کول لازم دي او که چیري د واړو په رضا بیعه فسخ کړه نو د بیعانې پیسې واپس

كول ضروري او لازمي دي:

"من شرائطها (أي الاقالة) اتحاد المجلس و رضا المتعاقدين ، لأن الكلام في رفع عقد لازم"(شامي / ج: ۵ / ص: ۱۲۱ ـ هنديه / ج: ۳ / ص: ۱۵۷ ـ مجمع الانهر / ج: ۳ / ص: ۳۱، ۴۲ ـ شرح مجلة لرستم باز / ص: ۹۲ ـ رقم المادة : ۱۹۰)

❁..د بيعانې د اخيستلو يو خاص صورت :

سـوال :......

بائع د بيعانې د اخيستلو په وخت كي مشتري ته داسي وويل چي كه چيري تر فلانكي تاريخ پوري تر تا زياتي پيسې را كونكي ما ته ملاو نه سو نو بيا دا شی زه پر تا خرڅوم دا جواز لري كه نه ، د دې جواز سته كه يا؟

جواب :......

د دې درې صورتونه دي:

اول صورت : دا دی چي كله د مشتري څخه بيعانه اخيستله نو سودا مكمله سوې نه وه بلكه وروسته پر فلاني تاريخ دا سودا كېدونكې ده نو په دغه صورت كي د بائع داسي شرط لګول جائز دی .

دويم صورت : دا دی چي د مشتري څخه د بيعانې اخيستلو په وخت كي سودا مكمله سوې وي خو بائع ځان ته دا اختيار وركړی وي چي زه هر كله وغواړم دا سودا ختم كولی سم چي دې ته "خيار شرط" وايي د دغه صورت حكم دا دی چي متعينو ورځو دپاره دا شرط لګول صحيح دی او د ورځو د تعين بغير به داسي شرط لګول ناجائز وي .

دريم صورت : دا دی چي د مشتري څخه چي يې كله بيعانه اخيستله

نو سودا پوره سوې وه او بائع د ځان دپاره خيار شرط هم نه وو اخيستى نو په دغه ځاى كې به سودا د داسي شرط د وجهي څخه ناجائزه سي:

"صحيح شرط للمتابعين معان و لاحدهما و لو وصيا و لغيرها و لو بعد العقد لا قبله ـ تتارخانيه ـ (فى مبغ كله) (او بعضه) .... (ثلاثة ايام او اقل) و فسد عند اطلاق او تائيد (لا أكثر) فيفسد فلكل فسخه خلافاً لهما ـ (الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ٥٦٧ ، ٥٦٨ ـ شرح المجلة للأتاسى / ج: ٢ / ص: ٢٣٤ ، ٢٣٥ ـ و شرح المجلة لرستم باز / ج: ١ / ص: ١٢٤ ، ١٢٥ ، المادة: ٣٠٠)

۞..بيع باطل:

سوال:......

بيعه باطله كومه بيع ده او حكم يې څه حكم دئ؟

جواب:......

هغه بيع چې د خپل اصل او ذات په اعتبار سره صحيح نه وي او په شريعت كې بالكل لغو او غير معتبر وي . يعني په ركن يا محل (بيع) كې يې خلل وي . په ركن كې خلل دا دى چې مثلاً په بائع يا مشتري كې يو عقد كولو اهل نه وي . لكه د لېوني او ناپوه كوچني سودا، او په محل كې خلل دا دى چې په مبيع (هغه شى كوم چې خرڅېږي) كې د اخيستلو خرڅولو صلاحيت نه و . لكه مردار، وينه يا شراب ددغو اشياء وو بيع، بيع باطله ده .

او د بيع باطلې حكم دا دى چې مشتري د شي او بائع د قيمت مالک نه جوړېږي . كه چيرې مشتري پر هغه شي قبضه كړي وي نو پر هغه باندې هغه مبيعه واپس كول لازم دى . كه چيرې مبيعه د مشتري سره ضائع

سوه نو ضمان به یې ورکوي دغه رقم پر بائع باندي قیمت واپس کول ضوروري دی په ناجائزي سودا سره څوک د هغه قیمت مالک نه جوړیږي:

"البیع الباطل ما لیس مشروعاً لا بأصله و لا بوصفه بسبب وقوع الخلل فی رکنه و محله کبیع المجنون والصبی و بیع الحر و المیتة ، و هو لا یفید الملك اصلا لانه لا یترتب علیه الحکم البیع "(شرح مجلة لرستم باز / ج: ۱ / ص: ۵۵ ، رقم المادة : ۱۱۰ ـ الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۵۰)

(و) البیع الباطل(حکمه عدم الملك المشتری ایاه) إذا قبضه (فلا ضمان لو هلك)المبیع (عنده) ولانه أمانة و صحح فی القنیة ضمانه قیل و علیه الفتوی۔(الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۹۵ ـ در الاحکام / ج: ۲ / ص: ۱۶۹ ـ النهر الفائق / ج: ۳ / ص: ٤۱۸)

۞ ..د بیعي باطلي شکلونه:

سوال:......

بیعه په کومو صورتو کي باطلیږي؟

جواب:......

د بیعي باطلي صورتونه دغه دي:

(۱):ـ نه راضي کېدل، نه رضا . مثلا فریقین سره راضي خو سي، خو دا ورسره ووایي چي موږ دغسي د دروغو سودا کوو ، دغه رنګه که چیري د دوی داوله سره د دروغو سودا په نیت کي وه بیا یې د خلکو په مابین کي سودا سره وکړه نو دا باطله ده ځکه دلته مشتري ته ملیکت نه حاصلیږي .

(۲):ـ د مالیت نه وجود: د دې مختلف صورتونه دي:

(الف) د ملکیت د عدم صلاحیت د وجهي څخه بیعه باطلیږي لکه د آزاد سړي بیعه دا بیعه باطلوي .

(ب) د معدم شي بیعه هم بیعه باطلوي لکه داسي بیعه چي د بزې په نس کي کم سېرلی دی د هغه بیعه د اوس محال ده، دا هم باطله بیعه ده .

(ج) بل هغه وخت چي د مبیعي وجود غیر یقیني وي لکه په هګۍ کي د چیچی، سودا، که څه هم په ذرائعو سره د حمل د امعلومه سي خو بیا هم د ژوند پیدا کېدو یقین خو نسته .

(د) چي کله مال غیر متقوم (بې قیمته)وي لکه شراب، او د خنزیر بیعه .

(هـ) د عدم منفعت (بې فائدې) له کبله به بیعه باطله وي لکه د مرادري بیعه .

(و) د هغه شي بیعه چي هغه د بائع ملک نه وي لکه غاصب یا فضولي چي د ځان دپاره سودا وکړي نو د هغه په حق کي به بیعه باطله وي، او که چیري پر بل چا یې خر څ کړی نو دلته به بیعه موقوفه وي .

(۳):۔ چي عقد کونکی نه وي: یعني سودا کونکی یووي یا دوه وي خو د عقد اهل نه وي، یا دوه وي خو د عقد اهل نه وي، یا یو سړی وي خو د دواړو طرفو څخه وي یعني هم د بائع او هم د مشتري د طرفه وي، لکه مثلا ووایي دا د فلانکي شی ما د فلانکي دپاره (یا د فلانکي پر لاس) په دومره پیسو واخیستی .

یا دا صورت وي چي داسي ووایي چي ما دا شی خر څ کړی او داشی مي په دومره واخیستی او یا سودا کونکی لېونی یا کوچنی وي چي هغه په

سودا يا په كټه او تاوان هيڅ هم نه پوهيږي .
(٤):۔ بيـع حـقيـقـةً د نـفـعي څخه خالي وي: لكه يوه توله سپين زر چي په يوه توله سپينو زرو سودا كړي او كه چيري وصف جلا وي نو بيعه جائز ده .
(٥):۔ چي د مبيعي (خرڅېدونكي شي) ذكر نه وسي مثلا وويل سي چي ، ما پـه زر روپـۍ سودا وكړل يا مي په زر روپۍ واخيستل نو بـه دا بيع باطل وي .

"قوله و ان اختلفا جودة و صياغة) و فى الذخيرة من البيوع من الفصل السادس و إذا باع درهما كبير بدرهم صغيرا او درهما جيدا بدرهم ردى يجوز لأن لهما فيه غرصا صحيحا۔ فاما إذا كان مستويين فى القدر والصفة فبيع احدهما بالآخر هل يجوز، و هل يصير مثله دينا فى الذمة اختلفوا بعضهم قالوا لا يجوز و اشار إليه محمد فى الكتاب و به كان يفتى ابو حاتم الامام ابو احمد "(بحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٩٣ ۔ محيط البرهانى / ج: ٦ / ص: ٣١١ ۔ الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ٥٠٣، ٥٠٤)

۞ ..بيع بالشرط :

سوال :......

په بيع كي شرط څنگه دى؟

جواب :......

دې تـه بيـع الشـرط وايـي يعني په شرط سره بيع كول جائز نه ده، مگر كه چيـري د دغـه شرط د وجهي څخه د جگړې او فساد انديښنه نه وي نو عقد فاسد نه دى او اكثره د شرط څخه د فساد احتمال وي نو كه چيري دا احتمال وو نو بيع فاسديږي :

"فان قلت نهى عليه السلام عن بيع و شرط فيلزم ان يكون العرف قاضيا على الحديث ؟ قلت : ليس بقاض عليه بل على القيا س لا ان الحديث معلوم بوقوع النزاع فكان موافقا لمعنى الحديث ، فلم يبق من الموانع إلا القياس والعرف قاض عليه .... قلت و تدل عبارة البزازية و الخانية و كذا مسألة القبقاب على اعتبار العرف الحادث و مقتضى هذا انه لو حديث عرف فى فى الشرط غير الشرط فى النعل والثوب و القبقاب ان يكون معتبراً إذا لم يؤد إلى المنازعة"(الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٨٨ ـ عمدة القارى / ج: ٤ / ص: ٣٢٥ ، ٣٢٧ ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٨٥)

❁..بيع بالوفاء:

سوال :......

د ځای مالک چې کله ځای خرڅاوه نو داسې يې وويل چې زه دغه ځای خرخوم په دغه شرط چې زه کله د دغه قيمت په برابرې پيسې راوړم او تا ته يې درکړم نو ته به دغه ځای بيرته پر ما خرڅوې په دغه شرط دغه رقم سودا جائز ده که نه؟

جواب :......

دې ته بيع بالوفاء وايي او دا ناجائز ده، ځکه دسودا کېدو په وخت کي داشرط لګېدی چي هر کله زه تا ته پيسې راوړم نو ته به دا ځای بيرته ماته راکوې .

يا داسي صورت هم کېدای سي چي مثلاً خوک ووايي چي دغه ځای زه پر تا خرخوم چي کله زه پيسې راوړم ته به يې بيرته پر ماخرڅوې .

بائع پر مشتري شی خرڅ کړی شی مشتري ته ورکړل سو او د بائع

قیـمت ور کـړل سـو او بیـا بـائـع داسـي ورتـه ووایـي چې په دومره وخت کې چې کله زه دومره پیسې تا ته درکړم نو ته به داشی بیرته ماته راکوې او پر ما به یې خرڅوې، د دې څو صورتونه دي:

اول: دا دی چې کـه چیـري پـه بیـع نامه یا دعقد په مجلس کي یا د وعدې پـه تـوګـه د واپـس کېـدو یـا د خرڅېدو ذکر نه وو بلکه لکه څنګه چې عام خلک شپه اوو رځ سودا کوي هغه رنګه سودا وسوله دغه رنګه د مشتري او بـائـع هـم سـودا وسـولـه بیـا یې پـه بل مجلس او په بل وخت کي بائع و مشتـري تـه وویـل چې زه بـه دومـره پیسې درکړم ته دغه شی پر ما خرڅ کړه نـو عـلـی الاتـفـاق مشتـري هـغـه شی پر خرڅ کړی نو دا صحیح دی، لیـکـن بـائـع پـه قانوني توګه دا مطالبه نه سي کولای چي داشی به ته پر ما حتـمـاً خـرڅوې او نـه هم مشتري پر هغه شي باندي مجبور کولی سي چي ور واپـس یـې کـړې . اوس مشـتري هر قسم مالکانه تصرف په دغه مبیعه کـي کـولـی سـي . د ده خوښه ده که یې دی چا ته هبه (ګفټ) کوي او که یې خرڅوي، بائع مشـتري د دغه تصرفاتو څخه نه سي منع کولی .

د مـعـیـنـه مـدې تېـرېـدو وروستـه کـه چیري بائع و مشـتري تـه پیسې ورکړې نـو هـغـه پیسـې اخیستـل او شی واپس کول دا پر مشـتري لازم نه دی .

کـه چیـري دی پـه خپـلـه خـوښه د هغه شي په واپس کولو راضي وي نو ورکـو ل یې جائز دي علی العکس بائع مشـتري نه سي مجبور کولای چي هغه شی بیرته ور واپس کړي .

غـرض دا چـي بائع نه عدالت ته رجوع کولی سي خو د دیانت په اعتبار

سره دغه وعده پوره کول ښه دي او که چيري د وعدې په وخت کي يې د واپس کولو نيت وو خو وروسته ديو مصلحت يا ذاتي ضرورت يا نقصان د وجهي يې وعده پوره نه کړه نو گناه به نه وي او که چيري په بيع نامه يا په مجلس دعقد يا شرطاً او يا د وعده سوې وي چي شی به واپس کيږي نو دا بيعه به بيا د رهن (گروو) په حکم کي سي او د کوم شي بيع چي سوې ده هغه به رهن وي .

د مشتري دپاره د دغه څخه فائده اخيستل بيعه کول، په کرايه په گروي يا چا ته هبه کول دا ناجائز دی، بلکه مشتري د دغه شي صرف امين او محافظ دی . او که دغه شی د کرائې وي نو ټوله کرايه به رهن وي چي کله پيسې ور واپس کوي نو دغه کرايه ورکول لازمي ده لکه څنګه چي مشتري ته نفع اخيستل ناجائز ده دغه رنګه و بائع ته هم د هغه شي څخه د کتې اخيستلو حق نسته .

"والصحيح أن العقد الذى جرى بينهما ان كان بلفظ البيع لايكون رهناً، ثم ينظر ان ذكر الشرط الفسخ فى البيع، فسد البيع وان لم يذكر ذلك و تلفظا بلفظه البيع بشرط الوفاء او تلفظ بالبيع الجائز وعندهما هذا البيع عبارة عن عقد غير لازم فكذلك، و ان ذكر البيع من غير شرط ثم ذكر الشرط على وجه المواعدة جاز البيع و يلزمه الوفاء بالوعد، لأن المواعيد قد تكون لازمة لحاجة الناس "(قاضى خان على هامش الهندية / ج: ۳ / ص: ۱٦۵ ـ جامع الفصولين / ج: ۲ / ص: ۲۳۷، / ج: ۱ / ص: ۱۷۱ ـ الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۲۷٦، ۲۷۷)

عن زيد بن ارقمؓ عن رسول الله ﷺ إذا وعد الرجل اخاه و من نيته ان

يفى له فلم يف و لم يجئ للميعاد فلا اثم عليه ، قال الاشراف ، هذا دليل عليه ان النية يثاب الرجل عليها و ان يقترن معها المنوى و تختلف عنها ـ اهـ و مفهومه ان من وعد و ليس من نيته ان يفى فعليه الاثم سواء و فى به او لم يف ، فانه من اخلاق المنافقين و لا تعرض فيه لمن وعد و نيته ان يفى و لم يف بغير عذر ـ (مرقاة المفاتيح / ج: ۸ / ص: ٦١٥ ـ فيض القدرى / ج: ۲ / ص: ۸۹۱ ـ شامى / ج: ۵ / ص: ۲۷٦)

۞ ..پر بيعه باندې بيعه كول:

سـوال :......

چې كله يوه سودا شروع وي يعني پر بيع باندې بيعه كول څنګه ده؟

جواب :......

نبي ﷺ په يوه بيعه كې د بلې بيعې او په يوه معامله كې د بلې معاملې څخه د دغو په مابين كې د جمعې څخه منعه كړې ده . او دغه څو صورتونه دي:

(۱):ـ يو صورت خو دا دى چې يوه دوكاندار شى داسې خرڅوي چې كه چيرې په نغدو وي نو سل روپۍ يې قيمت وي او كه چيرې په قرض وي بيا يې قيمت يو سل پنځويشت روپۍ قيمت وي نو كله چې سودا كېده مشتري وويل چې زما خوښه ده نو دا بيعه باطله ده ځكه دوكاندار ته نه ده معلومه چې د نغدو سودا چې سل روپۍ دغه سودا كوي او كه د پور چې يو سل پنځويشت روپۍ سودا كوي دلته د ثمن جهالت هم دى او په بيع كې هم جهالت دى ، مګر كه چيرې په دغه صورت كې مشتري په حاضر مجلس كې پر يو قيمت باندې بيعه قبوله كړي چې په سل روپۍ نغدو

باندي يا مثلا په يو سل پنځويشت پور باندي دغه سودا زه کوم، نو د بيعي يو صورت معين سو نو فساد ليري سو، په دغ صورت کي بيع جائز سوه.

(۲):۔ په بيع کي بيعه کول د دې يو صورت دا دی چي خرڅونکی په يو قيمت يو شی خرڅ کړي او مشتري (رانيونکی) په دې راضي نه وي ليکن خرڅونکی وايي چي ته دغه شی زما څخه داسي رانيسه يعني په دغه شرط يې را څخه رانيسه که چيري بيا تا نه سوای خرڅولای نو بيا يې پر ما په يوه روپۍ په کمه خرڅ کړه زه يې در څخه رانيسم دا بيعه هم نه ده جائز، ځکه يوه بيعه د بل بيعي سره مشروط سوه ګواکي دا بيع دی د هغې بلي بيعي په شرط ورسره کوي.

(۳):۔ زيد عمر ته وايي چي زه ما ديو لکو ۱۰۰۰۰۰ روپو موټر په کار دی ته يې و ما ته په کښتو (قسط) راواخله، عمر ورته وايي چي موټر په دغه شرط درکوم چي ته به ما ته دوه زره روپۍ د مياشتي کښت بطور کرايه او زر روپۍ کښت به اخلې او بيا به صبا ته درې زره روپۍ راکوې او چي کله يو نيم لک ۱۵۰۰۰۰ روپۍ وصول کړې بيا پر تا موټر خرڅ سو، يعني ته بې يې مالک سې، داسي کول هم ناجائز دي ځکه دلته بيع او اجاره سره يو ځای سول.

(٤):۔ يا مثلاً د (هاؤس بلډنګ کارپوريشن) خلګو زيد ته قرض ورکړی چي ته ځای جوړ کړه په مکان کي به دواړه سره شريک يو او د دې په کرايه کي به هم ن يم نيم سره شريک يو او بيا به زما کښتونه د کرايې سره جمع کوې دا معامله هم ناجائز ده په يوه معامله کي د قرض او شرکت، دا ناجائز

دی . که شرکت وي نو قرض نه سي راتلای او که قرض وي شرکت نسي کېدای، بیا چي کله شرکت سره راسي نو بیا هغه کبنتونه ادا کول پر شریک نه دي لازم .

(۵):۔ بعضي خلک د رهن (ګروي) معامله او سودا کوي بیا مرتهن (ګروکونکي) ته هغه شی چي په ګروي ورکړل سوی دی (مرهون) هغه په کرایه ورکړي دا ناجائز دی ځکه یو سړی په یوه وخت کي مرتهن او مستأجر (کرایه اخیستونکی) جوړ سو او دا ناجائز دی:

"عن ابی هریرةؓ نهی رسول الله ﷺ عن بیعتین فی بیعة" رواه مالك و الترمذی و ابو داؤد و النسائی (مشکوة المصابیح / ص: ۲٤۸ ، جامع الترمذی / ج: ۱ / ص: ۳٦٤ ۔ الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۸۵ ۔ البنایه شرح الهدایة / ج: ۷ / ص: ۲٤٤، ۲٤۵)

بیع تعاطي:

په عملي اشاره سره ایجاب او قبول کول د بیعي دپاره دې ته بیع تعاطي وایي . مثلاً بائع و مشتري ته شی ورکړی او مشتري و بائع ته د هغه شي قیمت ورکړی که څه هم یو بل ته په ژبه ایجاب و قبول نه سره وکړی یا یو د بله کلام سره وکړی یا یو کلا (خبره) وکړي او هغه بل یه نه وکړي .

د بیع تعاطي صورتونه:

سوال:......

د بیع تعاطي کوم صورتونه دي؟

جواب:......

چي د شي قیمت معلوم وي یا پر هر شي باندي خپل قیمت نوشته وي نو

مشتري د هغه مطابق پيسې و بائع ته ورکړي او بائع هغه پيسې ځيني واخلي مشتري د شي د قيمت پوښتنه د بائع څخه وکړي بائع قيمت ور وښايي نو مشتري د څه ويلو بغير هغه شی واخلي يعني قيمت يې دوکاندار ته ورکړي او بائع هغه شی و مشتري ته ورکړی يا مشتري خپله د بائع په وجود کي هغه شی په قبضه کي واخيست .

مشتري ديو شي قيمت متعين کړی او بائع ته يې وويل چي دغه شی په هغه معينو پيسو راکړه، بائع د څه ويلو بغير هغه شی مشتري ته ورکړی او هغه پيسې يې ځيني وصول کړې لکه قصاب ته چي داسي ووايي چي ددغه ځای څخه ما ته د سلو روپو غوښه راکړه نو قصاب د هغه ځای څخه هغو مره غوښه ورکړي نو سودا مکمله سوه .

اوس د مشتري د سودا اخيستلو څخه انکار نه سي کولای، او که چيري شی يې متعينه کړی نه وي نو د دې حکم بيا دا نه دی مثلاً قصاب ته ووايي چي ما ته د سلو روپو غوښه راکړه قصاب د سلو روپو غوښه را پرې کړه او د ده مخ ته يې کښېښوده په دغه رقم کولو سر سودا نه پوره کيږي او مشتري د دغي غوښي ايستلو يعني دغوښي د اخيستلو څخه انکار کولای سي :

"حيث ان مقصد الاصلی من الايجاب والقبول هو تراضی الطرفين فينعقد البيع لتبادلة الفعلية الدالة علی التراضی ، و يسمی هذا البيع التعاطی ، مثال ذلك ان يعطی المشتری للخباز مقدار من الدراهم فيعطيه الخباز بها مقدارا من الخبز بدون تلفظ بايجاب و قبول او ان يعطی المشتری الثمن للبائع و يأخذ السلعة و يسكت البائع ... و كذا إذا جاء رجل إلی بائع الحنطة و دفع له

خمسة دنانير و قال بكم تبيع المد من هذه الحنطة فقال بدينار فسكت المشترى ثم طلب الحنطة منه فقال له البائع اعطيك أياها غدا ينعقد البيع ايضاً و ان لم يجر بينهما الايجاب والقبول ۔ و كذا لو قال المشترى للقصاب اقطع لى بخمسة غروش لحما من هذا الجانب من هذه الشاة فقطع القصاب اللحم و وزنه و أعطاه اياه انعقد البيع و ليس للمشترى الامتناع عن قبوله و اخذه "(شرح المجلة للاتاسى / ج: ۲ / ص: ۳۶، ۳۷ ـ شرح المجلة لرستم باز / ج: ۱ / ص: ٦٤ ، ٦٥ ـ الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ٥١٣ ، ٥١٤)

۞..بيع توليه:

ديو متعين شي قيمت يا چي هغه په څو پرېوزي تماميږي د هغه د بيان كولو وروسته په هغه قيمت يا په دومره چي په څو پرېوزي په هغه قيمت شي اخيستلو ته بيع توليه ويل كيږي .

۞..په بيعه توليه كي خيانت:

سوال:......

كه چيري په بيع توليه كي بائع د شي په اصل قيمت (هغه قيمت په كوم چي ده اخيستى وي) كي دهوكه او خيانت كوى دروغ يې كي وويل او بيا مشتري په خبر سو او دغه درواغ يې ثابت كړل نو اوس مشتري ته څه كول په كار دي؟

جواب:......

په دغه صورت كي به مشتري د خيانت د پيسو برابري پيسې د بائع د پيسو څخه (هغه قيمت كوم چي بائع درواغ كي ويلي دي) منفي كوي، ځيني كرځوي به يې او د هغه اصل قيمت برابري پيسې به وركوي دا حق

و ده ته سته او بل مشتري په دغه درو (۳) طریقو سره د بائع خیانت
ثابتولای سي . بائع دي خپله اقرار وکړي چي ما په اصل قیمت کي
درواغ کویي وکړه دغه شی ما ته په دومره راغلی دی او ما قیمت دومره در
یاد کړی دغه قیمت چي ما در یاد کړی اصل قیمت تر دې کم دی .
۲ . مشتري دي په دوه نارینه ګوهانو یا په دوو ښځو یو نارینه ګواه باندي
دا ثابته کړي چي بائع په اصل قیمت کي خیانت کړی .
۳ . که چیري د مشتري سره ګواهان نه وي نو بیا دي و بائع ته قسم
ورکړل سي او هغه دي د قسم څخه انکار وکړي .

"(وله الحط)قدر الخيانة (فی التولية) لتحقيق التولية (قوله لتحقيق التولية).. وله الحط قدر الخيانة فی التولية ـ ط ـ قال (ح) يعنی لو لم يحط فیالتولية تخرج عن كونها تولية لانها تكون بأكثر من الثمن الاول"(الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ١٣٧ ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٧٣ ـ فتح القدير / ج: ٦ / ص: ٥٠٠ ـ الهندية / ج: ٣ / ص: ١٦٢)

اما با باقرار البائع او بالبينة او بنكوله عن اليمين ، و قد ادعاه المشترى هذا علی المختار ، فتح القدير ج٦ / ص: ٥٠٠ ـ البحر الرائق / ج: ٦ /ص: ١٨٤ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ١٣٧)

۞ ..بیع الحاضر للبادی :

سوال :......

د ښار تجربه کاره تاجر د کلي و تاجر ته ووایي چي زه د ښار په نرخو باندي خبر یم زه به ستا د پاره شیان اخلم داسي کول جائز دي؟

جواب :......

دغـه ''بیـع الـحاضر للبادی'' ده دا مکروه ده . نبي علیه السلام د دې څخه مـنـع فـرمـایـلې ده ځکه د دې وجهي څخه کراني زیاتیږي او د ښار د خلکو تاوان دی:

''عـن ابـی هـریـرة رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال لا تلقوا الرکبان لبیـع ، لا یبیـع بـعضـکـم عـلـی بیـع بـعـض ، و لا تـنـاجشـوا ، و لا بیـع حـاضـر لباد''(مشکـوة المصابیح / ص: ۲٤۷ ، جامع الترمذی ج۱ / ص: ۳٦۲ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ۱۰۲)

۞..د بیع د ختمولو شرط ښودل:

سـوال :......

د سـودا کـولـو پـه وخـت کـې بـائـع و مـشـتـري تـه وویل څې ''تـر مـاښـام، مـاخـسـتـن درې ورځې یا په هفته کې به سودا کو وکه چیري تر ماښام یا تر هفتې سودا نه وسوه نو بیا زه سودا نه درسره کوم دا جواز لري که نه؟

جواب :......

دا رقـم شـرط لګـول د اسـتـحـسـان د وجهي جائز دی او کـوم وخت چې معین سوی دی که تر هغه وخته سودا نه وسوه نو سودا ختـمه سوه:

''(فـان اشتریٰ) شـخـص شیئا (علی انه) أی المشتری (ان لم ینقد ثمنه إلی ثلاثة ایام فلا بیع صح) استحسانا و ان اشتری کذلك (الی أربعة) ایام (لا) یصح خلافا لمحمد ، (قوله خلافا لمحمد) فانه جوزه إلی ما سمیاه''(الدر مع الرد / ج: ٤ / ص: ٥۷۱ ـ شـرح الـمجلة للأتاسی / ج: ۲ / ص: ۲٥۷ ـ الهدایة / ج: ۳ / ص: ۳۱)

۞..بیع سلم:

سوال:......

بيع سلم څه ته وايي؟

جواب:......

بيع سلم دا ده چې پيسې اول ورکړي او غنم وروسته وصول کړل سي او د بيعې دپاره د جنس، نوع، صفت او د وخت او ځای تفصيل وسي . د دې وجهې چې د فساد او د جګړې احتمال ختم سي . په ساده الفاظو چې تعريف وسي نو داسې به وي "چې مشتري د شي قيمت دمخه ادا کړي او د مقرره مودې وروسته هغه د متعين صفت والا شی وصول کړي:

"و شرطه بيان جنس و نوع و صفة و قدر و أجل و أقله شهر ... و قدر رأس المال ان تعلق العقد بمقداره كما فی مكيل و موزون و عددی غير متفاوت و مكان الايفاء فی ماله حمل او مؤنة و قبض رأس المال قبل الافتراق "(تنوير الابصار مع الدر المختار / ج: ٥ / ص: ٢١٤،٢١٦ ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٢٦٥ ـ كتاب البيع باب السلم)

۞..د بيع سلم د ختمولو صورت:

سوال:......

که چيري بائع او مشتري بيع سلم ختم کول وغواړي نو څنګه به يې ختموي؟

جواب:......

مشتري چې کومې پيسې بائع ته ورکړي وي هغه دي بيرته ځيني واخلي نو بيع سلم ختمه سوه . دا خبره دي واضحه وي چې تر څه وخته چې پيسې نه وي ځيني اخيستل سوي د دغه پيسو په عوض کې د بائع

څخه بل شي اخیستل ناجائز دی:

"اقالة بعض السلم جائز ای لو أقالة عن نصف المسلم فیه او ربعه جاز، و یبقی العقد فی الباقی لا یجوز لرب السلم شراء شیئ من المسلم إلیه برأس المال بعد الاقالة قبل القبض بحکم الاقالة"(شرح المجلة للأتاسی / ج: ۲ / ص: ۳۹۹ ـ الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۲۱۹ ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٦٦)

۞..د بیع سلم شرطونه:

سوال:......

د بیع سلم د صحت کوم شرطونه دي؟

جواب:......

په کوم شي کي چي بیع سلم کیږي د هغه جنس به معلوم وي بل شی به نه وي ورسره ګډ، مقدار به یې معلوم وي د ادایني تاریخ به معلوم وي او کم از کم یوه میاشت به مهلت وي، د رأس المال (سرمایه) مقدار به معلوم وي. که چیري مبیعه وزني شی وي او د هغه په وړلو کي د پیسو ضرورت وي د مزدوري ضرورت وي نو د ورکولو ځای به معلوم وي. او پر کوم شي چي بیع سلم کیږي هغه شی به د اخیستلو او تر وصول کېدلو تر زماني پوري به بازار کي پیدا کیږي او په مجلس د عقد کي به رأس المال حواله کړل سوی وي. که په دغه شرائطو کي یو شرط هم مفقود (نیستي) وي نو بیع سلم به فاسده وي.

(بدائع الصنائع / ج: ۵/ ص: ۲۰۱، ۲۰۲، ۲۰۷، ۲۱۱ / الهدایة / ج: ۳/ ص: ۹۵ / اعلاء السنن / ج: ۱۴/ ص: ۳۹۸)

۞..په بیع سلم کي که چیري بائع د مدې څخه دمخه فوت سي:

سوال:......

كه چيري په بيع سلم كي بائع د مسلم فيه (مبيع، خرڅ سوي شي) د ادا كېدلو د تاريخ له مودې څخه دمخه وفات سي نه او س مشتري د وخت دمخه د شي (مسلم فيه) مطالبه كولى سي او كه نه؟

جواب:......

مشتري د وخت دمخه د شي (د مسلم فيه) مطالبه كولى سي:

"(ويبطل) الأجل(بموت المسلم إليه، لا بموت رب السلم فيؤخذ) المسلم فيه (لبطلان الأجل بموت المديون لا الدائن" (الدر مع الرد / ج: ۵ / ص: ۲۱۵ ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ۱٦۰ ـ حاشية الطحطاوى على الدر / ج: ۳ / ص: ۱۲۱)

۞..په بيع سلم كي د ثومره قيمت وصولي ضروري وي:

سوال:......

كه چيري پر رأس المال (سرمايه) د قبضې كولو دمخه فريقين سره جلا سول نو دغه بيع ..لم به صحيح وي او كه نه؟

جواب:......

په بيع سلم كي د رأس المال (سرمايه) مقدار متعين كول او په مجلس د عقد كي ادا كول لازم دى نو اوس كه چيري پر رأس المال د قبض كولو دمخه فريقين سره جلا سي نو بيع سلم صحيح ده او كه چيري د رأس المال څخه لږ ادا او لږ نه كړي ادا، نو په دغه صورت كي چي ثومره پيسې ادا كړل سوي دي په هغو كي سلم صحيح دى او ثومره پيسې چي نه دي ادا كړل سوي په هغو كي بيع سلم باطله ده . لكه د لسو زرو په عوض كي

د لس منه غنمو د سلم عقد وسو او په مجلسِ عقد کي پنځه زره ادا سوي پنځه زره ادا نه کړل سوي نو اوس د هغه پنځو زرو په بدل کي کوم چي ادا سوي دي په پنځه منه غنمو کي سودا صحیح سوه او پنځه زره چي نه دي ادا سوي د هغو له کبله په هغه پنځو منو کي بیع سلم باطله سوه ځکه پنځه زره نوري نه دي وصول سوي:

"السادس ان یکون مقبوضا فی مجلس السلم سواء کان رأس المال دینا او عینا عند عامة العلماء استحساناً ، و سواء قبض فی اول المجلس اوفی آخره ، لأن ساعات المجلس لها حکم ساعة واحدة ، و کذا لو لم یقبض حتی قاما یمشیان قبض قبل أن یفترقا بأبدانهما جاز ۔"(الهندیة / ج: ۱ / ص: ۱۷۹ ۔ شامی / ج: ۵ / ص: ۲۱٦)

۞ ..په بیع سلم کي بائع پر مقرر سوي تاریخ مقرر سوی شی که ور نه کړي:

سوال :......

که په بیع سلم کي بائع مقرر سوی شی پر هغه مقرر سوي تاریخ نه ور کړي نو د هغه په بدل کي یو بل شی اخیستل جائز دی که نه؟

جواب :......

نه دی جائز ، یا دي د بائع څخه صرف خپلي روپی واخلي او یا دي مهلت ور کړي چي کله هغه شی دی پیدا کړي بیا دي ځیني واخلي:

"ان المسلم إلیه قد یعجز عن تحصیل المسلم فیه ، و لیس لرب السلم حینئذ إلا رأس ماله ۔"(فتح القدیر / ج: ۷ / ص: ۸۸ ۔ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ۱٦٦)

۞ ..په بیع سلم کي خیار رؤیت:

سـوال:......

په بیع سلم کي خیار شرط یا خیار رؤیت سته که نه؟

جواب:......

یو هم نسته، نه خیارِ شرط او نه خیارِ رؤیت:

"و منها عدم خیار الشرط لما تقرر من ان قبض رأس المال قبل التفرق الشرط بقائه علی الصحة ، و خیار الشرط یمنع تمام القبض ـ و فیه قالوا .... و لا یثبت فی المسلم فیه خیار الرؤیة لانه دین فی الذمة "(شرح المجلة للأتاسی / ج: ٢ / ص: ٣٩٧ـ ٣٩٨ ـ الدرمع الرد / ج: ٥ / ص: ٢١٧)

..په سلم کي بل شریک کول:

سـوال:......

پـه بیـع سلم کي چې کوم مبیع (مسلم فیه) کوم شی چي خرڅیږي، مقرر سوی وي پـه هغـه کـي بـل یـو شریک کول یا د بل چا څخه پیسې اخیستل (کـوم چـي ده په بیع سلم کي ورکړې وي) او سودا پرېښودل په دغه طریقه دا جواز لري او که یا؟

جواب:......

په بیع سلم کي داسي کول ناجائز دی ځکه دا د قبض دمخه تصرف دی . او د قبض دمخه تصرف کول ناجائز دی:

"ولا یجوز التصرف: للمسلم إلیه فی رأس المال لا لرب السلم فی المسلم فیه قبل قبضه بنحو بیع و شرکة ، و مرابحة وتلیة و لو ممن علیه ... قوله : و لا لرب السلم فی المسلم فیه ، لأن المسلم فیه مبیع والتصرف فی المبیع المنقول قبل القبض لا یجوز "(حاشیة الطحطاوی علی الدر / ج: ٣ / ص: ١٢٣ ـ

البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٦٤ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٢١٨)

۞ ..په بیع سلم کي د قیمت د قبض کولو دمخه تصرف کول:

سـوال:......

پـه بیـع سـلـم کي د بائع د پاره په رأس المال کي یعني قیمت د قبض کولو دمخه په هغه کي تصرف کول جائز دی که نه؟

جواب:......

دا تـصـرف ناجائز دی . دغه رقم د مشتري دپاره پر مسلم فیه یعني پر شي د قبضه کولو د مخه په هغه کي تصرف کول جائز نه دی:

"و لا یجـوز التـصرف لـلـمسـلـم إلیـه فـی رأس المـال و لا لرب السلم فی الـمسلم فیه قبل قبضه بنحو بیع و شرکة و مرابحة و تولیة و ممن علیه .... (قوله و لا لـرب الـسـلـم فـی الـمسـلـم فیـه)لان المسلم فیه مبیع و التصرف فی المبیع الـمـنـقـول قبل القبض لا یجوز"(حاشیة الطحطاوی علی الدر / ج: ۳ / ص: ۱۲۳ ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٦٤ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٢١٨)

۞ ..په بیع سلم کي د مبیعې د نه ورکولو په صورت کي:

سـوال:......

کـه چیـري پـه بیع سلم کي د بائع (مسلم الیه) دپاره د وجهي څخه د مسلم فـیه (مبیع ، خر څ سوي شي) ورکول ممکن نه وو نو د رب المال (سرمایه ورکـونـکي) دپـاره د رأس المال (څومره سرمایه چي یې ور کړې وه) څخه زیاتي اخیستل یا د هغه په بدل کي یو بل شی اخیسـتل جائز دي که نه؟

جواب:......

دا نـاجائز دی د اصلو پیسو برابري پیسې ورکول لازمي او ضروري دي نه

بــه هيــڅ قســم زيـادت كـي كـوي او نــه هـم كـمـي .كمي او زياتي كي كول بالكل حرام دى او كه چيري معاف يې كړي نو معافي به وي .

"و لا يـجـوز لـرب السلم شراء شيئ من المسلم إليه برأس المال بعد التقابل في عـقـد السـلـم الـصـحيح بعد وقوعه قبل قبضه بحكم الاقالة استحسانا لقوله عليه الـصـلوة و السلام ، لا تأخذ إلا سلمك او رأس المال - أى لا تأخذ إلا ما سلمت فيه حال قيام العقد او رأس مالك بعد الانفساخ "

(مجمع الانهر / ج: ٣ / ص: ١٤٥)

(تبيين الحقائق / ج: ٤ / ص: ٥١٧)

(الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٢١٩)

۞..په بيع سلم كې وكيل:

سـوال :......

پـه بيـع سـلـم كـي بـائـع (مسلم اليه) پر رأس المال د قبضه كولو دپاره يو څوک وكيل مقرر كولى سي او كه نه؟

جواب :......

وكيل نه سي مقرر كولى، خو مشتري هر څوک وكيل مقرر كولى سي:

"قـال الـزيلعي وهذا في الصرف مجراه على اطلاقه فانه يجوز التوكيل فيه مـن الـجـانبـيـن و اما في السلم فانه يجوز بدفع رأس المال فقط و اما ما يأخذه فـلا يـجـوز ،لان الـوكيل إذا قبض رأس المال يبقى المسلم فيه في ذمته و هو مبيع و رأس المال ثمنه و لا يجوز ان يبيع الانسان ماله بشرط أن يكون الثمن لغيره كما في البيع العين "(الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٥١٧ـ الفتاوى الهندية / ج: ٣ / ص: ١٩٨ ـ تبيين

الحقائق / ج: ٤ / ص: ٢٦٢ ـ البحر الرائق / ج: ٧ / ص: ٢٦٦)

۞..له بیع څخه انحراف کول:

سوال:......

باقاعده چي ایجاب او قبول وسي بیا له بیع څخه انکار کول منحرف کېدل جواز لري که نه؟

جواب:...... ناجائز دی . د بائع دپاره هغه شی پر بل چا خرڅول دالا ناجائز دی . که چیري بائع هغه شی پر بل چا خر څ کړي نو هغه بیع نه منعقده کیږي، مګر که چیري بائع او مشتري پخپله رضا دغه بیع فسخ کړه نو د بائع دپاره هغه شی پر بل چا خرڅول جائز دی:

"واذا حصل الایجاب و القبول لزم البیع و لا خیار لواحد فیهما إلا من عیب او عدم رؤیة .... ولنا ان فی الفسخ ابطال حق الغیر فلا یجوز" (الهدایة / ج: ٣ / ص: ٢٠ـ٢١ ـ البحر الرائق / ج: ٥ / ص: ٢٦٢ ـ شرح المجلة للأتاسی / ج: ٢ / ص: ٢٧)

۞..بیع صحیح:

سوال:......

بیع صحیح کومه بیع ده؟

جواب:......

بیع صحیح هغه بیعه ده چي د اصلي عقد او وصفِ عقد د دواړو په اعتبار سره په شریعت کي جائز وي او چي عارضي خرابي هم نه وي پکښې .

د اصلِ عقد څخه مراد د عقد رکن دی یعني ایجاب او قبول، د خرڅولو او اخیستلو د مبیع او ثمن تمام شرائط به موجود وي او د وصف څخه

مراد رکن له رکن څخه علاوه خارجي شی دی مثلا چې د عقدِ بیع د تقاضو خلاف هیڅ شرط به یې نه وي ایښی او د دې حکم دا د چې پر دې د بیع تمام احکام بغیر د څه کراهت مرتب کیږي مثلا خرخونکی د ثمن او اخیستونکی د هغه شي مالک جوړ سو، او دغه دواړه شیان د دوی دپاره حلال سول:

"البیع الصحیح هو البیع الجائز وهو البیع المشروع اصلا و وصفا، فالبیع الصحیح یفید الملکیة حتی قبل القبض ای بمجرد حصول هذا البیع یصبح المشتری مالکا للمبیع کما أن البائع یصبح مالکا للثمن ولو لم یحصل القبض. وقد عرفت الکتب الفقهیة البیع الصحیح بانه ما کان مشروعاً بأصله و وصفه"(درر الاحکام شرح مجلة الاحکام / ص: / ج: ۱ / ص: ۹۳ ـ الفقه الاسلامی و ادلته / ج: ۵ / ص: ۳۳۹۵ـ۳۳۹۶)

۞..د بیع د صحت دپاره دوې خبرې:

سوال:......

د یو شي د اخیستلو یا د خرخولو دپاره د څه شي ضرورت وي؟

جواب:......

د یو شي د اخیستلو یا خرخولو دپاره دوه شیان ضروري دي کوم شي چې خرخیږي هغه به ده خرخونکي ملکیت وي. د بیع کولو په وخت کې کوم شی چې خرخیږي هغه ورکول به ممکن وي، که چیرې بائع فی الحال د مبیع (خرڅېدونکي شي) د ورکولو څخه قاصر وي قادر نه وي پر ورکولو نو بیعه نه ده صحیح. مثلاً د تښتېدلي حیوان یا ورک شي بیع صحیح نه ده. ځکه د دغه شي طلب چې کله مشتري وکړي نو بیا دی یې

پر ورکولو قادر نه وي:
"و شرط المعقود علیه ستة، و کونه موجوداً مالاً متقوماً مملوکاً فی نفسه و کون الملك للبائع فیمایبعه یملك لنفسه و کونه مقدور التسلیم "(رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٥٠٥ ـ شرح المجلة للأتاسی / ج: ٢ / ص: ٨٧ ـ شامی / ج: ٤ / ص: ٥٠٥ ـ ٥٠٤)

۞..بیع صرف:

سـوال:......

بیع صرف څه ته وایي؟

جواب:......

زر د زرو پـه عـوض، پیسـې د پیسو په عوض، سپین زر د سپینو زرو په عـوض، یـا سـونـا د سپین زر د (کـرنسـۍ) پیسو په عوض خرڅول دې ته بیع صرف وایي:
"والثانـی فی معناه فی الشریعة و قد أفاد بقوله هو بیع بعض الأثمان ببعض کـالـذهـب و الفضة إذا بیع احدهما بالآخر أی بیع مامن جنس الأثمان بعضها ببعـض "(البحـر الرائق / ج: ٦ / ص: ١٩٢ ـ حاشیة الطحطاوی علی الدر / ج: ٣ / ص: ١٣٧ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٢٥٧)

۞..د بیع صرف شرائط:

سـوال:......

د بیع صرف څه شرطونه دي؟

جواب:......

کـه چیـرې پــه بیـع صـرف کـې جـنس یو وي لکـه د زور پـه بدل کې زر، د

پاكستاني پيسو په بدل كي پاكستاني پيسې، د ډالرو په بدل كي ډالر .
كه چيري دغه رقم سودا وي نو د دې د جواز دوه شرطونه دي:
(۱):۔ د عقد په مجلس كي پر دواړو عوضو قبضه كول ضروري ده كه چيري ديوه طرفه معامله د قرض وي يا ديوه سره خيارِ شرط وي نو ببع فاسده سوه .
(۲):۔ د دواړو عوضونو مقدار به برابر وي كه څه هم يو عوض تر هغه بل ښه وي بيا هم د مقدار برابروالى ضروري دى نو ديوې تولې په بدل كي تر يوې تولې كم زر مثلا دا به جائز نه وي كه څه هم په دغه تولو كي يوه توله اعلىٰ قسم زر وي . او دغه رنګه كه چيري يو طرف ته زاړه او بل طرف ته نوي نوټونه وي نو هم د مقدار برابروالى ضروري دى .نوي نوټونه كم او زاړه زيات داسي نه سي كېداى ځكه دا بيا سود ځيني جوړيږي .
كه چيري د دواړو طرفو جنس يو نه وي مختلف وي بيا د بيع د جواز دپاره ضروري ده چي د عقد په مجلس كي به پر هغو عوضونو قبضه كيږي . قرض نا جائز دى خو كمى اوزياتى به دلته جائز وي لكه ديو ډالر تبادله د سلو پاكستاني روپو سره، پنځه تولې سپين زر په يوه توله زرو:
”عن ابى سعيد الخدرى رضى الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ الذهب بالذهب والفضة بالفضة ، والبر بالبر ، والشعير بالشعير ، والتمر بالتمر ، والملح بالملح مثلا بمثل سواء بسواء يداً بيدٍ فمن زاد او استزاد ، فقد أربى الآخر والمعطى فيه سواء“ الصحيح المسلم / ج: ۲ / ص: ۲۵ ـ مشكوة المصابيح / ص: ۲٤٤ ـ الهداية / ج: ۳ / ص: ۸۳ ـ الدر المختار مع الرد / ج: ۵ / ص: ۱۷۲ ـ هندية / ج: ۳ / ص: ۲۱۸)

واخیست بیا یې په بازار کې یا بیرته پر زید په لس زره خر څ کړ نو دا بیع عِینه ده .

(۲):۔ کـه چیرې زید پر عمر د مشین د خرڅولو پـه وخت کې دا شرط کښېږدي چې دا مشین بـه بیرته پر ما په لس زره خرڅوې نو دا صورت د دوو وجهو ناجائز دی:

۱ . د شرط د وجهې څخه .

۲ . بائع پـه ګران قیمت خر څ کړی او د ثمن د وصولېدو دمخه یې په ارزانـه واخیستـی دا نـاجـائز دی، و دغـه تـه "شراء ما باع بأقل مما باع قبل نقد الثمن" وایې .

(۳):۔ دریم صـورت دا دی چې د شرط بغیر یې خر څ کـړي او د بیرتـه خرڅېدو وعده وکړي یا د بیع کېدو وروسته بیرته د خرڅېدو وعده وکړي یا داسې شرط ولګوي دا صورت هم ناجائز دی ځکه دلته هم په ګرانه بیع د خرڅېدو وروستـه د قیمت د وصولېدو دمخه پـه کم قیمت اخیستل لازمیږي مګر د قیمت د ادائیګې وروستـه پـه کم قیمت شی اخیستل ناجائز دی .

(٤):۔ زیـد هغه شی پر عمر په دیارلس زره خر څ کړی بیا عمر دغه پر بکر خر څ کړی او بکر دغـه بیرتـه پر زید خر څ کړی نو دغه صورت د امام محمد په نزد ناجائز او د امام ابو یوسف په نزد جائز دی .

(٥):۔زید پر عمر مشین خر څ کړی او عمر هغه په بازار کې پر بکر خر څ کړی او زید ته یې بیرته واپس ورانیسې دا صورت جائز دی:

"(قوله : أمر کفیله بیع العینة) بکسر العین المهملة و وهی السلف ، یقال باعه

۞..بيع عِينه:

سوال:......

بيع عينه ته ولې عِينه وايي اودا كومه بيع ده؟

جواب:......

بيع عِينه ته د دې وجهې بيع عِينه وايي چې په دې كې بائع قرض وركول پرېږدي او د سامان طرف ته راتګ خوښوي يا د دې وجهې چې بائع ته بيرته عين يعني هغه شی راځي:

"يستقرض من تاجر عشرة فيأبى عنه و يبيع منه ثوبا يساوى عشرة بخمسة عشر مثلاً نسيئة فى نيل الزيادة يبيعه المستقرض بعشرة و يتحمل خمسة، سمى به لما فيه من الاعراض عن الدين إلى العين"(مجمع الانهر / ج: ۳ / ص: ۱۹٤ ـ الموسوعة الفقهية / ج: ۹ / ص: ۹۵ ـ فتح القدير / ج: ٦ / ص: ۳۳٤ ـ الدر المختار مع الرد / ج: ۵ / ص: ۳۲٦)

۞..د بيع عِينه مختلف صورتونه:

سوال:......

د بيع عِينه څو صورتونه دي؟

جواب:......

د بيع عِينه څو مختلف صورتونه دي:

(۱):.. مثلاً عمر زيد ته ورغلی او د هغه څخه يې لس زره ۱۰۰۰۰ قرض طلب كړ زيد د قرض وركولو څخه انكار وكړ او دايې ورته وويل چې زما سره مشين دی د هغه قيمت لس زره دی، هغه ته په ديار لس زره را څخه را نيسه او شپږ مياشتي وروسته يې بيا قيمت راكړه نو عمر مشين

عينة : اى نسيئة مغرب ، .... و قيل لهذا البيع عينة ، لأن المشترى السلعة إلى اجل يأخذ بدلها عيناً أى نقداً حاضراً فيأتى إلى تاجر فيطلب منه القرض و يطلب التاجر فيه الربح ، و يخاف من الربا فيبعه التاجر ثوبًا يساوى عشرة مثلاً بخس مأة عشر نسيئة ، فيبعيه هو فى السوق بعشرة فيحصل له العشرة ، و يجب عليه للبائع خمسة عشر إلى اجل، او يقرضه خمسة عشر درهما ثم يبيعه المقرض ثوباً يساوى عشرة بخس مأة عشرة فيأخذ الدراهم التى اقرضه على انها ثمن الثوب فيبقى عليه الخمسة عشر قرضاً درر ، و من صورها أن يعود الثوب إليه كما إذا اشتراه التاجر فى الصورة الاولى من المشترى الثانى و دفع الثمن إليه ليدفعه إلى المشترى الاول و انما لم يشتره من المشترى الاول تحرزاً عن شراء ما باع بأقل مما باع قبل نقد الثمن"(الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٢٥ ـ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٢٣٥ ـ الهندية / ج: ٣ / ص: ٥٠٨)

قوله : أو أمة على أن يعتق المشترى أو يقرض المشترى درهماً أو يهدى له أو يسلم إلى كذا أو ثوب على أن يقطعه البائع أو يخيطه قميصاً) أى لم يجز بيع أمة بشرط فيها ، و هو فاسد ، لانه بيع و شرط و قد نهى النبى ﷺ عن بيع و شرط ـ(البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٨٥، ٨٤ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٨٨)

قوله(و شراء ما باع بالاقل قبل نقد الثمن) اى لم يجز شراء البائع ما باع بأقل مما باع قبل نقد الثمن ـ (البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٨٢ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٧٣ ، ٧٤ ـ حاشية الطحطاوى على الدر / ج: ٣ / ص: ٧٣)

(قوله و شراء ما باع بالأقل قبل النقد) أى لم يجز الشراء البائع ما باع بأقل مما باع قبل النقد انثمن و قيد بقوله قبل النقد اذ بعده لا فساد ـ (البحر الرائق

/ ج: ٦ / ص: ٨٢ ۔ الدر المختار مع الرد / ج: ٥ / ص: ٧٣ ۔ ٧٤ ۔ حاشية الطحطاوی علی الدر / ج: ٣ / ص: ٧٣)

أمر الاصيل (كفيله بيع العينة) أى بيع لاعين بالربح نسيئة لبيعها المستقرض بأقل ليقضى دينه ، اخترعه أكلة الربا ، و هو مكره مذموماً شرعًا لما فيه من الاعراض عن مبرة الاقراض۔

(قوله و هو مكروه) أى عند محمد و به جزم فى الهداية ، قال فى الفتح و قال ابو يوسف ، لا يكره هذاالبيع ،لانه فعله كثير فى الصحابة ... و قال محمد : هذا البيع فى قلبى فأمثال الجبال ذميم اخترعه أكلة الربا، وقد ذمهم رسول الله ﷺ فقال: إذا تبايعتم بالعينة و ابتعتم أذناب البقر ذللتم و ظهر عليكم عدوكم أى شغلتم بالحرث عن الجهاد و فى رواية ، سلط عليكم شراركم فيدعوا خياركم فلا يستجاب لكم وقيل : اياك والعينة فانه العينةثم قال فى الفتح ما حاصله : أن الذى يقع فى قلبه أنه ، ان فعلت صورة يعود فيها إلى البائع جميع ما أخرجه او بعضه كعود الثوب إليه فى الصورة المارة و كعود الخمسة فى الصورة اقراض الخمسة عشر فيكره يعنى تحريماً فان لم يعد كما إذا باعه المديون فى السوق فلا كراهة فيه بل خلاف الاولىٰ ، فان الاجل قابله قسط من الثمن والقرض غير واجب عليه دائماً بل هو مندوب ، و ما لم ترجع إليه العين التى خرجت منه لا يسمى بيع العينة ، لانه من ا لعين المسترجعة لا العين مطلقاً و جعله السيد أبو السعود محمل قول أبو يوسف ، و حمل قول محمد و الحديث على صورة العود ۔(الدر مع الرد ٣٢٥ ، ٣٢٦ ۔ كتاب الكفالة ، مطلب : بيع العينة ۔ فتح القدير / ج: ٧ / ص: ٢١٢ ، ٢١٣ ۔ البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٢٣٥)

۞..بیع فاسد :

سوال :......

بیع فاسده کومه بیع ده او د بیع فاسدې څه حکم دی؟

جواب :......

چې کومه بیع د خپل ذات او اصل په اعتبار سره خو صحیح وي لیکن د وصف په اعتبار سره په دې کي خلل وي هغه بیع فاسده ده .

د بیع فاسدې حکم:

د بیع فاسدې حکم دا دی چې تر څه وخته چې د رانیوونکي په قبضه کي رانه سي تر هغه وخته هغه دغه رانیول سوی شی د هغه په ملک کي نه راځي او چې کله یې قبضه پر وکړه نو په ملک کي یې راغی لیکن حلال نه دئ .نو د دې وجهي د دې خوړل یا چښل یا په یو بله طریقه کار څیني اخیستل صحیح نه دي . لیکن دا حکم هغه وخت دی چې کله بیعه برقرار وي او بیعه فاسده برقرار ساتل ګناه ده . نو د شریعت حکم دا دی چې دغه رقم بیع کونکي دې دغه بیعه ختم کړي او بیرته دې په شرعي طریقه سره بیع وکړي:

"والفاسد له معنیان ، لغوی و اصطلاحی ... و أما الثانی قالوا ، هو ما کان مشروعاً بأصله لا بوصفه و مرادهم من مشروعیة أصله کونه مالاًمتقوماً ، لا جوازه و صحته ، فان کون فاسداً یمنع صحته"(البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٦٨ ـ

البنایة شرح الهدایة / ج: ٧ ـ / ص: ١٨٨ ـ شامی / ج: ٥ / ص: ٤٩)

(و إذا قبض المشتری المبیع برضا) عبر ابن الکمال باذن (البائع صریحاً او

دلالة) بأن قبضه فی مجلس العقد بحضرته (فی البیع الفاسد) ....(ملکه).... (بمثله ان مثلیاً و إلا فبقیمته) یعنی ان بعد هلاکه او تعذر رده ... و یجب (علی کل واحد منهما فسخه قبل القبض) و یکون امتناعاً عنه ، ابن ملك (أو بعد مادام) المبیع بحالة، جوهرة ، (فی ید المشتری) اعداماً للفساد ، لأنه معصیة فیجب رفعها۔ (قوله ملکه) أی ملکاً خبیثاً حراماً ، فلا یحل أکله و لا لبسه ...... (الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٨٨ ......٩١) (البنایة شرح الهدایه / ج: ٧ / ص: ٢٥٩ ، ٢٦٢) (البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٩١،٩٤)

۞..د بیعي فاسدي صورتونه:

سوال:......

د بیعي فاسدي کوم صورتونه دي؟

جواب:......

چې په بیعه کې د جګړې او نزاع احتمال وي او د هغه دغه یو څو صورتونه او وجوهات دي:

(۱):۔ مبیعه وي د بائع په اختیار کې نه وي یعني مبیعه و مشتري ته ورکول د بائع په قدرت کې نه وي لکه د تښتېدلي حیوان بیعه او یا د ورک موټر بیعه مګر که چیري یو سړی ووایي چې هغه تښتېدلی حیوان یا هغه ورک موټر زما سره دی نو بیا یې اخیستل صحیح دي .

(۲):۔ چې کله مبیعه و مشتري ته په ورکولو کې ضرر یا نقصان وي لکه په چت کې د لګېدلو سریو بیعه، ځکه چې د سریو په کښلو سره چت ته تاوان ور رسیږي .

(۳):۔ چې د مبیعې ذات غیر معین وي لکه چې یو څوک ووایي په دغه

دوو جوړو کالو کي مي يوه جوړه کالي واخيستل .
(٤):۔ چي د وصف په اعتبارسره مبيعه غير معين وي . لکه د پسه وړی
واخلي او وړی پر پسه وي نو وړی د کوم ځای څخه پرې کړي او مقدار به
يې څومره وي په دغه کي د نزاع احتمال دی .

☆......بعضي لازمي امور ترک کول:

(۱):۔ د ثمن (هغه قيمت چي پر هغه خبره سره وسي) د
هغه قيمت چي غير متقوم وي لکه غنم چي د شرابو په عوض خرڅ کړي .
(۲):۔ په بيعه کي د ثمن د ادايني دپاره داسي ورځ او موده مقرر کول چي
متعين نه وي لکه چي کله غنم رېبل کيږي نو هغه وخت به د قيمت اداينه
وکړم . او حال دا دی چي په دې کي کمی اوزياتی کيږي .
(۳):۔ چي کله په مبيعه کي د سود شبه وي . لکه يو شی يې په پنځه سوه
واخلی او تر اوسه يې هغه قيمت قبض کړی لا نه وي چي هغه شی بيرته
په څلور سوه واخلي ، اوس بائع ته بيرته هغه شی هم راغلی او سل روپۍ
هم زياتي راغلې او دغه تر اوسه پر هغه قيمت قبضه لا نه وه کړې نو د دې
وجهې د قرض په معامله کي و ده ته سل روپۍ زياتي راغلې .
(٤):۔ چي د ايجاب او قبول طريقه د شريعت خلاف وي . مثال چي په دغه
دوو سوداګرو کي يو بې له ليدلو او بې له سوچه د بل و کاليو ته لاس
ور وړي او دا بيعه وکړي يا په دواړو کي هر يو خپل کالي د هغه بل و
طرف ته ور وغورځوي او حال داي چي د هغه بل کالي دوی ليدلي هم نه
وي يا چي مشتري چي د کوم شی رانيونکی وي پر هغه شکه کښېږدي .
د اسلام دِرمخه د جاهليت په دور کي د سودا او بيعي دغه طريقې رائج وې

او په دغه رقم چمو سره دوی سودا لازمه كنلـه، د اولې طريقې نوم "ملامسه" او د دويمې نوم "منابزة" او د دريمې نوم "القاء حجر" وو، په بيعه كې داسې شرط لګول چې هغه د بيع سره نامناسب وي . لكه داسې شرط چې په هغه كې يوه ته نفع وي لكه تو كر په دغه طريقه خرڅول چې دغه تو كر به راجوړوې او ګنډې به يې هم يا په دغه طريقه خرڅول چې بائع به و ده ته قرض هم وركوې .

(۲) داسې شرط چې د بائع فائده وي كې لكه دغه سراى زه پر تا خرڅوم په دغه شرط چې زه به دلته يوه مياشت اوسېږم .

(۳) داسې شرط چې په هغه كې مبيعې ته نفع وي او مبيعه غلام يا مينځه وي او په دغه شرط سره د ده نفع وي يا چې دغه شى به ته پر فلانكي سړي خرڅوې يا به قرض وركوې .

"لم يجز بيع .... الخنزير و الخمر : أى فى حق المسلم للنهى عن بيعهما و قربانهما و صرح فى الهداية بالفساد فيهما لوجود حقيقة البيع و هو مبادلة المال بالمال فانه مال عند البعض مراده ما إذا كانا مبيعين قوبلا بعرض بيع مقايضة أما إذا قوبلا بالدراهم أو الدنانير فالبيع باطل...(والسمك قبل الصيد) أى لم يجز بيعه لكونه باع ما لا يملكه فيكون باطلاً ، أطلقه فشمل ما إذا كان فى حظيرة إذا كان لا يؤخذ إلا بصدى لكونه غير مقدور التسليم فيكون فاسداً ، ومعناه إذا أخذه ثم ألقاه فيها ... (والطير فى الهوأ..... والحمل النتاج) لا يجوز بيعهما ... و البيع فيهما باطل لنهى النبى ﷺ عن الحبل و حبل الحبلة ، ولما فيه من الغرور ... (واللبن فى الضرع) أى لا يجوز بيعه للغرور فعساه انتفاخ و لانه ينازع فى كيفية الحلب.... (واللؤلؤ فى الصدف) لغرر ، و هو

محمول لا يعلم وجوده و لا قدره و لا يمكن تسليمه إلا بضرر و هو كسر الصدف... (والصوف على ظهر الغنم لانه من أوصاف الحيوان ، و لانه ينبت من أسفل فيختلط المبيع بغيره... و القطع فى الصوف متعين فيقع التنازع فى موضوع القطع ... (والجذع فى السقف وذراع من ثوب) لانه لا يمكنه تسليمه إلا بضرر ، أطلقه و هو محمول على ثوب يضره القطع كالعمامة والقميص ...(و ضربة القابض أى لم يجز بيع ما يخرج من ضربة القابض ... و هو بالقاف والنون الصائد يقول بعتك ما يخرج من إلقاء هذه الشبكة مرة بكذا ... (والمزابنة) ... أى لم يجز بيع المزابنة لنهيه ﷺ عن بيع المزابنة و المحاقلة اما المزابنة فقال فى الفائق بيع الثمر فى رؤوس النخل بالتمر لا نها تودى إلى النزاع...(والملامسة و إلقاء الحجر) و مثلها المنابذة ، و هذه بيوع كانت فى الجاهلية فنهى عنها و هو أن يتراوض الرجلان على سلعة أى يتساوما ، و إذا لمسها المشترى أو نبذها إليه البائع او وضع المشترى عليها حصاة لزم البيع رضى البائع اولم يرض ، والاول بيع الملامسة و الثانى بيع المنابذة و الثالث إلقاء الحجر ، و لأن فيه تعليقاً بالخطر (و ثوب من ثوبين) لجهالة المبيع .... (و الآبق) أى لم يجز بيع الآبق لنهى نبى ﷺ عنه و لانه لا يقدر على تسليمه ... (إلا أن يبعه ممن يزعم أنه عنده) .... (و شراء ما باع بالأقل قبل النقد) أى لم يجز شراء البائع ما باع بأقل مما باع قبل نقد الثمن.... (و زيت على أن يزنه بظرفه و يطرح عنه مكان كل ظرف خمسين رطلاً ، و صح لو شرط أن يطرح عنه بوزن الظرف) أى لم يجز بيع شيئ بهذا الشرط و صح البيع بالشرط الثانى ، لأن الاول لا يقتضيه العقد و الثانى يقتضيه .... (و امة على ان يعتق المشترى او يدبر او يستخدم البائع شهراً او داراً على أي يسكن

او يقرض المشترى درهماً) .... و أشار المصنف بالعتق و ما عطف عليه إلى كل شرط لا يقتضيه العقد و لا يلائمه و فيه منفعة لأحد المتعاقدين او للمعقود عليه و هو من اهل الاستحقاق ،ولم يجر العرف به و لم يرد الشرع بجوازه... و تفسير منفعة المعقود عليه إذا كان من اهل الاستحقاق اشتراط أن لا يبع العبد أو لا يخرجه عن ملكه بوجوه من الوجوه... لا البيع إلى النيروز والمهرجان ... و إلى قدوم الحاج و الحصاد والدياس و القطاف) أى لا يجوز البيع إلى هذه الآجال ، لانها تتقدم و تتأخر"(البحر الرائق / ج: ٦ / ص: ٧١ ، ٨٨ ـ الدر مع الرد / ج: ٥ / ص: ٦٠،٨٧ـ الجوهرة النيرة : ٢٣٨١ ـ ٢٤٢)

بائع ته دفسخي حق سته

سوال:......

كه چيري سودا وسي مشتري په قيمت اداكولو كي نه قيمت اداكوي او نه هم شی (بيع) اداكوي (ځان دوري دوري كوي) نو پر دا دواړو خبرو باندي د نه راضي كېدو له وجهي مجبوراً بائع (دكاندار) ته آيا د فسخ حق سته او كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصواب :......

"لان المشترى لما جحد كان فسخاً من جهته إذا الفسخ يثبت به كما إذا تجاحد فاذا عزم البائع على ترك الخصومة تم الفسخ بمجرد العزم ، و لانه لما تعذر استيفاء الثمن من المشترى فات رضاء البائع فيستقل بفسخه"(البحر الرائق / ص: ٣٦ / ج: ٧ ، مسائل شتى ، باب التحكيم ، ط: دار المعرفة)

د بائع لپاره په داسي صورت كي حق د فسخ سته . فقط . والله اعلم بالصواب .

قرض ژر نه ادا كول

سـوال:......

د قـرضـدار سـره د قـرض د ادا كولو استطاعت (د ادا كول طاقت) سته نو ژر تـر ژره قـرض ادا كـول او د گنجائش سره سره قرض نه ادا كول او ځان دوري دوري كول څه حكم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق و الصواب: ......د مديو ن لپاره و قرض خواه ته د نن نه سبا ويل او قرض خواه پرېشانه كول ډېر ظلم او زياتوب دى په آخرت كي مؤخذه سته او سزا به هم وي:

"عـن ابـى هـريـرة رضـى الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: مطل الغنى ظـلـم و إذا تبـع احـدكـم على ملى فليتبع - رواه البخارى و مـسـلم وابو داؤد و الترمـذى، و الـنسـائـى و ابـن مـاجه "(الترغيب و الترهيب / ج: ۲ / ص: ٤٦٢ ،رقـم الـحـديث : ۲۸۲۱، كتاب البيوع وغيرها، الترهيب من مطل الغنى، ط: دار الكتب العلمية)

سـوال:......

كـه چيـري د شـى د رانيـولـو وروسـتـه د قيـمت ادا كـولـو لـپـاره پيـسـې ورسره وي نو پيـسـې نه ادا كول او بائع ناحقه ځنډول څه حكم لري؟

الـجـواب بـاسم الملهم الصدق و الصواب: ......قـرض خـواه ناحقه ځنډول نن نـسـتـه سبـا راسه چي كله مي پيدا كړي راسه دوعدې د مودې د پوره كېدلو وروسته ځنډول او چكر ور لگول جواز نلري:

"عـن ابـى هـريـرة رضـى الله تـعـالى عنه عن النبى ﷺ قال: مطل الغنى ظلم و إذا اتبع احدكم على ملى فليتبع"(جامع الترمذى / ج: ۱ / ص: ۲٤٤،

كتاب البيوع باب ما جاء في مطل الغنى ظلم ، ط: سعيد)

كه قرضدار واقعي غريب وي

ســوال:......

خو كـه چيري واقعي غريب وى د ادا كولو پاره د ده سره څه انتظام نه وي او د كوم ځاى څخه بندوبست هم نسي كولاى ؟

الجـواب بـاسـم الـملهم الصدق والصـواب:...... د وركـولـو لپاره څه موزون انتـظام نسته، او د بلي خوا څخه بندوبست هم نسي كولاى نومجبوري ده چي كله د رقم انتظام وسي نو بايد فوراً يې ادا كړي:

"عـن ابـى هـريـرة رضـى الله تعالى عنه عن النبى ﷺ: من أخذ أموال الـنـاس يـريـد أداء هـا أذى الله عنـه ومـن أخـذ يـريـد إتلافها أتلفـه الله عـليه"(مشـكـوة المصابيح / ص: ۲۵۲ ، كتاب البيوع باب الإفلاس و الإنظار ، الفصل الاول ، ط : قديمى)

نكټائي

ســوال:......

په شريعت كي نِك ټايي څه حكم دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصـواب:......ټايي د عيسايانو مذهبي نښان دى او د مسـلـمـانـانـو لپـاره د نـورو اقـوامو مخصـوص لباس او وضع قطع اختيارول په هر حال كي ناجائز دى او حرام دى . د نبي عليه السلام ارشاد دى:

"مـن تشبـه بقوم فهو منهم"(ابو داؤد / ج: ۲ / ص: ۵۵۹ـ كتاب الباس باب فى لبس الشهوة)

قال الطيبى : قـوله من تشبه بقوم هذا علم فى الخلق و الخلق والشعار ، و

إذا كان الشعار اظهر فی التشبه ذكر فی هذا طيبی (ج ۸ / ص: ۲۱۹ ، كتاب اللباس الفصل الثانی)

د ټِک ټاپي خرڅول څنګه دي؟

سـوال:......

د ټِک ټاپي خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصواب: ...... ټِک ټاپي د کفارو او فاسقانو د استعمال شی دی د دې تـجارت مکروه دی د دې خرڅولو څخه باید ځان وساتي د دې څخه حاصله آمدني حلال او پاکه نه ده:

"وفـی الـمحيط: لا يـكـره بيع الـزنـانية من الـنصرانـی والقلنسوة من الـمجـوسـی لأن ذلك ازلال لهما و بيع المكعب المفضض للرجل ان ليلبسه يكره لانه اعانة علی لبس الحرام و ان كان اسكافاً امره انسان ان يتخذ له خفا علـی ذی الـمجوس او الفسقة او خياطاً امره ان يتخذ له ثوباً علی ذی الفساق يكره له ان يفعل لانه سبب التشبه بالمجوس والفسقة "(شامی / ص: ۳۹۲ / ج: ٦ ـ فصل فی البيع)

دټانکې لپاره په سونا مس ګډول

سـوال:......

(ټـانـکـه) زېـورات جوړلـو کـي "مـس" یادا رقم بل شي باندي زېورات منبلـولـو کـي ټـانـکـه لـګـول ضـروري دي کـه نـه، جوړ سوي زېورات سُستیـږي او کـاریـګـر حـضـرات هم د دکـانـدار څخه د ټانکې عوض پوره سونـا یـا د هـغـه قیـمت خالي، د ټانکې مقدار د سونې د وزن څخه کموي، دغه رنګه دکاندار هم د کیراک څخه پوره پیسې اخلي، د اټانکې مقدار نه

كموي بلكه ټانكه هم په قصده سره سونا شماري او قيمت هم د سونې اخلي دا څه حكم لري جواز يې ستة او كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......كه چيري صورت دغه وي او يو قسم دهوكه وركول هم نه لري دا جائز دى:

"لان الثمن حق العاقد فإليه لقديره"(الهداية / ص: ٤٧٢ / ج: ٤)

د ټانكه مقدار

سوال:......

د ټانكه مقدار څومره اندازه وي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... دزېوراتو په جوړولو كي د ټانكې استعمال لازمي دى نو د دې وجهې د زېوراتو جوړولو په وخت كي ټانكه لګول جائز ده خو ټانكه دومره مقدار لګول ضروري ده چې څومره مقدار لګول ضروري وي او دومره مقدار لګول په كاريګرانو كي مشهور او معروف وي ، عام طور په يوه توله سونا كي يوه ماشه ټانكه لګول كيږي په دې سره ضرورت پوره كيږي او يوه ماشه د يوې تولې دوولسمه حصه ده د يو ګرام څخه معمولي قدر زياته ده . (احسن الفتاوى / ج:٨/ ص:٩٩)

تر ضرورت زياته ټانكه

سوال:......

كه چيري دكاندار د ضرورت زياته ټانكه يا پتري زرو ته وركوي او خبر يې نكړي نو د دې څه حكم دى او دا چم كولو والا لره څه ګناه ستة او كنه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......

"وعن ابن مسعود رضی الله عنه قال رسول الله ﷺ: من غشنا فليس منا والمكر والخداع في النار ـ و رواه ابو داؤد فی مراسیله عن الحسن مرسلاً مختصراً قال: المكر والخديعة، والخيانة في النار"(الترغيب والترهيب / ج: ٢ / ص: ٤٥٠ ـ رقم الحديث: ٢٧٤٣، كتاب البيوع ـ الترهيب من الغش والترغيب في النصيحة في البيع و غيره، ط: دار الكتب العلميه)

د ټانکې په بدله کې عوض اخیستل

سوال:......

د ټانکې په بدله کې عوض اخیستل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... د ټانکې په بدله کې عوض اخیستل صحیح دی که سونا واخلي یا رقم واخلي دواړه درست دي:

"لان الثمن حق العاقد فاليه تقديره"(الهداية / ج: ٤ / ص: ٤٧٢)

که زیاته ټانکه ورکي

سوال:......

که چیري کاریګر تر معروف مقدار یا د دکاندار او ګیراک سره بنوول سوي مقدار زیاته ټانکه ور ولګوله او ورته وېې نه ویل وروسته دهوکه ثابت سوله نو دکاندار او ګیراک د کاریګر څخه د دهوکې تاوان اخیستی سي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... "وضمن بصبغه اصفر و قد امر باحمر قيمة ثوب ابيض، و ان شاء المالك اخذه و أعطاه ما زاد الصبغ منه و لا أجر له"

دکاندار او ګیراک کولای سي چې د کاریګر څخه د دهوکې په قدر

پیسې واخلي . (در المختار مع الرد / ص:۴۲/ ج:٦، کتاب الاجارة، مطلب في الارض المحتكرة و معنی الاستحکار)

که مال دمزدا په حساب خرڅیدی

سوال:......

که چیري مال د مازدا (تېرک) له حسابه خرڅېدی نو مال په مازدا کي د اچولو له مخه خرڅول جائز دي او که نه، البته په مازدا کي د مال اچولو وروسته دارقم بیع کول جائز ده او کنه، چي په دې (تېرک) مازدا کي چي څومره مال دی هغه مثلاً په شل زره خرڅ کړل سي او رانیولو والا لره را نیول جائز دي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... که چیري مال د مازدا له حسابه خرڅیږي نو مال په مازدا کي د اچولو له مخه خرڅول جائز نه دی البته په مازدا کي د اچولو وروسته دارقم بیع کول جائز ده چي په دې تېرک کي چي څومره مال دی هغه مثلا په شل زره خرڅول او رانیول دا جائز دی ځکه چي په اشاره سره خرڅ سول، مال متعین کیږي او مبیع (خرڅ ستوی شی مال) د متعین کېدلو وروسته بیع صحیح کیږي .

او په مازدا کي چي څومره مال راځي د اوله څخه معلوم دی، نو دیوې مازدا د حسابه بد مال رانیول جائز وي او دا د پیمانې قائم مقام دی:

" المشار اليه بيعا او ثمنا لا يحتاج إلى معرفة قدره و وصفه فلوقال : بعتك هذا الصبرة من الحنطة او هذه من الأرز و الشاشات ، و هو مجهولة العدد بهذه الدراهم التى فى يدك و هى مرئية له ، فقبل جاز و لزم ، لأن الباقى جهالة الوصف يعنى القدر و هو لا يضر اذ لا يمنع من التسليم و التسلم

ـ"(البحرالرائق / ج: ٥ / ص: ٤٧٤ـ٤٧٥، کتاب البیع)

په کارتنانو کې خراب شی لاندې ښودل

سوال:......

په ټوکرۍ یا کرېټو، یا کارتنانو کې خراب شی لاندې ښودل او سم شی لوړ ښودل څنګه دي تفصیل ملاحظه کړئ؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... نن سبا د مېوې او سبزې او دا رنګه د نورو شیانو خرڅولو یوه طریقه دا ده چې سامان تړې او د سامان تړلو په وخت کې خراب، کوچنی او ردي قسم مېوه یا سبزي په ټوکرۍ یا کارټن کې لاندې ږدي او عمده غټ او یخ سوې مېوه یا سبزي په ټکورۍ یا کارتنانو کې لوړه ږدي، د دې لپاره چې خریدار خالص لوړ شی وینې خپله اندازه کوي چې ګرده مېوه یا سبزي دا رنګه نور شیان دغه رقم دي (ښه دي) دا هم د دهوکې او ملاوټ یو ناجائز صورت دی د دې څخه ځان ساتل ضروري دي که نه په آخرت کې به سخت عذاب وي . د میوې او سبزي د خرڅولو دوه صورته دي:

(۱) خراب، صحیح، ردي، عمده، کوچني او غټ ټول سره ګډ کړي په ټکورۍ کې لوړ لاندې په مابین کې ګډوډ یې ور واچوئ د دې لپاره چې خریدار مشتري په یو نظر کولو سره ورته معلوم سي چې دا د کوم معیار مېوه ده .

(۲) خراب ، صحیح ، کوچنی او غټه مېوه یا سبزي دې جلا جلا وتړي او د ټولو جلا جلا قیمت دې مقرر کړي د دې لپاره چې خریدار د تاوان او نقصان څخه خلاص سي او د یو قسم دهوکې سره مخامخ نه سي .

نبي ﷺ وايي چي چا دهوكه وركړه هغه زموږ پر طريقه باندي نه دی دا خبره دي واضحه وي چي يو شی د تړلو په وخت كي خراب لاندي ښودل او عمده او صحيح شی لوړ ښودل د دهوكې د وجهي ناجائز او حرام دی:

"عن ابی هريرة رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ مر علی صبرة طعام، فأدخل يده فيها فنالت اصابعه بللاً، فقال ما هذا يا صاحب الطعام؟ قال: أصابته السماء يا رسول الله قال: أفلا جعلته فوق الطعام كی يراه الناس من غش فليس منی"(الصحيح المسلم / ج: ١ / ص: ٧٠، كتاب الايمان)

په پورته صورت كي مشتري اختيار لري

سوال:......

كه چيري د ټوكری پر سر ښه ښه شيان ول او لاندي خراپ ول نو په دا صورت كي مشتري دواپس كولو حق لري او كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......كه چيري د ټوكری پر سر ښه ښه شيان ول چي هغه ته خريدار وګوري پوره ټوكر يا كرېټ واخلي خو د اخيستلو وروسته چي كله لاندي يې وكتل نو شی خراب وو نو اوس خريدار لره د دې عيب د وجهي دې د واپس كولو اختيار به وي، كه ټوله شيان د ټوكری يا د كرېټ لاندي او لوړ يو رقم ول نو په دا صورت كي د سربېره خواه څخه لږ شی ليدلو سره د واپس كولو اختيار ختميږي كه چيري امرت، انار، يا دا رقم بل شی يې رانيوی چي ټوله د يو رقم سائز نه وي نو په دې صورت كي تر څو پوري چي ټوله و نه ويني تر هغو پوري اختيار پاته دي په لږ ډېر سره اختيار نه ختميږي:

"(و كفت رؤية وجه الصبرة .... الخ) لأن الاصل فيه أنّ رؤية جميع المبيع غير مشروط للتعذر ، فيكتفى برؤية ما يدل على العلم بالمقصود ، فرؤية الصبرة معرفة للبقية لكونه مكيلاً يعرض بالنموذج ، و هو المكيلات و الموزونات فيكتفى برؤية بعضه إلا إذا كان الباقى أردا مما رأى فحينئذ يكون له الخيار أى خيار العيب لا خيار الرؤية كما فى الينابيع ... و أما إذا كان متفاوت الأحاد كالبطيخ و الرمان ، فلا تكفى رؤية البعض فى سقوط خياره۔"(البحر الرائق / ج: ٦/ ص: ٢٩ ، كتاب البيوع ، باب خيار الرؤية)

د مبیعه ورښکاره کولو والا مزدور اجرت

سوال:......

مشتري ته د مبيعه ورښكاره كولو والا مزدوراجرت پر بائع دى او كه د مشتري د جسابه دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......په ماركيټو كي تاجران خلك مزدوران نيسي چي كله مزدوران د عمارت جوړولو لپاره لركى يا دارقم نور شيان كيراك (مشتري ته ورښكاره كوي او مشتري د هغه څخه يو شى رانيسي، نو تاجر حضرات د مال ورښكاره كولو والا مزدور اجرت پر كيراك باندي اچوي دا صحيح نه دى بلكه د مال / مبيع ورښكاره كولو والا مزدور اجرت د بائع پر ذمه دى:

"عن عثمان ان النبى ﷺ قال له : إذا بعت فكل و إذا ابتعت فاكتل"(بخارى / ص: ٢٨٥ / ج: ١) كتاب البيوع ، باب الكيل على البائع و المعطى۔

و قال الفقهاء إن الكيل والوزن فيما يكال و يوذن من المبيعات على البائع

، ومن عليه الكيل و الوزن فعليه اجرة ذلك ، وهو قول مالك و ابى حينفة و الشافعى و أبى ثور۔(عمدة القارى / ص: ٢٤٨ / ج: ١١۔ كتاب البيوع باب الكيل على البائع والمعطى)

په کریټ کی هغه مال رانیول چي تعداد ئې نه وي معلوم

سوال:......

په کرېټ یا ټوکرۍ کي مالټې یا کېلې یاداسي نور شیان يې په سل روپۍ واخیستل او حساب يې ورته معلومه نه وو چي څومره دي نو بیع څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......که چیري په ټوکرۍ یا کرېټ کي ټولي کېلې یا مالټې یا داسي نور شیان يې مثلاً په سل روپۍ واخیستل اوشمېر د دې ورته معلوم نه ی چي څومره دي نو بیع جائزه ده او په کرېټ یا ټوکرۍ کي چي څومره کېلې یا مالټې وغیره دي ټوله د مشتري ، خریدار دي که زیاتي وې او که کمي وې په دې سره په بیع کي هیڅ فرق نه راځي:

"ومن ابتاع صبرة طعام على أنها مائة قفيز بمأة درهم ، فوجدها أقلّ كان المشترى بالخيار إن شأ اخذ الموجود بحصته من الثمن ، و إن شاء فسخ البيع... وإن وجدها أكثر فالزيادة للبائع لانّ البيع وقع على مقدار معين و القدر ليس بوصف ، ومن اشترى ثوباً على أنه عشرة أذرع بعشرة دراهم أو أرضا على أنها مائة ذراع بمائة درهم فوجدها أقل فالمشترى بالخيار ، إن شاء أخذها بجملة الثمن و إن شأ ترك لأن الذراع وصف فى الثوب .... والوصف لا يقابله شيئ من الثمن كأطراف الحيوان فلهذا يأخذه بكل الثمن بخلاف

العضل الأول : لأن المقدار يقابله الثمن فلهذا يأخذه بحصته .... و إن وجدها اكثر من الذراع الذى سماه فهو للمشترى و لا خيار للبائع"(الهداية / ج: ٣ / ص: ٢٤ ، ٢٣ ، كتاب البيوع)

د داسې نورو صورتونو مزيد تفصيل بحواله بالا:

(١):۔ د مالتې يا كېلې وغيره پوره كرېټ يا ټوكرۍ په سل روپۍ باندې په دې شرط بانـدې رانيـول چې پـه دې كـې څلور سوه مالتې يا كېلې دي بيا چـې كـلـه حسـاب سـول نـو هـغـه درې سوه سـوې نـو پـه دا صـورت كـې (اخيستلـو والا) مشتري لره اختيار سته كه غواړي وا دې خلي او كه يې نه اخلي نه دې اخلي .

(٢):۔ كه چيرې اخلې يې نو پوره سل روپۍ به نه وركوي، بلكه د دې څخه د سلو مالتو وغيره قيمت به كم كړي د پاتې درې سوو مالتو حساب مثلا پنځه او يا (٧٥) روپۍ به وركړي او كه چيرې درې نيم سوه سوې نو به ٨٧ نيـمـې روپـۍ وركـړي غـرض دا چې څومره مالتې يا كېلې وغيره كميږي هغو نه به روپۍ كميږي .

(٣):۔ او كـه چيـرې پـه دې كـرېټ يـا ټـوكـرۍ كې مثلا د څلور سوه زياتې مـالـتـې يـا كـېـلـې وغيـره وي نـو چـې څـومـره زياتې دي هغـه بـه د بائع (خـرڅـولـو) والا لپـاره وي مشتري لپاره د څلور سوه څخه زيات مالتې يا كېلې وغيره د اخيستلو حق به نه وي .

(٤):۔ وو كـه چيـرې پـوره كـرېټ يـا ټـوكـرۍ رانيول او څه يې مقرر نه كړل چې پـه دې كـې څـومره مالتې يا كېلې وغيره دي نو چې څومره را ووتې د مشتري به وي .كه زياتې وي او كه كمې په دې سره په بيع كې هيڅ فرق

نـه راځي ځكه چې په مبيع كې قيمت د اصل په مقابله كې وي:دوصف په مقابله كې نه وي (الهدايه / ج: ۳ / ص: ۲۳، ۲۴، كتاب البيوع)

توكن مني

سـوال:......

توكن مـنـي (د مشـتـري و بـائـع تـه تر سودا وروستـه مقرره وخت پوري بعيانه ايښودل) د بائع (خرڅولو والا) او مشتري (رانيولو والا) په مابين كـې د سودا پـوره كېدو وروستـه د بيعانه (توكن مني) پر طرز بائع ته څه روپـۍ وركـول كيـږي بيـا د دې وروستـه يو ميـاشت د دې مياشتې يا تر دې زيـات يـا كـم يو مدت مقرر كيـږي، كه چيري مشـتري په دې مدت كې دننه پـاتـې پيسـې وركـړې شي رانيـسـې خو بنه دى كه نه بائع د بيعانې پيسې ضبـط كـوي او مشـتري ته يې نه وركوي په شريعت كې د دې جواز ستـه او كه نه؟

الـجـواب بـاسـم الـمـلـهم الصدق والصواب: ......پـه شـريـعت كې د دې جواز نستـه بلكـه د بيعانې پيسې بيرتـه وركـول لازم دي:

"عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضى الله عنه أن رسول الله ﷺ نهى بيع العربان قال مالك: و ذلك فيما ترى، والله اعلم يشترى الرجل العبد او الـوليـدة أبتـكـار الدابة، ثم يقول: للذى اشتر منه او تكارى منه، أعتيطك ديـنـاراً أو درهـماً أو أكثر من ذلك أو أقلّ على أنى أخذت السلعة أو ركبت ما تـكـاريت منك، فالذى أعطيتك من ثمن السلعة أمن كراء الدابة، و إن تركت ابتياع السلعة أكراء الدابة، فما اعطيتك لك، باطل بغير شيئ"(اعلاء السنن / ص: ١٦٦ / ج: ١٤، كتاب البيوع، باب النهى عن بيع العربان)

که بیعانه په دنیا کې ور نه کړي ؟

سوال :......

که چیرې همدغه بیعانه په دنیا کې ور نه کړي په آخرت کې مؤاخذه سته او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... که چیرې په دنیا کې یې ور نه کړي نو په آخرت کې به یې ورکوي او په آخرت کې ورکول یې انتهاء سخت دي:

"عن ابی هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ من كانت له مظلمة لأخيه من عرضه أو شيئ فليتحللة منه اليوم قبل أن لا يكون دينار و لا درهم إن كان له عمل صالح أخذ منه بقدر مظلمة ، و ان لم يكن له حسنات أخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه"(مشكوة المصابيح / ص: ٤٣٥ ، كتاب الادب ، باب الظلم ، الفصل الاول)

ټیکس له اصل قیمت سره ګډول

سوال :......

که چیرې بائع د سودا ورکولو څخه انکار وکړي نو د مشتري لپاره د بیعانې روپۍ بیرته اخیستل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... مشتري بیرته بیعانه اخیستلی سي خو دوه کرته یعني ډبل اخیستل روا نه دي ځکه چې دا سود دی او سود حرام دی:

"قال عليه الصلاة والسلام : كل قرض جرّ منفعة فهو

ربا"(فیض القدیر للمناوی / ج: ٦ / ص: ۲۸۲ ـ رقم الحدیث : ٦٣٣٦ ـ شامیه / ج: ۵ / ص: ١٦٦ ـ سنن الکبری / ج: ۵ / ص: ۳۵۰ ـ تکملة فتح الملهم / ج: ۱ / ص: ۵۷۵ ـ اعلاء السنن / ج: ١٤ / ص: ۵۱۲)

دمرابحې علاوه په نورو بیوعو کې دټیکس ګډول

سـوال:......

ټیـکـس اخیسـتـل :پـه مـوجـوده دور کـې د حـکـومـت لـه خوا عـائد سوي ټیـکسـونـه لـکه ضلع ټیکس، پل ټیکس، راه داري محصول، چونګی یا داسـې نـور ټیـکسـونـه چې هغه داسې جابرانه او ظالمانه صورتونه اختیار کړي دي دغه اضافي اخراجات د مبیع په قیمت خرید کې ګډول یا نه ګډول د تاجرانـو پـر عـادت او عـرف بـانـدې مـوقـوف دي کـه چیرې دغـه اضـافي اخراجات د قیمت خرید سره د ګډولو عادت او عرف دی نو ګډول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ......په دغه صورت کې ګډول جائز دي کـه نـه اضـافـي اخراجـات د اصـل قـیـمـت سره ګډول جواز نلري نو ددې وجهـې د مـرابـحه کولو په وخت کې چې کله د خرید قیمت درته ووایې نو دا اضـافـي اخـراجـات چـې ور ګډ سوي دي نه دي ورتـه وایې بلکه دا رقم دي ورتـه ووایې چې په دومره پروت دی یا دې اصـل د خرید قـیمت ورتـه ووایې دا دې هـم ورتـه ووایې چې دومره اضافي اخراجات هم وربانـدې لګېدلي دي د دې لپاره چې د خیانت شبه پاته نه سي:

"لا یضم أجر الطبیب وما یؤخذ فی الطریق من الظلم إلا إذا جرت العادة بضمه هذا هو الاصل کما هو علمت فلیکن المعول علیه"(الدر المختار مع رد المحتار / ج: ۵ / ص: ۱۳٦ ، کتاب البیوع ، باب المرابحة و التولیة) فتاویٰ هادیة

سوال:......

د باقي مرابحه ماسوا په نورو عامو بیعو کي چي د دې تولو اضافي اخراجات او کټه ور ګډه کړي او قیمت وریاد کړي څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......د باقي مرابحه ماسوا په تولو عامو بیعو کي اضافي اخراجات او کټه ور ګډ کړي قیمت ور وښیی صحیح دی.

په تیلیفون بیع کول

سوال:......

د تیلیفون آله په دې سره د عقد (د رانیولو او خرڅولو معامله) پر صحت یا فساد باندي څه اثر کوي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......

"لو تناديا و هما مبتاعدان و تبايعا صح البيع بلا خلاف"(المجموع شرح المهذب / ج: ۹ / ص: ۱۸۱، كتاب البيوع، فتح القدير / ص: ۲۳۰ / ج: ٦)

تیلیفون او یا موبایل دا یو آله ده چي په دې سره تر بل پوري د سماعت د الفاظو رسولو او لیدلو لپاره یو معتبره آله ده پاته تر کومه پوري چي د یو او بل د لیدلو او نه لیدلو تعلق دی پر دې سره د عقد صحت یا فساد باندي هیڅ اثر نه لویږي ځکه چي د رانیولو او خرڅولو وغیره د عقد په سلسله کي چي کوم شی مطلوب وي هغه ایجاب او قبول او رېدل یا په بله ذریعه سره ددې علم حاصلول دي چي په هغه سره د جانبینو رضامندي ثابت کېدای سي.

مثل بالا

سوال:......

پر ټيليفون باندي د بيع كولو حكم څه دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... د رانيولو او خرڅولو په وخت كي د ايجاب و قبول مجلس متحد كېدل لازمي دى او اتحاد عام دى كه حقيقي وي كه حكمي، په دواړو صورتو كي اتحاد كافي دى حقيقي اتحاد خو ښكاره دى او د حكمي اتحاد صورت دا دى چي په يوه مجلس كي ايجاب وسي او مشتري په يو مناسبه طريقه مثلا خط يا د پيغام رسولو پېژندل اطلاع وركول سي او هغه يې قبول كړي نو بيع كيږي په موجوده زمانه كي د انساني ضرورياتو د وجهي څخه پر اي ميل (يو آله ده) فيكس (آله) ټيلي‌فون او موبايل وغيره باندي چي كومه بيع كيږي هغه به هم صحيح وي .

دغه رنګه په دغو آلاتو كي خو ايجاب كېداى سي او ايجاب په همدغه مجلس كي قبلولو سره سودا هم مكمله كيږي او په خط كي هم دا حكم دى چي كيږي په دې شرط چي تحرير د ويلو وروسته رد و نه كړي .

"سئل بعد صلاة الجمعة حضر خبر الشام في التلغراف لبعض الثغور بأنه ثبت في الشام رؤية هلال ... فأجاب ان السلاطين المسلمين وضعوا التلغراف لتبليغ الاخبار من البلاد القريبة و البعيدة في مدة يسيرة جداً او اقاموا لاعماله اشخاصاً مسلمين و انفقوا على ذلك اموالاً حسيمة واستغنوا به عن السعاة و ارسال المكاتيب غالبا فصار قانونا في ذلك يخاطب به السلاطين بعضهم لبعضهم في مهمات الامور و تبعهم الناس على ذلك"(الفتاوى الكاملية / ص: ۲۸۵ ـ الفقه الاسلامي و ادلته / ص: ۵۰۳ / ج: ٤ ـ ايضا / ج: ٤ / ص: ۳۱۲ ،

الموسوعة الفقیهة الکویتیه / ص: ۲۰۲ / ج: ۱ ایضا / ص: ۱۳ / ج: ۹)

په دا تولو صورتو کي قبض د مبیع ضروري دی قبل القبض خرڅول جواز نلري: للمشتري أن یبیع المبیع من الآخر قبل قبضه إن کان عقاراً و إن کان منقولاً فلا . (شرح مجلة لسلیم رستم باز / ص: ۱۰۳، / ج: ۱، ماده: ۲۵۳، کتاب الاول فی البیوع)

مثل بالا

سوال: ......

که چیري د ټیلیفون په ذریعه ایجاب وسي څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چیري د خط یا ټیلیفون یا موبائیل یا اي میل یا انټرنیټ په ذریعه سره ایجاب وسي نو په کوم مجلس کي چي د خط یا ټیلیفون یا موبائی یا اي میل یا انټرنیټ په ذریعه سره اطلاع ورسیږي په دغه مجلس کي په قبلولو سره سودا پوره کیږي:

"وکذلك الحال إذا صدر الایجاب من شخص واحد آخر بطریق التلفون او بای طریق مماثل" (الفقه الاسلامی و ادلته / ص: ۳۱۲ / ج: ٤، اولاً فی عقد البیوع . احکام مجلس العقد . فتح القدیر / ص: ۲۳۰ / ج: ٦)

☆...... د موبائیل او ټیلیفون په ذریعه د عقد صحیح کېدلو لپاره باید دا لاندي اصول وي:

(۱):. پر ټیلیفون او موبائیل د معاملاتو کولو په وخت کي فریقین دیو بل ښه تحقیق وکړي ځکه چي د دغو آلاتو په ذریعه د معاملاتو کولو په صورت کي د آواز د بدلولو په شکل د جعل سازي او دهوکې احتمال وي او جنجالونه او اختلاف راځي او دا د شریعت د مزاج خلاف دی او په دې سره

عقد فاسديږي:

"و قد تقرر رأى(بح) فى أمثال هذه الصورة على أنه إن كان البعد بحال يوجب التباس ما يقول كل واحد منهما لصاحبه يمنع و إلا فلا۔"(البحر الرائق / ص: ۲۷۲ / ج: ٥ ۔ كتاب البيوع ۔ بزازيه على هامش الهندية / ص: ٣٦٦ / ج: ٤ ، كتاب البيوع۔ الفتاوى الهندية / ص: ٦ / ج: ٣ ، كتاب البيوع)

(۲):۔ كه چيرې يو فريق دا دعوه وكړي چې د ده له طرفه نه دى ويل سوى نو دا به منكر وي او دويم فريق به مدعي وي او پر دويم فريق باندي به دا لازمه وي چي هغه خپله دعوى ثابته كړي ځكه چي هغه مدعي دى:

"عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده أن النبى ﷺ قال : البيّنة على المدعى واليمين على المدعى عليه "رواه الترمذى (مشكوة المصابيح / ص: ۳۲۷ ، كتاب الامارة والقضاة)

(۳):۔ چي په كومو معاملاتو كي د عقد په مجلس كي قبضه كول شرط دى هغه معاملات د دغو وسائلو په ذريعه انجامول جائز نه دي:

"عن عبادة بن صامت رضى الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ الذهب بالذهب ، والفضة بالفضة والبر بالبر ، والشعير بالشعير ، والتمر بالتمر ، والملح بالملح مثلاً بمثلٍ سواء سواء ، يداً بيد ،

فإذا اختلف هذا الأصناف فبيعوا كيف شئتم إذا كان يداً بيد"(مشكوة المصابيح / ص: ٢٤٤ ، كتاب البيوع۔ هداية / ص: ١١، ١١٢ ، كتاب البيوع بالصرف ، جوهرة النيرة / ص: ٣٦٣ / ج: ١ ۔ جامع الترمذى / ص: ٢٣٥ / ج: ١ كتاب البيوع ، باب ما جاء فى أن الحنطة بالحنطة)

(٤):۔ او كوم عقد چي د عقد په مجلس كي بې له قبض نه صحيح كيږي د

ټیلي فو ن او موبائیل په ذریعه سودا کولو کي د دې د قبض کولو صورت دا جوړیږي چې د بائع او مشتري څخه به د هر یوه سره به هغه بل وکیل موجود وي که هغه پر عوض قبضه وکړي که نه بیع نه صحیح کیږي:

"و یجوز التوکیل بعقد الصرف والسلم .... فإن فارق الوکیل صاحبه قبل القبض بطل العقد لوجود الافتراق من غیر قبض... (و لا تعتبر مفارقة المؤکل) ، لانه لیس بعاقد والمستحق بالعقد قبض العاقد و هو الوکیل فیصح قبضه (الجوهرة النیرة / ص: ۳۶۳ / ج: ۱ ، کتاب الوکالة ـ تبین الحقائق / ص: ۲٦۲ / ج: ٤ ـ کتاب الوکالة باب الوکالة البیع والشراء ـ مجمع الانهر ص ۳۲۱ / ج: ۳ ، کتاب الوکالة ـ الدر مع الرد / ص: ۵۱۷ / ج: ۵)"

(۵):ـ د بائع او مشتري په کلام کي به د پسخند ، مزا ح عنصر نه وي مثلاً عقد مقصود نه وي بلکه نر خ معلومول يا د سودا قیمت معلومول وي نو په دې سره د بیع انعقاد نه راځي:

"و لم ینعقد مع الهزل لعدم الرضاء بحکمه معه" (الدر المختار مع رد المحتار / ص: ۵۰۷ / ج: ٤ـ کتاب البیوع مطلب فی حکم البیع مع الهزل ـ الجوهر ة النیرة / ص: ۲۹۲ / ج: ۱ ـ بدائع الصنائع / ص: ۱۷٦ / ج: ۵ـ منحة الخالق علی البحر / ص: ۹۲ / ج: ٦)

☆بیع مزایده (نیلام)

سوال:......

بائع (خرڅولو والا) دا رنګه ووايي چي کوم يو زيات قيمت راکوي زه دا شی (مبیعه) پر هغه باندي خرڅوم دا هم په اصل کي د بیع مساومه (چي په هغه کي بائع د خپل مبیعي د خرید قیمت نه معلومي بلکه د فریقینو

په مابين كي د لاندي او پورته په ذريعه سره د قيمت تعين كيږي) يو قسم دى . چي په هغه كي چي بائع ديو متعين قيمت طلب كولو پر ځاى و مشتري ته د خوښي او طلب ښكاره كولو دعوت وركوي يعني چي هغه په خپله خوښي سره قيمت ولكوي چي د چا بولي (وينا) زياته وي د هغه سره بيع منعقد كوي دې ته بيع مزايده (نيلام) وايي . په شريعت كي داسي بيع څه حكم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :......

"ومن الطريق الشائعة لعقد البيع ما يسمى (بيع المزايده)... ويسمى.... بالاردية(نيلام) وقد عرفه ابن جزى بقوله : أن ينادى على السلعة ويزيد الناس فيها بعضهم على بعض ، حتى تقف على آخر زائد فيهما فيأخذها ... و جمهور الفقهاء من الأئمة الأربعة وغيرهم ، على جواز هذا البيع و استدلوا فى ذلك بما روى عن أنس بن مالك رضى الله عنه أن النبى ﷺ باع حلساً و قدحاً ، وقال : من يشترى هذا الحلس والقدح ؟ فقال رجل أخذتهما بدرهم فقال : من يزيد على درهم ؟ فأعطاه رجل درهمين ، فباعهما منه"(فقه البيوع على المذاهب الأربعة / ص: ۱۲۳ ، ۱۲۵ / ج: ۱ ـ المبحث الاول ، الباب الثانى فى احكام ، احكام بيع الزايدة) (الهداية / ص: ۷۰ / ج: ۳ ـ تبيين الحقائق / ص: ۷۳ / ج: ٤ ـ بدائع الصنائع / ص: ۱۳٤ / ج: ٥)



بيع مناقصه (ټينډر Tender)

"المناقصة: طلب الوصول إلى ارخص عطاء لشراء سلعة أخدمة تقوم فيها الجهة الطالبة لها بدعوة الراغبين إلى تقديم عطاآتهم وفق شروط و مواصفات

محددة"

وهو في الحقيقة عكس المزايدة فالمزايدة يجريها البائعون الذين يريدون أن يعقدو البيع باكثر ما يعرض عليهم من ثمن ، فيطلبون العروض من المشتريين و المناقصة يجريها ، الراغبون في الشراء و يطلبون العروض من الراغبين في البيع ، و يرسون العطاء على من يتقدم اليهم بأقل الأسعار۔ والكلام في مشروعية هذا لعلمية مثل الكلام الذي سبق في المزايدة ، و إن المناقصة و إن لم يجر لها ذلك ذكر في كتب الفقه ، و لكن يمكن قياسه على المزايدة ، لانه لا فارق بينهما من حيث المبداء ، فان العروض تقدم فيها كما تقدم في المزايدة (فقه البيوع على المذاهب الأربعة / ص: ۱۳۲ ، ۱۳۳ / ج: ۱ ، المبحث الاول الباب الثاني في احكام الايجاب والقبول احكام المناقصة)

مثل بالا

سوال:......

ټینډر یا بیع مناقصه دا هم د بیع یو قسم دی او د نیلام ضد دی . په نیلام کي قیمت زیات وي او چي کوم سړی په زیات قیمت سره په رانیولو باندي راضي کیږي پر هغه باندي خرخیږي . او په دې قسم بیع کي چي کوم سړی په کوم کوم قیمت باندي د شي په ورکولو راضي کیږي د هغه څخه مبیعه (شی) رانیول کیږي په نیلام کي بائع (خرڅونکی) شی خرڅوي او خریدار قیمتونه وایي چي د چا قیمت زیات وي شی پر هغه باندي خرڅوي او په ټینډر (بیع مناقصه) کي د مشتري له طرفه څخه قیمتونه بیانېدل وي او بائع (خرڅولو والا) قیمت بیانوي کوم بائع چي

کوم کوم قیمت وایي د هغه شی را نیول کیږي .
د ټینډر یا بیع مناقصه صورت په عامه توګه سره د حکومت له طرفه څخه راځي چي د هغه صورت دا دی چي مثلاً حکومت د خپلي یوې اداري لپاره دیو زر پنکو ضرورت دی نو حکومت په اخبار یا داسي بل شي کي اشتهار ټینډر جاري کړي او د پنکو جوړولو والا ته دعوت ورکول کیږي چي دا فلانی قسم پنکې مي یو زر۱۰۰۰ په کار دي چي څوک په کوم کوم قیمت باندي مطلوبه معیار پنکې فراهم کولی سي د هغه سره معامله کیږي دې ته ټینډر یا بیع مناقصه وي، په شریعت کي د داسي بیعي جواز سته او که نه؟
الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د شریعت له طرفه د بیع مناقصه (ټینډر) دا صورت جائز دی او دایې پر نیلامي (مزایده) باندي قیاس کړی دی، کله چي یو شی په زیات قیمت خرڅول جائز دی نو په کم قیمت سره خرڅول یې هم جائز دی . دغه رنګه کله کله د حکومت د لاري، پل یا دیو عمارت د جوړولو ضرورت وي نو د هغه ټینډر هم ورکوي او چي څوک په کم قیمت سره په جوړولو راضي سي نو هغه ته هغه کار ورسپارل کیږي .او دایو قسم اجاره ده او دا هم جائزه ده:
"عن انس بن مالك أن رسول الله ﷺ باع حلساً و قدحاً ، وقال من يشتری هذا الحلس والقدح ؟ فقالرجل: أخذتهما بدرهم ، فقال النبیﷺ من يزيد علی درهم،من يزيد علی درهم ، فأعطاه رجل درهمين فباعهمامنه"(جامع الترمذی / ص: ۲۳۱ / ج: ۱ ، ابواب البيع)
قوله الجمهور ، وهو أن المزايدة تجوز مطلقاً ، و استدلوا فی ذلك بما

روی عن أنس أنه ﷺ باع حلساً و قدحاً و قال من یشتری هذا الحلس والقدح ؟ فقال رجل: أخذتهما بدرهم فقال: من یزید علی درهم ، فأعطاه رجل درهمین فباعهما منه ـ (تکملة فتح الملهم / ص: ۳۲٦ / ج: ۱ ، کتاب البیوع ـ الهدایة / ص: ۷۰ ـ ۱٥٤ ، کتاب البیوع ـ شامی / ص: ٤۳ / ج: ٦ ـ تبیین الحقائق / ص: ۱۹۸ / ج: ٤)

د(تي وي) کاروبار

سوال:...... ټیلي ویژن (تي وي) ، وي ـ سي ـ آر ، ډش انټینا چونکه پر ډېرو منکراتو ، معصیت او فواحشو باندي مشتمل دي او د دغو منکراتو او فواحشو بغیر دا وخت د دغو شیانو د استعمال تصور هم نسي کېدای نو د دې وجهي څخه د غو شیانو کاروبار اختیارول جائز دی او که نه؟ او د دې آمدن حلال دی او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... په قصده سره د غلا د شيانو څخه جوړ سوي شيان رانيول نه دي جائز او حرام دي که چيري نه وو په خبر نو ګناه نلري . او په استعمال سره يې نه ګناهګار کيږي او که چيري

په خبر وي بيا يې هم استعمالوي دا جائز نه دی بلکه واپس کول لازم دي . مثلاً يو خياط کپړه (تهوکر) غلا کوي بيا د هغه ځخه خولياني او د قرآن شريف پوښونه وغيره جوړوي نو په قصده سره دا خولياني او پوښونه رانيول نه دي جائز که چيري نه وو په خبر نو گناه نلري او لمونځ هم نه صحيح کيږي چې په خبر سي بايد داسي لباس پر بړ دي:

"عن ابی هريرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ أنه قال : من اشتری سرقة و هو يعلم انها سرقة فقد اشترك فی عادها و اثمها"(سنن الكبرى بيهقی / ص: ۳۳٦ / ج: ٥ ـ المستدرك للحاكم / ص: ٤١٢ ، رقم الحديث : ٢٢٥١ ـ اتحاف الخيرة المهرة / ص: ٢٧ / ج: ٣ ، رقم الحديث : ٢٧٢١ ـ المطالب العالية / ص: ١٩٨ / ج: ٧ ، رقم الحديث ١٣٤٥ ـ مجموع الفتاوى لابن تيميه / ص: ٢٤٢ / ج: ٢٩ ـ الترغيب والترهيب / ص: ٤٤٢ / ج: ٢)

چوکيدار پر مالک کټه وکړه

سوال:......

مالک چوکيدار ته وايي د رڼګ يا باجري والا سره خبره وکړه چې دومره رڼګ يا باجری يا خښته مې په کار ده، د هغه خبره وسوه، باجري والا ورته وويل چې مازدا په دومره ده تا ته به يې ۱۱۵۰ درکوو . پنځوس چوکيدار وکرځولې مالک ته يې په ۱۲۰۰ ورکوي دا څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... په بعضو بنګلو وغيره کې کې مالک و چوکيدار ته وايي چې زموږ تقريباً شلو ښت مازدا رڼګ او بجري ته ضرورت دی ته ديو مازدا والا سره خبره وکړه اوس چوکيدار ديو ټيکدار سره خبره وکړه هغه ورته وويل چې ټرک خو په ۱۲۰۰ دی تا ته يې

په ۱۱۵۰ درکوم دا رعایت خالص ستا لپاره دی اوس وروسته چوکیدار مالک ته اصل قیمت ۱۲۰۰ وریاد کړ او هر وار چوکیدار ۵۰ خپله او ۱۱۵۰ ټیکدار ته ورکوي نو دا پنځوس د چوکیدار لپاره حلالي نه دي ځکه چي چوکیدار د مالک تنخواه . . . ملازم دی او د ریک اوباجري په رانیولو کي وکیل دی نو په مابین کي د چوکیدار لپاره پنځوس روپۍ وصول کول جائز نه دي . د پنځوس په حساب چي څومره زائد رقم دی هغه ټوله مالک ته ورکول لازم دی ،کنه نو په آخرت به يې حساب ورکوي:

"لو أعطى ماله لدلال و قال : بعه بكذا دراهم فإن باعه الدلال بأزيد من ذلك فالفاضل ايضا لصاحب المال و ليس للدلال سوى الأجرة "(مجلة الاحكام العدلية / ص: ۱۰۷ / ج: ۱ ـ كتاب الثاني في الاجارات ، باب السادس ، فصل الرابع ـ در الاحكام شرح المجلة الاحكام لعلي حيدر / ص: ۵۶۵ / ج: ۱ ـ المادة : ۵۷۸)

په کوچني ګز باندي کپړه (ټوکر) ناپول

سوال:......

په کوچني ګز باندي کپړه (ټوکر) ناپول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... په عرف کي چي څومره اندازه ګز یا میټر په خلکو کي مشهور دی چي ټوله خلک يې پيژني د ټوکر ناپولو لپاره د دې څخه کوچنی ګز یا میټر ایښودل او په دې باندي ټوکر ناپول مشتري ته دهوکه ورکول دي او دا ناجائز او حرام ده . خریدار د لوی ګز یا لوی میټر په حساب سره قیمت ادا کړی دی حالانکه د ده ته کپړا د کوچني ګز یا میټر په حساب سره ورکول سوې ده نو چي څومره اندازه

زيات قيمت يې وصول كړې دى هغه د بائع لپاره ناجائز ده هغه روپى مشتري ته بيرته وركول لازمي دي:

"عن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ مر على صبرة من طعام فادخل يده فيها فنالت اصابعه بللا فقال : يا صاحب الطعام ما هذا ؟ قال : اصابته السماء يا رسول الله قال : افلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس ؟ ثم قال : من غش فليس منا"(جامع الترمذى / ص: ٢٤٥ / ج: ١ ـ فيض القدير / ص: ٥٩٤٢ / ج: ١١ ـ رقم الحديث : ٨٨٧٨)(قوله تعالىٰ : ويل للمطففين) (البحر الرائق / ص: ٤٨٦ / ج: ٥)(الدر مع الرد / ص: ٥٤٤ / ج: ٤)

ويردونها على أربابها عرفوهم والا تصدقوا بها لانّ سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه(الشامية / ص: ٣٨ / ج: ٦ ـ الهندية / ص: ٣٤٥ / ج: ٥)

د شي د ذات په اړه يو عيب پټول

سوال:......

د شي د ذات په اړه يو عيب پټول څنګه دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... مثلاً بائع ته دا خبره معلومه ده چې مشتري د شي په اړه معلومات نلري نو د ده د كم علمي څخه فائده اخيستل پر هغه باندي بل شى خرڅولو باندي دهوكه وركول مثلاً مشتري د فرانس يا بل مملكت يو شى غواړي دى د هغه ماسوا بل شى وركړي دا دهوكه ده او ناجائز دى:

"عن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ مر على صبرة من الطعام فادخل يده فيها فنالت اصابعه بللاً فقال : يا صاحب الطعام ما هذا ؟

قال : اصابته السماء یا رسول الله قا ل : افلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس ؟ ثم قال : من غش فلیس منا"(جامع الترمذی / ص: ۲٤٥ / ج: ۱ ۔ فیض القدیر / ص: ۲٤۔٥۹ / ج: ۱۱)(احیاء علوم الدين / ص: ٧٤ / ج: ۲) (الدر مع الرد / ص: ٤٧ / ج: ٥)

شی واپس کول د قیمت پر ځای باندې بل شی ور کول

سوال :......

شی واپس کول د قیمت پر ځای باندې بل شی ور کول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... که چیرې مشتري د سودا کولو وروسته سامان بیرته ور واپس کول غواړي او بائع دا وايي چې زه سامان واپس کوم خو د دې شي قیمت بیرته نه درکوم . بلکه د دې پر ځای به بل شی اخلې نو د دې حکم دا دی که چیرې واپسي او د بل شي د سودا معامله جلا جلا وي نو صحیح ده . او که چیرې واپسي دبل شي د رانیولو سره مشروطه کړل سي نو نه ده صحیح . نو د دې وجهې آسان صورت دا دی چې داسي سړي ته دي دا و وایي چې واپسي نه کیږي البته د دې په عوض کي د نور سامان اخیستلو اختیار سته:

"الاقالة جائزة فی البیع ... بمثل الثمن الاول: جنساً و قدرًا (فإن شرط احدهما أقل منه أو اکثر أو شیئاً آخر ... فالشرط باطل) و الإقالة باقیه (و یرد مثل الثمن الاول ۔(اللباب فی شرح الکتاب / ص: ۲۱۷ / ج: ۱) (البحر الرائق / ص: ۱۰٤ / ج: ٦ ، کتاب البیوع ، باب الإقالة) (تبیین الحقائق / ص: ۷۱ / ج: ٤)"

شي بيرته اخيستل قيمت وركول

سوال:......

شي بيرته اخيستل قيمت وركول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... كه چيرې مشتري (خريدار) شي رانيولو وروسته شي بيرته واپس كول غواړي او بائع يې بيرته واخلي او قيمت وركړي نو دا خالي جائز نه بلكه د خير او بركت ذريعه ده:

"وعن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ من أقال مسلماً أقال الله عثرته يوم القيامة"(مشكوة المصابيح / ص: ۲٤۹، كتاب البيوع، باب السلم و الرهن، الفصل الثانى) (سنن ابى داود / ص: ۱۳٤ / ج: ۲، كتاب الاجارات، باب فى فضل الإقالة) (البحر الرائق / ص: ۱۰۲ ج٦، كتاب البيوع، باب الإقالة)

پر چيک باندي د ليكل سوي رقم په كم قيمت باندي هغه خرڅول

سوال:......

پر چيک باندي د ليكل سوي رقم په كم قيمت باندي هغه خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... پر چيک باندي چي كوم رقم ليكل سوی وي تر هغه په كم قيمت باندي خرڅول جائز نه دي كه دواړه فريقه پر دې باندي راضي وي، ځكه د فريقين په رضامندي حرام نه حلاليږي او نه حلال حراميږي:

"أن صـور بيـع الفـلـس بـالـفـلـسين أربع : الاولىٰ : أن يبيع فلسان بغير عينه بفلسين بغير أعيانهما لا خلاف في عدم جوازها"(حاشية الشبلي على تبيين الحقائق / ص: ۹۱، / ج: ٤ كتاب البيوع باب الربا) (العناية على هامش فتح القدير / ص: ۷ / ج: ۲ ، بيوع ، ربا)

و اذاوجدد الـوصفان الجنس والمعنى المفهوم اليه حل التفاضل والنساء ... واذا وجدا حـرم التفاضل والنساء.(الهداية / ص: ۷٤ / ج: ۳ ، البيوع ، باب الربا)

د حاضرينو د عقد مجلس څخه څه شى مراددى

سـوال :......

د حـاضرينو د عقد مجلس څخه څه شي مراد او د مجلس په بدلېدلو عقد ته څه توان رسيږي او كنه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... د حاضرينو دعقد مجلس څخه مـراد د عـقـد كولو ځاى مراد دى تر څو پوري بائع او مشـتري په يوه مجلس كـي وي او د ايجـاب منـافـي پـه يو بـل عمل كي مشغول نـه وي نو عقد صـحيـح دى ، او كـه چيري مجلس بدل سو نو عقد نه منعقد كيږي لهذا كه چيـري د بـائـع څخـه يو داسـي عـمـل صـادر سو چـي هغـه د خـرڅولو د رضـامـنـدي دليـل بـلـل كېدى او مشـتري په بل مجلس كي دا ايجاب قبول كـړى نو بيـع نـه مـنـعـقـده كيـږي مثلاً بـائع په دكان كي ايجاب وكړى او مشتـري پـه لاره كي هغه قبول كړي، نو د مجلس د مختلف كېدو په وجه سـره عقد نه منعقد كيږي بلكه د ده دغه قبول مستقل ايجاب بلل كيږي او په همدغه مجلس كي د بل له طرفه قبلول ضروري دي كنه نو عقد نه كيږي:

"أما الذى يرجع إلى مكان العقد فواحد و هو اتحاد المجلس بأن كان الإيجاب والقبول فى مجلس واحد ، فإن اختلف المجلس لا ينعقد حتى لو أوجب أحدهما البيع فقام الآخر عن المجلس قبل القبول أو اشتغل بعمل آخر يوجب اختلاف المجلس ثم قبل لا ينعقد ... و لو أوجب احدهما و هما واقفان فسار الآخر قبل القبول أو سار جميعاً ثم قبل لا ينعقد"(بدائع صنائع / ص: ۱۳۷ / ج: ٥ـ فتح القدير / ص: ۲۳٥ / ج: ٦ ـ تبيين الحقائق / ص: ٤ / ج: ٤)

نائي ته د مسجد دكان په كرايه باندي وركول

سوال:......

(حجام) نائي ته د مسجد دكان په كرايه باندي وركول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... نائي ته د مسجد دكان په كرايه باندي وركول نه دی جائز، ځكه چي دا د ګناه په كار كي تعاون دی او د ګناه په كار كي تعاون جائز نه دی:

"قال الله تعالى : و تعاونو على البر والتقوى و لا تعاونوا على الإثم والعدوان "(المائدة : ۲)

ولا تعاونوا على ارتكاب المنهيات و لا على الظلم .... الخ (احكام القرآن للقرطبى / ص: ۱۸ / ج: ۳) (مرقاة الفاتيح / ص: ٤۳ / ج: ٦ ـ رقم الحديث: ۲۸۰۷) (الشامية / ص: ۳٥۰ / ج: ٦) (حجة الله البالغة / ص: ۱۹۲ / ج: ۲)

د حرام آمدن والا خلكو سره نوكري كول

سوال:......

د حرام آمدن والا خلكو سره نوكري كول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... د کومو خلکو آمدني چي خالص حرام وي لکه . . . یا شراب فروش یا سود خور وغیره په قصده سره د دغو نوکري کول جائز نه ده او کومه تنخوا چي د دې څخه ورکول کیږي هغه حلال نه ده:

"وقال رسول الله ﷺ: لا يحل ثمن الكلب و لا حلوان الكاهن و لا مهر البغى "(سنن ابی داؤد / ص: ۱۳۷ / ج: ۲)

د کومو خلکو چي د حرام او حلال آمدني مخلوط وي

سوال :......

د کومو خلکو چي د حرام او حلال آمدني مخلوط وي او حلال غالب وي د هغوی سره ملازمت کول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ......د کومو خلکو چي حرام او حلال آمدني ګډه وي او حلال غالب وي د داسي خلکو سره ملازمت کول جائز دی:

"أهدى إلى رجل شيئاً اضافه ان كان غالب ماله من الحلال ، فلا بأس به "(الهندية / ص: ۳٤۲ / ج: ٥ ـ مجمع الانهر / ص: ۱۸٦ / ج: ٤) (بزازية على هامش هنديه / ص: ۳٦۰ / ج: ٦) (الاشباه والنظائر / ص: ۱۱۳ ، القاعدة الثانية ، إذا اجتمع الحلال و الحرام)

د حرام آمدني والا دعوت قبلول

سوال :......

د حرام آمدني والا (لکه غلا ، غصب ، رشوت ، سود ، خیانت ، بینک ملازمت انشورنس ملازمت ، فوټو ګرافر ، سینما والا ، ټی وي والا) د

داسي خلکو دعوت، تحفه وغيره قبلول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......د کوم سړي د آمدني ذريعه چي حرام ده او هغه حرام مال بلا معاوضه حاصلوي مثلا غلا کول، لاري نيول، غصب، رشوت سود، تاوان، خيانت، وغيره سره يا يې د معاوضې په توګ سره په دغو سببو حاصلوي لکه د بينک ملازمت، انشورنس ملازمت، د سينما آمدني، د غزلو او بدلو والا آمدني، نائټ کلب والا وو آمدني، وغيره که چيري د داسي سړي د حلال، ذريعه آمدني نه وي نو د هغه سړي سره خوړل چيښل د هغه تحفه هديه ووصولول او استعمالول ناجائز او حرام ده. نو که چيري د صولولو والا په خپله د زکاة اخيستلو مستحق وي نو بيا لا څه ګنجايش سته.

۲. د کوم سړي چي د آمدني ذريعه د حلال او حرام دواړو رقم وي نو په هغه کي تفصيل سته:

که چيري حلال آمدني او حرام آمدني د ده سره جلا جلا وي خپل اخراجات، خوړل چيښل، لباس وغيره کي حلال آمدني استعمالوي نو د هغه پر خبره اعتماد هم سته نو د هغه اخيستل هم جائز دي البته د ده د ناجائز او حرام آمدني څخه خوړل چيښل، هديه تحفه اخيستل جائز نه دي.

۳. او که چيري ديوه چا سره حلال جائز او ناجائز دواړه قسمه د آمدني ذرائع سته او ګډ دي نو په دې صورت کي ورته کتل کيږي چي د ده په آمدني کي کومه آمدني زياته او غالبه ده که چيري حلاله آمدني زياته او غالبه وه نو د هغه سره خوراک چيښاک او د هغه تحفه اخيستل مباح

او جائز ده او كه چيري د دې څخه هم ځان ساتلای سي نو بهتره دغه ده .

۴ .او كه چيري د چا په آمدني كي حرام او ناجائز آمدني غالبه وي نو د هغه سره ، خوراک چيښاک ، تحفه وصولول او استعمال ټول ناجائز او حرام دي:

"اهدى إلى رجل شيئاً و اضافه ان كان غالب ماله من الحلال فلاباس إلا ان يعلم بانه حرام فان كان الغالب هو الحرام ينبغى ان لا يقبل الهدية و لا يأكل الطعام إلا ان يخبره بانه حلال او ورثته او استقرضه من غيره كذا فى الينابيع "(الهندية / ص: ۳٤۲ / ج: ٥ ـ الاشباه والنظائر / ص: ۱۱۲ ، القاعدة الثانية إذا اجتمع الحلال و الحرام ـ المبسوط للسرخسى / ص: ۱۹۷ / ج: ۱۰ ـ شامى / ص: ۳۳۹ / ج: ۲ ـ مجمع الأنهر / ص: ۱۸٦ / ج: ٤ـ بزازية على هامش هندية / ص: ۳٦۰ / ج: ۹)

حرام حيوان لكه پشي ، بيزو ، موږک وغيره رانيول او خرڅول

سوال :......

حرام حيوان لكه پشي ، بيزو ، موږک وغيره رانيول او خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... كه چيري حرام حيوان مثلاً د بيزو ، پيشي ، موږک وغيره پوست هډوكي وغيره په كار راځي يا د هغوى څخه دوايي جوړه سي نو ددغو حيوانانو رانيول او خرڅول جائز دي:

"وصح بيع الكلب والفهد والفيل والقراد و السباع سائر انواعها حتى الهرة وكذا الطيور سوى الخنزير و هو المختار للانتفاع بها و بجلدها "(الدر مع الرد / ص: ۲۲٦ / ج: ٥)

و يجوز بيع جميع الحيوانات سوى الخنزير و هو المختار ـ(هنديه / ص:

۱۱٤ / ج: ۳ ـ الـدر الـمـنـتـقـى عـلـى هامش مجمع الانهر / ص: ۱۵۱ / ج: ۳ ـ فتح القدير / ص: ۱۱۸ / ج: ۷ ، كتاب البيوع ، مسائل منثورة)

د خارجي ممالكو څخه د حرامو شيانو راوړل

سـوال:......

د خارجي ممالكو څخه د حرامو شيانو راوړل څنګه دي؟

الـجـواب بـاسم الملهم الصدق والصواب: ...... پـه اسـلام كي د حراموشيانو رانيـول او خـرڅـول هـم حـرام دي نو د دې وجهي د اسلامي ملک حکومت يا شهـري (اوسېـدونـكى) د غير مسلم ممالكو څخه د حرامو شيانو څخه يو شى لـكـه بهـنـك وغـيـره د نشې شيان يا مصنوعات لكه شراب، الكحل، عـريـان (لـڅ) او اخـلاق سـوز فـلـمـونـه او اجـنـاس لـكـه بت وغيره نسي اوړلاى د دغـو شيـانـو رانيـول او خرڅول هم حرام دي او راوړل او وړل يې هم حرام دي:

"عـن جـابـر بـن عبد الله انـه سمع رسول الله ﷺ يقول عام الفتح وهو بـمـكـة: انّ الله حـرم بيـع الـخـمـر و الميتة والخنزير و الاصنام، فقيل يا رسول الله أريـت شـحـوم الـمـيتة، فـإنـه يـطـلـى بها السفن، ويدهن بها الجلود و يـسـتـصـبـح بـهـا الـنـاس؟ فقال: لا هو حرام، ثم قال رسول الله ﷺ عند ذلك، قـاتـل الله اليهـود إن الله لـمـا حـرم عـليهم شـحـومها أجملوه ثم باعوه فأكلو ثـمـنـه" (سنن ابى داؤد / ص: ۱۳۷ / ج: ۲ ، كتاب الإجارات ـ مسند احمد بن حـنـبـل / ص: ٤٦۰ ، / ج: ۲۲ ، رقـم الحديث: ١٤٤٧٢ ـ سنن ابن ماجة / ص: ۱۵۷ ـ صـحـيـح مـسـلـم / ص: ۲۲ / ج: ۲ ، كتـاب المساقاة والمزارعة ـ المحيط البـرهـانـى / ص: ۳۳٤ / ج: ۹ ، كتـاب البيـوع ، فصل السادس)(الفتاوى

التتارخانية / ص: ٣٤٠ / ج: ٨) (حجة الله البالغة / ص: ١٩٢ / ج: ٢)

په حرامو روپو باندي قبرستان لپاره ځای رانیول

سوال: ......

په حرامو روپو باندي قبرستان لپاره ځای رانیول څنگه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... په حرامو روپو باندي هدیره (قبرستان) لپاره ځای رانیول او په هغه کي د مسلمانانو مړي ښخول نه دی جائز . د داسي روپو په اړه حکم دا دی چي که چیري اصل مالک معلوم وي نو هغه ته دي بیرته ورکړي او که چیري اصل مالک هم نسته او د هغه وارثان هم نسته نو د ثواب د نیت بغیر د اصل مالک د راضي کولو په نیت سره دی د زکوة مستحقینو باندي خیرات کړي .

حیوانانو ته حرام خوراک ورکول

سوال: ......

حیوانانو ته حرام خوراک ورکول څنگه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... حیوانانو ته حرام خوراک (غذا) ورکول ناجائز دی په دې سره د حیوان غوښي او شیدې نه حرامیږي ،داسي حیوان او د هغه شیدې خرڅول او رانیول جائز دي :

" ان جديا غذى بلبن خنزير لا بأس باكله لأن لحمه لا يتغير وما غذى به يصير مستهلكا لا يبقى له اثر"(فتاوى قاضى خان على هامش العالمگيريه / ص:

٣٥٩ / ج: ٣)

كما حل جدى غذى بلبن خنزير لأن لحمه لا يتغير و ما غذى به مستهلكا لا يبقى له اثر۔(الدر مع الرد / ص: ٣٤١ / ج: ٦۔ الفتاوى البزازية على الهندية / ص: ٣٠٢ / ج: ٦ ۔ هنديـنه / ص: ٢٩٠ / ج: ٥ ۔ الترغيب والترهيب / ص: ٤٤٣ / ج: ٢ ۔ رقم الحديث : ٢٦٨٩)

دحرام مال رانيول

سـوال:......

کـه چيـري زيـد خبـر وو چي عمر حرام مال خرڅوي نو زيد لپار د عمر څخه رانيـول څنگه دي؟

الـجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......د زيد لپاره د عمر څخه رانيـول جائز نه دي:

"ان عـلـم ان الـعيـن التـى يغلب على الظن انهم اخذوها من الغير بالظلم ـائمة و بـاعـوهـا فـى الاسـواق فـانـه لا يـنبغى شراء ها منهم و ان تداولتـه الايدى"(حـاشية الطحطاوى على الدر المختار / ص: ١٩٢ / ج: ٤۔ هنديه / ص: ٣٤٢ / ج: ٥ ۔ مجمع الانهر / ص: ١٨٦ / ج: ٤)

دحرام مال څخه قرض وصول کول

سـوال:......

کـه چيـري دائـن (پـور کـونکي) تـه معلـوم وي چي د مديو ن سره کوم حرام مـال دى د مـالک پـه رضامندي خو دي خو پـه هغـه کي د شريعت اجازه نستـه پـه بـلـه نـاجائز طريقه سره دى لکه سود، قمار، بد کاري، گانې وغيـره سره حاصـل سوى دى نو د دې حرام مال څخه قرض وصول کول او نفع اخيستـل

څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......كه چيري دائن ته دامعلومه وي چي د مديون سره چي كوم حرام مال دى هغه په اصل كي د مالک په رضامندي سره خوري خو هغه د شريعت د اجازت بغيره په بله ناجائزه طريقه سر حاصل سوى دى، لكه سود، قمار، بدكاري، ډانسونه، ګانې وغيره په دسي طريقه سره حاصل سوى وي نو د داسي حرام مال څخه قرض وصولول او نفع ځيني اخيستل قضاءً جائز دى، خو ديانةً كه چيري اجتناب وكړي نو د تقوىٰ په لحاظ سره ډېر ښه دى.

"يجوز أخذ المسلم دينه على كافر من ثمن خمر، او خنزير، لصحة بيعهما من الكافر لغيره، لأنهما مال متقوم فى حقه، بخلاف الدين على مسلم لا يصح اخذه من ثمن خمر أو خنزير، لعدم صحة البيع .... وكذلك لا يجوز استيفاء الدين من كسب حرام كالمرابى و المرتشى والغصب و السارق و المغنية "(الفقه الاسلامى و ادلته / ص: ٥٨٠ / ج: ٣ ـ مجموع الفتاوى لابن تيميه / ص: ١٧٨ / ج: ٢٩ ـ الدر المختار مع الرد المحتار / ص: ٣٨٥ / ج: ٦ ـ الهندية / ص: ٣٦٧ / ج: ٥ ـ ملتقى الابحر مع مجمع الانهر / ص: ٢١٤ / ج: ٤ ـ الدر المنتقى على هامش المجمع / ص: ٢١٤ / ج: ٤)

د حق تعالى بيع څنګه ده

سوال:......

د حق تعالى بيع څنګه ده. مثال داى چي لاندي والا منزل ديو سړي وي او لوړ والا منزل ديو بل سړي وي او خدانخواسته دواړه منزله ونړيږي اوس لوړ منزل والا خپل حق پر لاندي والا باندي خرڅوي نو دا بيع څنګه ده؟

الـجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ..... حق تعلّي يعني فضا، مال نه دی ځکه چي دا د مال په رقم باندي جمع کول او محفوظ کول يې ممکن نه دي او دې تـه مـجـرد حق وايي او حق مجرد رانيول او خرڅول جائز نه دی نو په دغه صورت کي لوړ منزل والا خپل حق پر لاندي والا باندي خرڅوي نو دا بيع جائز نه ده او د حق تعلي رانيول او خرڅول جائز نه دي:

"سفل و علو بين رجلين انهداما فباع صاحب العلو علوه لم يجز لأن الهواء ليس بمال"(بدائع الصنائع / ص: ١٤٥ / ج: ٥) لأن حـق التعلى ليس بمال لأن الـمال ما يمكن احرازه (الهداية / ص: ٧٥ / ج: ٣ ـ فتح القدير / ص: ٣٩٣ / ج: ٦)

مثل بالا

سـوال:.....

بـائـع د مـځـکي خرڅولو په وخت کي په مشتري باندي دا شرط ولګوی چي تا تـه د مځکي پر سر باندي مثلًا په لس فټ کي دننه د يو چت جوړولو اجازت ستـه کـه چيري تـه خپل مکان تر لس فټ لوړوې نو د هغـه قيمت بـه هـم ادا کـوې، خـو د دې قيـمت تر لاندي والا حصې کم دی دغه رنګه مځکه خرڅول يا مځکه خرڅولو په وخت کي دا رنګه شرط لګول څنګه دی؟

الـجـواب بـاسم الملهم الصدق والصواب :...... د بـائـع لپـاره مـځـکه خرڅولو کي داسي شرط لګول يا دا رنګه مځکه خرڅول دا جواز نلري .

"سفل و علو بين رجلين انهداما فباع صاحب العلو علوه لم يجز لأن الهواء ليس بـمـال "(بـدائـع الصنائع / ص: ١٤٥ / ج: ٥) (الهداية / ص: ٥٧ / ج: ٣) (فتح القدير / ص: ٣٩٣ / ج: ٦)

حق خیار خرڅول

سوال:......

زید خپل حق خیار پر عمر باندي خرڅوای سي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د حق خیار رانیول او خرڅول نه دی جائز فقط:

"ان الخيار ليس إلا مشيئة و ارادة لا يتصور انتقاله"(الهداية / ص: ٣٤ / ج: ٣)

قوله لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة عن الملك قال في البدائع: الحقوق المجردة لا يحتمل التمليك ولا يجوز الصلح عنها..... قوله: كحق الشفعة .... و لو صالح المخيرة بمال لتختاره بطل و لا شيئ لها۔(شامی / ص: ٥١٨ / ج: ٤ ۔ الاشباه و النظائر / ص: ٢١٠)

حقِ شرب خرڅول

سوال:......

حقِ شرب خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... حق شرب خرڅول بې له د ځمکي د خرڅولو دا نه دی جائز .

د شفعي حق خرڅول

سوال:......

د شفعي حق خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... حق شفعه یو حق دی ، د همسایه د تاوان لیري کولو لپاره مقرر دی خو دا مادي شی نه دی نو د دې

وجهي د دې رانيول او خرڅول جائز نه دي:

"ولا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة"(الدر مع الرد / ص: ٥١٨ / ج: ٤ ـ البدائع الصنائع / ص: ٤٨ / ج: ٦ ـ الاشباه والنظائر / ص:

حق طباعت خرڅول

سوال:......

حق طباعت خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... حق طباعت مادي شى نه دى، يواځي د دې رانيول او خرڅول جائز نه دي خو كه چيري كتاب ته قيمت ور زيات كړي بيا يې خرڅ كړي او وروسته بيا د طباعت اجازت ور كړي نو بيا څه ګنجائش سته.

"من اشترى شيئاً وأغلى فى ثمنه فباعه مرابحة على ذلك جاز"(الفتاوى الهندية / ص: ١٦١ / ج: ٣ ـ المبسوط للسرخسى / ص: ١١٩ / ج: ١١، بيروت ـ الجوهرة النيرة / ص: ٣٨٧ / ج: ٦، بحوث فى قضايا فقهية معاصرة / ص: ٨ / ج: ١)

مشتري مبيعه خرڅه كړه وروسته په عيب خبر سو

سوال:......

مشتري مخته د بل چا سره سودا پسي وكړه مبيع يې دملكيت څخه و ايسته، وروسته په عيب باندې خبر سو نو مشتري ته د عيب په وجه سره د مبيع (خرڅ سوى شى) واپس كولو اختيار سته او كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......په داسي صورت كي چي مثلاً

مشـتـري مبيـع مـختـه پر بل چا باندي پسـي خر څ كړي يو چا ته يې هبه يا صـدقـه كړي نو مبيع د خريدار (رانيونكي) دملكيت څخه ووته ـ د بل په ملـكيـت كي داخـله سوه، نو لهذا اوس د دې واپسي نه سي كېداى، هو كه چيـري دويـمـه بيـع ختـمـه سوه .او مبيع و اول خريدار ته بيرته راغلى نو هغه ته دعيب په جه سره د مبيع واپس كولو حق ستـه .

"و لـو اخرج المبيع عن ملكه بحيث لا يبقى لملكه اثر، بان باعه او وهبه او أقر به لغيره ثم علم بالعيب لا يرجع بالنقصان ... فلما باعه المشترى صار حابساً للمبيع بالبيع فلايرجيع بالنقصان لكونه صار مفوتا للرد"(شامى / ص: ۲۰ / ج: ۵ ـ الدر مع الرد / ص: ٢٦ / ج: ٥ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ١٤٩ / ج: ١)

په مهر كي مځكه ور كړي

سـوال:......

پـه مهـر كـي مـځـكـه ور كړي و ښځي ته د دې مالک مېړه كېداى سي او كه نه؟ او مېړه بغير له اجازت د ښځي مځكه خرڅواى سي او كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......

"و اما شرائط النفاذ فنوعان: أحدهما: الملك او الولاية والثانى: أن لا يكون فى المبيع حق الغير البائع ، فإن كان فلا ينفذ"(الهندية ص۳ / ج: ۳)

ومـنها: وهـو شرط انعقاد البيع للبائع ان يكون مملوكاً للبائع عند البيع فان لم يكن لا ينعقد۔ (بدائع الصنائع / ص: ١٤٧ / ج: ٥)(فتح القدير / ص: ٣٣٠ / ج: ٦)

حقوق مشتركه او مجرده

سـوال:......

د حقوق مشترکه او مجرده مسائل کوم کوم دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ......د حقوق مشترکه او مجرده مسائل: د اسي حقوق چي په هغه کي د يو ملک (هيواد) د خلکو او د ښار د اوسېدونکو همسايه حقوق پکښې وي کـه چيري دا د شرعي مال په تعريف کي نه راځي نو د دې رانيول او خرڅول نه دي جائز . په دې باندي چي کومه آمدني او منافع حاصلېږي ناجائز او حرام ده . صاحب حق ته بيرته ورکول ضروري دي .

(۱):۔ مثال: لکه د يو قدرتي نهر اوبه د سمندر د اوبو رانيول او خرڅول نه دي جائز .

(۲):۔ په لاره او شارع عام کي د تېرېدلو او موټر چلولو حق خرڅول نه دي جائز .

(۳):۔ د لائسنس او اجازت نامو رانيول او خرڅول نه دي جائز .

(٤):۔ د پاسپورټ او شناختي کارډ وغيره خرڅول نه دي جائز .

(٥):۔ په غير مملوکه او افتاده ځمکه کي او د لاري په څنډه کي په بازار کي، په ميدانو کي د تېرېدلو حق د کښېنستلو حق يا په هغه کي د رانيولو او خرڅولو حق چي هغه قابض په شرعي او قانوني طريقه سره نه وي رانيول د دې او خرڅول جواز نلري .

(٦):۔ د طالبانو د رهائش (اوسېدلو) قيام و طعام او د نورو سهولتونو حقوق چي هغه په ديني مدرسو او جامعو او دغه رنګه د دنيوي تعليمي ادارو لکه اسکولونه، (مکتبونه) کالجونه (پوهنتون) او د يونيورستيو (پوهنځي) له طرفه څخه چي کوم سهولتونه طالبانو

وغيره ته حاصل دي د دې رانيول او خرڅول نه دي جائز .

(۷):۔ د استاذانو د استاذۍ تول حقوق او د ادارو لـه طرفه څخه چې كوم سهولتونه وركول كيږي د دې رانيول او خرڅول جواز نلري .

مثال لكه په سركاري يا غير سركاري موټرانو كې په كمو پيسو باندې د سفر كولو حقوق، د عهدې او مناصب پر بنياد باندې د مكانو او ځايو (پلاټ) د اخيستلو حقوق او د دې رانيول او خرڅول نه دى جائز .

(۸):۔ د مزدورانو او ملازمينو د مزدوري او ملازمت كولو د حقوق رانيول او خرڅول نه دي جائز .

"قال فى الخانية : و لا يجوز بيع مسيل الماء وهبته و لا بيع الطريق بدون الأرض ،و كذلك بيع الشرب .... و مراد الخانيه ببيع الطريق ببيع حق المرور بدليل قوله بدون الأرض"(الشامية / ص: ۷۸ / ج: ٥، مطلب فى بيع الطريق- خانية على هامش الهندية / ص: ١٥٤ / ج: ٢)

"ولا يباع الشرب و لا يوهب ولا يوجرو لا يتصدق لانه ليس بمال متقوم فى ظاهر الرواية ، و عليه الفتوى"(الشامية / ص: ٨٠ / ج: ٥ ، مطلب فى بيع الشرب)

"الحق المجرد او المحض هو الذى لايترك اثراً بالتناول عنه صلحاً او إبراء فلا يجوز الاعتياض عنه كحق الولاية عن النفس و المال و حق الشفعة"(الفقه الاسلامى و ادلته / ص: ٢١٣ / ج: ٤ ، بيروت)

"لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجرّة كحق الشفعة"(الدر المختار مع الرد / ص: ٥١٨ / ج: ٤)(تكملة فتح الملهم / ص: ٣٤٧ / ج: ١ ـ كتاب البيوع ، باب بطلان المبيع قبل القبض)

غير قانوني سامان ګريزي

(اسمګلنګ شده مال) ضبط کول

سوال:......

غیر قانوني سامان ګړیزي (اسمګلنګ شده مال) ضبط کول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... که چیري اسمګلر ګړیزي کولو والا ونیول سي نو حکومت ده ته د جائز قانون خلاف ورزي کولو په رجه سره قید او بل داسي مناسب جسماني سزا ورکولای سي خو د هغه سامان مال ضبط کول او نیلام کول جائز نه دی ځکه چي دا تعزیر مالي دی په شریعت کي د دې اجازت نسته:

" و أفاد فی البزازية : أن معين التعزير بأخذ المال على القول به إمساك شيئ من ماله عنه مدة ينزجر ثم يعيده الحاكم اليه ، لأن يأخذه الحاكم لنفسه او لبيت البمال كما يتوهمه الظلمة إذا لا يجوز لأحد من المسلمين أخذ المال أحد بغير سبب شرعی...والحاصل أن المذهب عدم التعزير بأخذ المال" (الفتاوی الهندية / ص: ١٦٧ / ج: ٢) بحر رائق ص ٤١ ج ٥)

د حکومت اطاعت کول

سوال:......

د حکومت اطاعت کول څنګه دي ؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......په جائز کار کي د حکومت اطاعت ضروري دی او په ناجائز کار کي د حکومت اطاعت کول جائز نه دی:

" طاعة الامام حق على المرء المسلم ما لم يأمر بمعصية الله ، فإذا أمر بمعصية الله فلا طاعة له قال العلامة المناوی تحته:(طاعة الإمام) الاعظم حق

على المرء المسلم) وان جاد (ما لم يأمر بمعصية الله فاذا امر بمعصية الله فلا طاعة له) لانه لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق ، خص المسلم لانه حق بالتزام هذا الحق و إلا فكل ملتزم للاحكام كذلك و فيه ان الامام إذا امر بمندوب يجب طاعته فيه فيصير المندوب واجباً كما إذا مرهم به ثلاثة ايام في الاستسقاء فانه يلزمهم الصوم ظاهر او باطناً بل ذكر بعض الشافعية انه إذا امر بصدقة او اعتق يجب"(فيض القدير / ص: ٣٨٥٤،٣٨٥٥ ـ رقم الحديث : ٥٢٤٦ ـ شامی / ص: ١٧٢ / ج: ٢ ـ و فيه ايضا / ص: ٢٦٤ / ج: ٤ ـ تكملة فتح الملهم / ص: ٣٢٣ ـ ٣٢٤ / ج: ٣)

سوال :......

كه چيري تاجر حضرات د شيانو قيمتونه ترحد زيات كړي بيا نو حكومت نرخ مقرر كولای سي او سزا وركوای سي او كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... كه چيري تاجر حضرات د شيانو په قيمتو كي تر حد زيات تجاوز وكړي نو په داسي صورت كي د قيمت د قابو كولو لپاره د حكومت له خوا د شيانو نرخ او قيمت مقرر كول صحيح دي او تاجر حضرات به پر داغه نرخ باندي د سامان خرڅولو پابند وي او تر هغه زيات قيمت اخيستل مكروه دی او حكومت داسي خلكو ته سزا وركولای سي او هغو ته قيد هم وركولای سي .

"ولا يسعر حاكم ...... إلا إذا تعدى الأرباب عن القيمة تعدياً فاحشاً فيسر بمشورة اهل الرأى "(الدر المختار مع رد المحتار / ص: ٤٠٠ / ج: ٦)

سوال :......

د حكيم لپاره اجرت اخيستل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... کوم حکیمان چي د خپلو مریضانو څخه د علاج لپاره فیس اخلي دا جائز دی، ځکه چي د حکیم اجرت د مرض د تشخیص او د نسخې د تجویز لپاره وي، په دې کي هیڅ کراهت نسته بې له شبهې جائز دی.

خو هو په دې شرط چي حکیم مستند حکیم وي کنې نو د ده لپاره د علاج پیشه اختیارول جائز نه ده:

"وعن انس رضى الله عنه قال: جحم ابو طيبة رسول الله ﷺ فأمر له بصاع من تمر و أمر أهله أن يخففوا عنه من خراجه متفق عليه"(مشكوة المصابيح / ص: ٢٤٢، ٢٤١ ـ مرقاة المفاتيح / ص: ١٦ / ج: ٦) (شرح النووى على صحيح المسلم / ص: ٢٢ / ج: ٢ ـ فتح البارى / ص: ٤٥٩ / ج: ٤)

بل يمنع مفت ما جن يعلم الحيل الباطلة لتعليم الردة لتبيين من زوجها او لتسقط عنها الزكاة و طبيب جاهل ـ (الدر المختار) (قوله : طبيب جاهل) بان يسقيهم ... زيلعى (رد المحتار / ص: ١٤٧ / ج: ٦ ـ تبيين الحقائق / ص: ١٩٣ / ج: ٥ ـ بدائع الصنائع / ص: ١٦٩ / ج: ٧)

سوال :......

د پیدا کېدلو دمخه د حمل رانیول او خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... د پیدا کېدو دمخه د حمل رانیول او خرڅول جائز نه دي ځکه چي د دې په اړه ډېر احتمالات سته، مړ به پیدا سي او که ژوندی ډنګر به وي او که پنډ و تازه، نر به وي او که ماده چي په هغه کي د دهوکې او خطا ایستلو قوي امکانات سته او په بیع کي خطا ایستل او دهوکه حرام ده نو د دې وجهې د حمل بیع حرامه ده:

"و أما الذى يرجع إلى المعقود عليه فأنواع ، منها: أن يكون موجوداً فلا ينعقد بيع المعدوم و ما له خطر العدم كبيع نتاج النتاج بأن قال : بعت ولد ولد هذه الناقة ،وكذا بيع الحمل ، لانه إن باع الولد فهو بيع المعدوم و إن باع الحمل فله خطر العدم"(بدائع الصنائع / ص: ۱۳۱ / ج: ٥ ـ العناية فى شرح الهداية مع الفتح / ص: ۳۷۸ ـ ۳۷۷ / ج: ٦ ـ مجمع الانهر / ص: ۸۰ / ج: ۱ ـ تبيين الحقائق / ص: ٤٦ / ج: ٤)

سوال:......

د حوالې معامله د پور کېدو په صورت کې د ډالر وغيره قيمت په بازار کې د رائجو قيمتو څخه زيات اينبودل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......د حوالې معامله د پور کېدو په صورت کې د ډالر وغيره قيمت په بازار کې د رائجو قيمتو څخه زيات اينبودل جائز نه دي د سود په وجه سره حرام دي:

" و مشائخنا لم يفتوا بجواز ذلك فى العدالى والغطارفة : لانها أعزالأموال فى ديارنافلو أبيح التفاضل فيه يفتح باب الربا"(الهداية / ص: ۱۱۰ / ج: ۳ ـ تكملة فتح الملهم / ص: ۵۸۸ / ج: ۱ ـ الصحيح المسلم / ص: ۳۸ / ج: ۲)

سوال:......

حيله کول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... حرام د حلالولو لپاره حيله کول صحيح نه ده ځکه چې دا د يهودو عادت دی . نبي عليه السلام ويلي دي چې د دې بدوالي ارتکاب مه کوئ چې د هغه ارتکاب يهودو کاوه داسي نه، چې تاسي په کوچنۍ کوچنۍ حيلو سره د الله جل جلاله له طرفه

څخه د حرام سوو شیانو حیلې په حلالو سره وکړئ:

"و قال علیه السلام لا ترتکبوا ما ارتکبت الیهود و تستحلوا محارم الله بادنی الحیل"(غایة المرام / ص: ۲۳، رقم الحدیث: ۱۱ ـ سورة البقرة: ٦٧ ـ تفسیر ابن کثیر / ص: ٤٤٢ / ج: ۱ ـ روح المعانی / ص: ۹٤ / ج: ٤ ـ سورة الاعراف: ١٦٦ ـ صحیح البخاری / ص: ۲۹۸ / ج: ۱ ـ رقم الحدیث: ۲۲۳٦)

سـوال:......

که چیري بائع دعقد بیع په وخت کي بیع (خرڅ سوی شی) مشتري ته په حواله کولو باندي قادر نه وي نو دا بیع څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... که چیري بائع دعقد بیع په وخت کي بیع (خرڅ سوی شی) مشتري ته په حواله کولو باندي قادر نه وي نو دا بیع باطله ده. که څه هم هغه د ده په ملکیت کي وي. مثال دیو چا یو شی ورک سو نو ترڅو پوري چي ورک سوی شی بیرته ور پیدا نه سي تر هغو پوري د دې رانیول او خرڅول جائز نه دی.

"و منها أن یکون مقدور التسلیم عند العقد، فإن کان معجوز التسلیم عنده لا ینعقد و إن کان مملوکاً له کبیع الأبق فی جواب ظاهر الروایات"(بدائع الصنائع / ص: ١٤٧ / ج: ٥ ـ الفقه الاسلامی و ادلته / ص: ۳٤٠١ / ج: ٥ ـ شامی / ص: ٥٠٥ ـ / ج: ٤)

سـوال:......

د خچر تجارت کول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... د خچر تجارت جائز دی:

"و یجوز بیع جمیع الحیوانات سوی الخنزیر و هو المختار"(الفتاوی الهندیة /

ص: ۱۱٤ / ج: ٣ ـ مجمع الانهر / ص: ١٥١ / ج: ٣ ـ الدر مع الرد / ص: ٢٢٦ / ج: ٣ ـ تبيين الحقائق / ص: ٥٣٠ / ج: ٤ـ البحر الرائق / ص: ٢٨٦ / ج: ٦)

سـوال:......

د خراب شي په بدله کي ښه شی ورکول څنګه دی؟

الجـواب بـاسم الملهم الصدق والصواب:...... کـه خراب اوړه ورکړي او ښه اوړه ځيـنـي واخـلـي نـو بـه بـرابر شيان اخلي او برابر شی به ور کوي کنه د سود په وجه ناجائز او حرام دي .

"و لا يـجـوز بيـع الجيد بالردى مما فيه الربا إلا مثلا بمثل ، لأن الجودة إذا لاقـت جـنسها فيما يثبت فيه الربا لا قيمة له"(الجوهرة النيرة / ص: ٢٥٩ / ج: ١ ـ الهداية / ص: ٨٣ / ج: ٣)

کـه چيـري يـو سـړي په برابر ورکولو او اخيستلو باندي راضي نه وي نـو د سـود څـخـه د خلاصېدو طريقه دا ده چي دا اوړه وغيـره په پيسـو خر څ کـړي چـي مـا دو مـره اوړه په دوه سوه (۲۰۰) خر څ کړل او دوه سوه دي قبضه کـړي بيـا د هـغـو دوه سـوه روپـو پـه عـوض کي دي د هغـه څخـه هغـه اوړه واخلي نو دا جائز دی:

"عـن ابـى هـريـرة رضـى الله عنه أنّ رسول الله استعمل رجلاً على خيبر فـجـاء بـتـمـر جـنـيـب فقال له رسول الله ﷺ : أكل تمر خيبر هكذا؟ قال: لا و الله يا رسول الله إنّا لنأخذ الصاع من هذا بالصاعين والصاعين بالثلث ، فقال رسـول الله ﷺ :فلا تـفـعـل ، بـع الـجـمـع بالدراهم ، ثم ابتع بالدراهم جنيباً "(صـحـيـح مسـلـم / ص: ٢٦ / ج: ٢ ـ صـحـيـح الـبـخـارى / ص: ١٩٣ / ج: ١ ـ مشكوة المصابيح / ص: ٢٤٥)

سوال :......

مشتري د داسې شي سودا وکړي چې هغه ژر خرابيږي بيا يې سودا د بائع (دکاندار) سره پريږدي دی ولاړ سي د پيسو راوړلو لپاره دومره وځنډيږي چې په هغه وخت کي د هغه شي د خرابېدو خطره وي نو آيا بائع داسې شی پر بل باندي خرڅولای سي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ......مشتري غوښه يا ماهی يا داسې بل شی چې د هغه د ژر خرابېدو اندېښنه وي نو بائع هغه شی پر بل باندي خرڅوای سي .او دويم مشتري که څه هم په اصل معامله خبر وي بيا يې هم رانيوای سي که چيري يې پر دويم خريدار (مشتري) باندي خر څ کړي په زيات قيمت باندي نو زيات قيمت دي صدقه کړي .

او که چيري په کم قيمت باندي يې خر څ کړي نو تاوان به د بائع پر ذمه باندي وي په اول مشتري باندي نقصان نسي پوره کوای:

”وكذا لو اشترى شيئا مما يتسارع اليه الفساد كاللحم والسمك والفاكهة ، و ذهب المشترى إلى بيته ليجيئ بالثمن ، فطال مكثه و خاف البائع فساده كان له أن يبيعه من غيره استحساناً و للمشترى منه أن ينتفع به و إن كان يعلم ذلك لأن البائع و رضى بانفساخ البيع الاول والمشترى كذلك ظاهراً ثم ينظر ان كان الثمن الثانى اكثر من الاول فعليه أن يتصدق بالزيادة و إن كان أنقص فالنقصان على البائع لاعلى المشترى الاول“ (فتح القدير / ص: ۱۲۱ ج ٦ ۔ البحر الرائق / ص: ۱۰۵ / ج: ٦ ۔ الدر مع الرد / ص: ٤۹۷ ۔ ٦۔ فتح القدير / ص: ۲۷۲ / ج: ٦۔ الخانية على هامش الهندية / ص: ۲٤۰ / ج: ۲)

سوال :......

مشتـري بـائع تـه بيعانه ور كړي بيا و تبنـتي يا په بله وجه د خريداري څخه انـكار و كړي په دې كي بعض وخت د بائع ډېر غټ نقصان كيږي د دې حل به څه وي؟

الـجـواب بـاسـم الـملهـم الـصـدق والـصـواب: ...... بـعـضـي وختـو كـي بائع (خرڅولو والا) او مشـتري (رانيولو والا په مابين كي باقاعده د ايجاب و قبـول پـه ذريـعـه سره بيع پوره كېدلو وروستـه مشتـري څه رقم د بيعانې پـه توګه سره بائع تـه وركوي، وروستـه مشتري په يوه وجه سره و تبنـتي يا پـه يـوه وجـه لـه بيـع څـخـه انـكـار وكړي د دې څخه بعض وخت د بائع ډېر تـاوان كـيـږي نـو پـه داسـي صـورت كـي د تـاوان څـخـه د ځان ساتلو لپاره متعدد صورتونه كېداى سي او هغه دا دي:

(۱):۔ مشـتـري تـه كـه چيـري د مبيع واقعةً ضرورت نستـه نو بائع دي د ده بيـعـانـه نـه ضـبط كوي بلكه مشتري دي پوره قيمت ادا كړي پر مبيع دي قبضـه وكړي . بيا دي بائع د بيعانې مقدار كم كړي قيمت دي مقرر كړي او د مشـتـري څـخـه دي بيـرتـه رانيسـي پـه دې صـورت كـي د بيعانې رقم نه ضبط كيږي بلكه د مستقل عقد په ذريعه سره دومره رقم د ګټې په تګوه حاصل سو او دا صورت جائز دی .

"يـجـب ان يـعلم أن شراء ما باع الرجل .... بأقل مما باع ، ممن باع... قبل نـقـد الـثـمـن لايجوز ... بخلاف مابعد قبض الثمن "(الميحط البراهى / ص: ۳۸۱ / ج: ۹ ۔ حـاشية الـطـحـطاوى على الدر المختار / ص: ۷۳ / ج: ۳ ۔ الدر المختار مع الرد / ص: ۷۵ ، ۷۳ / ج: ۵ ۔ احسن الفتاوى / ص: ۵۰۱ / ج: ٦)

(۲):۔ بـائـع د مشـتـري پـه اجازت سره مبيع پر بل سړي باندي خرڅه كړي ،

که چیري پر مخکیني قیمت په کمه سره خرڅ سو نو دی دا تاوان د بیعاني د روپو څخه واخلي، ځکه چي دابیع په اصل کي د مشتري لپاره سوې ده او که چیري په زیات قیمت سره خرڅ سي نو بائع دي خپل ثمن وصول کړي، هغه زیات رقم دي بیرته مشتري اول ته ورکړي ځکه چي سودا پوره سوې وه او مشتري اول د مبیع مالک جوړ سوی وو او مالک د اصل او نفعي حقدار دی:

"وصح بیع الوکیل بما قل او کثر "(شرح الوقایة / ص: ۱۹۳ / ج: ۳)

"الوکیل بالبیع یجوز بیعه بالقلیل والکثیر"(الفتاوی الهندیة / ص: ۵۸۸ / ج: ۳ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ۲٤٤ / ج: ۱ ، ماده : ۵۷۸ ـ احسن الفتاوی / ص: ۵۰۱ / ج: ٦)

(۳):ـ او که چیري مشتري پر ذکر سوو دوارو صورتو باندي په عمل کولو سره راضي نه وو نو په داسي صورت کي دي بائع عدالت ته رجوع وکړي تر څو عدالت ده ته په بل ځای کي د خرڅولو اجازت ورکړي:

"ومن اشتری عبداً فغاب فبرهن البائع علی بیعه و غیبته معروفة لم یبع بدین البائع و إلا بیع لدینه"(کنز الدقائق / ص: ۲۵۸ ـ الهدایة / ص: ۱۰۹ / ج: ۳ ـ تبیین الحقائق / ص: ۱۲۸ / ج: ٤ ـ احسن الفتاوی / ص: ۵۰۱ / ج: ٦)

(٤):ـ که چیري اسلامي یا مسلمان ملک نه وي په دې وجه سره بائع لره عدالت ته رجوع کول مشکل او سخت وي نو د علماؤ په مجلس سره هم فیصله کولای سي او که چیري بائع خپله په یوه وجه سره عدالت ته رجوع نه کوي نو دا ده خپل تاوان دی خو په دې وجه سره بیعانه ضبط کول

جائز نه ده . (احسن الفتاوی / ص: ۵۰۱ / ج:٦) (امداد المفتين / ص: ٦٩٩)

سوال:......

د مشتري څخه مبيع بيرته رانيول د قيمت وصولولو دمخه په کم قيمت باندې دا څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... يو شی د خرڅولو وروسته د هغه د قيمت د وصولولو دمخه هغه شی د مشتري څخه په کم قيمت باندې رانيول جائز نه دی:

"و فسد شراء ما باع ..... بالأقل: من قدر الثمن الاول (قبل نقد) كل (الثمن) الاول ، صورته : باع شيئا بعشرة و لم يقبض الثمن ثم شراه بخمسة لم يجز .(قوله : و فسد شراء ما باع ... الخ: أي لو باع شيئاً و قبضه المشترى و لم يقبض البائع الثمن فاشتراه بأقل من الثمن الاول لا يجوز"(الدر مع الرد / ص: ۷۳ ، ۷۴ / ج: ۵ . تبيين الحقائق / ص: ۵۳ / ج: ٤ . مجمع الانهر / ص: ۸۸ / ج: ۳)

خو د پوره قيمت وصول کېدو وروسته د خريدار څخه په کم قيمت باندې رانيول جائز دی:

"و فی الفتاوی العتابيه : و لو قبض الثمن ثم اشتراه بأقل جاز"(الفتاوی الهندية / ص: ۱۳۲ / ج: ۳. الفتاوی الهندية / ص: ۱٦۰ / ج: ۳ . الدر المختار مع الرد / ص: ۱۳۲ / ج: ۵ . البحر الرائق / ص: ۱۰۷ / ج: ٦)

سوال:......

مشتري (خريداران) خپل تجارتي خدمات و خوا ته متوجه کولو لپاره او د هغوی سره د ښه تعلقات قائم کولو لپاره هغوی ته هديه او تحفه ورکول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......تاجران، خریداران د خپل تجاري خدماتو و خوا ته د متوجه کولو لپاره او د هغوی سره د ښه تعلق قائمولو لپاره هغو ته هدیه او تحفه ورکول او په قیمتو کي رعایتونه او سهولتونه ورکول ښه عمل دی، په دا رقم کولو سره دخریدارانو په زړو کي د دې تاجر محبت، عظمت او احترام پیدا کیږي او د هغوی په دعاوو حاصلولو سره په تجارت کي خیر و برکت راځي، د سودا او مارکیټینګ لپاره هدیه تحفې ورکولو عمل اختیارول ښه دی:

"عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ یقول تهادوا تحابو" (الادب المفرد للبخاری / ص: ۲۰۸، رقم الحدیث ٥٩٤ ـ السنن الکبری للبیهقی / ص: ١٦٩ / ج: ٦ ـ فیض القدیر / ص: ١٤٩ / ج: ٤، رقم الحدیث: ٣٣٧٣)

خو که چیري هدیه شراب، خنزیر، یا د دهوکې سودي معامله او تجارانو ته تاوان رسول یا حرام اوناجائز معاملاتو ته د رواج ورکولو په خاطر وو نو په داسي حالاتو کي هدیه ورکول ناجائز او حرام ده. (الفتاوی الهندیة / ص: ۳۴۲ / ج: ۵) (الاشباه والنظائر / ص: ۱۱۳، قاعده الثانیة) (مجمع الانهر / ص: ۱۸۶ / ج: ۴) (خانیه علی هامش الهندیه / ص: ۴۰۰ / ج: ۳) (الشامیه / ص: ۴۰۲ / ج: ۶) الشامیه / ص: ۳۵۰ / ج: ۶) (حجة الله البالغة / ص: ۱۹۲ / ج: ۲)

سوال: ......

د مشتري په پیسو سره چي مال رانیسي پر هغه باندي په کته سره خرخول دا څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چیري یو سړی باقاعده

تـاجـر دی، خـو د ده سـره فی الحال د تجارت كولو لپاره پیسې نستـه، ده لـه ګیـراک څخـه مـخـكې پیشـكې پیسې وصول كړې پـه هغو سره یې مال رانیـوی یا یې تیار كړ بیا یې پر ګیراک باندې پـه ګټـه خرڅ كړ، نو دا جائز دی او د تـاجـر لپـاره ګټـه حلالـه ده ځكه چې ګیراک خو دی خپـل وكيـل نـه دی جوړ كړی بلكه د ده سره یې عقد وكړ .

"كـل شيـئ تـعـومـل استـصـنـاعه يصح فيه الاستصناع على الاطلاق"(شرح المـجـلة لـرسـتـم بـاز / ص: ۱۷۵ / ج: ۱ ، ماده : ۳۸۹) (بحوث فی قضايا فقهية معاصـرة / ص: ٦٧ / ج: ١) (فقه البيوع على المذاهب الأربعة / ص: ٦٠٥ / : ٦٠٦) ج ١ (فتاوى دارالعلوم ديوبند / ص: ٣٠٢ / ج: ١٤)

سـوال:......

خـو كـه چیـرې بـاقـاعـده تـاجـر نـه وو نـو بیا د مشـتري پـه پیسـو سره نفع ګټلای سي او كنه؟

الـجـواب بـاسـم المـلـهـم الصدق والصواب: ...... كـه چیـرې یـو سـړی باقاعده تـاجـر نـه وو، ده تـه یـو چـا د مـال رانیـولو لپاره پیسې وركړې نو دی بیا د سامان رانیـولو وكیـل دی، دی پـه هغـه پیسـو كې نفع نسي ګټلای .

"عـن ابـی حـرة الـرقـاشی، عن عمه رضی الله تعالى عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ألا لا تـظـلـمـوا، ألا لا يحل مال امرئ إلا بطيب نفس منه"(مشكوة الـمـصـابـيـح / ص: ۲۵۵ ـ شـرح الـحـمـوی / ص: ٤٤٤ / ج: ٢ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ٥١ / ج: ١ ، ماده : ٩٢)

"وكیل كو یہ جائز نہیں كہ مؤكل كے روپیہ سے بدون اسكے اجازت كے نفع حاصل كرے"(امداد الاحكام/ص:۴۴۴/ج:۴)

سوال:......
مشتري رانیولی شی مخته پر یو بل چا باندي خرڅ کړی بیا يې د هغه اقاله وکړه بیا په دې سودا کي په داسي عیب باندي خبر سو چي هغه د بائع سره معیوب سوی وو اوس يې دی بائع ته بیرته ورکولای سي او که نه؟
الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......په داسي صورت کي يې بائع ته بیرته نسي واپس کولای ځکه چي دمخه بائع په حق کي اقاله نوې بیع د کواکي اوس خریدار دا شی د خپل خریدار څخه رانیولی دی:
"اذا باع المشتری المبیع من آخر، ثم تقایلا، ثم اطلع علی عیب کان فی ید البائع فاراد أن یرده علی البائع لیس له ذلك، لانه بیع فی حقه فکأنه اشتراه من المشتری "بحر(الشامیة / ص: ۱۲۷ / ج: ۵)(البحر الرائق / ص: ۱۰٤ / ج: ٦ ـ تبیین الحقائق / ص: ۷۲ / ج: ٤ ـ مجمع الانهر / ص: ۱۰۳)ج ۳
سوال:......
رانیولی مال د را رسېدو دمخه خرڅول، که چیري یو تاجر د کمپنۍ، کارخانې، دکان، یا دیو بل ښار څخه مال راوغوښتی، مال خرڅولو والا، ډاک خانه یا موټر، جهاز یا کښتۍ په ذریعه سره د خریدار رانیولی مال را روان کړی نو خریدار دا مال خپل ځان ته د را رسېدو دمخه پر بل چا باندي خرڅولای سي او که نه؟
الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......په دې اړه تفصیل دا دی: چي مشتري د مال رانیولو وروسته که چیري بائع ته وویل چي زما دا مال و فلانکي موټر یا فلانکي جهاز یا فلانکۍ اډې والا په لاس یا کښتۍ په ذریعه ما ته را واستوه او کرایه هم مشتري ادا کړي یا فی الحال يې بائع ادا

کړي خو بيا وروستـه د حساب او دبل سره مشـتري و بائع ته هغه د کرايه روپۍ هم ادا کړي نو په دې صورت کې چې بائع کله د مشـتري مال د جهاز يا اډې والا پـه حوالـه کړي نو هغه مال د بائع د ضمان څخه وزي د مشـتري پـه ضـمان کـې راځي . او په دې سره د مشـتري قبضه ثابتيږي او مشـتري يې مخـتـه خرڅولای سي . او که چيري بائع خپله مال خرڅ کړی او کرايه يې هـم خپلـه ادا کـړه نـو پـه دې صورت کې د مشـتري قبضـه هغـه وخت ثابتيږي چې کله مال ده ته ور ورسيږي او مشـتري هغه مال د وصول کولو دمخـه نـه سي خرڅولای، د دې وجهې څخه که مال په لاره کې هلاک سي نو په اول صورت کې د مشتري تاوان کيږي او په دويم صورت کې د بائع تاوان کيږي:

"اذا قال المشترى للبائع ابعث الىّ إبنى و استأجر البائع رجلاً يحمله إلى ابنـه فهـذا ليـس بقبض والأجر علـى البائع ، إلا أن يقول : استاجر علىّ من يحمله ، فقبض الأجير يكون قبض المشترى ان صدقه أنهِ استأجر و دفع اليه ، و إن أنـكـر استـجاره و الـدفـع اليه فالقول له ، كذا فى التتارخانية"(الفتاوى الهندية / ص: ١٩ / ج: ٣) (الفتاوى التاتارخانية / ص: ٢٦٣ / ج: ٨)

قبض الـوكيل بـمـنزلة قبض الـمؤكل من حيث إن الوكيل فى القبض عامل للمؤكل ، ألا ترى أنه لو هلك فى يد الوكيل ،كان بمنزلة ما لو هلك فى يد الـمؤكل۔ الـمحيط البرهانى / ص: ٤٥٣ / ج: ١٠ ۔ مجمع الانهر / ص: ١١٣ / ج: ٣ ۔ البحـر الرائق ، كتاب البيوع باب المرابحة والتولية ، فصل فى بيان التصرف فى المبيع ۔ الفتاوى الهندية / ص: ٥٨١ / ج: ٢ ۔ شرح المجلة لرستم باز / ص: ٦١٣ / ج: ٢ ۔ المادة: ١٤٦٢)

سـوال:......

رانیول سوی شی بیرته نه واپس کیږي دا څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... بعضي مسلمان تاجر حضرات په خپل دکان کي دا اعلان ولیکي چي ''خریدا ہو مال واپس نہیں ہوگا'' راویږ ځروي دا دیو مسلمان تاجر لپاره بالکل مناسب نه ده، په دې سره د خلکو اعتماد ختمیږي او شی هم لږ خرڅیږي او خیر و برکت ختمیږي اود اجر و ثواب څخه هم محروم کیږي:

''وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من أقال مسلماً أقاله الله عثرته یوم القیامة''(مشکوة المصابیح / ص: ۲٤۹ ـ سنن ابی داؤد / ص: ۱۳٤ / ج: ۲ ـ البحر الرائق / ص: ۱۰۲ـج ٦ مرقاة المفاتیح / ص: ۹۱ / ج: ٦)

سـوال:......

دکاندار لکولي وي یا یې لیکلي وي چي '' خریدا ہو مال واپس نہیں ہوگا'' په دې شرط باندي سودا خرڅول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......بعضي دکاندارانو په خپلو دکانو کي لیکلي وي چي '' د رانیول سوي مال واپسي یا تبدیلي نه کیږي'' په دې شرط باندي سودا خرڅول صحیح نه ده ځکه چي دا شرط صحیح نه دی په دې کي تاوان او د اصل حقیقت پټولو اندېښنه وي او دا شرط دعیب څخه د برأت لپاره کافي نه دی نو د دې وجهي که چیري په رانیول سوي شي کي عیب وي نو د مشتري لپاره د واپس کولو یا بدلولو اختیار سته . د دې عبارت د وجهي د مشتري څخه د واپس کولو یا

بدلولو چې کوم اختيار ختم کيږي هغه د شريعت خلاف دى .

"خيار العيب حق يثبت للمشترى لرد المبيع بسبب عيب كان فى المبيع وقت الشراء ولم يطلع عليه واصله دلالة قوله تعالى ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ ﴾(النساء: ۲۹) فدلت الآية على ان عدم الرضا يمنع صحة البيع فإن فقد الرضا من أصله ، لا يتحقق البيع شرعًا ، وان اختل رضا المشترى بسبب العيب فإنه يوجب الخيار وفيه ، اثباتًا للحكم على قدر الدليل ، و قد وردت السنة بهذا الخيار ايضاً ... و فى هذا يتميز الفقه الاسلامى عن بعض القوانين الوضعية التى تخالفت الشريعة الاسلامية من جهتين: الجهة الأولى : ان بعض القوانين الوضعية لا تسلم مسئولية البائع فى الإفصاح عن العيوب الخفية فى المبيع بل تعتقد أن من مسئولية المشترى ان يتأكد من سلامة المبيع بنفسه ... فإن اطلع المشترى على عيب فى المبيع بعد الشراء فلا يحق له الرد ، و إن هذا الاصل معروف عندهم بالمثل القائل (حذر المشترى).... "(انظر فقه البيوع على مذاهب الأربعة / ص: ۸۲٦ـ ۸۳۲ / ج: ۲ ـ المغنى لابن قدامة / ص: ۲۵۷ / ج: ٤ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ۱٤۳ / ج: ۱)

سوال :......

يو مشتري سودا وکړه يا د رانيولو خبره يې وکړه د دکاندار سره بل سړي راغلى وايي زه تر ده زياتي روپۍ درکوم ما ته يې راکړه دا سودا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... يو کيراک د دکاندار څخه سامان رانيوى، يا يې د رانيولو خبره وکړه د دکاندار سره او قيمت وغيره

يــې مـعـلـوم كـړل، اوس بـل سـړى راغـى او دكـانـدار تـه وايي چي پر مايې خـر ځ كـړه زه تـر ده زيات قيمت دركوم نو دا جواز نلري . تر څو پوري چي اول گيراک دِ رانيولو څخه انكار و نه كړي په عامه توگه سره، په مځكه، مكان، دكان وغيره كي خلک دا رقم كوي دا ناجائز دى:

"وعن ابى هريرة رضى الله عنه : أن رسول الله ﷺ قال لا يسم المسلم علىٰ المسلم قوله : لا يسم الخ ، قال فى الفتح : و شرطه أن يتراضيا بثمن و يقع الركون به ، فيجئ آخر فيدفع للمالك اكثر ، او مثله .... و قال الموافق فى المغنى : روى مسلم عن أبى هريرة أن رسول الله ﷺ قال : و لايسم الرجل على سوم أخيه و لا يخلو من أربعة اقسام : احدها أن يوجد من البائع تصريح بالرضا بالبيع فهذا يحرم السوم على غير ذلك المشترى ، و هو الذى تناوله النهى الثانى : أن يظهر منه ما يدل على عدم الرضافلا يحرم السوم (إعلاء السنن / ص: ١٨٩، ١٩١ ـ / ج: ١٤)(المغنى لابن قدامة / ص: ٣٠٠ / ج: ٤)

عن ابن عمر رضى الله عنهما عن النبى ﷺ قال : لا يبيع الرجل على بيع اخيه الحديث(صحيح مسلم / ص: ٣ / ج: ٢)"

د حضرت ابن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دى چي نبي عليه السلام وويل ستاسو څخه يو دي د خپل ورور پر بيع باندي بيع نه كوي . (و ايضاً فى السنن الكبرى للبيهقى / ص: ٣٤٦ / ج:٥) (صحيح ابن حبان / ص: ٣٣٩ / ج: ١١)

ســوال:......

د رانيولو د(سودا كولو) په وخت كي د تحقيق ضرورت ستــه او كه نه؟

الـجـواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... پـه بازار كي د يو شي رانيولو

په وخت كي د تحقيق ضرورت نسته كه چيري په اتفاق سره تحقيق ياغالبه گمان سره معلوم سي چي خرڅولو والا په ناجائز طريقه سره شی رانيسي بيا يې خرڅوي نو بيا د هغه رانيول جائز نه دي كه چيري د ناجائز كېدو تحقيق غالبه گمان نه وي نو هغه رانيول جائز دی:

”قوله تعالى : و لا تجسسوا (سورة الحجرات : ۱۲) و حمل فعل المسلم على الصحة و الحل و اجب ماامكن إلا أن تقوم البينة (المبسوط للامام السرخسی / ص: ٦۲ / ج: ۱۷ ـ القواعد الفقهية ، رقم القاعدة : ٥۲ ، ٦۳)“

سـوال :......

گيراک يو دكاندار ته راسي چي فلانكی شی مثلا فريج وغيره رانيسه پر ما باندي يې خرڅ كړه دا مالدار يا دكاندار ته روپۍ وركړي د رانيولو وكيل يې جوړ كړي چي ته يې اول زما لپاره رانيسه د دې لپاره چي بيا وروسته ته په دې مال كي څه نقص ياعيب را ونه ښيي، بيا وروسته يې دويم وار زما څخه رانيسه د ځان لپاره، گيراک په خوشحالي سره دا شرط قبول كړي او د رانيولو وعده يې وكړه، د داسي صورت څه حكم دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... د دې صورت حكم دا دی چي د عيب ور ښولو په شرط سره د ده حق نه ساقطيږي، كه چيري گيراک لره د خپل ځان دپاره د رانيولو په وخت كي په عيب او نقص باندي خبر سي نو د گيراک لپاره شرعاً دا حق سته چي د دې عيب او نقص په وجه سره مال نه رانيسي، مالدار يا دكاندار گيراک پر رانيولو باندي مجبوره كول جائز نه دي:

”قال النووی : أجمعوا على أنّ من وعد إنساناً شيئاً ليس بمنهی عنه ، فينبغی أي يفی بوعده ، و هل ذلك واجب او مستحب ؟ فيه خلاف ذهب

الشافعی و ابو حنيفة و الجمهور إلى أنه مستحب فلو تركه فإنه الفضل و ارتكب المكروه كراهة شديدة و لا يأثم يعني من حيث هو خلف و إن كان يأثم إن قصد به الأذیٰ ، قال : و ذهب جماعة إلى انه واجب..... ثم إذا فهم مع ذلك الجزم في الوعد فلا بد من الوفاء إلّا أن يتعذر "(مرقاة المفاتيح / ص: ٦٢٨ / ج: ٨ ـ رقم الحديث :٤٨٩٢)(تحفة الأحوذی ص١٢١ / ج: ٦)(عون المعبود ص٢٢٨٦ / ج: ٢)(امداد الفتاوی ص٤١ / ج: ٣)(فتح القدير / ص: ٤٥٥ / ج: ٥)

.❁❁❁.

سوال﴾

رأس المال څه ته وائی

جواب﴾

رأس المال وه اصل سرمایه ته ویل کیږی رأس المال عبادة عن السرماية ﴿شر ح المجلة لرستم باز

﴿۱﴾ په شرکت کښې رأس المال باید ده نقد په صورت کښې وي .

﴿۲﴾ سامان جائیداد وغیره که چیری اصل سرمایه جوړه وي نو پکار داده چي هغه خر څ کړی ده هغه قیمت په شرکت کښې داخل شي .

يشرط ان يكو ن رأس المال من قبيل النقود﴿شر ح المجلة لرستم باز ۲ .٥٦۲﴾ المادة ۱۳۳۸ الكتاب العاشر فی النواع الشركات الفصل الثالث فی بيان الشروط الخاصه بشركة الاموال مكتبه فاروقيه .

﴿۳﴾ د مال تناسب واضح پکار دی مثلاً ده یوه شریک څلویښت ۰۰ا فیصد او د بل شریک شپیته ٦۰ فی صده سرمایه وي .

ثم يبين مقدار رأس مال كل واحد منهما لان عند القسمة لا بد من

تحصيل راء س المال كل واحد منهما ليظهر الرابح فلا بد من اعلام ذلك في كتاب الشركة ليرجعا اليه عند المنازعة ﴿المبسوط للسرخسي ﴿١١. ٥٦﴾ كتاب الشركة دار المعرفت ﴾

سوال﴾

د خلكو په زمه كښې پور په سرمايه كښې حسابيږى كه يا .

﴿۴﴾ ده خلكو په زمه چې كم قرض دى هغه ده وصول بغيره ده شركت سرمايه نشي جوړيدلې .

يشترط ان يكون رأس مال الشركة عيناً ولا يكون دينا اى لا يكون المطلوب من ذمم الناس رأس مال للشركة مثلاً ليس لاثنين ان يتخذا دينهما الذى فى ذمة آخر رأس مال للشركة فيعقد عليه الشركة ايضاً شرح المجلة لرستم باز ﴿٢. ٥٦٢﴾ بدائع الصنائع ٦. ٦٠﴾ الدر مع الرد ٥. ٦٢٨﴾

سوال﴾

كه چيري سرمايه نقده نه وه نو داسي شركت كول چي دهغه سامان بازاري قيمت ولكول سي په رأس المال كي دهغه شريك دحصي تعين وسي نو دا جائز ده او كنه؟ كه سرمايه نقد نوه په زارلى اشياء نو چي په بازار سامان وي هغه خرڅوى بيا ئى سرمايه كوي جائز دى كه نه؟

جواب﴾

كه چيرى سرمايه نقد نه وه نو داسى شركت كول ي د هغه سامان بازارى قيمت وه لكوى په رأس المال كښې ده هغه شريک ده حصي تعين وسى دا ده امام محمد او امام مالک رحمهما الله په نزديک درست دى .

جواب﴾

ده احنافو په نزديک درست نه دی .
فاما العروض فلا تجوز الشركة فيما فی ظاهر المذهب نص عليه أحمد فی رواية أبی طالب و حرب و حكاه عنده ابن المنذز و عن أحمد رواية اخری ان الشركة والمضاربة تجوز بالعروض و تجعل قيمتها وقت العقد رأس المال و هو قول مالک المغنی لا بن قدامة ﴿۷ .۱۲۴﴾ كتاب الشركة فصل شركة العنان هجر قاهرة و قال الامام مالک لا يشرط كون رأس مال الشركة نقداً و انما تصح الشركة فی الدراهم والدنانير كما تصح فی العروض سواء اتفقا جنساً أو اختلفا و تكون الشركة فی العروض مقدرة بقيمتها الفقه الاسلامی و أدلته . ﴿۴ .۸۰۸﴾
سوال﴾
په عامه لار باندی خريداو فروخت كول جائز دی كه نه .
جواب﴾
عامه لاره ده عامه خلكو په مابين كښی مشتركه وی تولو ته د تلو راتلو اجازه وي ده دې وجی پر عامه لاره كښينښتل ده خريد و فروخت ده جواز ده پاره يو څو شرطونه دی ۱ ده خريدو فروخت ده پاره په لاره كښی ناستـه چي د عامو خلكو په آمدو رفت كښی څه فريشانی نه وي .
۴ او د هغه څخه يی يو عاقل او بالغ منع نه كړی ۲ ده حكومت له طرف څخه اجازه وی .
او كه چيرته په لاره كښی ده تجارت په وجه و عامو خلكو ته په تيريدو كښی تكليف وي يا عاقل و بالغ ده هغه څخه منع كوی او د حكومت له طرف څخه هم اجازت نوی نو پر عامه لاره كښينستل خريد و

فروخت کول جائز ندی.

والعقود فی الطریق لبیع و شراء یجوز ان لم بضر بأحد والا لا علی هذ التفصیل السابق الخ.

الدر مع الرد ﴿٢_٥٩٢﴾ کتاب الدیات باب ما یحدثه الرجل فی الطریق وغیره ط سعید مجمع الانهر ﴿٤. ٣٦٠﴾ کتاب الدیات باب ما یحدث فی الطریق . دار الکتب العلمیة﴾

تسبین الحقائق ٦. ١٤٢ کتاب الدیات باب ما یحدثه الرجل فی الطریق ط امدادیه.

سوال﴾

ایا ده څرک غاړه ده خپله ذاتی مفاد ده پاه استعمال کول او په هغه باندی نفع اخستل څنګه دی.

جواب﴾

عامه لاره او سړک ده حکومت ملکیت وی او دا ده عامو خلکو د تګ کولو د پاره جوړیږی بعضی خلک ده لاری کناره ده خپلی ذاتی ځمکی په رقم په خپل دکان مکان او خپله ځمکه کښی شامله وي او دکان وغیره په هغه باندی فراخه وي نو ده لاری ده تنګی په وجه خلکو ته تکلیف وي.

دغه رنګه لاری تنګه ول ده حکومت پر ځمکو قبضه کول په دکان کور وغیره کښی شامله ول ګناه کبیره ده.

الکبیرة السابعة والعشرون بعد المائتین الغصب و هو استیلاء علی مال الغیر ظلماً الزواجر عن اقتراف الکبائر ﴿١. ٤٣٤﴾

باب الغصب الکبیرة السابعة والعشرون بعد المائتین الغصب ط

دار الكفر ﴾ الكبائر لذهبی ص١٢٣ الكبيرة الثامنه والعشرون اكل الحرام و تناوله علي اى وجه كان ط وحيدی كتب خانه راشن كارډ

سوال﴾

نن صبا په بعضو ممالكو كښې ده حكومت له طرفه څخه راشن كارډ ملاويږی بيا د هغه په وجه باندی سامان په كم قيمت ملاويږی بعض خلك په راشن كارډ ده سامان اخيستلو وروسته هغه سامان په زيات قيمت باندی خرڅه وی دا جائز دی ولی چې په راشن كارډ ده سامان اخيستلو وروسته اخيستلو والا مالك جوړيږی او مالك چې خپل سامان په كم قيمت باندی وغواړی ده خرڅه ولو حق لری او رقم ئې هم حلال دی هال كه چيری ده قانون خلاف وی نو د هغه څخه ځان ساتل بهتره دی ده پاره ده دې چې ده گرفتاری او بې عزتی خطره پاته نشی.

رائيلټی

سوال﴾

بعض خلك ده كتابو رائيلټی وصوله وی او د هغه طريقه دا وی چې مصنف ده خپل كتاب ده طباعت حق وه يو سړی يا يو ادارې ته وركوی او دا معاهده كوی كه چيری زر ١٠٠٠ كتابه چهاپ سوی دی نو مصنف ته زراو كه دوه زره چهاپ سوی دی نو مصنف ته ده زره روپی ملاويږی باقی كتاب او د هغه څخه حاصل شده رقم ناشر ته ملاويږی وه دغسی معاملې ته رائيلټی وائی رائيلټی آخيستل درست ندی ولی چې داده حقوق مجرده وو څخه دی ولا يجوز الاعتياض عن المجردة كحق الشفعة الدر مع الر ﴿٤. ٥١٩﴾ كتاب السيوع ط سعيد

﴿۲﴾ یا داده مسودې قیمت دی عام طور چې کمه طریقه رواج ده هغه دا چې ناشر خومره واره طباعت و اشاعت کوی هر وار دمره فی صد کتابونه بیا د هغه قیمت مصنف ته ورکوی نو په دې کښې ده مسودې قیمت مجهول له یا ته کیږی او دا ده جګړې باعث ګرزی په داسی جهالت سره بیع فاسده ده. و منها ای شرائط صحة البیع ﴾ ان یکون المبیع معلوماً و ثمنه معلوما علما یمنع من المنازعة کان احدهما مجهولا جهالة مفضیة الی المناعة فسد البیع بدائع الصنائع ﴿۵.۱٥٦﴾ کتاب البیوع و اما شرائط الصحة فانواع سعید.

سوال﴾

درجستړی مصارف پر چادی ده محکمی دکان مکان او دفتر ټوله مصارف ده خریادر پر ذمه دی ولی چې درجستړی ټوله کاغذات ده خریدار پر نامه جوړیږی. الغرم بالغنم یعنی من ینال نفع شیء یحتمل ضرره شرح المجلة لرسم باز ﴿۴۸۱﴾ الماده ۸۷ المقالة الثانیه فی بیان القواعد الکلیة الفقهیه ط فاروقیه.

سوال﴾

بیع په څه تامیږی په ایجاب او قبول او یا په بل شي؟

جواب﴾

د بائع او مشتری په مابین کښی د ایجاب او قبول په وجه بیع تامیږی د هغه وروسته یو هم د هغه بل ده د رضا مندی بغیره رجوع نشي کولی و اذا حصل الایجاب و القبول لزم البیع ولا خیار لواحد منهما الامن عیب او عدم روئیة الهدایة ﴿۳.۲۰.۲۱ کتاب البیوع ط رحمانیه.

سوال﴿

په معاملو کې حیلې جوړول بیا معاملې کول جائز دی

جواب﴿

په یو معامله کښې حیله کول یار رخصتونه تلاشه ول جائز هم دی او نا جائز هم دی ده دې وجې ده حیله کولو او رخصت تلاشه ولو څخه د مخه ده جائز او نا جائز تمیز ضروری دی .ورنه بیا په یهودو او مسلمانانو کښی هیڅ فرق هم نه پاتیږئ یهودو معمولی حیله وکړه حرام په حلال وګنړل کچیری ده حیلې کولو په وجه د بل انسان حق باطل لیدل لازم راځی نو هغه حیله جائز نه ده ده شفعی ده حق ده باطلیدلو په وجه حیله کول جائز دی .

او د زکوة ده وجوب ده ساقط والی د پاره حیله کول جائز ندی ولی چې ددې په وجه ده فقراء وو حق باطل کیږی کل حیلة یحتال بها الرجل لا بطال حق الغیر او لا دخال شبهة فیه او لتمویه باطل فهو مکروهة الهندیة ﴿٦ .۳۹۰﴾ كتاب الحيل الفصل الول فی بیان جواز الحیل و عدم جوازها ط رشیدیه کوئټه الدر مع الرد﴿٦ .۲۴٦﴾ كتاب الشفعة باب ما یبطلها قبیل مطلب لا شفعة للمقر له بدار ط سعید﴾

سوال﴿

ده رزق حلال طلب کول فرض دی

جواب﴿

ده رزق حلال په سلسله کښی دومره محنت و مزدوری ضروری او فرض ده چې هغه ده ده او ده اهل و عیال د پاره کافی وی د هغه وروسته

باقی اوقات ده الله پاک په عبادت کښې تیره ول افضل دی کچیری یو سړی ده دې څخه زیات محنت اور مزدوری کوی چې د ضرورت څخه زائد مال جمع کړی نو دا ده واجب په درجه کښې نه دی بلکه ده مباح په درجه کښې دی په شرط ده دې چې د هغه څخه په فرائضو او واجباتو کښې خلل واقع نسي او ده حرامو ارتکاب نوی اور ده زائد مال حقوق ادا کړی عن عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه طلب کسب الحلال فریضة بعد الفریضة رواه البهیقی فی شعب الایمان مشکاة المصابیح ص٢٤٢ کتاب البیوع باب الکسب و طلب الحلال الفصل الثالث ط قدیمی.

سوال﴾

ده رزق ده تنګی د لیری کولو وظیقه

جواب﴾

ده رزق ده تنګی لیری کولو ده پاره داآیت کریمه وه واره واو یاست ربنا انزل علینا مائدة من السماء تکون لنا عیدا لاولنا و آخرنا و آیة منک وارزقنا وانت خیر الرازقین سورة المائدة ایت﴿١١٤﴾

سوال﴾

پر رسید یا چیک وغیره باندی تر مقرره تاریخ رقم زیادة لیکل

جواب﴾

پر رسید باندی ده حقیقی رقم څخه زیات رقم نو شته کول مسلمانانو ته پکار ده چې په صداقت دیانت او امانت داری سره معاملات وکړی په دروغو فریب او دهوکه سره معاملات وه نکړی اور نا حق ده

مسلمانانو مال وه نه خوري لهذا كه چيري يو سړي بل سړي ده دې د پاره واسته وي چي ته مالره يو شي واخله رايوړه نو هغه لره جائز ندي چي د قيمت خريد څخه زياتي پيسې واخلي او يا ده زياتو پيسو رسيد و ليكي.
يا ايها الذين امنو لا تاكلو اموالكم بينكم بالباطل سورة النساء آيت ۲۹﴾
داغه رنګه خر څولو والا لره پر رسيد باندي زيات رقم ليكل هم حرام دي او دا د ګناه او زياتي په كار كښي تعاون دي او په باطله طريقه سره ده خلكو ده مال خوړلو مترادف دي.
ولا تعاونوا على الاثم والعدوان و اتقو الله ان الله شديد العقاب المائدة ۲
ولا تعاو نوا على الاثم والعدو ن يعنى لا تعاونوا على ارتكاب المنهيات ولا على الظلم احكام القرآن للقر طبى ﴿۳.۱۹﴾ المائدة ۲ط :دار الكفر﴾
سوال﴾
په رشوت وركولو باندي آرډر حاصلول.
جواب﴾
ده تجارت د مخ پر بيو لو په خاطره يو اداري يا يو سړي ته رشوت وركول په هغه باندي آرډر حاصليول نا جائز او حرام دي پدې كښي نقصانات ډير او فائدې كمي دي بلكه ده نقصاناتو په مقابله كښي فائدې ده نه فائده برابري دي مزيد دا چي ده هغه څخه په ګرانښت كښي اضافه راځي او پر خريدارانو باندي بې ځايه بوج راځي چي هغه په قيمت كښي ده اضافې باعث ګرزي او بيا سامان هم كم خر څيږي او دا په ډيرو جرائمو كښي او انفرادي و اجتماعي نقصاناتو كښي ده اضافې ذريعه جوړيږي چي دهغه نقصانات بيا تر تاجره پوري رسيږي هغه بيا د هغو څخه ځان

نشي بچاولی مثلاً چي كله يو اداري ته رشوت وركول سي او آرډر حاصل
سي نو بل تاجر زيات رشوت وركوی او آرډر حاصليوی دغه رنګه
تجارت ته اجتمعاعی طور باندی نقصان رسيږی .
والاسلام يحرم الرشوة فی صورة كانت وبایٔ اسم سميت وتسميتها باسم
الهداية لا يخرجها عن دائرة الحرام الى الحلال الحلال والحرام فی
العلاقات الاجتماعية للقرضاوی ص۲۷۱ الرشوة لدفع الظلم ط
مكصطفیٰ البابی الحلبی مصر

سوال﴾

ده رشوت په رقم سره ده قبرستان د پاره ځائي اخيستل

جواب﴾

د رشوت رقم ناجائز اور حرام دی په هغه باندی ده قبرستان د پاره
ځائي اخيستل او په هغه كښی مسلمانان مړی ښخول جائز ندی .
او داسی رقم وه اصل مالک ته واپس كول ضروری دی كچيری ده مالک يا
ده هغه ورثاوو علم نه وو نو بيا ده ثواب په نيت پر داسی خلكو صدقه
كول ضروری دی چي هغه ده زكوة مستحق نوی .
مات رجل و كسبه من ثمن البازق والظلم و اخذ الرشوة تعود الورثة ولا يا
خذون منه شيئا و هو الاولی للهم و يردو نه علی اربابه ان عرفو لهم والا
يتصدقه لان سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد البحر
الرائق ﴿۸ـ ۲۰۱﴾ كتاب الكراهية فصل فی البيع ط سعيد﴾
كه چيری يو سړی ده دو كاندار څخه سامان واخستی او دو كاندار ده مقرره
قيمت څخه يو څه رقم واپس كړی نو دا په قيمت كښی د كمی يو صورت

دی لهـذا کـچیـری خـریـدار دا شئی دځان دپاره اخیستی وي نو واپس شده رقـم دده دپـاره حـلال د بـل چـا د پاره یو اداري دپاره آخسـیتلی وی نو واپس شـده رقـم ده ځانـه سره ایښودل جائز نه دی بلکه ده کم سړی یا کمی اداري د پـاره چی یی اخیستې وی هـغـه تـه واپـس کول لازم دی بعضی خلک ده سـر کـاری اداري یـا کـمپـنـی د پاره سامـان اخلی نو کـه چیری ده سامـان اخیستلو بـعـد دوکـانـدار وه هغه ته یو څه رقم واپس کړی نو هغه رقم وه سر کـای کـمـپـنـی یا اداري تـه واپسـه وال ضروری دی ده خریدار د پاره په استعمال کښی راوړل جائز نه دی.

﴿۱﴾ و فـی الـواقعات الحسامیة ولو امر رجلا ن ای یشتری له جاریة بالف فـاشتـر اهـا ثـم ان البـائـع و هـب الالف من الوکیـل فللوکیل ان یرجع علی الآمـر ولـو هـب مـنـه خمسی مائة لم یکن له ان یرجع علی الامر الا بخمس مـائة ولـو وهـب منه خمس مائة ثم وهب منه ایضاً الخمس مائة البا قیة لم یـرجـع الـوکیل علی الامر الا بالخمسة الاخری لا ن الاول حط والثانی هبة البحر الرائق ﴿۷ ـ۲۶۳﴾

کتاب الوکالة باب الوکالة بالبیع والشراء ط ﴿رشیدیه﴾

سوال﴾

په روژه مبارکه کښی ده بیکری سامان خرخول

جواب﴾

پـه روژه مبارکـه کښی ده ورځی ده بیـکری سامـان خر ځول جائز دی البتـه چي ده کم سړی په باره کښی دا معلومه وی چي هغه ده یو عذر بغیره ده ورځی ده خوړلو د پاره یو شئی اخلی نو پر هغه باندی خر څه ول جائز نه دی.

او ده لا عملی په صورت کښې خرڅه ول جائز دی

﴿۲﴾ و بیع العصیر ممن یتخذه خمرا و بیع الامرد ممن یعصیی به و اجازة البیت ممن یبیع فیه الخمر او یتخذ ها کنسیةً أو بیت نار و امثالها فکله مکروة تحریما بشرط ان یعلم البائع والاجر من دو ن تصریح به بالسان فانه ان لم یعلم کان معذوراً و ان علم و صر ح کان داخلاً فی الاعانة المحرمة جواهر الفقه﴿۲ .۴۰۲﴾ تفصیل الکلام فی مسئلة الا عانة علی الحرام ط مکتبه دارالعلوم کراچی .

سوال﴾

که یو سړی ده دوکاندار څخه یو شئی واخلی او د هغه سره د یو اضافی شي غوښتنه وکړی آیا ده دې اضافی شي خو ښتنه کول جائز دی او که نه دی جائز .

جواب﴾

ده سودا کولو په وقت کښې ده خرڅه ولو والا څخه ده خرید شده شی څخه علاوه یو بل شی وغواړی و هغه ته رنګا ویل کیږی؛ کیه چیری خر څه ولو والا په خپله خوښې ورکړی نو د هغه خوښتل او اخیستل جائز دی او دا ده مبیع جز جوړیږی لیکن ده دې رواج لازم بلل جائز نه دی بلکه پریښوول بهتره دی .

سوال﴾

ده رنګ په ډبو کښې نقدی پیسې و غیره ایښوول څنګه دی .

جواب﴾

بعضی کمپنیانی په خپلو مصنوعاتو کښې مثلاً ده رنګ کمپنی

ده رنګ په ډبه کښې ده کاريګر د پاره نقدي پيسې يا کارډ ايږدي دا کميشن ندي بلکه رشوت دی ده کاريګر ده پاره ده هغه رقم آخيستل جائز ندی.
او که چير دا رنګ مالک اخيستی وی او هغه رقم مالک ته ورکړلی نو بيا رشوت نه بلل کيږی

﴿١﴾ قال الله تعالى ﴿سماعون الكذب اكلون للسحت﴾ المائده ﴿٤٢ قال ابو بكر اتفق جميع المتأولين بهذه الاية على ان قبول الرشا محرم واتفقوا على انه من السحت الذى حرم الله تعالى احكام القرآن للجصاص ﴿٢ ٥٤١ باب قطع السارق ط دار الكتب العلمه عن عبد الله ابن عمرؓ قال لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم على الراشى والمرتشى ﴿جامع الترمذى ابواب البيوع باب ما جاء فى اكل الرباط ﴿سعيد﴾ لا يجوز لاحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعى ﴿شامى ﴿٤ . ٦١﴾ كتاب الحدود باب التعزير مطلب فى التعزير بأخذ المال ط ﴿سعيد﴾ و هكذا فى ﴿درر الحكام شرح مجله الاحكام ﴿١ .٩٨ الماده ٩٧ المقالة الثالة فى بيان قواعد الكلية الفقهية ط دار الجيل﴾ شرح المجة لخالد الاتاسى ﴿١ .٢٦٤. ٢٦٥ الماده ﴿٧٩ ط رشيديه.

سوال﴾

په روپيو پيسو بدلولو کښې ښته يعنی يو څو روپی کاته ول څنګه دی.

جواب﴾

ده پيسو بدله ولو په صورت کښې ده دواړو فريقو لطرفه څخه رقم

وی البتـه يـو فـريـق ده غـټ رقـم نـوټ ورکـوی او دوئـم فريق د هغه قيمت کشـنـی نـوټونـه آداکـوی نو دا بيع صرف کمی بيشی پکی جائز نده ولی چي دا د سود ده وجی حرام دی لهذا يو څه جنی کاته ول جائز ندی .

﴿۲﴾ ولا يـجـوز بيـع الـذهـب بـالـذهـب والفضة والفضة الا مثلا بمثل تبر کـان او مـصـنـوعـا او مـضـروبـاً الفتاوی الهندية ﴿۳ .۲۱۸﴾ کتاب الصرف الباب الثانی فی احکام العقد بالنظر انی المعقود عليه ط رشيديه .

الـصـرف بيـع الـنـقـد بـالـنقد﴾ ای بيع الثمن بالثمن و يشرط لصحة عدم التأجيل و خيار الشرط والتساوی و زنا والتقابض قبل الا فتراق اذا اتحدا جنسا ﴿شر ح المجلة لرستم باز ﴿۱ ﴿۵۷﴾ المادة ﴿۱۲۱ .

الـکـتـاب الاول فـی البيـو ع الـمقدمه فی الا صطلا حات الفقهيه المتعلقه بـالبيـو ع ط دار الـکـتـب الـعلمية البته کچيری ده دې ضرورت وی نو بيا متبـادل جـائـز صورت دادی چي دو کاندار چي کمی پيسې کاټوی کاټ دې کړی او د هـغـه پـه بـدلـه کـبنـی دې کراک ته معمولی شئی چاکليټ ټافی و غيـره ورکـړی د پاره ده دې چې هغه چاک ليټ ده کاټ سوو روپو په بدله کبنی شی او د سود څخه بچاؤ شي .

﴿۱﴾ واذا تبـا يعا فضة بفضة ووز ن أحد هما اکثر و مع الاقل منهما ش ئی آخـر مـن خـلاف جـنـسـه فـالبيـع جائـز فـانـکانت قيـمة الخلاف تبلغ قيـمة الـزيـادة أو أقل بما يتغا بن الناس فيه يجوز من غير کراهة و انکانت قلية کـالـفـلـس والجوزة والبضية و انما أدخلا ه ليجوز العقد فان العقد جائز مـن طـريق الحکم و لکنه مکروه الجو هرة النيرة ﴿۱ .۲٦۹﴾ کتاب البيو ع باب الصرف ط حقانيه﴾

الدر مع الرد﴿٥. ٢٦٥﴾ کتاب البیوع باب الصرف مطلب فی حکم بیع فضة بفضة قلیلة مع شئی آخر لا سقاط الربا ط سعید﴾
و هکذا فی الهدایة ﴿٣. ١١٤﴾ کتاب الصرف ط رحمانیه

سوال﴾
بعضی خلک ډوډی جمع کوی او بیائې خرڅوی نو آیا ده دې خرڅه ول جائز دی او که نه .

جواب﴾
بعضی خلک چې د ضرورت څخه زائد ډوډی او د هغه ټکړې جمع کړی او بیا به خرڅه وی نو دا شرعاً جائز دی ولی چی ده خرید و فروخت د پاره بنیادی طور د هغه شي مال متقومه قیمتی مال کیدل ضروری دی ډوډی او د ډوډی ټکړې مال مقتوم دی لهذا د هغه خرید و فروخت جائز دی .﴿٢﴾ و شرط ان یکون فی العقد عوضان کل واحد منهما مال لیتحق رکن البیع و هو مبادلة المال بالمال .
تبیین الحقائق ﴿٤. ٦١١ فصل فی قبض المشتری المبیع فی البیع الفاسد بامر البائع طه امدادیه ملتان﴾ و قید بقوله و کل من عوضه مال لیخرج البیع بالممیتة و کل مبیع باطل البحر الرائق﴿٦. ٩٢﴾
کتاب البیوع باب البیع الفاسد ط سعید﴾ حاشیه الشلبی علی هامش تبیین الحقائق﴿٤. ٣﴾ کتاب البیوع ط امدادیه ملتان .

﴿روزانه پر سیل سودا باندی نفع مقرر کول﴾
وه یو دوکاندار ته ده کاروبار د پاره ده رقم ورکولو په وقت کښی دا شرط لګول چې هر ورځ څومره سودا کیږی په هغه کی به ماته دومره نفع

راكوې دا درست ندى دا سود دى او دا شرط شرط فاسد دى.

﴿۱﴾ فان كان فيه منفعة لاحد المتعاقدين فالبيع فاسد لان الشرط باطل فى نفسه والمنتفع به غير راض بدونه فتتمكن المطالبة بينهما بهذا الشرط فلهذا فسد به البيع المبسوط لسرخسى ﴿۱۳. ۱۸﴾ باب البيوع اذا كان فيها شرط ط مكتبه غفاريه كوئته﴾

و فى الاشباه كل قرض جر نفعاً حرام اى اذا كان مشروطا كما علم مما نقله عن البحر ثم رأيت فى جواهر الفتاوى اذا كان مشروطا صار قرضا فيه منفعة و هو ربا والا فلا باس به الدر مع الرد ﴿۵. ۱٦٦﴾ كتاب البيوع باب المرابحة والتولية مطلب كل قرض جرنفعا حرام ط سعيد المبسوط لسرخسى ﴿۱۴. ۳۵﴾ كتاب الصرف باب القرض والصرف فيه ط دار المعرفة﴾

﴿رهن خرڅه ول﴾

كچيرى راهن يعنى رهن اېښودلو والا پر وقت مقرر باندى ده مرتهن ﴿ چي د چا سره په رهن اېښى وى﴾ قرض آدا نۀ كړى نو مرتهن ته ده راهن شئى خرڅه ول ده هغه څخه خپل حق حاصلول حق ستته.

﴿۱﴾ و ان مات الراهن باع وصية الرهن و قضى الدين لان الوصى قائم مقام الموصى ولو كان الموصى حيا كان له ان يبيع الرهن فكذا الوصية فان لم يكن له وصى نصب له القاضى و صيا و امر ببيعه﴾

و فعل ذلک الى القاضى لان القاضى نصب ناظرا لحقوق المسلمين اذا عجزوا عن النظر لانفسهم و قد تعين النظر فى نصب الوصى ليو دى ما عليه لغيره و يستو فى حقوقه من غيره تبيين الحقائق ﴿٦. ۹۳﴾ كتاب

الرهن باب التصرف فی الراهن ط امدادیه﴾ مجمع الانهر ﴿۴ .۳۰۳﴾ کتاب الرهن باب التصرف فی الرهن ط دار الکتب العلمیة ﴾
الاختیار تعلیل المختار ﴿۲ .۷۱﴾ آخر کتاب الرهن ط دار الکتب العلمیة ﴾

ده رهن شی چه له چا سره وی د هغه سړی ده پاره نفع حاصلول له هغه څخه او د هغه پیداوار آخیستل او د هغه کرایه آخیستل جائز نده .﴾

﴿۲﴾ لا یحل له ان ینتفع بشئی منه بوجه من الوجوه و ان اذن له الراهن لانه اذن له فی الربا لانه یستو فی دینه کاملا فتبقی له المنفعة فضلاً فیکون رباً الدر مع الرد ﴿٦ .۴۸۲﴾ کتاب الرهن ط سعید﴾ و فیه ایضاً ﴿۵ .١٦٦﴾ کتاب البیوع باب المرابحة و التولیة مطلب کل قرض جر نفعاً حرام ط سعید﴾

چی کله ده قرض رقم وصول شی نو هغه ده رهن شئی او د هغه څخه حاصله سوې آمدنی ټوله واپس کول لازم دی .

﴿۱﴾ و نماء الرهن کالولد و الثمر و اللبن و الصوف و الوبر و الا رش و نحو ذلک للراهن للولیده من ملکه الدر مع الرد ﴿٦ .۵۲۱﴾ کتاب الرهن بالتصرف فی الرهن و الجنایة علیه فصل فی مسائل متفرقه ط سعید تبین الحقائق ﴿۹۴۳٦﴾ کتاب الرهن فصل رهن عصیراً قیمة عشرة بعشرة فتخمر ط امدادیه ملتان ﴾

﴿ریټ مقرر کول﴾

کچیری دو کاندار و ه خریدار نو ته ده شئی ریټ لوړ کړی قیمت جنی آخلی نو حکومت دی ما هرینو سره مشوره وکړی ریټ دی مقرره کړی چې په

هغه کښې مالک ته نقصان نوی او عامو خلکو ته هم پریشانی نه وی او
ریټ کنټرولول شی وه دې ته په اصطلاح کښې تسعیر وائی.
﴿۲﴾ و ان کان ارباب الطعام یتحکمون علی المسلمین ویتعدون عن
القیمة تعدیا فاحشا و عجز القاضی عن صیانة عن حقوق المسلمین الا
بالتسعیر فلا باس بمشورة اهل الرای والبصر فاذا فعل ذلک ثم تعدی
رجل عن ذلک القدر فباعه بثمن فوقه اجازه القاضی یعنی امضاه ولم
یبطله﴾
المحیط البرهانی ﴿۸.۲٦۸﴾ کتاب البیوع الفصل الخامس والعشرون
فی البیاعات المکروهة﴾
فصل فی الاحتکار ط غفاریه کوئټه
فان باع باکثر مما سعره اجازه القاضی مجمع الانهر ﴿۴.۲۱۵﴾ کتاب
الکراهیة فصل فی البیع﴾
البحر الرائق ﴿۸.۳۷۱﴾ کتاب الکراهیة فصل فی البیع ط رشیدیه کوئټه.

﴿ده ریډیو په زریعه سره ده بیع صرف معامله مه کوی﴾

چی په کمو معاملاتو کښې په مجلس عقد کښې قبضه کول شرط دی
هغه معاملات ده ټیلی فون یا ریډیو یا انټرنیټ وغیره برقی آلاتو په
زریعه سره مه کوی﴾
ورنه عقد نه صحیح کیږی ولی چی پدې شیانو کښې پر دواړو عوضینو
په مجلس کښې قبضه کول شرط دی نو د ټیلی فون په ذریعه ده قبضې
بغیره داسی عقد کول جائز نه دی ده قبضې صورت دا کیدلی شی چی ده
عاقدینو شخه ده هر یوه وکیل په یو ځی کښې وی چی هغه په هغه

امسار کسی پر عوض باندی قبضه وکړی.

﴿۱﴾ و شرط فیه﴾ فی الصرف التقابض قبل لاندی بالابدن و کذا لونا دی أحدهما صاحبه من وراء جدار أو ناداه من بعید لم یجز لا نهما الافتراق بابدانهما کما فی البحر مجمع الانهر ﴿۲ .۱٦۱﴾ کتاب الصرف ط دار الکتب العلمیة﴾

الدر مع الرد﴿۵ .۲۵۳﴾ کتاب البیوع باب الصرف ط سعید قوله فلو تجانسا شرط التشامل والتقابض﴾ و اما لتقابض فا المراد التقابض قبل الافتراق بابدانها و اما الا فتراق با بدانها و کذا لو نادی احد هما صاحبه من وراء جدار او ناداه من بعید لم یجز لا نهما متفرقان با بدانهما و المعتبر افتراق المتعاقدین سواء کاناما لکین أو نا ما لکین أو نا ئبین کالاب والوصی والوکیل لان القبض من حقوق العقد و حقوقه متعلقه بهما البحر الرائق﴿٦ .۱۹۳﴾ کتاب الصرف ط سعید﴾

الاختیار للتعلیل المختار۲ .۳۹﴾ کتاب البیوع باب الصرف ط دار الکتب العلمیه و یجوز التوکیل بعقد الصرف والسلم لانه عقد یملکه بنفسه فیملک التوکیل به الهدایه ﴿۳ .۱۹۰﴾ کتاب الوکالة باب الوکالة بالبیع والشروط رحمانیه مجمع الانهر﴿۳ .۳۲۱﴾ کتاب الوکالة باب الوکالة بالبیع والشراء ط سعید﴾

الدر مع الرد﴿۵ .۵۱٦﴾ کتاب الوکالة باب الوکالة بالبیع والشروط دار الکتب العلمیه.

د ریډیو تجارت

ده ریډیو او ټیپ ریکارډر خرید و فروخت او مرمت درست دی کچیری

اخيستلو والا هغه غلط استعمالوى نو ګنا هګاره دى پر خرڅه ولو والا باندى هيڅ ذمه دارى نشته .

﴿۲﴾لا يكره بيع الجارية المغنيه والكبش النكلوح والديک المقاتل والحمامه الطيارة لانه ليس عينهما منكرا و انما المنكر فى استعمال المحظور ﴿قلت﴾ لكن هذه الاشياء تقام المعصية بعينها لكن ليست هى المقصود الاصلى منها فان العين الجارية للخدمت مثلا و الغناء عارض فلم تكن عين المنكر بخلاف السلاح فان المقصود الاصلى هو المحاربة به فكان عينه منكراً اذا بيع لاهل الفتنة فصار المراد بما تقام المعصية به ماكان عينه منكرا بلا عمل صنعة فخرج نحو الجارية المغنية لانها ليست عين المنكر .

شامى ﴿۴. ۲٦۸﴾ كتاب الجهاد و باب البغاة ط سعيد .

﴿د ريز كارى كشنى ماتو پيسو كاروبار كول﴾

ديو چا سره غټ نوټ وى وه هغه ته ده ماتو پيسو ضرورت وى نو هغه غټ نوټ وه بل سړى ته وركړى ماتى پيسې اخلى و هغه ته ريز كارى ويل كيږى .ده دې جائز طريقه داده چې ماتى پيسې ده غټ نوټ په برابر وركړل شى كمى زياتى نوى دا ده تعاون په وجه سره ده ثواب كارى ليكن ريزاكرى وركول يو كاروبار او تجارت جوړ سوى دى .

د بعضو كاروبار داوى چې ده يوه ملک د غټ نوټ وركړل سى نو هغه كشنى نوټونه ياسكې وركوى مګر د هغو ماليت برابر نوى بلكه كم وى مثلا چې ده سلو روپيو نوټ وركړى نو هغه بل ۹۵ روپى وركوى پنځه روپى ده هغه ګټه وى .

په شریعت کښې دا کاروبار نا جائز او حرام دی او د ه هغه څخه حاصل شده نفع ده سود د وجې نا جاز او حرامه ده ده یوه جنس ده کرنسی تبادله په کمی وو بیشی سره ده سود د وجی حرام دی او دا په بیع صرف کښې شامله ده .

﴿۱﴾ ان صور بیع الفلس بالفلسین أربع الاولی ان یبیع فلسا بغیر عینه بلفلسین بغیر اعیا نها لا خلاف فی عدم جوازها تبین الحقائق ﴿۴ .۹۱﴾ کتاب البیو ع باب الربا ط امدادیه و مشا یخنا لم یفتوا یجوز ذلک فی العدالی والغطارفة لا نها اعزا الاموال فی دیارنا فلو ابیج التفاضل فیه یفتح باب الربا ﴿الهدایه﴾ ﴿۳ .۱۱۵﴾ کتاب الصرف ط رحمانیه﴾

و قدمنا أ نفا ان مبادلة الفلوس بجنسها لا یجوز بالتفا ضل عند محمد رحمه الله و ینبغی ان یفتی بهذا القول فی هذا الزمان سد الباب الربا و علیه فلا یجوز مبادلة الاوراق النقدیة بجنسها متفا ضلة و یجوز اذا کانت متما ثلة تکمله فتح الملهم ﴿۱ .۵۹۰ کتاب المسا قات والمزارعة باب الرباء حکم الاوراق النقدیة ط دار العلوم کراچی .

﴿ریشم﴾

سوال﴾

ده وریښمو کپړې جوړول او خرڅه ول جائز دی .

جواب﴾

عن نافع عن عبدالله ان عمر رضی الله عنه رأی حلة سیرا تباع فقال یا رسول الله لو ابتعتها تلسبها للوفد اذا أتوک والجمعه قال انما یلبس هذه من لاخلا ق له و ان النبی صلی الله علیه وسلم بعث بعد ذلک الی عمر حله

سیراء حریر کسا ها اياه فقال عمر كسو تينها و قد سمعتک تقول فيها ما قلت فقال انما بعثت اليک لتبيعا أو تكسوها صحيح البخاری ﴿۲ .۸۶۸﴾ كتاب اللباس باب الحرير للنساء ط قديمی و فيه جواز بيع الرجال الثياب الحرير و تصرفهم فيها بالهبة والهدية لا اللبس فتح البادی ﴿۱۰ .۳۰۱﴾ كتاب اللباس باب الحرير للنساء ط دار المعرفة و فيه جواز بيع الحرير للرجال والنساء و هبة عمد القاری ﴿۶ .۳۸۷﴾ كتاب العبدين باب الحراب والدراق يوم العيد ط دار الكتب العلمية ولا باس بلبس القلانس غير حرير و صح انه حرام لبسها و فی الرد و صح انه حرم لبسها ای قلانس الحرير والذهب تامل الدر مع الرد ﴿۶ .۷۵۵﴾ كتاب الخنثى مسائل شتى ط سعيد البحر الرائق ﴿۸ .۳۴۹ كتاب الكراهية فصل فی اللبس ط رشيديه﴾

الفتاوی السراجيه ﴿ص۳۲۸﴾ كتاب الكراهية والاستحسان باب اللبس ط دار الكتب العلمية.

﴿ريشمی عمامه﴾

ده نارينه د پاره ريشم استعمالول حرام دی او ريشمی عمامه استعمالول هم حرام او نا جائز ده.

﴿۲﴾ ولا باس بلبس القلانس غير حرير و صح انه حرم لبسها و فی الرد و صح انه حرم لبسها ای قلانس الحرير والذهب تامل الدر مع الرد ﴿۶ .۷۵۵﴾ كتاب الخنثى مسائل شتى ط سعيد﴾

ده دې وجی ده نارينه وو ده استعمالول ده پاره د ريشمی عمامه خرڅه ول جائز ندی.

﴿۲﴾ و یکره ان یبیع المعکب المفضض من الرجال اذا علم انه یشتری لیلبس قاضی خان ﴿۲. ۲۸۱﴾ کتاب البیوع فصل فیما یخرجه عن الضمان فی البیع الفاسد والبیع المکروه ط رشیدیه شامی ﴿۶. ۳۹۲﴾ کتاب الحظر والاباحة . فصل فی البیع ط سعید﴾ تسبین الحقائق ﴿۶. ۲۹﴾ کتاب الکراهیة فصل فی البیع ط سعید﴾

﴿ریشم مصنوعی﴾

په موجود دور کښې چې څومره ریشمي کپړې مشهوره دی هغه ده مصنوعي ریشمو څخه جوړی سوی دی اصل ریشمو څخه ندی لهذا د هغه خرید و فروخت او تجارت درست دی .

﴿۱﴾ لا بأس بلبس الثیاب الجمیلة اذا کان لا ینکر علیه فیه البحر الرائق ﴿۸. ۳۴۹﴾ کتاب الکراهیة فصل فی اللبس ط رشیدیه مجمع الانهر ﴿۴. ۱۹۱﴾ کتاب الکراهیة ط دار الکتب العلمیة ان جواز البیع یدور مع حل الانتفاع به ﴿شافی﴾ ﴿۵. ۱۵﴾ کتاب البیوع باب البیع الفاسد مطلب فی تعریف المال﴾

البته کچیری ده یوې کپړې اصلي ریشم ثابت شي نو ده نارینه وو د پاره ده اصلي ریشمو جوړه سوې کپړا آغوستل حرام دی .

﴿۲﴾ و یکره ان یبیع المکعب المفضض من الرجال ان علم انه یشتری لیلبسه قاضی خان علی هامش الهندیة ﴿۲. ۲۸۱﴾ کتاب البیوع باب فی بیع مال الربا بعضه ببعض فصل فیما یخرجه عن الضمان فی البیع الفاسد والبیع المکروه ط رشیدیه و بیع المکعب المضض للرجل ان لیلبسه یکره لانه اعانة علی لبس الحرام شامی ﴿۶. ۳۹۲﴾ کتاب الحظر

والا باحة باب استبراي وغيره .

فصل فی البیع ط سعید

و ما كان سببا لمحظور فهو محظور شامي ﴿٦ .٣٥٠﴾ كتاب الحظر والا باحة قبيل فصل في اللبس ط سعيد﴾

البته ده زنانو د پاره ده خالصو ریشمو لباس آغوستل جائز دی ده دې ده وجې ده ښځو د پاره ده اصلي ریشمو څخه جوړی سوی کپړې تجارت او خرید و فروخت جائز دی.

﴿۳﴾ و يحل للنسآء لبس الحرير مجمع الانهر ﴿۴ .١٩٢﴾ كتاب الكراهية فصل في اللبس ط دار الكتب العلمية .

ان جواز البيع يدور مع حل الانتفاع به شامي ۵ .۵١﴾ كتاب البيوع باب البيع الفاسد مطلب في تعريف المال ط سعيد﴾

سوال﴾

زباني سودا جائز ده او كه نه ده

جواب﴾

كه چيري مبيع خرڅ سوی شي موجود نوی نو د بائع او مشتری په مابين كښې زباني سودا ده بيع معدوم په حكم كښې دی ولی چې ده مبيع بغيره په زباني سودا كيدلو سره بيع نه تا ميږی اور دغه رنګه سودا كول اور منافع آخيستل جائز ندی نن سبا پـه انتر نيټ وغيره باندی دغسی سوداوی کیږی ها کچیری ده زبانی سودا کیدو وروسته مشتری خریدار پر مبیع باندی قبضه وکړی بیا به پر مخ پر بل چا باندی خرڅ کړی نو دا [illegible] نفع اخيستل هم جائز ده . و منها في المبيع و هو ان

یکون موجودا فلا ینعقدون بیع المعدوم و ماله خطر العدم هندیه ﴿۳.۲﴾ کتاب البیوع الاباب الاول فی تعریف البیع ط رشیدیه﴾ الدر مع الرد﴿۵ .۵۲﴾ مشکاة المصابیح ص ۲۴۸ ط قدیمی﴾

سوال﴾

په زور زبر دستی باندی ایجاب قبول په چا باندی کول څنګه دی.

جواب﴾

ده بیع ده صحت لپاره ایجاب و قبول په رضا مندی باندی کیدل ضروری دی که چیری په زور باندی ایجاب و قبول په وکړی نو په هغه سره بیع فاسدیږی او په وروسته کښی ده مجبور سړی د پاره ده سودا ختمولو او باقی پاته کولو اختیار سته.

﴿۱﴾و منها الرضا فلا یصح بیع المکره اذا باع مکرها و سلم مکرها لعدم الرضاء بدائع الصنائع﴿۵ .۱۷٦﴾شامی ﴿۵ .۵۰﴾ الفقه الاسلامی وادلته﴿۴ .۳٦۰﴾

سوال﴾

په زر او کرنسی کښی څه فرق دی

جواب﴾

ده کرنسی په مقابله کښی زر عام دی ولی چی په هغه کښی ده کرنسی علاوه آشیاء هم شامل دی چی د هغه پر بنیاد باندی په معاشره کښی لین دین کیږی ده هغه بر عکس ده کرنسی اطلاق صرف پر کاغذی زر او دهاتی سکو باندی هم کیږی.

منید دا چی ده کرنسی په ذریعه ده آدا ئیګی په صورت کښی پر

دوئم فریق باندی په قانونی اعتبار سره قبلول ضروری دی جبکه ده عامو زرو په ذریعه ده ادائیگی په صورت کښی پر دوئم فریق باندی ده هغه قبلول لازم نه دی.

﴿۱﴾ اسلام او جدید معیشت و تجارت ص ۹۵ نظام زر ط ادارة المعارف.

شریعت ده زر په انتخاب کښی هیڅ قسم پابندی نده لګولې لیکن ده زر ده تخلیق کولو کلي اختیار یه صرف حکومت ته ورکړی دی ولی چی ده مالیاتی لین دین مکمل نظام ده زر پر بنیاد باندی دی.

کچیری وه هر سړی ته د خپل منشاء مطابق ده زر ده تخلیق اجازت ورکړل شی نو ټوله مالیاتی نظام به ده بد نظمی شکار جوړ شی او ملکی نظام به درهم برهم سی.

ده حاکم وقت علاوه هیچا ته هم ده کرنسی جوړه ولو اجازت نسته ولی چي دا پر هغه باندی ظلم دی او ده حاکم وقت دا حق دی چي کم سړئی ده ده دا حق سلب کړی نو دئی دی و هغه ته سزا ورکړی کڅه هم د هغه جوړه کړی کرنسی ده سونې او چاندی وی ﴿الموسوعة الفقهیه﴾ ده امام احمد رحمه الله قول دی چي درهم صرف ده حاکم وقت په اجازت سره په ټکسال ﴿هغه ځای چیری چي سکې جوړیږی﴾ کښی جوړیدلې سی ولی چي خلکو ته د هغه اجازت ورکړل سی نو په غټو مصیبتو کښی مبتلا کیږی.

﴿۲﴾ ولا یجوز لغیر الامام ضرب النقود لان فی ذلک افتیا تا علیه و یحق للامام تغزیر من افتات علیه فیما هو من حقوقه و سواء کان ما ضربه مخالفاً لضرب السلطان او موافقاله فی الوزن و نسبه الغش و فی

الجودة حتی لوکان من الذهب والفضة الخالصتین .
قال الامام احد فی روایة جعفر بن محمد لا یصلح ضرب الدراهم الافی دار الضرب باذن السلطان لان الناس ان رخص لهم رکبو العظام ﴿الموسوعة الفقهیه﴿۴۱. ۱۷۴. ۱۷۹﴾ حرف النون نقود حق اصدار الفقود ط وزارهة الاوقات والشئون للاسلامیه .﴾
امام نووی رحمه الله فرمائی چي د حاکم وقت علاوه هیچا ته هم ده دینارو دراهمو جوړه ولو اجازت نسته کځه هم هغه خالص وی ولی چی دا ده حاکم وقت حق دی .
او وه نورو خلکو ته په دې وجه هم اجازه نسته چي په هغه کښی ده جعل سازی او بیګاړ اندیشه ده .
﴿۱﴾ و یکره ایضا لغیره الامام ضرب الدراهم والدنانیر و ان کانت خالصة لانه من شأن الامام ولانه لا یؤمن فیه الغش والا فساد﴿المجموع شرح المذهب﴾ ﴿۶. ۱۱﴾ کتاب الزکاة باب زکاة الذهب والفقه ط دار الفکر .
سوال﴾
په زر ثمن باندی ده قبض څخه د مخه تصرف کول جائز دی او که ندی .
جواب﴾
هر شي ده خرڅه ولو څخه وروسته د هغه پر ثمن باندی ده قبضې کولو د مخه تصرف کول جائز دی مثلا په هغه باندی یو شئی آخیستل یا هغه هبه کول یا د هغه په عوض کښی یو شئی په کرایه باندی نیول یا د هغه په باره کښی وصیت کول جائز دی البته ده بیع صرف پر ثمن باندی یا پر مسلم فیه باندی ده قبضې څخه د مخه تصرف کول جائز نه دی .

﴿۲﴾ و تصرف في الثمن قبل القبض جائز بالبيع والهبة والاجارة والوصية سواء كان مما يتعين اولا يتعين عندنا سوى بدل الصرف والسلم لان الملک مطلق فتح القدير ﴿۶. ۵۱۸﴾ فصل من اشترى شئيا مما ينقل و يتحول ط مصطفي البابی الحلبی مصر﴾ بدائع الصنائع ﴿۵. ۲۳۴﴾ ط سعيد﴾

سوال﴾

زر ثمن بـه خا مخا د سره زر او ده سپین زر وی یا ده دې څخه علاوه هم کیدای شي

جواب﴾

ده اسلام په ابتدائی دور کښی مالیاتی لین دین ده سونې او چاندی د سکو پـه ذریعـه سره کیدی او د سونې سره نور سپین زر ده زر کیدلو صلاحیت یو مسلمـه حقیقت ذی لیکن شریعت ده زر کیدلو د پاره ده سونې چاندی ده سکو شرط نه دی لګولی مشهور مؤر خ احمد بن یحی بلا ذری لیکلی چي حضرت عمر رضی الله عنه په خپل دور کښی ده اوښانو ده پوستو څخه ده درهمو جوړه ولو اراده وکړه مګر بیا یه د دې خدشې څخه د اراده پر پښو وله چي دا رقم بیا اوښان ختمیږی چناچه بلا زری ده هغه دا قول نقل کړی دی.

هممت ان اجعل الدراهم من جلود الابل فقيل له اذا لا بعير فامسک ﴿۱﴾
فتو ح البلدان ﴿۵. ۶۵۹﴾ أمر النقود ﴿ط﴾ مكتبه المعارف

امام مالک رحمه الله فرمايلی دی کچیری خلک په خپل مابین کښی د چمړو په زریعه خرید و فروخت رائج کړی تر دې پوری چي هغه چمړې ده

ثمن او ده سکو حیثیت اختیار کړی نو زه دې سونې او ده چاندی په بدله کښی هغه چمړې په پور خر څه ول نه خوښه وم

﴿۲﴾ لو ان الناس اجازو بينهم الجلود حتى تكون لها سكة و عين لكرهتها ان تباع بالذهب والورق نظـرة المدونة الكبرىٰ﴾ ﴿۳ .۵﴾ كتاب الصرف التاخير فى صرف الفلوس ط دار الكتب العلميه.

سوال﴾

آیا ده مصنوعی زعفرانو خرید و فروخت کول جائز دی او که نه.

جواب﴾

په موجوده دور کښی زعفران هم جوړیږی چې هغه ده رنګ مزې او طبی فوائدو په لحاظ سره ده اصلی زعفرانو په رقم په هغه کښی هم پر ژبه باندی ده منښو ولو رنګ ورکولو کښی هغه کیفیت پیدا کیږی کم چی ده اصلی زعفران کیفیت وی نو داسی مصنوعی زعفران ته اصلی زعفران ویل او بیا خرڅه ول جائز ندی ها کچیری صفا وه وائی چې دا اصلی زعفران نه بلکه مصنوعی زعفران دی نو بیا د هغه خرڅه ول جائز دی ورنه ده دهوکه اور درواغو ده وجی نا جائز اور ګناه ده.

﴿۱﴾ عن حكم بن حرام عن النبى صلى الله عليه وسلم قالا البيعان بالخيار مالم يتفرقا فان صدقا و بينا بورك لهما فى بيعهما و ان كذبا و كما محقت بركت بيعهما. صحيح مسلم ﴿۶۲﴾ كتاب البيوع باب خيار المجلس للمتعاقدين ط قديمى. صحيح بخارى ﴿۱. ۲۷۹﴾

قوله و ان كتما اى و ان كتم البائع عيب السلعة والمشترى عيب الثمن عمدة القارى للعينى ﴿۱۱. ۲۷۸ كتاب البيوع باب اذا بين البيعان و لم

یکتما و نصحاط رشیدیه کوئټه .
شرح النووی علی صحیح المسلم﴿۲ .٦﴾ کتاب البیوع باب ثبوت خیار المجلس للمتعاقدین ط قدیمی سنن ابن ماجه﴿ص۱٦۲ باب من باع عیبا فلینبه ط قدیمی الدر مع الرد﴿۵ .۴۷﴾ کتاب البیوع باب خیار العیب ط سعید﴾

او کچیری په هغې کښې اصلی زعفران ملاؤ شی بیا هم وه هغه ته اصلی زعفران ویل بیا خرڅه ول ګناه او دهوکه ده .

﴿۱﴾ و عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مر علی صبرة طعام فادخل یده فیها فنالت اصابعه بللا فقال ما هذا یا صاحب الطعام قال اصابته السماء یا رسول الله قال افلا جعلته فوق الطعام حتی یراه الناس من غش فلیس منی مشکوة المصابیح ﴿۲۴۸﴾ کتاب البیوع باب المنهی عنهما البیوع الفصل الثانی ط قدیمی کراچی
سنن ابی داؤد﴿۲ .۱۳۳﴾ کتاب البیوع باب فی النهی عن الغش ط امدادیه ملتان فیض القدیر﴿۱۲ .۲۱۳۵﴾ ۲۱۳٦ نزار مصطفی البازمکة

سوال﴾

ده زقوم خریدو فروخت جائز دی او که نا جائز دی .

جواب﴾

ده زقوم میوه خوړل او د هغه خرڅه ول رانیول جائز او آمدنی یی حلاله ده .

زقوم ده جهنم درخت ده لیکن ده دنیا ده زقوم او د جهنم ده زقوم ده مځکی او ده آسمان فرق دی ده دنیا ده زقوم په میوه کښې ده حرمت هیڅ وجه هم نسته .

﴿۲﴾ بيع شرعا مبادلة شئی مرغوب فيه بمثله خرج غير المرغوب كتراب و ميتة و دم الدر مع الرد ﴿۴ .۵۰۲ كتاب البيوع ط سعيد .﴾ بدائع الصنائع ﴿۵ .۱۳۲﴾ كتاب البيوع ط سعيد البحر الرائق ﴿۵ .۲۵٦﴾ كتاب البيوع ط سعيد .

سوال﴾

آيا ده هغه تاجر څخه چې زكوة نه وركوى مال آخيستل جائز ده او كه نا جائز دى .

جواب﴾

ده زكـــــوة ده وجوب وروستــه زكوة نـه وركول ګناه ده د زكوة نـه وركولو والا هلاک كيږى البتـه ده داسى سړى څخه هلال مال اخيستل جائز دى ولى چې زكوة نـه وركول ګناه ده ليكن ده هغـه څخـه مال نـه حراميږى او حلال مال آخيستل جائز دى .او كچيرى مال حرام وى نو هغه خرڅول او رانيول جائز نه دى .

﴿۳﴾ منها عد منع الزكاة كبيرة هو ما اجمعوا عليه الزواجه عن اقتراف الكبائر ﴿۱ .۲۸۷﴾ كتاب الزكاة الكبيرة السابعه والثا منة والعشرون بعد المائة ترک الزكاة و تاخير ها بعد وجوبها لغير عذر شرعی ط دار الكفر الكبائر للذهبی ص ۱٦ الكبيرة الخامسة منع الزكاة ط قديمی غالب مال المهدی ان حلال لا بأس بقبول هدية و اكل مالم يتبين انه من حرام و ان كان غالب ماله الحرام لا يقبلها ولا يا كل الفتاوی البزازيه علی ها مش الهندية ﴿٦ .۳۲۰﴾ كتاب الكراهية الرابع فی الهديه والميراث ط رشيديه. مجمع الانهر ﴿۴ .۱۸٦ كتاب الكراهية الرابع فصل فی الكسب ط دار

الکتب العلمیه
مجموع الفتاوی لابن تیمیه ۲۹. ۲۴۲﴾ مکنیة الغبیکان سعودی عرب﴾
سوال﴾
د بل چا پر مځکه باندی قبضه کول څنګه دی.
جواب﴾
ده بل چا مځکه باندی قبضه کول ګناه کبیره ده نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی کم سړئی وه یو چا مځکه په ظلم سره اخلی یو موټ بالشت ﴿یعنی یو چاراک﴾ و هغه ته ده وو طبقو مځکو طوق ور په غاړه کیږی
﴿۲﴾ الکبیرة السابعة والعشرون بعد المائتین الغصب وهو استیلا علی مال الغیر ظلما الزواجر عن اقتراف الکبائر ﴿۱. ۴۲۴﴾ باب الغصب الکبیرة السابعة والعشرون بعد المائتین الغصب ﴿دار الکفر﴾
نن صبا ده بل چا پر مځکو باندی ده قبضې کولو متعددصورتونه دی مثلاً یو چا ده مکان ده جوړولو ده پاره د مځکی ټکرا یا پلاټ واخیستی مګر ده مالی کمزوری په وجه باندی په هر هغه باندی مکان نه کړی جوړ نو ووس بل سړئی پر هغه باندی قبضه کوی او متعلقه اداری ته پیسې ورکړی ده هغه څخه رجستری هم کوی مکان هم ورباندی جوړه وی او پر مخ باندی یه خر څوی هم دا نا جائز او حرام دی او ګټه یی حرامه ده.
﴿۱﴾ و عن ابی حرة الرقاشی عن عمه رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الا لا تظلموا الا لا یحل مال امری الا بطیب نفس منه مشکاة المصابیح ﴿ص۲۵۵ کتاب البیوع باب العصب والعاریه الفصل

الثانى ط قديمى . او ده داسى خلكو په باره كښې په حديث شريف كښې سخت وعيد راغلى دى .

الجامع الصغير و شرحه النافع الكبير ﴿ص۲۳۲ كتاب البيوع باب ما يجوز بيعه و ما لا يجوز ط عالم الكتب الدر مع الرد كتاب البيوع باب البيع الفاسد مطلب فى تعيين الدراهم فى العقد الفاسد ط سعيد﴾

يو صورت دا هم دى مثلاً ده الف مځكه ده او ب ده الف څخه مځكه مكان پلاټ وغيره رانيسى او قيمت هم ده ماركيټ ده ريټ مطابق وركولو ته تيار وى مگر الف د هغه ځاى پر خرڅه ولو باندى تيار نوى راضى نوى اليكن ب په خپل اثر ور سوخ باندى هغه ځاى حاصلول غواړى داسى زبر دستى بيع هم جائز نده .

ده حضرت عمر رضى الله عنه په دور كښې خپله حضرت عمر رضى الله عنه ده مسجد نبوى ده توسيع د پاره ده حضرت عباس رضى الله عنه مكان آخيستل وه غوښتل كم چي ده مسجد سره واقع وو او په توسيع كښې ركاوټ وو حضرت عمر رضى الله عنه وه حضرت عباس رضى الله عنه ته وويل چي جائز قيمت واخله مكان راكړه ليكن حضرت عباس رضى الله عنه پر خبره باندى راضى نه سو او ده تنازعه شكل جوړ سو .

آخر دواړه فريقو چي په هغه كښې يو طرف حكومت وقت وو دوئم طرف ته حضرت عباس رضى الله عنه وو حضرت ابى ابن كعب رضى الله عنه په خپل ثالث مقرر كړى او حضرت ابن ابى كعب رضى الله عنه مقدمه واوريدلې ده حضرت عمر رضى الله عنه خلاف په فيصله وكړه چي كله حضرت عباس رضى الله عنه مقدمه وگټله نو بيا هغه دا مكان ده مسجد

ده فراخی د پاره مفت ورکړی ده دې تنازعې څخه ده حضرت عباس رضی الله عنه مقصد صرف داوو چې وه خلکو ته معلوم سی چې په شریعت کښې ده شخصي ملکیت په دومره اندازه تحفظ موجود دی چې حکومت وقت هم ده هیچا څخه هم د هغه حق نسی اخیستلی ۔

سوال﴾

کچیری ده یو چا پر مځکه باندی بل چا قبضه وکړه آیا ده مځکه بیا هغه مځکی والا خرڅه ولی سی او که نسی خرڅه ولی؟

جواب﴾

کچیری ده یو چا پر مځکه باندی یو داسی سړی قبضه وکړه چې د مځکی مالک یا خریدار ده مقدمې بغیره ده هغه څخه هغه مځکه نسی اخیستلی نو ده هغه خرید و فروخت ندی جائز ولی چې په دې صورت کښې وه مالک ته ده مځکی په حواله کولو باندی قدرت حاصل ندی او چې پر کم شی باندی ده حواله کولو قدرت نه وی نو د هغه خرید و فروخت جائز نه دی

﴿۱﴾ یلزم یکون المبیع مقدور التسلیم فبیع غیر مقدور التسلیم باطل قال فی القروی عن جواهر الفتاوی باع عقارا ملکه لکن فی ید آخر الفتوی علی انه لا یصح عملاً بقول محمد لانه لا یقدر علی تسلیمه شرح المجلة لسلیم رستم باز ﴿۱. ۷۸﴾ الماده ۱۹۸ الکتاب الاول فی البیوع الباب الثانی فی بیان المسائل المتعلقة بالمبیع الفصل الاول فی مشروط المبیع ط دار الکتب العلمیه ۔

بیع ماهو غیر مقدور التسلیم باطل شرح المجلة لخالد الاتاسی ۲. ۱۰۱﴾

المادة ۲۰۹ ط رشيديه .شامي .۵ .٦۱﴾ ط سعيد﴾

سوال﴾

مځکه در تقسيم د مخه خرڅه ول څنګه ده جائز ده او که نا جائز ده .

جواب﴾

وراثت او مشترکه مځکه او جائيداد با ضابطه تقسيمه ولو څخه د مخه خرڅه ول جائز دي مثلاً وه وارثانو څخه يو وارث ده مشترکه مځکې څخه خپله حصه در تقسيم د مخه خرڅه ول غواړي نو يې خرڅه ولی شي .

﴿۲﴾ بيع حصه شائعه معلومة كالثلث والنصف والعشر من عقار مملوك قبل الافراز صحيح شرح المجلة لرستم باز ﴿۱ .۸۳﴾ المادة ﴿۲۱۴ الكتاب الاول فى البيوع الباب الثانى فى المسائل المتعلقة بالمبيع الفصل الثانى فى مايجوز بيعه و مالا يجوز ط دار الكتب العلميه

الهدايه ﴿۳ .۷۹﴾ ط رحمانيه .تبيين الحقائق ﴿۴ .۷۹﴾ امداديه ملتان .

سوال﴾

ژوندئی حيوان چي تول کړی خرڅه وی آيا دا جائز دی او که نا جائز دی .

جواب﴾

که چيری خريدار او خرڅه ولو والا جانور حيوان وزن کړی خرڅه ولو اخيستلو باندی راضي سی نو ژوندئی حيوان وزن کول ده نقد رقم يا يو بل شی په عوض کښې خرڅه ول اخيستل دواړه جائز دی .

ولی چي ده نه جائز والی هيڅ وجه نسته شرط دادی چي د متعين حيوان

ده فی کلو ده حساب نرخ مقرر سوی وی او د حیوان ده وزن کولو بعد ده هغه قیمت هم متعین سوی وی .
ده هغه صورت دادی چي آخیستلو والا ته مثلا ده یو وزکړی ضرورت وی تاجر له ولاړ سی نو هغه وزکړو څخه یو وزکړی خوښه وی او تاجرو هغه ته وائی چي ده دې وزکړی نرخ په درې سوه کلو دی او هغه وزکړی دخریدار ومخ ته وزن کړی وای مثلاً داشل کلو دی ووس خریدار هغه قبول کړی نو بیع منعقد کیږی په دغه طریقه فروخت و خرید شرعا جائز دی .
ووس دلته دوې خبری جلا جلا دی
یو دا چي جانور وزن کړی خرڅه ول آخیستل ۲ دویمه خبره داده چي حیوان موزون بلل او پر هغهه باندی ده موزونی شیانو فقهی احکامات جاری کول ده اوله خبری پر بنیاد باندی جانور وزن کول بیا خرڅه ول آخیستل جائز دی ولی چي ده نا جائز هیڅ وجه نسته .
نیز داغه رنګه چي کمو شیانو کیلی وزنی یا عددی کیدل نبی کریم صلی الله علیه وسلم په عهد مبارک کښی منصوصی یا معلوم وی ده هغو هغه حیثیت نه بد لیږی .
او ده نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی ده حیواناتو عدد کیدل معلوم دی .البته ده کمو شیانو وزنی کیدل چي مصنوعی نوی ده هغه مدار پر عرف باندی دی کچیری عرف ده کیل وی نو هغه کیلی دی کچیری عرف ده وزن وی نو هغه وزنی دی .
﴿۱﴾ و عن عبادت بن الصامت رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الذهب بالذهب بالفضة والبر بالبر والشعیر بالشعیر والتمر

بالتمر والملح بالملح مثلاً بمثل سواء بسوائٍ يدًا بيد فاذا اختلف هذه الا صناف فبيعو اكيف شئتم اذا كان يدا بيد رواه مسلم مشكاة المصابيح ص ﴿۲۴۴﴾ كتاب البيوع باب الربا الفصل الاول ط قديمى .

سوال﴾

ده ژوندی حيوان پوست خرڅه ول جائز دی او يا نا جائز دی .

جواب﴾

لا ژوندئی وی ذبح سوی نه وی نو دهغه پوست خرڅه ول جائز ندی بيع فاسد ده كه چيری بيعه سوی وی . نو هغه فسخ كول ضروری ده او چې كله ده حيوان ده ذبح كولو وروسته پوست جلا كړل سی نو دې دوباره بيعه وكړی .

﴿۱﴾و فسد بيع ما سكت فيه عن الثمن و صوف على ظهر غم وجوزه لثاني و مالک و فی السراج لو سلم الصوف واللبن بعد العقد لم ينقلب صحيحاً و كذا كل ما اتصاله خلقی كجلد حيوان و نوی تمر الدر المختار مع الرد﴿۵ .۶۰ .۶۳﴾ كتاب البيوع باب البيع الفاسد مطلب فی البيع الفاسد ط سعيد﴾ الفتاوی الهندية ﴿۳ .۱۲۹﴾ كتاب البيوع الباب التاسع فيما يجوز بيعه و مالا يجوز الفصل التاسع فی البيوع الاشياء المتصله بغيرها ط رشيديه﴾

البحر الرائق ۶ .۷۵﴾ كتاب البيع باب البيع الفاسد ط سعيد﴾

سوال﴾

په زيوراتو كښې دهوكه كول څه حكم لری وضاحت وكړی؟

جواب﴾ بعضی سنار يا دوكاندار ۱۸ يا ۲۰ كير ته زيور جوړ كړی او مهر ده

دوه ویسـت ۲۲ کیـر ته وربانډی وه لګوی دا ده دهوکې او ده درواغو دوجهی حرام اور ناجائز کار دی.

﴿۲﴾ قـال الله تـعـالـی لـعـنة الله عـلـی الـکـاذبین آل عمران ﴿۶۱﴾ و عن ابی هـریـره رضـی الله عـنـه قـال قـال رسـول الله صلی الله علی وسلم اية المنافق ثـلاث زاد مسـلـم و ان صام و صلی و زعم أنه مسلم ثم اتفقا اذا حدث کذب و اذا و عـد أخـلف و اذا أو تـمن خان مشکاة المصابیح ص ۷۱ کتاب الایمان بـاب لـلـکـبـائـر و عـلامـات الـنـفـاق الفصل الاول ط قدیمی .عن أبی هریرة رضـی الله عـنـه ان رسـول الله صـلـی الله علیـه وسلم قال من غش فلیس منا جـامـع الـتـرمذی ﴿۱ .۲۴۵﴾ ابواب البیو ع باب ماجاء فی کراهیة الغش فی البیو ع ط سعید.

او د کـاریـګـرو د پـاره هـم جـائـز نـده چې ده دوکـاندار خبره و منی او مهر وربـانـډی وه لـګـوی ورنـه کـاریـګـر هـم ده دهوکې او ده درواغو ده ګناه مر تکب کیږی.

﴿۱﴾ ولا تـعـا ونـو اعـلـی الاثـم والـعـدو ن واتـقـو الله ان الله شدید العقـاب المائدة﴾

﴿۲﴾ ولا تـعـاو ن عـلـی الاثـم والـعـدو ن یـعـنـی لا تـعـاونوا علی ارتکاب الـمـنـهیات ولا علی الظلم احکام القرآن للقرطبی ﴿۳ .۱۹﴾ المائده ﴿۲﴾ ط دار الـفـکـر قـال الـنـووی فیـه تـصریح بتحریم الاعانة علی الباطل مرقات المفا تیح ﴿۶ .۴۳﴾ کتاب البیو ع باب الربا الفصل الاول ط رشیدیه

سوال﴾

کـچـیـری پـه بـس ګاړی وغیره کښی ده یوه سړی سامان بیک وغیر

تبدیل سی په غلطی سره ده بل چا بیک وغیره راسی نو د هغه استعمال جائز دی یا نا جائز.

جواب﴾

که چیری په جهاز بس گاړی ریل وغیره کښی بیک بکس بدل شی په غلطی سره ده بل چا بیک راشی نو د هغه استعمالول جائز ندی چا ولی دا خبره یقینی نه ده چې کم چا ستا بیک پورته کړی دی دا بیک دی هم ده هغه وی کم چې تا راوړی دی او که چیری دغه سی هم وی بیا هم په باهمی رضا مندی سره ده تبادله څه معامله نده سوې لهذا کم بیک وغیره چې ملاؤ سوی دی د هغه حکم ده لقطې دی یعنی اول دی دا کوشش وسی چې د هغه مالک پیدا سی وه هغه ته دی واپس سی او که چیری ده مالک ده ملاویدلو څخه مایوسه سی بیا دی ده مالک ده طرف څخه وه غریبانو ته صدقه سی او دا هم ده کچیری مالک نسی ملاؤ او خپله هم د زکوة مستحق وی نو په خپله یی هم استعماله ولی سی.

﴿۱﴾ داغه رنګه کچیری ده مسجد څخه چوټی چپل ده یو چا بدلی سی نو د هغه استعمالول جائز ندی ولی اول خو دا یقین ندی کم چا چی ستا چوټی چپلا ن وړی دی دا دی هم د هغه وی او کچیری ده هغه وی هم خو په باهمی رضا مندی ده تبادله څه معامله نده سوې لهذا کمه چوټه چې ده تبادله څه معامله نده سوې لهذا کمه چوټه چې تا ته ملاؤ سوې وی د هغه حکم ده لقطې دی حاشیه .۱۰.۲﴾ ﴿۲.۱﴾ امر ءة وضعت ملا ئتها فجائت امراة اخری و وضعت ملا ئتها ثم جائت الاولی و اخذت ملائة الثانية و ذهبت لا ينبغی للثانية ان تنتفع بملا ئة الاولی لانه انتفاع بملك الغير

فان ارادت ان تنتفع بها قالوا ینبغی ان تتصدق هی بهذه الملائة علی ابنتها ان کانت فقیرة علی نیة ان یکون ثواب الصدقة لصاحبتها ان رضیت ثم تهب الا بنة الملائة منها فیسعها الا نتفاع بها لا نها بمنزلة اللقطة و ان کانت غنیة لا یحل الا نتفاع بها و کذا الجواب فی المکعب ان سرق و ترک له عوض الفتاوی الهندیة ﴿۲ .۲۹۵﴾ کتاب اللقطة ط رشیدیه البحر الرائق ﴿۵ .۱۵۸﴾ کتاب اللقطة ط سعید﴾ الشامیه ﴿۴ .۲۸۵﴾ کتاب اللقطة مطلب اخذ صوف مبنة او جلدها ط سعید﴾ فینتفع الرافع بها لو فقیراً والا تصدق ای من رفعها من الارض ای التقطها و اتی بالفا فدل علی انه انما ینتفع بعد الا شها د والتعریف الی ان غلب علی ظنه ان صاحبها لا یطلبها والمراد جواز الا نتفاع بها والتصدق و له امسا لها لصاحبها الشامیه ﴿۴ .۲۷۹﴾ کتاب اللقطة ط سعید﴾

سوال﴾

که چیری یو سړی ده دکاندار څخه سامان واخیستی او بیا ولاړی سامان یی هیر سو یا یه نه وو ړی او بیا واپس نه راغلی نو ووس باید دکاندار دا سامان څه په وکړی وضاحت وکړی که چیری یو چا ده دکاندار څخه یو شئی واخیستی او پیسې یی هم ادا کړې لیکن سامان وړل یی هیر سو او سامان ده وړلو د پاره دوباره نه راغلی نو که چیری ده دکاندار سره ده هغه چې څنګه وو ایی پر هغهٔ دی عمل وکړی او که چیرئ ده رابطې څه صورت نه جوړیږی او ده مالک ده رتالو څخه ده خرابیدو آندیشه وی یا ده دکاندار سره ده ایښو دلو ځای نه وی نو د هغه دوو صورتونه دی ۱ یا دی یی خرڅ کړی رقم دې امانت کښیږدی چې کله هم مالک راسی رقم

دی ورته حواله کړی ۲ . او دوئم صورت دادی چي چي ده مالک ده طرف
څخه دی نیت وکړی هغه . شئی دی پر غریبانو صدقه کړی خپله دې نه
استعمالوی .

﴿۱﴾ و ینبغی ان یعرفها فی الموضع الذی اصابها و فی الجامع فان ذلک
اقرب الی الوصول الی صاحبها الهدایة ﴿۲ .۲۱۵ کتاب اللمقطة مکتب
شرکت علمیه ملتان و یعرف المتقط اللقطة فی الا سواق والشوارع مدة
یغلب علی ظنه ان صاحبها لا یطلبها بعد ذلک هو الصحیح کذا فی مجمع
البحرین الفتاوی الهندیة ﴿۲ .۲۸۹﴾ کتاب للقطة ط رشیدیه مجمع
الانهر ﴿۲ .۵۲۵﴾ کتاب النقطة ط دار الکتب العلمیة ﴾

﴿۲﴾ انما ینتفع بها بعد الا شهاد و التعریف الی ان غلب علی ظن ان صا
حبها لا یطلبها والمراد جواز الا نتفاع بها و التصدق و له امسا کها لصا
حبها و فی الخلاصة له بیعها ایضا و امساک ثمنها
الشامیه۴ .۲۷۹﴾ کتاب اللقطة ط سعیدالبحر الرائق ﴿۵ .۱۵۳﴾ کتاب
اللقطه ط سعید الفتاوی الهندیة ط رشیدیه

وانما تکمل مدة التعریف اذا کان لا یتسارع الیه الفساد فان خاف الفساد
لم تکمل و یتصدق بها بدائع الصنائع ﴿۶ .۲۰۲﴾ کتاب اللقطة فصل و اما
بیان ما یصنع بها ط سعید .المبسوط للسرسخی ﴿۱۱ .۹﴾ کتاب اللقطة
دار المعرفة

سوال﴾

که چیری خریدار ده دوکاندار څخه سامان کورته ده ور ښکاره کولو
دپاره ووړی مګر هغه ضائع سو نو د هغه څه حکم دی وضاحت وکړی .

جواب﴾
که خریدار وه دوکاندار ته وویل چې دا سامان یا داشئی ما ته راکړه زیه کورته وړم وربنکاره کوم په یا ده دې په باره کنبی غورو فکر کوم ده ثمن تعین یی وه نکړی او دو کاندار هغه ورکړی وه دې ته په عربی زبان کنبی مقبوض علی سوم النظر وائی دا شئی ده خریدار سره آمانت وی لهذا که چیری ده خریدار ده غفلت او زیادتی بغیر هلاک سی نو پر هغه باندی ضمان نسته.

﴿۲﴾ خریدار ده آخیستلو په عرض دو کاندار ته وویل چې دا شئی یا دا سامان ماته راکړه که چیری می خوښ سو نو په سل روپی یی اخلم یا دوکاندار هغه ته وویل چې ده دې قیمت سل روپی دی وه داسی شی ته په عربی زبان کسی مقبوض علی سوم الشراء وائی که چیری دا شئی ده خریدار سره هلاک سی یا ضائع سی نو خریدار ضامن دی هغه به سل روپی آدا کوی

﴿﴾ کالمقبوض علی سوم الشراء فانه بعد بیان الثمن مضمون بالقیمت اما علی سوم النظر فغیر مضمون مطلقاً و قال المحقق الشامی رحمه الله قلت و بیان ذلک ان المساوم انما یلزم الضمان اذا رضی باخذه بالثمن المسمی علی وجه الشراء فاذا الثمن البائع و تسلم المساوم الثوب علی وجه الشراء یکون راضیا بذلک کما اذا سمی هو الثمن و سلم البایع راضیا بذلک فکان التسمیة صدرت منهما معا بخلاف ماذا اخذه علی وجه النظر لانه لا یکون ذلک رضا بالشراء بالثمن المسمی .قوله اما علی سوم لنظر بان یقول هاته حتی النظر الیه او حتی اریه غیری ولا یقول فان

رضیته اخذ تد و قوله مطلقاً ای سواء ذکر الثمن اولا ح عن النهر ولا یخفی ان عدم ضمانه اذا هلک اما لو استهلکه القابض فانه یضمن قیمت الدر المختار مع الرد ۴ .۵۷۲﴿۵۷۴﴾ کتاب البیوع باب خیار الشرط مطلب فی المقبوض علی سوم الشراء ط سعید﴾

سوال﴾

بعض دوکانداران شیان خرڅه وی صرف ښه یی بیانه وی او عیوب پټه وی آیا دا جائز دی او که یا ناجائز دی وضاحت وکړی .

جواب﴾

پر خریدار باندی ده شیانو ده خرڅه ولو په وخت کښی صرف ښه بیان ول او عیبونه او خامیانی پټه ول درست ندی مزید دا چي ده خریدار او خرڅه ولو کیراک خرابیږی بیا خلګ ده داسی دوکاندار څخه شیان نه اخلی په آخر کښی دوکان بربادیږی .ځکه په دوکاندار او کارخانې والا باندی لازمه ده چې ده خرڅه ولو والا شیان له عیبه پاک وساتی او که چیری ده عیب والا شی خرڅه وی نو خریدار ته دی اول ووائی .

﴿۱﴾ عن العداء بن خالد قال کتب لی النبی ﷺ ما اشتری محمد رسول الله ﷺ من العد بن خالد بیع المسلم من المسلم لا داء ولا خبثة ولا غائلة وقال عقبة بن عامر لا یحل لامرء یبیع سلعة یعلم ان بها داء الا اخبره عن حکیم بن حزام رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ البیعان بالخیار ما یتفرقا فان صدقا و بینا بورک لهما فی بیعهما و ان کتما و کذبا محقت برکة بیعهما صحیح البخاری﴿۲ .۷۹۱﴾ کتاب البیوع باب اذا بین البیعان و لم یکتما و نصحا ط قدیمی

سوال﴾

که چیری یو سړئی گهړی ساز یا دهوبی درزی وغیره ته ده مرمت د پاره یو شئی ورکړی بیا هغه سړئی واپس رانه سی نو ده دې سامان څه حکم دی.

جواب﴾

په داسی صورت کښی که چیری کاریگر ده مالک ده راتلو څخه مایوسه سی او ده رابطې څه زریعه هم نوی او شی ده زیات ایښو ولو څخه خرابیږی یا ده خرا بیدو اندیښنه وی نو بیا دی ده مالک ده طرف څخه نیت وکړی وه غریبانو ته دی صدقه کړی خپلله دی نه استعمالوی.

﴿۱﴾ فان کانت اللقطة مما لا یبقی اذا اتی علیه یوم او یو مان عرفها حتی اذا خاف ان تسفد تصدق بها لان المقصود من التعریف بالوقت الذی لا یفسد فیه لان بعد الفساد لا فائده لصاحبها فی ایصا لها الیه و قد بینا ان التصدق بها طریق لحفظها علی صاحبها من حیث الثواب فیصیر الی ذلک اذا خاف ان تفسد العین المبسوط السرخسی ﴿۱۱.۹﴾ کتاب اللقطة﴾ دار المعرفة﴾

بدائع الصنائع ﴿۲۰۲.٦﴾ کتاب اللقطة فصل و اما بیان ما یصنع بها ط سعید.

سوال﴾

که چیری ده دوکاندار ملازم وه دوکاندار ته ده ویلو بغیره وه خریدار ته زیات سامان ورکړی نو د هغه څه حکم دی؟

جواب﴾

که چیری ملازم خریدار ته زیات شی ورکړی او بیا بعد کښی وه

خریدار ته دا معلومه سی نو ووس که مالک ته ورسی راز افشاء کړی نو د ملازمت ختمیږی او که نه وائی نو حق پاته کیږی او دا په غلا کښی تعاون هم دی نو دا سړئی دی دوکان وه مالک ته ووائی چې دونه پیسې دی په ما پسی راغلی وې هغه دا دی دا بهتره صورت دی.

﴿۲﴾ قال الله تعالی ان الله یامرکم ان تودو الامانات الی اهلها و ذلک بالتسلیم الیه عندالقدرة تسبین الحقائق ﴿۴. ۲۱٦﴾ کتاب اللقطة ط دار الکتب العلمیة بیروت.

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ادا لامانة الی من ائتمنک ولا تخن من خانک جامع الترمذی ﴿۱. ۲۳۹﴾ ابواب البیوع ط سعید﴾

المسبوط للسرسخی ﴿۱۱. ۱۱٦﴾ کتاب الودیعة ط عفاریه کوئټه شرح المجلة لرستم باز ص ۴۲٦ رقم المادة ﴿۷٦۹﴾ ﴿۷۷۰﴾ مکتبه حنیفیه کوئټه﴾

کچیری په یوه وجه داسی نسو کولی نو بیا دې ده هدیه په طور باندی ورکړی ده ملازم ده خیانت څخه هغه سامان ده خریدار ده پاره نشی حلالیدلی.

﴿۲﴾ لیس لاحد ان یاخذ مال غیره بلاسب شرعی شرح المجلة لسلیم رستم باز ﴿ص٦۲﴾ رقم المادة ﴿۹۷﴾ مکتبه حنیفیه کوئټه.

سوال:......

کله کله د کاروباري حضراتو سره شی نه وي خو دوی پهٔ دې امید سودا کوي چې وروسته به یې دیو ځای څخه رانیسو بیا به یې ورته فراهم کړو دا څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......دانه دی جائز البته د کیراک

سره دا وعده کولای سي چي مور فلانکی شی په فلانکي قیمت باندي درکوو، بیا د هغه وروسته هغه شی رانیسي د وعدې مطابق سودا وکړي نو دا جائز دی:

"و شرط المعقود علیه ستة : کونه موجوداً ما لا متقوماً مملوکاً فی نفسه ، و کون الملك لبائع فیما یبیعه لنفسه .... فلم ینعقد بیع المعدوم ... ولا بیع ما لیس مملوکاً له و إن ملکه بعده إلا السلم"(شامی / ص: ٥٠٥ / ج: ٤)(البحر الرائق / ص: ٢٥٩ / ج: ٥)

لا یصح بیع المنقول قبل قبضه ، لنهیه علیه الصلاة و السلام عن بیع ما لیم یقبض(مجمع الانهر / ص: ١٣ / ج: ٣)

یا دا صورت کېدای سي چي کوم شی د بائع سره نه وي، د هغه شي جنس، نوع او ټول صفات بیان کړي او ګیراک ټول قیمت په هغه مجلس کي ادا کړي نو دا په بیع سلم کي د داخلېدو په وجه سره جائز نه دی مثلاً دکاندار دا ووایي چي زه تا ته دومره وخت وروسته د دې صفاتو حامل فلانکی شی مهیا کولو ذمه داري اخلم او ګیراک ټوله قیمت ادا کړي نو دا به جائز وي:

"و شرائطه : تسمية الجنس و النوع والوصف و الأجل... و قبض رأس المال قبل المفارقة الاختيار لتعليل المختار"(ص ٣٤ / ج: ٢ ـ البحر الرائق / ص: ٢٦٥ / ج: ٦)

سوال :......

که چیري دکاندار وغیره مشتري ته وویل چي دا شی مور تا ته چي په څو مي رانیولی دی په هغومره یې درکوو نو اوس څه نفع اخیستل جائز ده او

كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... چې دكاندار مشتري ته ووايي چې په څو مې رانيولې دى په هغو مره باندې يې تا ته دركوم نو په دې صورت كې نفع اخيستل جائز نه ده چې په څو يې رانيولى دى هغه قيمت بالكل صحيح ورته ويل واجب دى دې سودا ته توليه وايي:

"والتولية نقل ماملكه بالعقد الاول بالثمن الاول من غير زيادة ربح "(الجوهرة المنيرة / ص: ٢٤٥ / ج: ١ ـ الدر المختار مع الرد المحتار / ص: ١٣٥ / ج: ٥ ـ مجمع الانهر / ص: ١٤٥ / ج: ٣ ـ البحر الرائق / ص: ١٦٥ / ج: ٦ ـ الشامية / ص: ٢١٨ / ج: ٥ ـ العناية شرح الهداية / ص: ٤٦٨)

سوال: ......

كه د ګيراك د رانيولي شي په اړه باندې څه شكايت وي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......كه چيرې د ګيراك د رانيولي شي په اړه باندې څه شكايت وي نو د هغه خبره دې په غور سره واورې او چې څومره كيږي نو د هغه د شكايت ازاله دې وكړي يا رانيولى شى دې ور بدل كړي:

"وعن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ من أقام مسلماً أقاله الله عثرته يوم القيامة"(مشكوة المصابيح / ص: ٢٤٩ ـ سنن ابى داؤد / ص: ١٣٤ / ج: ٢ ـ البحر الرائق / ص: ١٠٢ / ج: ٦ ـ مرقاة المفاتيح / ص: ٩١ / ج: ٦)

سوال: ......

د رانيولي شي د قبض كولو مخكې خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... كله كله تاجر حضرات د خارج ممالکو څخه مال راغواړي کله چي مال بندرګاه (هغه د کښتۍ د جهاز کښېنستو ځای) ته را رسېدو وروسته د پیسو د نه وجود له کبله مال نسي بارولای نو پر بل سړي باندي هغه مال پسي خرڅ کړي، د دې لپاره چي هغه د پورتې څخه خپله فریضه ادا کړي او مال راوباسي، بیا هغه په نورو باندي مال خرڅ کړي یا د دباندي څخه د راغوښتو والا تاجر پخپله د هغه څخه دویم وار مال واخلي دا صورت نه دی جائز ځکه چي د دباندي څخه مال راغوښتلو والا تاجر چي تر څو پوري پر مال باندي قبضه و نه کړي تر هغو پوري ده ته مخته پر بل چا باندي خرڅول جائز نه دي:

”عن ابن عباس رضى الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ: من ابتاع طعاماً فلا يبعه حتى يقبضه ، قال ابن عباس رضى الله عنهما : واحسب كل شيئ بمنزلة الطعام“

”عن ابن عمر رضى الله تعالى عنهما قال قال رسول الله ﷺ : من ابتاع طعاماً فلا يبعه حتى يستوفيه ، قال حدثني ابو الزبير انه سمع جابر بن عبد الله رضى الله تعالى عنهما يقول : كان رسول الله ﷺ يقول : إذا ابتعت طعاماً فلا تبعه حتى تستوفيه ـ (الصحيح المسلم / ص: ٥ / ج: ٢) (سنن ابى داؤد / ص: ١٣٧ / ج: ٢) (تكملة فتح الملهم / ص: ٣٥٠ / ج: ١) (مجمع الانهر / ص: ١١٣ / ج: ٣) (البحر الرائق / ص: ١٩٣ / ج: ٦) (تبيين الحقائق / ص: ٤٣٥ / ج: ٤)

که چیري د ده سره د مال دبارولو لپاره روپۍ نه وې نو د یو چا څخه دی پور وکړي او مال دې بار کړي قبض دي کړي بیا چي یې په څومره قیمت

خو بنه وي خرڅ دي کړي .

سـوال:......

خشخاش کرل رانیول او خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د خشخاسو کښت کول جائز دی او د دې تجارت کول هم جائز دی خو د دې څخه چې (افیون) تاریاک راوباسي د دې تجارت کول مکروه دی او پاته آمدني حرامه نه ده .

"وجاز بيع العصير من خمار: لأن المعصية لا تقوم بعينه ، بل بعده تغيره ... ولأن العصير يصلح للاشياء كلها جائزة شرعاً فيكون الفساد على اختياره "(البحر الرائق / ص: ۳۷۱ / ج: ۸ـ مجمع الانهر / ص: ۲۱٤ ـ ج ٤ تبيين الحقائق / ص: ٦٤ / ج: ۷ـ الاشباه والنظائر / ص: ۹۷ / ج: ۱)

سـوال:......

خلفاء کرام په بازارو کي ګرځېدل؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د بازار د اهمیت او په معاشي سرګرمي کي د دوی د مرکزي کردار پېش نظر خلفاء کرام په کثرت سره په بازارو کي ګښت کاوی او په هغو کي د شریعت پابندي او د هغو حفاظت به یې کاوی ځکه چي د بازارو کردار په معشیت کي دغه رقم دی لکه په بدن کي د سږو ، دا په اقتصادي ژوند کي د ډېر اهمیت حامل دی:

"وقالوا مال هذا الرسول ياكل الطعام ويمشى فى الاسواق "(سورة الفرقان :۷ ـ سورة الفرقان : ۲۰ـ تاريخ الخلفاء للسيوطى / ص: ۱۰٤ / ج: ۱ـ الطبقات الكبرى لابن سعد / ص: ۲۸ / ج: ۳ ، بيروت ـ البحرالرائق / ص: ۷۱ / ج: ٦ـ الدر مع الرد / ص: ٥٦،٥٥ـ بدائع الصنائع / ص: ۱٤۳ / ج: ٥)

سوال:......

د خنزير راغوښتل څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د مسلمان لپاره د خنزير رانيول او خرڅول جائز نه دی، د دې راغوښتل هم نه دی جائز او روپۍ يې هم حرامې دي خو د غير مسلم لپاره پخپل مابين کې رانيول او خرڅول جائز دي د هغوی لپاره صادرات (راوړل) او واردات (وړل) منع نه دي:

"لم يجز بيع الميتة واللحم الخنزير والخمر) اى فى حق المسلم للنهى عن بيعها و قربانها و قيدنا بالمسلم لأن اهل الذمة ما يمنعون من بيعها ، ثم اختلفوافقال بعضهم : هما حرامان عليهما ، لأن الكفار مخاطبون بالحرمات و هو الصحيح من مذهب أصحابنا و لكن لا يمنعون من بيعهما ، لانهم يعتقدون الحل والتمول و قد أمرنا بتركهم و ما يدينون"(البحر الرائق / ص: ٧١ـ / ج: ٦)(الدر مع الرد / ص: ٥٥ ، ٥٦ / ج: ٥) (بدائع الصنائع / ص: ١٤٣ / ج: ٥)

سوال:......

د خنزير بيع کول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د خنزير ټوله بدن نجس ناپاک دی:

"بخلاف الخنزير لانه نجس العين إذا الهاء فى قوله تعالى : (فانه رجس) منصرف اليه لقربه "(الهداية / ص: ٤١ / ج: ١)(تبيين الحقائق / ص: ٢٦ / ج: ١)

☆......په قطعي توګه سره حرام دی:

﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهِ﴾(سورة المائدة : ٣)

☆......د خنزير څخه يو قسم انتفاع هم ناصلول ناجائز او د ده رانيول او خرڅول باطل او ناجائز دي:

”و بطل مال غير متقوم ، اى غير مباح الانتفاع به و خنزير و ميتة“ (الدر مع الرد / ص: ٥٥ / ج: ٥) (تبيين الحقائق / ص: ٣٦٢ / ج: ٤)(مجمع الانهر / ص: ٧٨ / ج: ٣)(الدر المنتقى على هامش مجمع الانهر / ص: ٧٨ / ج: ٣)(البحرالرائق / ص: ١١٦ / ج: ٦) (الفتاوى الهندية / ص: ١١٦ / ج: ٣) (خلاصة الفتاوى / ص: ٤١ / ج: ٣)(هندية / ص: ١٤٦ / ج: ٣)(الهداية / ص: ٥٣ / ج: ٣)

☆......دخنزير آمدني هم حرام ده:

”و شعر الخنزير) لنجاسة عينه فيبطل بيعه ابن كمال و إن جاز الانتفاع به) لضرورة الخرز حتى لو لم يوجد بلا ثمن جاز الشراء للضرورة و كره البيع فلايطيب ثمنه“(الدر المختار / ص: ٧١ / ج: ٥ ـ فقه البيوع على مذاهب الأربعة / ص: ٣٠٠ ـ العناية فى شرح الهداية مع الفتح / ص: ٣٩١ / ج: ٦ ـ مجمع الانهر / ص: ٨٥ / ج: ٣)

سوال:......

د خنزير د پوست څخه جوړ سوي شيان څه حكم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... لكه څه رقم چي د خنزير پوست رانيول او خرڅول جائز نه دي او آمدني يې حرام ده دغه رنګه د خنزير د پوست څخه جوړ سوي شيان مثال لكه كوټ، د سكول بستې او چمپلان وغيره هم خرڅول رانيول او استعمالول جائز نه دي، دا رنګه ناپاک شی اغوستلو سره لمونځ كول لمونځ ورباندي نه صحيح كيږي

او آمدني يې هم حرامه ده:

"و بطل بيع مال غير متقوم: أى غير مباح الانتفاع به ... كخمر و خنزير "الدر المختار مع رد المحتار / ص: ٥٥ / ج: ٥ ـ بدائع الصنائع / ص: ٢٩٩ / ج: ٥ ـ المبسوط للسرخسى / ص: ١٣٧ / ج: ١٣ ـ الجوهر النيرة / ص: ٢٦٨ / ج: ١ ـ بدائع الصنائع / ص: ١٤٢ / ج: ٥)

سوال: ......

د خنزير د ويښتانو د تجارت څه حكم دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د خنزير پر ويښتانو تجارت كول جائز نه دى ځكه چي هغه ناپاک دي او د هغه څخه فائده حاصلول جائز نه ده .

"(و شعر الخنزير) لنجاسة عينه فيبطل بيعه (قوله : لنجاسة عينه) اى عين الخنزير اى بجميع اجزائه "(الدر مع الرد / ص: ٧١ / ج: ٥ ـ مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر / ص: ٨٥ / ج: ٣ ـ البحر الرائق / ص: ١٣٢ / ج: ٦)

سوال: ......

د ويني رانيولو خرڅولو څه حكم دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... لكه څرنګه چي د هغو كوچنيان لپاره چي شيدې خوري د هغوى لپاره د شيدو ضرورت وي دغه رنګه د انسانانو (د ساتلو) بچاولو لپاره د ويني وركړه جائز د او خپله وينه د اوله څخه په بلډ بنک كي جمع كول هم جائز ده خو ددې رانيول او خرڅول جائز نه دي دا بيع باطله ده:

" و لا بأس بأن يسعط الرجل بلبن المرأة و يشربه للدواء "(الفتاوى الهندية

/ ص: ۳۵۵ ـ الاشباه والنظائر / ص: ۲۷۵ ،

۲۷٦) شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ۲۹ ، رقم المادة ۲۱ ـ البحر الرائق / ص: ۲۰۵ / ج: ۸)

"بطل ما ليس بمال كالدم المسفوح فجاز بيع كبد و طحال"(الدر مع الرد / ص: ۵۱۵ / ج: ۵ ـ قاضی خان على هامش هندية / ص: ۱۳۳ / ج: ۲)

سوال:......

كه چيري ديو مريض د هلاكت ويره وي او وينه بې له قيمته هم نه پيدا كيږي نو په داسې حالت كي مريض د ويني حاصلولو لپاره قيمت وركولى سي كه يا؟ او د ويني دوركولو والا د ويني د قيمت اخيستلو څه حكم دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......

☆...... كه د يو مريض د مرګ بيره وي او وينه بې له قيمت نه پيدا كيږي نو په داسې حالت كي مريض د ويني حاصلولو لپاره د قيمت ادا كول جائز دي خو د ويني وركونكي لپاره د قيمت اخيستل صحيح نه دي:

"يجوز العليل شرب الدم ... إذا اخبره طبيب مسلم أن شفاه فيه "(الفتاوى الهندية / ص: ۳۵۵ / ج: ۵)

عن ابن مسعود رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ إن الله قسم بينكم اخلاقكم كما قسم بينكم ارزاقكم و إن الله يعطى الدنيا من يحب و لا يحب ولا يعطى الدين إلا من أحب فمن أعطاه الله الدين فقد أحبه (الحديث)۔ (مشكوة المصابيح / ص: ٤٢٥ ـ المستدرك على الصحيحين للحاكم / ص: ۳۳ / ج: ۱ ـ شعب الايمان / ص: ۳۹۵ ـ / ج: ٤ ـ قصر الأمل

لابن ابی الدنیا / ص: ٢٦)

☆ ...... د وینې ورکولو معاوضه اخیستل جائز نه دهٔ:

"بطل بیع ما لیس بمال کدم المسفوح"(الدر المختار مع الرد المحتار / ص: ١١٥ / ج: ٥ ۔ الخانية على هامش الهندية / ص: ١٣٣ / ج: ٢ ۔ مجمع الانهر / ص: ٧٧ / ج: ٣)

☆ ...... په بخاري شریف کې د حضرت ابو جحیفه رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام د وینې د قیمت اخیستلو څخه منع کړې ده:

"عن عون ابن ابی جحیفة قال : رأیت ابی اشتریٰ حجاماً فأمر بمحاجمه ، فکسرت فسألته عن ذلك قال : إن رسول لله ﷺ نهی عن ثمن الدم "الحدیث۔ (صحیح البخاری / ص: ٢٩٨ / ج: ١ ۔ اعلاء السنن / ص: ١١١ / ج: ١٤ ۔ فتح الباری / ص: ٤٢٧، ٤٢٦ / ج: ٤ ۔ نیل الاوطار / ص: ١٧٠ ، ١٧١ / ج: ٥)

سـوال: ......

که چیري د وینې ورکولو معاوضه واخیستل سي نو بیا په هغه روپو څه کول پکار دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چیري یو چاد وینې ورکولو معاوضه واخیسته نو هغه پر فقراؤ باندې صدقه کول لازمي ده:

"لو مات الرجل و کسبه من بیع الباذق او الظلم ... یتورع الورثة ، و لا یأخذون منه شیئاً .... و یردونها علی أربابها إن عرفوهم ، و إلا تصدقوابها ، لأن سبیل الکسب الخبیث التصدق إذا تعذر الرد علی صاحبه"(شامی / ص: ٣٨٥ / ج: ٦ ۔ الفتاوی الهندیة / ص: ٣٤٩ / ج: ٥۔ البحر الرائق / ص: ٣٦٩ / ج: ٥)

سـوال:......

خیارات په بیع کي څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... په بیع کي کله کله بائع یامشتري ته د بیع ختمولو اختیار هم سته:

"عن نافع عن ابن عمر رضی الله عنهما أن رسول الله ﷺ قال: المتبایعان کل واحد منهما بالخیار علی صاحبه ما لم یتفرقا إلا بیع الخیار"(صحیح البخاری / ص: ۲۸٤ / ج: ۱ ـ صحیح المسلم / ص: ٦ / ج: ۲ ـ شرح النووی علی صحیح المسلم / ص: ۹ / ج: ۲)

سـوال:......

محترم مفتي صاحب په بیع کي څو اختیارات سته بلاتکلف زیر قلم یې کړئ؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... په بیع کي ټول اختیارات تقریباً اوولس (۱۷) دي او په دوی کي په عامه توګه سره داوو (۷) اختیاراتو ضرورت پېښیږي او هغه دا دي:

(۱) خیار شرط (۲) خیار رؤیت (۳) خیار عیب (۴) خیار وصف (۵) خیار نقد (٦) خیار تعیین (۷) خیار غبن و تغریر.

" ذکر الحنفیة سبعة عشر خیاراً و هی خیار الشرط، والرؤیة، والعیب، والوصف والنقد، والنعین، والغبن مع التغریر و هذه السبعة هی التی ذکرتها المجلة و خیار الکمیة و الاستحقاق، والتعزیر الفعلی، والکشف الحال و خیانة المرابحة والتولیة، و تفریق الصفقة بهلاك بعض المبیع، و اجازة الفضولی، و تعلق حق الغیر بالمبیع بسبب کونه مستأجراً أو مرهوناً "(الفقه الاسلامی و

ادلته / ص: ٣٥١٧ / ج: ٥ - حاشية الطحطاوى على الدر المختار / ص: ٢٨ / ج: ٣ - الدر المختار مع الرد المحتار / ص: ٥٦٥ / ج: ٤)

سوال:......

كه چيري بائع خيار حاصل كړي نو دا شى خو د ده د ملكيت څخه نه ووزي، په دې صورت كې كه چيري مشتري شى قبض كړي او يو چا د ده دخيار په مدت كي هغه شى (مبيع) ضائع كړى، او يا ده پخپله هغه مبيع (شى) ضائع كړى نو كوم قيمت لازميږي پر مشتري باندي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... مشتري شى (مبيع) قبض كړ بيا د ده د خيار په مدت كي يو چا هغه شى ضائع كړ نو پر مشتري باندي د دې شي هغه قيمت لازميږي كوم چې بازار كې رائج وي، او كه چيري مشتري پخپله هغه شى ضائع كړي نو ثمن يعني هغه قيمت لازميږي كوم چې د بائع او خريدار په مابين كي معاهده سوى وو:

"و لا يخرج مبيع عن ملك البائع مع خياره .... فيهلك على المشترى بقيمته .... إذا قبضه بأذن البائع) ... كالمقبوض على سوم الشراء، فإنّه بعد بيان الثمن مضمون بالقيمة - و فى الرد: (قوله: مضمون بالقيمة) أي إذا هلك، أما إذا استهلكه فمضمون بالثمن"(الدر مع الرد / ص: ٥٧٣، ٥٧٢ / ج: ٤ - منحة الخالق على البحر الرائق / ص: ١١ / ج: ٦ - النهر الفائق / ص: ٣٦٩ / ج: ٣)

سوال:......

كه چيري خيار و خلكو ته حاصل ږي بيا يې حكم څنكه دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... که چیري خیار و خلکو ته حاصل وي نو په دوی کي چي هر یو د مخه د اختیار په اړه څه ووایي نو د هغه مطابق حکم ثابتیږي که څه هم
وروسته هغه بل سړی د ده خلاف څه ووایي که چیري دواړو یو ځای متضاده خبره وکړه نو بیا سودا ختمیږي:

"ولو شرط المشترى او البائع الخيار لغيره صح فإن أجازه أحدهما او نقض صح وإن أجاز أحدهما وعكس الآخر فالأسبق أولى لعدم المزاحم ولو كانا معاً فالفسخ أحق في الأصح زيلعي ، لأن المجاز يفسخ والمفسوخ لا يجاز (الدر المختار مع الرد / ص: ٥٨٤ / ج: ٤ ـ البحر الرائق / ص: ٢٠ / ج: ٦ ـ تبيين الحقائق / ص: ١٩ / ج: ٤ ـ مجمع الانهر / ص: ٤٤ / ج: ٣ ـ الفتاوى الهندية / ص: ٥٣ ـ / ج: ٣)"

سوال:......
خیار رؤیت څه ته وایي او څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... که چیري مشتري (رانیونکي) یا د هغه وکیل بې له کتلو یو شی رانیوی نو بیع صحیح ده خو مشتري ته د هغه شي پر لیدلو باندي اختیار ستته . که چیري خوښ یې سو پوره قیمت ادا کولو باندي به یې اخلي او که چیري یې خوښ نه سو نو بې له یوې وجهي یې هم بائع ته بیرته ور واپس کولای سي دې ته "خیار رؤیت" وایي:

"من اشترى شيئاً لم يره فله الخيار إذا راه ان شاء اخذه بجميع الثمن وإن شاء رده سواء راه على الصفة التى وصفت له
او على خلافها"(الفتاوى الهندية / ص: ٥٧ / ج: ٣ ـ البحر الرائق / ص: ٢٦ /

ج: ٦ ـ الهداية / ص: ٤٠ / ج: ٣)

سـوال :......

په يو رقم شيانو كي د خيار رؤيت حكم څنګه دى؟

الجواب بـاسم الملهم الصدق والصواب :......كه چيري په يو كرېټ يا توكرۍ وغيره كي پورته او كښته يو رقم شيان وي لكه مېړ او ټماټر وغيره نو په داسي صورت كي لږ شى كتل كافي دي لږ شى يې وكتى تو له شيان يې نه دي كتلي نو بيا هم د واپس كولو اختيار نشته:

"وكفت رؤية وجه البصرة .....: لأن الاصل فيه أن رؤية جميع المبيع غير مشروط لتعذره فيكتفى برؤية ما يدل على العلم بالمقصود ، فرؤية وجه الصبرة معرفة للبقية لكونه مكيلاً يعرض بالنموذج و هو المكيلات و الموذونات فيكفى برؤية بعضه... بخلاف ما إذا كانت أحاده متفاوته كالثياب والدواب فلا بد من رؤية كل واحد ، والجوز والبيض مما يتفاوت آحاده فيما ذكره الكرخى ، قال فى الهداية : و ينبغى أن يكون مثل الحنطة والشعير لكونها متقاربة ، و صرح به فى المحيط ، فى المجرد و هو الصحيح "(البحر الرائق / ص: ٢٩ / ج: ٦ ـ فتح القدير / ص: ٣١٥ / ج: ٦ ـ بدائع الصنائع / ص: ٢٩٤)

سـوال :......

په بيع سلم كي خيارِ رؤيت څنګه دى ؟

الجواب بـاسم الملهم الصدق والصواب : ......په بيـع سلم كي خيار رؤيت نشته:

"تنبيه : لا يثبت فى السلم خيار الرؤية ـ"(شامى / ص: ٢١٧ / ج. ٥ ـ الهداية / ص: ١٠٢ / ج: ٣ ـ حاشية الشرنبلالى على درر الحكام / ص: ١٩٦ / ج: ٢)

سوال:......

د خیار رؤیت د ختمېدلو صورتونه کوم دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......که چیري مشتري یو شی د کتلو وروسته استعمال کړي یا یې خرڅ کړي یا په هغه کي یو داسي عیب پیدا کړي چې د هغه په وجه سره هغه شی واپس کول مشکل (سخت) سي یا په ژبه سره د هغه شي پر رضامندي اظهار وکړي نو په دا تولو صورتو کي خیار رؤیت ختمیږي. دغه رنګه که چیري مشتري یو شی د لیدلو څخه مخکي خرڅ کړي یا یې په ګروه ورکړي یا یې په کرایه ورکړي نو په دې کارو سره هم خیار رؤیت ختمیږي. دغه رنګه د مشتري په ګروي سره هم خیار رؤیت ختمیږي او د ده وارث ته نه منتقل کیږي:

"(و یثبت الخیار) للرؤیة (مطلقاً غیر مؤقت)....ما لم یوجد مبطله و هو مبطل خیار الشرط مطلقاً ـ (و فی الرد: قوله: هو مبطل خیار الشرط) کتعیب فی یده و تعذر رد بعضه و تصرف ... یوجب حقاً للغیر کالبیع المطلق أی عن شرط الخیار للبائع و الرهن و الاجارة قبل الرؤیة و بعدها "(الدر مع الرد / ص: ۵۹۵ / ج: ٤ ـ الشامیة / ص: ١٤٦ / ج: ٥ ـ الجوهرة النیرة / ص: ٢٤٠ / ج: ١ ـ شرح المجلة لسلیم الرستم باز / ص: ١٣٧ / ج: ١ ، ماده : ٣٢١ـ مجمع الانهر / ص: ٤٨ / ج: ٣) مجمع الانهر

سوال:......

د خیار رؤیت مدت څومره دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... د خیار رؤیت لپاره څه مدت مقرر نه دی خو د شي دلیدلو وروسته په راضي کېدلو باندي خیار رؤیت

ختميږي:

"و يثبت الخيار) للرؤية (مطلقاً غير مؤقت) بمدة هو الأصح عناية للاطلاق النص (قوله : هو الاصح) و قيل مؤقت بوقت إمكان الفسخ بعد الرؤية ، حتى لو تمكن منه و لم يفسخ سقط خياره بحر"(الدر مع الرد / ص: ٥٩٥ / ج: ٤)(البحر الرائق / ص: ٢٧ / ج: ٦ (العناية فى شرح الهداية مع الفتح / ص: ٣١٣ / ج: ٦)

سوال :......

د خيار رؤيت په وجه سره شی واپس کولای سي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... د خيار رؤيت په وجه سره شی د واپس کولو لپاره د بائع رضامندي يا د عدالت د فيصلې ضرورت نسته مشتري پخپله خوښي سره سودا ختمولای سي خو د ختم کولو لپاره بائع ته د هغه خبر ورکول او کوم ځای چي سودا سوی وه تر هغه ځای پورشی وړل ضروري دي:

"و ليس للبائع أن يطالب المشترى بالثمن ما لم يسقط خيار الرؤية منه و لا يتوقف الفسخ على قضاء و لا رضاء بل بمجرد قوله : رددت ينفسخ قبل القبض و بعده لكن بشرط علم البائع"(فتح القدير / ص: ٣١٢ ـ ج٦ حاشية الشبلى على التبيين / ص: ٢٤ / ج: ٤ ـ شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ١٣٧ ، ١٣٦ / ج: ١ المادة ٣٢٠

سوال :......

په متناوت شيانو کي خيار رؤيت څنګه ختميږي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... امرت يا انار يا نارنګی وغيره

يـو داسـي شـی رانيسـي چي تېوله يو رقم نه وي نو چي تر څو پوري تېوله و نه کوري تر هغو پوري اختيار ستـه پـه لړ څه کتلو سره اختيار نه ختميږي

"اذا اشترى البطيخ فى السريجة و الرمان فى التفقه فرأى البعض فله الخيار ، لأن البعض منها ليس تبعاً للبعض بل كل واحد منها مقصود بنفسه ، فرؤية البعض منها لا تفيد العلم بالباقى لكونها متفاوتة تفاوتا فاحشاً فكان له الخيار"(بدائع الصنائع / ص: ٢٩٤ / ج: ٤ـ البحر الرائق / ص: ٢٩ / ج: ٦ ـ فتح القدير / ص: ٣١٥ / ج: ٦)

سـوال :......

وارثانو ته خيار رؤيت پاتيږي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... خيـار رؤيت يو داسي حق دى چي پـه هغه کي وراثت نه جاري کيږي او دا د ورثـه خوا ته نه منتقل کيږي مثلاً پـلار د خپـل ښار څخه ماسوا د بل ښار څخه مال را وغوښتـی او د مال را رسېدو دمخـه پـلار وفـات سـو او چي کلـه مال راغلی هغـه مال عيب درلـودی د ورثـه خوښ نه سو نو ورثـه نسي کولای چي د پلار خيار رؤيت څخـه کـتـه واخلي او مال واپس کړي ځکه چي بيع د(سودا) پوره سوه، او خيـار رؤيت نـه مـنتـقـل کيـږي، وو کـه چيري مال خرڅولو والا مال بيرته اخيستلو باندي راضي سي نو واپس کول جائز دی:

"خيار الرؤية لا ينتقل إلى الوارث فاذا مات المشترى قبل ان يرى المبيع لزم البيع و لا خيار لوارثه ـ

و قال العلامة سليم رستم باز : لأن خيار الرؤية ليس إلا مجرد ارادة و مشيئة ، و هذا وصف فلا يمكن انتقاله إلى الوارث ـ"(شرح مجلة الاحكام لسليم

رستم باز / ص: ۱۷۱ ، المادة : ۳۲۱ ـ الشامية / ص: ۱٤٦ / ج: ٥ ـ مجمع الانهر / ص: ٤٨ / ج: ٣ الجوهرة النيرة / ص: ٢٤٠ / ج: ١)

سوال:......

خیارِ شرط څه ته وایي ؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... خیار شرط دا دی چي د سودا په وخت کي د بائع یا مشتري څخه یو دا شرط ولګوي چي زه سودا کوم خو ما ته په درو ورځو کي دننه د دې بیع د فسخ پرېښودلو اختیار سته دې ته خیار شرط وایي .

د درو ورځو څخه زیات د خیار شرط شرط لګول نه دی جائز .

که چیري په خیار شرط کي یې د خیار مدت متعین نه کړ نو بیع فاسدېږي باطلیږي نه نو د دې وجهي که چیري وروسته په درې ورځو کي دننه دننه یې اختیار ختم کړ نو دا سودا صحیح کیږي .

که چیري د سودا په وخت کي یې یو اختیار هم نه واخیستی او د هغه وروسته بائع و مشتري ته یا مشتري و بائع ته اختیار ورکړی نو دا اختیار به خالص تر داغه مجلس پوري محدود وي چي په کوم مجلس کي اختیار ورکول سوی وو ، د مجلس پر ختمېدلو باندي اختیار ختم کیږي:

"صح شرطه للمتبايعين ... و لأحدهما ... فى مبيع ... ثلاثة أيا او اقل) و فسد عند اطلاق او تابيد (لا أكثر) فيفسد ... (غير أنه جوز إن أجاز) من له الخيار (فى الثلاثة) فينقلب صحيحاً على الظاهر "(الدر المختار مع الرد / ص: ٢٦٧ ، ٢٦٩ / ج: ٤ ـ البحر الرائق / ص: ٢-٥ / ج: ٦ ـ الفتاوى التتارخانية / ص: ٩١ / ج: ٩ـ الفتاوى الهندية / ص: ٣٩، ٣٨ ـ / ج: ٣)

"لـو بـاع بـلاخيار ثم لقيه بعد مدة ، فقال له أنت بالخيار فله الخيار ما دام في الـمـجـلـس "(الشامية / ص: ٤٦٨ / ج: ٤ ـ البحر الرائق / ص: ٤ / ج: ٦ ـ الفتاوى الهندية/ ص: ٣٩ ، ٤٠ / ج: ٣)

سـوال:......

په کومو صورتو کي خيار شرط ختميږي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......

(۱) چي په ژبه سره د اختيار ختمولو يا د سودا پخېدلو صراحت وکړي .

(۲) د اختيـار په مدت کي دننه د اختيار صاحب دا شی د خپل مملوکه شي په رقم استعمال کړي .

(۳) د اختيار په مدت کي د اختيار صاحب وفات (مړ) سي .

(۴) صاحب اختيار څه اظهار و نه کړي او مدت ختم سي .

په دې ټولو صورتو کي اختيار ختم کيږي .

"أجاز من لـه الـخيار ... صح ولـو مع جهل صاحبه ... فإن فسخ بالقول لا يـصـح إلا إذا عـلـم الآخر .... وتم العقد بموته و.... مضى المدة ـ (قوله أجاز من لـه الـخيار) اى أجاز بالقول او بالفعل كالإعتاق والوطی و نحوهما "(الدر مـع الــرد / ص: ٥٨٢ ، ٥٨٠ ـج ٤ البحـر الـرائق / ص: ١٧ / ج: ١ ـ تبيين الحقائق / ص: ١٨ / ج: ٤)

سـوال:......

په بيع سلم کي د خيار شرط حکم څه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... په بيع سلم کي خيار شرط نشته:

"و بقى من شروط كـون رأس الـمال منقوداً و عدم الخيار (قوله : و عدم

الخيار) اى خيار الشرط "(الدر مع الرد / ص: ٢١٧ / ج: ٥ ـ الجوهرة النيرة / ص: ٢٦٦ / ج: ١ ـ الهداية / ص: ١٠٢ / ج: ٣)

سـوال:......

تر درو ورځو زيات خيار شرط ايښودل څنګه دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصـواب:......د بيع كولو په وخت كي تر درو ورځو زيات خيارِ شـرط ايښـودل نـه دى جائز، په دې سره بيع فاسديږي، خو داسي شيان چي د هغه د صفاتو علم په درو ورځو كي نه سي كېداى په هغو كي تر درو ورځو زيات خيارِ شرط ايښودل جائز دى:

"وان كان فيه صفة لا يمكن الوقوف عليها فى ثلاثة ايام يجوز ان يشترط فيـه اكثـر مـن ثلاثة ايـام لانـه شـرط للحـاجة إلـى التـأمل و هـى تندفع بـذلك"(شرح النقاية / ص: ٣٠٩ / ج: ٢ ـ شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى / ص: ٢٣٤ / ج: ٢ ـ المادة: ٣٠٠ ـ شرح العينى / ص: ١١ / ج: ٢)

سـوال:......

چي د خيارِ شرط په مدت كي بيع هلاک سي بيا څه حكم لري؟

الجـواب بـاسـم الملهم الصدق والصواب:......د خيـار شـرط په مدت كي د بيـع پـه هـلاكېـدوسره خيار ساقطيږي، بيا بيع صحيح ده كه باطله په دې كي څلور صورتونه دي:

(١) خيـار شـرط د بـائـع سـره وي او پـر مبيـع بانـدي د مشـتري قبضـه كېدو مخكي مبيع د بائع سره هلاک سي.

(٢) د قبـضـه كـولـو مـخـكي مبيـع هلاک سي خيار د مشـتري سره وي يا دمشـتري او بائع دواړو سره وي.

په دې دواړو صورتو کې بيع باطليږي ځکه چې اوس بيع حواله کول ممکن نه دی .

(٣) مشتري پر مبيع باندې قبضه وکړي وروسته مبيع د مشتري سره هلاک سي او خيار د بائع سره وي، په دې صورت کې بيع باطليږي خو چونکه مبيع د مشتري سره هلاک سوی دی نو د دې وجهې که چيري مبيع مثلي شی وي نو د هغه مثل او که غير مثل شی وي نو پر مشتري باندې د هغه قيمت ادا کول لازم دی .

(۴) مبيع د مشتري سره هلاک سي او خيار هم د مشتري سره وي نو بيع صحيح کيږي او پر مشتري باندې داسته چې بائع ته به ثمن لازمی ادا کوي:

"هلاك المبيع فى مدة الخيار : فيه تفصيل لأن الهلاك إما أن يكون قبل القبض او بعده والخيار إما للبائع او للمشترى ، فإن هلك المبيع قبل القبض أى (فى يد البائع) بطل البيع و سقط الخيار ، سواء أكان الخيار للبائع أم للمشترى ، أم لهما .... و إن هلك المبيع بعد القبض أى (فى يد المشترى) فإن كان الخيار للبائع فيبطل البيع ايضاً ، و يسقط الخيار و لكن يلزم المشترى القيمة إن لم يكن له مثل و المثل إن كان له مثل ... و إن كان الخيار للمشترى فهلك المبيع بفعل المشترى او البائع او بآفة سماوية : لا يبطل البيع ، و لا يكن يسقط الخيار و يلزم البيع و يهلك على المشترى بالثمن "(الفقه الاسلامى و أدلته / ص: ٣٥٤٥ ، ٣٥٤٤ / ج: ٤ ـ بدائع الصنائع / ص: ٢٧٢ / ج: ٥ ـ تحفة الفقهاء / ص: ٧٣ / ج: ٢)

سوال :......

خیارِ شرط په میراث منتقل کیږي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......په خیارِ شرط کي وراثت نه جاری کیږي، نو د دې وجهي خیارِ شرط وارث ته نه منتقل کیږي:

"خیار الشرط لا یورث، و قال العلامة سلیم رستم باز: لانه لیس إلا مجرد إرادة و مشیئة، و هذا وصف لصاحب الخیار فلایمکن انتقاله إلی الوارث"(شرح المجة لسلیم رستم باز / ص: ۱۲۹ / ج: ۱ المادة: ۳۰٦ ـ الدر مع الرد / ص: ۵۸۱ / ج: ٤ ـ مجمع الانهر / ص: ٤۸ / ج: ۳)

سـوال: ......

د خیار عیب متعلق د نبي علیه السلام فرمان څه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......بائع باید مشتري ته شي د تولو عیبو څخه پاک، صفا او په ښه حالت کي په حواله کړي، او که چیري په هغه کي کوم عیب وي نو مشتري ته دې وروښایی، خریدار (مشتري) ته دهوکه ورکول او عیب پټولو باندي شی خرڅول جائز نه دی. د نبي علیه السلام فرمان دی" چا چي دهوکه ورکړه هغه زموږ څخه نه دی" .

"عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ یقول: السلم اخو المسلم و لا یحل لمسلم باع من أخیه بیعاً فیه عیب، إلا بینه له"(سنن ابن ماجه / ص: ۱٦۲ ـ کنز العمال / ص: ۵۹ / ج: ٤ رقم الحدیث: ۹۵۰۱ ـ جامع الترمذی / ص: ۲٤۵ / ج: ۱ ـ فیص القدیر للمناوی / ص: ۵۹۲٤ / ج: ۱۱، رقم الحدیث: ۸۸۷۸ ـ سنن ابی داؤد / ص: ۱۳۲ / ج: ۱)

سـوال:......

خيار عيب په يو شرط باندي ثابتيږي كه بې له شرطه ثابتيږي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......خيار عيب د مشتري لپاره بې له شرطه ثابتيږي، د دې اختيار هيڅ مدت نسته او دا ختيار وارث ته هم منتقل كيږي:

"و خيار العيب يثبت بلا شرط و لا يتوقت، و لا يمنع وقوع الملك للمشتري، و يورث، لأن المورث استحق المبيع سليماً من العيب، فكذا ورثه "(شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ١٤٣ / ج: ١ ـ الشامية / ص: ٣ / ج: ٥ـ جامع الفصولين / ص: ٣٤٠ / ج: ١)

سـوال:......

خيار عيب څه ته وايي او دعيب په وجه سره ثمن كمول څه حكم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... كه چيري په بيع كي عيب وي نو د بائع لپاره په سودا كي عيب بيانول لازمي دى، كه چيري بائع عيب نكړي بيان نو گنهكار دى او كه چيري مشتري په عيب خبر سي نو ده ته په دوو خبرو كي ديوې خبري اختيار ستهء بيع دي واپس كړي او خپل ټول ثمن دي بيرته واخلي، او كه يې خوښه وي دټولو ثمنو په عوض كي دي مبيع واخلي، دې ته خيار عيب واي د عيب په وجه باندي په ثمن كي كمى كول نه دى جائز، هو دا كېداى سي چي مبيع بيرته وركړي او ثمن بيرته واخلي بيا د دې وروسته په كم ثمن باندي سودا كېداى سي:

"و قد وردت السنة بالنهي والوعيد الشديد على بيع المعيب بدون بيان العيب للمشترى ... و لهذا اوجب رسول الله ﷺ على البائع أن يفصح عن

عيوب المبيع و أعطى الخيار للمشترى إذا لم يفصحه البائع عند العقد و بناء على ذلك ، أجمع فقهاء الشريعة الاسلامية على ثبوت اصل هذا الخيار قال ابن قدامة رحمه الله تعالى : متى علم بالبيع عيباً لم يكن عالماً به ، فله الخيار بين الإمساك والفسخ ، سواء كان البائع علم العيب او كتمه او لم يعلم لانعلم بين اهل العلم فى هذا خلافاً "(فقه البيوع على مذاهب الأربعة / ص: ۸۲۸ - ۸۳۱ / ج: ۲ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ١٤٤ / ج: ۱ ، المادة : ۳۳۷)

سوال :......

د خيارِ عيب لپاره څه شرائط سته او كه نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :......د خيارِ عيب لپاره شرائط دا دي

(۱) هغه عيب په مبيع كي د بائع سرهٔ پيدا سوى وي او د بيع د عقد په وخت كي هم موجود وي يا د بيع د عقد په وخت كي موجود نه وي ، خو په مبيع كي مشتري ته د حواله كولو دمخه عيب پيدا سوى وي نو مشتري ته خيارِ عيب سته ، او كه چيري بائع مبيع مشتري ته حواله كړي بيا د هغه وروسته د مشتري سره عيب پيدا سي نو د مشتري لپاره خيار عيب نسته .

(۲) د بائع سره چي په مبيع كي كوم عيب پيدا سوى وو هغه د مشتري پر مبيع باندي د قبضه كولو وروسته هم پاتي وي ، او كه چيري د مشتري سره هغه عيب نه سو پيدا نو د مشتري لپاره مبيع د خيارِ عيب په وجه سره دبيرته وركولو حق نسته .

(۳) مشتري د سودا په وخت كي يا په هغه وخت كي چي پر مبيع باندي قبضه وكړي په عيب باندي خبر نه وي او كه چيري مشتري د سودا په وخت كي يا پر مبيع باندي د قبضه كولو په وخت كي په عيب باندي خبر

وي بيا هم مبيع (شی) واخلي نو په دې سره خيارِ عيب نه حاصليږي .
(۴) د مشتري سره د دې عيب ختمول ممکن نه دي که چيري معمولي عيب وو د هغه ختمول ممکن وي نو د مشتري لپاره خيارِ عيب نسته . مثال د کپړو (تهوکرانو) رانيولو وروسته معلوم سول چي دا کالي مردار دي نو دا په پرېلو سره په آساني باندي ختمول ممکن دی نو د دې وجهي د مشتري لپاره خيارِ عيب نسته .
(۵) بائع د سودا په وخت کي د عيب څخه د برأت شرط نه وي لکولی ، که چيري یې برأت شرط لکولی وي نو د مشتري لپاره خيارِ عيب نسته:

"و أما شرائط ثبوت الخيار ، منها : ثبوت (العيب عند البيع او بعده قبل التسليم حتى لو حدث بعد ذلك لا يثبت الخيار ...و منها : ثبوته عند المشترى بعد ما قبض المبيع و لا يكتفى بالثبوت عند البائع ... و منها : جهل المشترى بوجود العيب عند القبض ، فإن كان عالماً به عند أحدهما ، فلا خيار له ... و منها : عدم اشتراط البرأة عن العيب فى البيع عندنا حتى لو شرطه فلا خيار للمشترى"(بدائع الصنائع / ص: ۲۷۵ / ج: ۵)

"و الطريق الثانى : أن يزيل ذلك العيب إما باصلاحه او بتغيير بعض اجزائه ، و لم أجد فى ذلك نصاً عند الحنفية إلا ماذكره السرخسى رحمه الله تعالى قال : و إذا اشترى عبداً عليه دين لم يعلم به ، ثم علم بذلك .... " (فقه البيوع على المذاهب الأربعة / ص: ۸٥٦ / ج: ۲ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ۱٤۳ / ج: ۱ ـ ماده : ۳۳۷ ـ الفقة الاسلامى و أدلته / ص: ۳۱۱۷ / ج: ٤)

سوال :......

د خيارِ عيب په وجه سره د مبيع واپس كولو شرائط څه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... كه چيري خريدار (مشتري) د سودا كولو په وخت كي د مبيع (خر څ سوي شي) د عيب په اړه بالكل علم نه وي او وروسته د عيب په ښكاره كېدلو مشتري رضامندي نه كړه ښكاره او بائع (دكاندار) د سودا كولو په وخت كي د عيوبو څخه د برأت اعلان هم نه وكړى او په دې مبيع كي مشتري هيڅ قسم تصرف هم نه وكړى نو په داسي صورت كي د خيارِ عيب په وجه سره مبيع بيرته وركول جائز دي او د بائع لپاره بيرته اخيستل ضروري دي:

"اما مبيع مطلقاً إذا بيع و فيه عيب قديم يكون المشترى مخيراً إن شاء رده و إن شاء قبله بثمنه المسمى و لايثبت خيارالعيب إلا بشروط ثمانية:

۱۔ ألا يرى المشترى حين الشراء و القبض ذلك العيب و إذا رآه يجب أن يكون لا يعلم أنه عيب عند التجار۔

۲۔ أن لا تحصل حال تدل على رضاه بالمبيع بعد اطلاعه على العيب ۔

۳۔ أن لا يشترط فى المبيع ببراءة البائع من دعوى العيب "(در الحكام شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر / ص: ۲۸۵ / ج: ۱ ، المادة: ۳۳۷۔ شرح المجلة لخالد الأتاسى / ص: ۲۹۰ / ج: ۲ ،مادة: ۳۳۷ ۔

قال فى البحر: و إلى هنا ظهر أن خيار العيب يسقط بالعلم به وقت البيع او وقت القبض ... ۔ (الشامية / ص: ٤٧ / ج: ٥ ۔البحر الرائق / ص: ٦٧ / ج: ٦)

سوال: ......

دلال څه ته وايي او دلال د اجرات مستحق كله كرځي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د دلال لفظ په دوو معناوو

باندي استعماليږي:

(۱) يو هغه دلال دی چي اجير جوړ سي بې له اجرته د بائع او مشتري د يو بل د خوا څخه رهنمائي کوي او خپله سودا نه کوي . په انګريزي ورته بروکر وايي .

(۲) دويم هغه دلال دی چي د بائع يامشتري د خوا څخه په اجرت باندي سودا کوي، په انګريزي کي کمېشن ايجنټ ورته وايي . کمېشن ايجنټ (دلال) د اجرت مستحق هغه وخت ګرځي چي کله هغه کار پوره کړي مثلاً چي کله دلال سامان خرڅ کړي هغه وخت دی د اجرت اخيستلو مستحق جوړيږي .

"۱۔ السمسار هو المتوسط بين البائع والمشترى باجر من غير ان يستاجر"(رد المحتار / ص: ٦٥٦ / ج: ٥۔ سکب الانهر على هامش ۔ مجمع الانهر / ص: ٤٥٨ / ج: ٣)۔

"٢۔ مقتضى كلام الشارع أنّ الدلال غيرالسمسار كما فى القهستانى بأنّ الدلال يحمل السلعة إلى المشترى و يخبر بالثمن و يبيع ، بخلاف السمسار كما فى القهستانى بأنّ الدلال يحمل السلعة إلى المشترى و يخبر بالثمن و يبيع ، بخلاف السمسار فانه لم يكن فى يده شيئ۔(تكملة رد المحتار / ص: ٣١٠ / ج: ٨۔ الدر مع الرد / ص: ١٣٦ / ج: ٥ ۔ طحطاوى على الدر / ص: ٩٥ / ج: ٣۔ تنقيح الحامدية / ص: ١١٥ / ج: ٢۔)

"٣۔ ولا يستحق المشترك الاجر حتى يعمل كالقصار و نحوه كفتال و حمال و دلال و ملاح"(رد المحتار / ص: ٦٤ / ج: ٦ ۔ حاشية الطحطاوى على الدر المختار / ص: ٣٥ / ج: ٤ ۔ شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ٢٤٤

/ ج: ۱ ـ شرح المادة ٤٧٧)

سـوال: ......

دلال ضامن دی او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... دلال د تاجر نمائنده وي نو د دې وجهې د تاجر لپاره د خرڅ سوي شي (مال) ضامن نسي كېداى .

"ضمان الدلال والسمسار الثمن للبائع باطل ، لانه وكيل بالاجر "(الدر المختار مع الرد / ص: ٣٣٤ / ج: ٥)(حاشية الطحطاوى على الدر المختار / ص: ١٦٤ / ج: ٣ ـ الترهيب والترغيب / ص: ٤٥٠ / ج: ٢)

سـوال: ......

آيا سامان د دلال سره امانت دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......كه چيري تاجر سامان دلال ته د خرڅولو لپاره وركړی نو دا سامان د دلال سره امانت دی، كه چيري مال د دلال په كوتاهي او قصور سره ضائع او هلاک سو نو دلال به د مال ضامن وي او كه چيري په قدرتي آفت سره هلاک سو يا د حفاظت سره غلا سو يا يو حادثه راغله چي د دلال قصور نه وو نو دلال ضامن نسي كېداى بلكه دا د تاجر تاوان دی:

"الدلال أجير مشترك حتى الوضاع من يديه شيئ بلا منعه لا يضمن عند ابى حنيفة رحمه الله تعالى "(مجمع الضمانات / ص: ٥٢ / ج: ١ ـ حاشية الطحطاوى على الدر المختار / ص: ١٦٤ / ج: ٣ ـ المحيط البرهانى / ص: ٧٤ / ج: ١٢)

سـوال: ......

دلال د مالک لپاره د مال د قیمت ضامن جوړېدای سي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... دلال (کمیشن ایجنټ) پخپله د مالک ایجنټ او نمائنده دی که څه هم په اجرت باندي دی ددې وجهي هغه د مالک لپاره د خرڅ سوي مال د قیمت ضامن نسي جوړېدای یعني دلال مالک ته دا و وایي چي پر فلانکي باندي سامان خرڅوم که چیري هغه قیمت (پیسې) أدا نه کړي نو زه د قیمت ضامن یم دا نه دی صحیح .

"ضمان الدلال و السمسار الثمن للبائع باطل لانه وكيل بالاجر"(رد المحتار / ص: ٣٣٤ / ج: ٥ ـ حاشية الطحطاوى على الدر المختار / ص: ١٦٤ ـ المحيط البرهانى / ص: ٧٤ / ج: ١٢)

سوال:......

که چیري د دلال اجرت متعین نه وي نو بیا څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... که چیري تاجر دلال ته د یو سودا وویل او اجرت یې متعین نه کړ او دلال هغه سودا وکړه نو د اجرت د نه تعین له وجهي دا اجاره فاسدېږي او دلال به د اجرت مثل حق دار وي یعني بل دلال چي پر داسي قسم سودا باندي څومره اجرت اخلي هغومره اجرت دي دې دلال ته ورکړي:

"وليس للدلال سوى الأجرة المسماه لو كان الأجرمعيناً و إلا فالاجرة المثل بالغة ما بلغت ، و لو قال للدلال : بعه بكذا و ما زاد فهو بينى و بينك ... إن باعه بأكثر فله اجر المثل لايتجاوز نصف الزيادة و به يفتى"(شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ٢٤٤ / ج: ١ ـ المادة : مع شرحها ٥٧٨ ـ فتاوى هنديه / ص: ٤٥٠، ٤٥١ ـ الشامية / ص: ٦٣ / ج: ٦ ـ الفتاوى الهندية / ص: ٤٣٩ / ج: ٤)ـ

سـوال:.......

د پور (دين) د كاغذانو رانيـول او خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د پور قيمت كاغذان خرڅول د كاغـذانـو رانيـول او خرڅول نه دى بلكه په كاغذانو كي د ليكل سوي رقم رانيـول او خـرڅـول دي او د نـقـد بيـع كـه چيـري د نـقـد پـه عوض وي نو ضـروري ده چـي د دواړو خـوا وو څـخـه پـوره ادائيګي و قبضـه وي او د يو جنـس پـه صورت كي د مقدار په اعتبار سره برابري هم وي . د بيع صرف دايـو مسـلّـمـه قاعده ده چي پر دې باندې قريب قريب د ټولو فقهاؤ اتفاق دى نو د دې وجهي د پور كاغذان خرڅول او رانيول بالكل جائز نه دي:

"قـوله : فلو تجانسا شرط التماثل و التقبض : أى النقدان بأن بيع أحدهما بجنس الآخر فلا بد لصحة من التساوى و زناً و من قبض البدلين قبل الافتراق ... (قـولـه : فـلـو باع بالفضة مجازفة صح إن تقابضا فى المجلس) لأن المستحق هـو القبـض قبـل الافـتـراق دون التسـاوى .... و لـو افترقا قبل قبضهما او قبض احـدهـمـا بـطـل لـفوات الشرط"(البحر الرائق / ص: ١٩٢ / ج: ٦، ١٩٤ / ج: ٦ ـ الدر مع الرد / ص: ٢٥٧، ٢٥٩ ـ فتح القدير / ص: ١٢٧، ١٢٩ / ج: ٧)

سـوال:.......

ډكري، حكم نامه او داسي نور اسناد خرڅول رانيـول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د ډكـري او حكم نامه رانيول او خرڅول باطل دي څكه چي دامال نه دى:

"لا يـجـوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة"(الدر المختار مع الـرد / ص: ٥١٨ / ج: ٤ـ الاشبـاه والـنظائر / ص: ٢١٠ ـ بدائع الصنائع / ص:

٤٨ / ج: ٦)

سوال:......

پر غصب باندي غصب په صورت كي دضمان حكم څه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... يو سړي د بل سړي څخه مال غصب كړ بيا يو بل غل راغلی د هغه څخه يې يوړی، مثلاً د يو چا سره موټر وي يو غل ور څخه واخيستی، بيا بل دويم غله هغه (موټر) د اول غله څخه واخيست بيا د دريم غله د لاسه هغه مات سو يا په يو وجه سه د استعمال قابل نه وو نو مالک كولای سي چي د دواړو خلاف مقدمه وكړی، او په دوی دواړو كي چي وغواړي له هر يوه څخه ضمان واخلي اخيستی يې سي، خو چي له يوه څخه ضمان واخلي نو د هغه بل څخه د وصولو كولو حق نلري:

”غاصب الغاصب حكمه حكم عين الغاصب .... فاذا غصب من الغاصب المال المغصوب شخص آخر، و أتلفه او تلف في يده، فالمغصوب منه مخير ان شاء ضمنه الغاصب الاول، وان شاء ضمنه الغاصب الثانی وله أن يضمن مقداراً منه الاول ومقدار الآخر الثانی ... وإذا ضمن الغاصب الاول فهو يرجع علی الثانی و اماإذا ضمنه الثانی فليس للثانی أن يرجع علی الاول، إذا ردّ غاصب الغاصب المال المغصوب إلی الغاصب الاول يبرأ وحده وإذا ردّه إلی المغصوب منه يبرأ هو والاول“(شرح المجلة لرستم باز / ص: ٤٠٢، ٤٠٣، المادة: ٩١١، ٩١٠ ـ شرح المجلة للاتاسی / ص: ٤٤٨، ٤٥٢ / ج: ٣، المادة: ٩١٠، ٩١١ ـ الفقه المعاملات للصابونی ـ الدر مع الرد / ص:١٩٧ / ج: ٦)

سوال:......

ډیبټ کارډ کي د سروس چارج په نامه باندي چي بینک کوم رقم کاټوي دا څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... ډیبټ کارډ د خپل بینک اکاؤنټ څخه د پیسو رایستولو لپاره د اې ټي ایم په نامه باندي یو مشین دی باندی داکارډ استعمالیږي د دې په ذریعه پیسې براه راست د خپل اکاؤنټ څخه حاصلیږي یا دغه رنګه کارډونه لکه چارج کارډ کارپوریټ کارډ، فلیټ کارډ یا دیوې کمپنۍ د سودا کارډ او داسي نور چي په هغو کي په محض مقرره وخت کي به واجب الاداء رقم ادا کیږي . او څه زیاته سود ادا کول نه غواړي، خو ډیبټ کارډ په مشین کي د چارج کولو په صورت کي د سروس چارج په نامه باندي د فیصد په اعتبار چي کومي پیسې کاټوي هغه صحیح نه دي ځکه چي بینک قرضدار دی او پیسې جمع کولو والا قرض خواه دی، د قرض دار بینک لپاره د سروس چارج په نامه باندي د قرض څخه رقم حاصلول جائز نه دي:

”﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن کُنتُم مُّؤْمِنِینَ ـ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ﴾(البقرة: ۲۷۹ ، ۲۷۸) (اعلاء السنن / ص: ۵۱۲ / ج: ۱٤(الاشباه والنظائر / ص: ۲۵۷) (فقه السنة / ص: ۱٤۸ / ج: ۳)(شامی / ص: ۸٤۸ / ج: ۳)(الدر المختار مع الرد / ص: ۱٦۱ / ج: ۵) (بحوث فی قضایا فقهیة معاصرة / ص: ۱۷٤ / ج: ۱)“

سـوال :......

د ډیبټ کارډ استعمال څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د دې کارډ حامل فرد دمخه څخه اکاؤنټ په دې اداره یابینک کې موجود وي د کومې ادارې یابینک چې دا کارډ حاصل کړی دی او کارډ اخیستلو والاچې دغه کارډ کله هم استعمالوي اداره یا بینک د ده په اکاؤنټ کې د موجودو پیسو څخه د دې ادائیګي وکوي په دې کې کارډ اخیستلو ته د پور سهولت نه حاصلیږي بلکه دی خالص تر هغه وخت پورې کارډ استعمال کوای سي ترڅو پورې چې د ده په اکاؤنټ کې پیسې پکښې وي اداره یا بینک د دې کارډ د جاري کولو فیس وصول کوي د دې کارډ استعمال جائز دی او ددې په ذریعه سودا کول جائز دي، ځکه چې په دې کې د قرض او سود صورت نسته، خو د کارډ اخیستلو والا دا ذمه واري ده چې دی به کارډ د شریعت خلاف په یو ناجائز او د ګناه په کار کې نه استعمالوي که نه وي نو ګنهګار دی:

"و تجوز الوكالة بقضاء الدين، لانه يملك القضا بنفسه و قد لا يتهيأ له القضاء بنفسه فيحتاج إلى التفويض إلى غيره "(بدائع الصنائع / ص: ٢٣ / ج: ٦ - الفقه الاسلامي و ادلته / ص: ٨٨ / ج: ٥ - الخانية على هامش هندية / ص: ٤٦٩ / ج: ٥ - الفقه الكاملية / ص: ١٣٦ - شرح مجلة للاتاسي / ص: ٤٩٨ / ج: ٤، مادة: ١٥٠٤)

سوال: ......

د ډي، او (ډیلیوري آرډر) په ذریعه باندې بیع کول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چیرې یو سړی د مِل څخه د مال رانیولو سودا کوي نو مِل والا هغه سړي ته یو رسید (کاغذ) ور کوي دې رسید (کاغذ) ته ډلیوري آرډر وایي چې دا مختصف د ډي او (انګریزي

دوو لفظو څخه دی) پر دې ډي او باندي يو تاريخ ليکلى وي چي د هغه په وجه سره د مال رانيولو والا لپاره دا حق وي چي دی په دې رسيد (ډي او) کي تر ليکل سوي تاريخ پوري ډي او ور ښکاره کړي او د گودام څخه مال را واخلي، خو دا دا رقم وي چي مال رانيولو والا د گودام څخه مال را اخلي نه او پر هغه مال باندي قبضه هم نه کوي، او خپل مال جلا هم نه ږدي بلکه پر همدغه حالت دي ډي او ور ښکاره کړي مال پر بل باندي او هغه يې پر بل باندي خرڅوي. په دې کي چي تر څو پوري مال په گودام کي وي هغه د مِل د مالک پر ضمان او تاوان باندي وي. دا رقم د قبضې څخه دمخه ډيليوري آرډر ور ښکاره کول مال رانيول او خرڅول جائز نه دی، او په دې طريقه باندي چي کومه نفع حاصليږي هغه نفع هم ناجائز ده. او دا صدقه کول واجب ده.

په حديث شريف کي دي چي حضرت حکيم بن حزامؓ وويل ما نبي عليه السلام ته وويل چي اې د الله رسوله زه سودا (رانيول او خرڅول) کوم په دې کي زما لپاره کوم حلال دي او کوم حرام دي؟ نو نبي عليه السلام وويل چي کله ته يو شی رانيسې نو پر هغه باندي د قبضه کولو دمخه هغه مه خرڅوه.

او پوهه سه چي تر څو پوري مال په گودام کي وي خريدار هغه نه سي استعمالولای او ډي او حاصلولو مطلب دا دی چي د دې رسيد په ذريعه د گودام څخه مال حاصل کېدای سي او تر څو پوري چي مال د گودام څخه را و نه وزي، حاصل نه سي قبضه نه ورته ويل کيږي، لهذا پر ډي او باندي قبضه پر مال باندي قبضه نه بلل کيږي او دا رائج کاروبار په موجوده

شکل کي جائز نه دی .

"و اما تفسير التسليم والقبض ، فالتسليم و القبض عندنا هو التخلية و التخلي و هو أن يخلي البائع بين المبيع و بين المشترى برفع الحائل بينهما على وجه يتمكن المشترى من التصرف فيجعل البائع مسلماً للمبيع والمشترى قابضاً له"(بدائع الصنائع / ص: ٢٤٤ / ج: ٥ ـ الموسوعة الفقهية / ص: ٣١٦ / ج: ١١ ـ مسند احمد بن حنبل / ص: ٤٠٣ / ج: ٣ ـ السنن الكبرى للبيهقى / ص: ٣١٣ / ج: ٥ ـ الفتاوى الهندية / ص: ٢١٢ / ج: ٣ ـ الهداية / ص: ٦٨، ٦٩ ـ / ج: ٣)

سوال :......

ډیپازیټ رقم څه ته ویل کیږي او دا د شریعت له خوا څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... مکان یا دکان په کرایه باندي ورکولو په وخت کي ډیپازیټ رقم (روپۍ) د دې غرض لپاره وي چي کله کرایه دار مکان یا دکان خالي کړي نو که چیري ده په مکان یا دکان کي څه نقصان یا تاوان کړی وي نو د هغه ضمان د دې څخه واخلي .

دغه رنګه که یې چیري کرایه ادا نه کړه نو د هغه څخه یې واخلي، دا د امانت په حکم کي دی او د استعمال په صورت کي قرض جوړیږي دا د عرفِ عام په وجه سره جائز دی:

"والعرف فى الشرع اعتبار لذا عليه الحكم قد يدار .... و اعلم أنّ اعتبار العادة و العرف رجع اليه فى مسائل كثيرة حتى جعلوا ذلك أصلاً ، فقالوا تترك الحقيقة بدلالة الاستعمال والعادة "(رسائل ابن عابدين / ص: ٤٤ / ج: ١ ـ و فيه ايضا / ص: ١١٥ / ج: ٢ ـ الرسالة : نشر العرف فى بناء بعض الاحكام على

العرف ، ط : سهيل اكيڈمی لاهور)

سوال :......

د غصب سوو شيانو رانيول او خرخول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... کله کله علاقايي جنګو د وجهې يو قوم پر بل قوم غالب سي نو په دې کي ډېر مالونه، جائيدادونه لاس ته راسي په داسې ظالمانه قبضو سره غاصب د دې شيانو مالک نه کرځي، بلکه غصب سوي شيان واپس کول لازم دي که چيري مالک وو هغه ته دي بيرته ورکړي کنې نو وارثانو ته دي بيرته ورکړي .

که چيري مالک يا وارث نه وو نو فقراء او مساکينو ته دي ورکړي، که چيري غاصب غصب سوي شيان (مال و جائيداد) خرڅ کړي وي نو خرڅول د مالک پر اجازت باندي موقوف دي که چيري مالک اجازت ورکړي نو بيع صحيح ده کنې صحت نلري او غصب سوی مال اصل مالک ته بيرته ورکول لازمي دی:

”عن حرة الرقاشی عن عمه قال :قال رسول الله ﷺ ألا لاتظلموا ألا لايحل مال امرئ إلا بطيب نفس منه“(مشكوة المصابيح / ص: ۲۵۵ ـ الهداية / ص: ۳۷۱ ، ۳۷۰ ـ ج۳ البحر الرائق / ص: ۱۰۸ ، ۱۰۹ / ج: ۸ ـ شامی / ص: ۳۸۵ / ج: ٦ ـ الخانية على الهندية / ص: ٤۰۰ / ج: ۳)

سوال :......

چي غصب سوی مال د يو چا سره پيدا کړي څه به کوي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... که چيري غصب سوی مال د

يو چـا سره پـه صـحيـح جـالـت كې پيدا كړي نو ده تـه د خپـل مـال بيرتـه اخيسـتـلـو حـق سـتـه، كه څه هم هغه د غصب كولو والا څخه رانيولى وي، ځكـه چې كوم وخت غاصب پر غلـه باندي دا مال خرڅوى هغه د دې مال نه وو نو ځكـه دا بيـع مـنـعـقـده سـوې نه ده لهذا مالك دي د ده څخه خپـل مال واخلي، پاته سوسړى دي د غاصب بائع څخه اداكړى قيمت واخلي .

"ابـو هـريـرة رضـى الله تـعـالـى عـنـه يقول : قال رسـول الله ﷺ أو قال : سـمـعـت رسـول الله ﷺ يقول من ادرك ماله بيعنه عند رجل او رجل قد افلس فهو احق به من غيره"(صحيح البخارى / ص: ۳۲۳ / ج: ۱ ، ط : قديمى)

عن سـمـرة ...... (سنن ابـى داؤد / ص: ۱٤۲ / ج: ۲ رقـم الحديـث : ۳۵۳۰)(سنن ابن ماجه ۱٦۸ ، ابو اب الاحكام ، باب من سرق شئ ...)

سـوال:......

كـه چيـري پـتـواري وغيـره پـه غلطي باندي يا په يو بله وجه باندي مځكه يامكان دبل چا په نامه كړي ؟

الـجـواب باسـم الـملـهم الصدق والصـواب : ...... كـه چيري پتواري يا بل داسې چا پـه غـلـطـي باندي يا په يو بله وجه باندي مځكه يامكـان دمالك ماسوا د يو بـل چا پـه نـامـه كـړه، نـو هغه مالك نه دى بلكه اصـل مـالك به بدستور اصل مالك وي چې د چاپر نامه سوه د هغه لپاره ضروري د چې بيرته يې د اصل مالك په نامه كړي:

"بـخـلاف جعلته باسمك فإنه ليس بهبة "(الدرمع الرد / ص: ٦۸۹ / ج: ۵۔ الهـداية / ص: ۳۷۱ ، ۳۷۰ / ج: ۳ ۔ الـخـانية على هامش الهندية / ص: ٤۰۰ / ج: ۳ ۔ البحر الرائق / ص: ۱۰۹ ، ۱۰۸ / ج: ۸)

سوال:......

په غله منډۍ کي چي د مزدور مزدوري راځي دا پر چا ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... په غله منډۍ کي چي د مال تر خرڅولو پوري چي د مزدور کومه مزدوري راځي دا پر بائع (خرڅولو والا) باندي ده، او د خرڅولو وروسته تر موټر یا ګاډۍ پوري وړلو لپاره چي کومه مزدوري راځي دا پر خریدار (مشتري) باندي ده:

"عن عثمان رضی الله عنه أن النبی ﷺ قال له: و إذا بعت فكل و إذا ابتعت فاكتل" (صحیح البخاری / ص: ۲۸۵ / ج: ۱ ۔ عمدة القاری / ص: ۳۴۸ / ج: ۱۱ ۔ درر الحكام شرح مجلة الاحكام / ص: ۲۳۱ / ج: ۱، ماده: ۲۸۹)

سوال:......

په غلیظو موادو باندي‌مبني کتابونه خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... د کتابو خرڅولو والا لره پکار ده چي پخپلو کتب خانو کي اسلامي کتابونه خر څ کړي لکه قرآن شریف، تفسیر، فقه، تاریخ، سیرت صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین باندي لیکل سوي کتابونه، د دیني مسائلو کتابونه او پر غزوات وغیره باندي مشتمل کتابونه خر څ کړي. د دې لپاره چي صدقه جاریه جوړه سي او د حلال روزي او په مال کي دبرکت سبب وګرځي، فحاشي، عریاني، ګمراهي، فساد خپرولو والا اخلاقي زوال پیدا کولو والا، په مسلمانانو کي فتني پیدا کولو والا، بدعاتو ته رواج ورکولو والا، عقائد و نظریات تباه کولو والا، عشقیه قصو والا کتابونه خر څ نه کړي. د داسي کتابو رانیول او خرڅول جائز نه دي. داسي کتابونه د

مسـلـمـانـانـو زامـنـو او لـونـو تـه د پليت اورزيل اخلاقو تعليم وركوي او اخـلاقـي پستي او جنسي لار و ليكو خوا ته يې بيايي، داسي دكاندارا ن د مسلمانانو گمراه كولو كتابو په ترويج او اشاعت كي حصه دار دي . د دوى دغـه عـمـل پـه آخرت كي د دوى لپاره د دردناك عذاب سبب جوړيږي او تر قيـامـت پـوري د گـنـاه كولو والاوو په گناه كي دا خلك هم شريك دي، ځكه چي سبب دا خلك جوړ سوي دي:

"قال الله تعالى :﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِىْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾"(سـورة لقمان : ٦) (تفسير ابن كثير / ص: ١٠١ / ج: ٥ ـ ط : رشيديه) (روح المعانى / ص: ٧٩ / ج: ٢١ سـورة لقمان) (تفسير ابن كثير / ص: ٤٥٣ / ج: ٢ ـ سورة المائدة)

سـوال :......

د غير شرعي لباس رانيول او خرڅول څنگه دى؟

الـجـواب باسم الملهم الصدق والصواب : ......غيـر شرعي لباس مثلاً چست لبـاس يا دا رنگه لباس چي په هغه باندي ستر نه پټيږي چي دا تيار كړي پر غيـر مسـلـم بـانـدي د خـرڅـولـو كنجائش سته، بـه نه دى او پر مسلمانانو بـانـدي خرڅول مكروه تحريمي دى ځكه چي په دې كي د گناه په كار كي تعـاو ن كـول دي او د گـنـاه په كار كي د تعاو ن كولو څخه الله جل شانه منع كـړې ده، پوه سه چي د حيوانانو په تصاويرو سره لباس تيارول جائز نه دى ، او داسي لباس پر غير مسلم باندي خرڅول هم نه دى جائز .

"و فـى المحيط لا يكره بيع الزنانير من النصرانى والقلنسوة من المجوسى لأن ذلك اذلال لهـمـا ، و بيـع المكعب المفضض للرجل ان ليلبسه يكره ، لانه

إعانة علی لبس الحرام ، و إن کان اسکافاً امره انسان أن یتخذه له خفا علی ذی المجوس او الفسقة او خیاطاً امره أن یتخذ له ثوناً علی ذی الفسقة یکره له ان یفعل لانه سبب التشبه بالمجوس والفسقة"(شامی / ص: ۳۹۲ / ج: ٦) (الهندیة / ص: ۲۱۰ / ج: ۳ ـ حجة الله البالغة / ص: ۱۰۲ / ج: ۲)

سـوال :......

پـه غیـر قـانوني توګه سره مال راوړل څنګه دی په شریعت کې، د دې سودا کول څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... دیو ملک مال په غیر قانوني توګه سره بل ملک ته راوړل په قانوني اعتبار سره منع دي بیا هم که چیرې هغه مال جائز او حلال وي نو د هغه سودا (رانیول او خرڅول) جائز دی او چې کوم سړی دا مال رانیسي هغه یې مالک دی، ده ته اختیار دی که یې خپله استعمالوي که یې چا ته هبه کوي او که یې خرڅوي او آمدني یې هم حلاله ده .

خو په قانوني اعتباره د پابندۍ په صورت کې د عزت او مال دواړو خدشه وي نو د دې څخه ځان ساتل بنه دی او په اصطلاح کې دې ته ګرځي (اسمګلنګ) وایي .

پوه سه چې په دې وخت کې پر صدر او وزیر اعظم باندې د امام اطلاق نه دی صحیح .

"و أما حکمه فثبوت الملك فی المبیع للمشتری ، و فی ثمن للبائع إذا کان البیع باتا"(الهندیة / ص: ۳ / ج: ۳ ـ شامی / ص: ٥٠٦ / ج: ۳ ـ حاشیة الشبلی علی التبیین / ص: ۲۷٦ / ج: ٤ـ الدر مع الرد / ص: ٤٦۳ / ج: ٦ـ

البحر الرائق / ص: ٤٢٩ / ج: ٥ ـ تبيين الحقائق / ص: ٤٧٥ / ج: ٤)

كل يتصرف في ملكه شاء..... (شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ٦٥٤ ـ رقم المادة : ١١٩٢ ـ شرح المجلة للاتاسي / ص: ١٣٢ / ج: ٤ ، ماده :/ ١١٩٢ ـ شامي / ص: ٤٤٨ / ج: ٥)

(والامام يصير اماماً) بأمرين (بالمبايعة من الاشراف و الأعيان ، و بأن ينفذ حكمه في رعيته خوفاً من قهره و جبروته ، فان بايع الناس) الامام(و لم ينفذ حكمه فيهم لعجزه) عن قهرهم (لايصير اماماً ـ (الدر مع الرد / ص: ٢٦٣ / ج: ٤)

سوال:......

د كافر سره مزدوري كول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......ديو مسلمان د كفار سره ملازمت او مزدوري كول ښه نه ده، په دې كي د كفارو مخدوميت راځي او د مسلمانانو يو قسم ذلت كيږي او دا د ايمان د شان خلاف دى، پاته سو مجبوري هغه جلا خبره ده .

حضرت ابو هريره رضى الله عنه وايي چي د انصارو يو صاحب راغلى نبي عليه السلام مبارك ته يې وكتل هغه وويل څه خبره چي زه تا غمګين او ناسازه وينم ؟ نبي عليه السلام وفرمايل د لوږي د وجهي ، بيا دې انصاري صحابي خپلي كجاوې ته ولاړى په هغه كي شى نه وو بيا په او تلاش پسي راووتى ، يو يهودي يې وليدى چي په باغ كي يې اوبه لګولې انصاري صحابي پوښتنه وكړله، باغ اوبه كړم (په اجرت باندي) هغه ورته وويل، وو ، هغه ورته وويل د هري سولاغې په بدله كي يوه خورمانه غوارم، عمده غوارم نو تقريباً دوه صاعه ته نيژدې خورمايې

جمع کړې او د نبي ﷺ مبارک په خدمت کي یې راوړې:

"عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ، قال جاء رجل من الانصار فقال : یا رسول الله مالی أری لونك منكفئاً ؟قال : الخمص فإنطلق إلی رحله ، فلم یجد فی رحله شیئاً ، فخرج یطلب ، فإذا هو بیهودی یسقی نخلاً ، فقال الانصاری للیهودی : أسقی نخلك ؟ قال : نعم ، قال : كل دلو بتمرة ، و اشترط الانصاری أن لا یأخذ خدرة و لا تازرة و لا حشفة ، و لا یأخذ إلا جلدة فاستقی بنحو من صاعین ، فجاء به إلی النبی ﷺ "(سنن ابن ماجة / ص: ۱۷٦ ـ المسند الجامع / ص: ۲۹٦ ، ۲۹۷ / ج: ۱۷ ، رقم الحدیث : ۱۳۳٦٦۳)

سوال:......

کافر ته امانت ایښول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:......که چیري یو وخت کافر ته د امانت ایښولو ضرورت پیدا سي نو د کافر امانت ایښول او کافر ته امانت ایښول دواړه جائز دي:

"عن عائشة رضی الله تعالی عنها استأجر نبی ﷺ و ابو بكر رجلاً من بنی الدیل ثم من بنی عبد بن عدی هادیاً خریتاً الخریت الماهر بالهدایة ق غمس یمین حلف فی آل العاص بن وائل ، و هو علی دین كفار قریش فأمناه فدفعا الیه راحلتهما .... "(صحیح البخاری)

سوال:...... د غیر مسلم سره مضاربت کول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... د غیر مسلم سره هم عقدِ مضاربت کېدای سي، ځکه چي دا معامله ده او د معاملې د صحت لپاره د

دین او ملت یو والی نه دی ضروري . نبي علیه السلام د کفارو سره هم معاملات کړي دي:

" و اسلامه لیس بشرط أصلا فتجوز الإجارة و استئجار من المسلم والذمی والحربی المستأمن لأن هذا من عقود المعاوضات فیملکه المسلم و الکافر جمیعا کالبیعات ....."(بدائع الصنائع / ص: ۱۷٦ / ج: ٤ـ الهندیة / ص: ۳٤۸ / ج: ٥ـ)

سوال: ......

د کفارو په ملک کي د بینکو څخه سودا اخیستل څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د کفارو په ملک کي هم د بینکو څخه سودا اخیستل جائز نه ده په قرآن شریف کي حکم عام دی . غیر مسلم ملکونه یا کفار یې نه دي خاص کړي د مسلمانانو لپاره په کار دی چي د کفارو په بینکو کي پیسې هم جمع نه کړي:

"یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن کُنتُم مُّؤْمِنِینَ ـ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ "(سورة البقرة : ۲۷۹)

"وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَیْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا "(البقرة : ۲۷٥) (مشکوة المصابیح / ص: ۲٤٤)

سوال: ......

د کفارو متروکه شیان خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... په یو مسلمان ملک کي د غیر مسلم قومونه د څه وخت او سېدلو وروسته د هغه ځای څخه ولاړ سي نو د هغو پاته سوی جائیداد یا نور شیان د ذاتي مفاد لپاره خرڅول جائز نه دی، بلکه دغه شیان د دغو قیمت د بیت المال په حواله کول لازم دي .

کـه چيري د بيت المال څه قابل اعـتـماد انتظام نه وي بلكه په هغه كي د دغـو شيانو ضيـاع خطره وي نو په يو داسي ځاى كي مصرفول مناسب دي چي پـه هـغـه پوري عـمـومي مفادات وابسته وي د داسي اموالو لپاره ديني مدارس او په مجاهدينو كي مصرفول ښه مصرف دى .

دغه رنګه د كفارو جائيدادونه هم دغه حكم لري:

"وماوجف المسلمون عليه من أموال اهل الحرب بغير قتال يصرف فى مصالح المسلمين كما يصرف الخراج قالوا: هومثل الأراضى التى اجلوا اهلها عنها"(الهداية / ص: ٥٦٤ / ج: ٢ ـ شامى ١٣٨ / ج: ٤ ـ فتح القدير / ص: ٢٣ ، ٢٤ / ج: ٦)

سـوال :......

غيـر مـلـكي پيسـې جنـس لـكـه ډالر، ريال، يورو او پونډ او داسې نور د حـكـومـت لـه طرفـه پـه مـقـرره كړل سوي قيمت باندي رانيول او خرڅول ضروري دي او كه نه؟

الجـواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... د حـكـومت له طرفه په مقرره سوي قيمت باندي رانيول او خرڅول ضروري نه دي په نقد باندي تر دې په زيات او كم بـانـدي هم رانيول او خرڅول جائز دي، ځكه چي د دواړو جنس جلا دى، د جنـس بدلېدلو په صورت كي كمى او زياتى جائز دى، خو پور كـول جـائـز نـه دى، د دې وجهـي د دغـو سودا هر وخت په نقدو كول لازمي ده .

سـوال :......

د هغه قبرستان چي وقف سوى نه وي رانيول او خرڅول يې څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... كه چيري د قبرستان مځكه نه وي وقف سوې او دا يقين وي چې د مړو بدنونه خاوري سوي دي نو په داسي صورت كي د مځكي مالك په مځكه كي هر رقم مالكانه تصرف كولاى سي، دا خرڅواى هم او خلك رانيواى هم سي .

او كه چيري هديره موقوفه وي يا د وقف شائبه هم موجود وي نو ددې سودا (رانيول او خرڅول) يا په كي مالكانه تصرف كول جائز نه دي:

"لو بلى الميت وصار تراباً جاز دفن غيره فى قبره وذرعه و البناء عليه"(تبيين الحقائق / ص: ۵۸۹ / ج: ۱ ـ شامى / ص: ۲۳۸ / ج: ۲ ـ الهندية / ص: ۱٦۷ / ج: ۱ ـ الرد على الدر / ص: ٤۳۳ / ج: ٤ ـ البحر الرائق / ص: ۲٤۵ / ج: ۵).

☆......**فاريكس:**

د غير ملكي كرنسي (پيسو) تبادلې او رانيولو او خرڅولو ته فاريكس وايي نن سبا په بين الاقوامي منډيانو كي د فاريكس كاروبار ډېر زور اخيستى دى .

سوال: ......

فاريكس كاروبار جائز دى او كه نه ؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د نيټ او داسي نورو شيانو په ذريعه د بين الاقوامي ماركيټ څخه (فاريكس) غير ملكي كرنسي (پيسو تبادلې) رانيولو او خرڅولو چي كومه رائج طريقه ده په هغه كي شركت كول او د دې څخه نفع حاصلول جائز نه ده ځكه چي په دې كي قبضه نه وي او مبيع قبل القبض خرڅول او د هغه څخه نفع حاصلول جائز

نه ده .

”عن ابن عباس رضى الله تعالى عنهما قال : أما الذى نهى عنه النبى ﷺ فهو الطعام أن يباع حتى يقبض قال ابن عباس : و لا أحسب كل شيئ إلا مثله“ متفق عليه (مشكوة المصابيح / ص: ٢٤٧ ، ٢٤٤ ـ مرقات المفاتيح / ص: ٤٤ / ج: ٦ ـ الدرمع الرد / ص: ١٤٧ / ج: ٥)

سـوال :......

تړه (د دكان مخته مخكه تر سړك پورې) د استعمالولو حيله كول يا پر تړه باندې قبضه كول څنګه ده؟

الـجـواب بـاسـم الـملـهم الصدق والصواب : ...... بعضې دكانداران د دكان مخته تړه جوړوې او كله كله بيا يو څه خاورې ور واچوې تر عام سطح يې لوړه كړې دا د خپل ځان لپاره د استعمالولو جواز ثابتوې خو دا حيله نه ده صحيح ، غلطه ده . دكاندار ته په تړه كې د تصرف كولو اختيار هم نسته ، تړه د حكومت ملكيت وې او د هر خاص او عام د تېرېدو لپاره مختص وې ، د حكومت ما سوا د عام سړې لپاره پر دې باندې دا رقم قبضه كول چې عام خلك يې استعمال نه كړې د غصب په وجه باندې ناجائز او حرام ده .

” عن سالم عن ابيه قال : قال رسول الله ﷺ : من أخذ من الارض شيئاً بغير حقه خسف به يوم القيامة إلى سبع ارضين “(الصحيح للبخارى / ص: ٣٣٢ ـ مشكوة المصابيح / ص: ٢٥٦ ـ الدرمع الرد / ص: ٥٩٣ / ج: ٦ ـ خلاصة الفتاوى / ص: ١٠١ / ج: ٣ ـ البحر الرائق / ص: ٣٤٧ / ج: ٨ ـ تبيين الحقائق / ص: ١٤٢ / ج: ٦)

سـوال :......

تړه (فتیپات) په کرایه باندي ورکول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... بعضي دکانداران د دکان مخته تړه په کرایه باندي ورکوي د هغه میاشتنانه کرایه وصول کوي دا په کرایه باندي اخیستل او په کرایه باندي ورکول دواړه ناجائز دي، او د کرایه دار لپاره د دې استعمال هم نه دی جائز او دکاندار چي کومه کرایه اخلي دا حرام ده، د دې استعمال د دکاندار لپاره جائز نه دی ځکه چي د دکاندار د تړې مالک نه دی ، داسي رقم د حکومت په خزانه کي جمع کول لازمي دي که چیري دا ممکن نه وي نو بیا دي خیرات کړي .

"اذا غصب عبداً مثلاً و آجره و أخذ اجرته فنقصه بالاستعمال و ضمن ما نقص تصدق بأجر أخذه عند أبی حنیفة و محمد رحهما الله تعالى .... و یؤمران یتصدق بها لاستفادتها ببدل خبیث ، و هو التصرف فی مال الغیر"(درر الحکام شرح غرر الاحکام / ص: ٢٦٤ / ج: ٢ـ الدر المختار مع الرد / ص: ١٨٨ ، ١٨٩ / ج: ٦ ـ الهدایه / ص: ٣٧٥ / ج: ٣)

سوال: ......

پر ټیلیفون باندي بیع صرف (وټه) کول څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......بیع صرف (وټه)

یعني سره زر او سپین زر او د دا نوټو (پیسو) پر ټیلیفون باندي صحیح نه ده، ځکه په بیع صرف کي عقد په مجلس کي د دواړو جانبینو څخه قبض کول ضروري دی لو پر ټیلیفون باندي د سودا په صورت کي دا نسي کېدای .

"هو بیع بعض الأثمان ببعض : کالذهب والفضة إذا بیع احدهما بالآخر ای بیع ما من جنس الأثمان بعضها ببعض ... (فلو تجانسا شرط التماثل و

التقابض)أی النقدان بأن يبيع أحدهما بجنس الآخر فلا بد لصحته من لاتساوى وزنا و من قبض البدلين قبل الافتراق ... (و إلا شرط التقابض) أی و إن لم يتجانسا يشترط التقابض قبل الافتراق دون التماثل ... المراد بالقبض هذا القبض بالمراجم لا بالتخلية يريد باليد "(البحر الرائق / ص: ۱۹۲ ، ۱۹۳ ، ۱۹٤ / ج: ٦ ـ الدر مع الرد / ص: ۲۵۸ ، ۲۵۹ / ج: ٥ ـ شرح المجلة للاتاسی / ص: ۱۵ / ج: ۲ ، المادة : ۱۲۱)

سوال:......

پر فیشن ماډل (د بدن اعضاء د ښکاره کولو لپاره ښایسته کول) باندي اجرت اخیستل څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......پر فیش ماډل باندي اجرت اخیستل ناجائز او حرام دی ځکه چي د بدن اعضاء د ښکاره کول د پیسو ګټلو ذریعه جوړیږي او دا په

شریعت کي جائز نه دی . د غیر محرم دمخه خپل بدن ښکاره کول او لخپدل حرام او ناجائز دي . دا ښځي باید د الله جل شانه څخه وبېریږي او د داسي عمل څخه باید توبه وکړي:

"يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ "(الاحزاب : ۵۹)

"وَقَرْنَ فِيْ بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى "(الاحزاب : ۳۳)

(سورة النور : ۳۰ ـ ۳۱)(الترمذی / ص: ۲۲۲ / ج: ۱)

سوال:......

د فیصد په حساب سره کمیشن (پر دلالي باندي پیسي اخیستل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......
(۱) . کمیشن د متعین رقم په صورت کي مقررول تر ټولو ښه دی مثلاً دا یې سره وویل چي زه دديې سودا کولو په عوض کي لس زره روپۍ (کمیشن، دلالي) اخلم، او د بعضو فقهاؤ په نزد د فیصد په حساب باندي اخیستل هم جائز دي:
(۱) ."وفی التلويح : أما قول ابن عباس و ابن سيرين و أكثر العلماء لا يجزون هذا : لأنها و إن كانت اجرة سمسرة لكنها مجهولة و شرط جوازها عند الجمهور أن تكون الأجرة معلومة
"(اعلاء السنن / ص: ۲۰۷ / ج: ١٦ ـ فتح الباری / ص: ٤٥١ / ج: ٤)
(۲) . تعین د اجرت لازمي دی، او یوه آنه په یوه روپۍ هم د تعین صورت دی، د فیصد په حساب باندي دلالي متعین وي مثال لکه کامیښنه چي په څو خرڅه سوه په هغه کي پنځه فیصده دلالي اخلم نو جائز ده . (احسن الفتاوی / ص: ۲۷۳، ۲۷۴ / ج: ۷)
سوال: ......
د قبرستان (هديرې) د درختو سودا (رانیول او خرڅول) څنګه دي؟
الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......که چیري د هدیرې مځکه باضابطه توګه باندي وقف کړل سوې وي نو د د مځکي د درختو بې له رانیولو په ذاتي توکه باندي استعمالول جائز نه دي خو په دې درختو کي بې له میوې درختي د پرېکولو مخکي خرڅول جائز دي . او میوه داره درختي د پرېکولو مخکي خرڅول جائز نه دي .
د دې درختو د خرڅولو وروسته چي کومي پیسي یې وي هغه د

قبرستان (هديره) په ضروریاتو کي او يا په نورو اجتماعي مفادو کي مصرفول لازمي دي ديو سړي لپاره دا پیسې خپله د خپل ضرورت لپاره د مصرفولو اختیار نسته:

”و فى الجامع : و فى فتاوى ابن الفضل : سئل عن اشجار موقوفة مع الارض أيجوز بيعها ؟ قال لا يجوز قبل القلع كبيع الارض و بعد القلع يجوز و قال ايضا الأشجار الموقوفة إذا كانت غير مثمرة يجوز بيعها قبل القلع لانها هى الغلة بيعنهاوالمثمرة لم يجز بيعها إلا بعد القلع كبناء الوقف و الباب لا يجوز بيعه قبل الرفع“(التتارخانية / ص: ٨٧٥ / ج: ٥) و فى البزازية : .... (الفتاوى تنقيح الحامدية / ص: ١١٥ / ج: ١) الهنديه ج٢ ص ٤١٧

سوال :......

تر قبضه کولو مخکي شی خرڅول په منقولي او غیر منقولي کي صحیح دی او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :......

مځکه، دکان او مکان ماسوا د نورو منقولي شیانو د رانیولو وروسته د قبضه کولو مخکي پر يو بل سړي باندي خرڅول جائز نه دي . که چیري مخته يې پسي خرڅوي نو اول دي قبضه وکړي بيا دي مخته خر خ کړي .

غير منقولي شيان لکه مځکه، مکانات، فلېټ، کهتۍ او باغ د رانیولو وروسته د قبضه کولو درمخه مخته پسي خرڅول جائز دي .

”للمشترى أن يبيع المبيع آخر قبل قبضه ان كان عقاراً... و إن كان منقولاً فلا “(شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ١٠٣ / ج: ١ ـ الهداية / ص: ٧٧ / ج: ٣ ـ تبيين الحقائق / ص: ٤٣٧ / ج: ٤) (مجمع الانهر / ص: ١١٣ / ج: ٣)

البحر الرائق / ص: ١١٦ / ج: ٦) (الهندية / ص: ١٣ / ج: ٣)

من البيع الفاسد بيع الأعيان المنقولة قبل قبضها سواء باعها لمن اشتراها منه او لغيره ... أما البيع الأعيان غير المنقولة قبل قبضها كبيع الارض والضياع والنخيل الدور ونحو ذلك من الاشياء الثابتة التي لا يخشى هلاكها فإنه يصح۔ (الفقه على مذاهب الأربعة / ص: ٥٣٨ / ج: ١ ۔ اعلاء السنن / ص: ٣٣٦ / ج: ١٤ ۔ بدائع الصنائع / ص: ١٨١ / ج: ٥)

سوال:......

مشتري (زيد) په قسط باندي موټر واخيست تر اوسه لا قسطونه ټول نه دي ادا سوي هغه وجنګېدیا غلا سو یا ورک سو د ګټي او تاوان مالک بائع دی او که مشتري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... زيد په قسط باندي موټر واخيست تر اوسه پوري لا ټوله قسطونه نه دي ادا سوي په دې مابين کي موټر وجنګېدی یا ورک سو یا غلا سو یا غلو یوړی، نو په دې ټولو صورتو کي د تاوان ذمه وار مشتري دی، بائع نه دی . نو د دې وجهي بائع ته د دغو نقصاناتو په اړه رجوع کول صحیح نه ده ځکه د ایجاب و قبول وروسته چي کله موټر د مشتري په قبضه کي راسي نو بیا ددې ګټي او تاوان مالک مشتري دی، بائع نه دی:

"اذا هلك المبيع بعد القبض هلك من مال المشترى ولا شيئ على البائع "(درر الحكام إلى مجلة الاحكام / ص: ٢٧٨ / ج: ١ ، مادة : ٢٩٤ ۔ شرح المجلة لرستم باز / ص: ١٢١ / ج: ١ ، ماده ٢٩٤) (شرح المجلة للاتاسى / ص: ٢٢٥ / ج: ٢ ، ماده : ٢٩٤)

سوال:......

کاروبار بدلول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... چې کوم کاروبار شروع کوي د هغه څخه دمخه باید استخاره وکړل سي چې کله یو کاروبار شروع کړي نو چې تر څو پورې ممکن وي باید جاري يې وساتي، د وخت د خسارې او تاوان په وجه بانديې وار په وار بدل نه کړي، هو که چیري په تجارت کې دومره بدلون راسي چې ګټه نه وي یا اصل سرمایه ضائع کیږي نو د کاروبار په بدلولو کي هیڅ قباحت نسته. حضرت انس رضی الله تعالی عنه وايي نبي علیه السلام وویل چې چا ته کوم کاروبار پیدا سي هغه دي لازم ونیسي:

"عن انس بن مالك قال قال رسول الله ﷺ من أصاب من شيئ فليلزمه"(سنن ابن ماجه / ص: ١٥٥، ابواب تجارت۔

المسند الجامع لأبی الفضل / ص: ٤٩، ٤٨ / ج: ٢، رقم الحدیث: ٧٨٥۔

فیض القدیر للمنادی ص٦٥ / ج: ٦، رقم الحدیث ٨٤٤٧)

سوال:......

د قسطو د اختتام څخه دمخه مبیع رسولو والا د تاوان ذمه وار څوک دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... بیع که په نقدو پیسو سره وي او که په پور وي د ایجاب و قبول وروسته په قبضه کولو سره بیع تام کیږي او مشتري د مبیع مالک جوړیږي، او بائع د ثمن مالک جوړیږي، د دې وروسته چې مبیع ته کوم تاوان ورسیږي، هغه به د مشتري وي. د دې تاوان مطالبه د بائع څخه کول جائز نه ده، هو که چیري د سودا کېدو

وروسته مشتري پر مبيع باندي قبضه نه وکړه او مبيع د بائع په قبضه کي هلاک سو نو د تاوان ذمه وار به بائع وي:

"المبيع إذا هلك في يد البائع قبل أن يقبضه المشترى يهلك من مال البائع ، و لا شيئ على المشترى إذا هلك المبيع بعد القبض هلك من مال المشترى و لا شيئ على البائع ... "(شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ۱۲۰ ، ۱۲۱ / ج: ۱ ، المادة : ۲۹۳ ، ۲۹٤ ـ شرح المجلة للاتاسى / ص: ۲۲۲، ۲۲٥ ، / ج: ۲ ـ المادة : ۲۹۳ ـ ۲۹٤) (الهداية مع فتح القدير / ص: ۲۸۲ ، ۲۸۱ / ج: ٦)

سوال :......

د کافر په لاس قرآن شريف خرڅول څنګه دی؟

الجواب بإسم الملهم الصدق والصواب : ...... يو کافر ته قران شريف ترجمه والا وي يا بې له ترجمې يا خالص ترجمه وي او په ورکولو ياخرڅولو کي دا انديښنه وي چي دی د دې بې حرمتي ، اهانت او تحقير کوي ، او د دې د آدابو او حرمت خيال نه ساتي نو پر هغه باندي قرآن شريف خرڅول يا د تحفه په توګه ورکول حرام او ګناه ده .خو که چيري انديښنه نه وي نو د تعليم و تبليغ په غرض باندي يو کافر ته قرآن شريف ورکول يا د هغه په لاس باندي خرڅولو کي څه حرج نسته، جائز دی:

"و يمنع النصرانى من مسه ، و جوزه محمد إذا اغتسل ، و لا بأس بتعلمه القرآن و الفقه عسى أن يهتدى"(الدر المختار مع الرد / ص: ۱۷۸ / ج: ۱ ـ حلبي كبير / ص: ٤۹۲ ـ تكملة فتح الملهم / ص: ۳۸٦ / ج: ۳)

سوال :......

د غير مسلم ملکو څخه غوښي راغوښتل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... د کافر، بت پرست او کمیونیسټ ذبیحه حرامه ده د داسي ملکو څخه باید غوښي را و نه غواړي ځکه چي هغه خلک حیوانان د غیر اسلامي طریقې مطابق ذبح کوي مثلا غاړه یې ور وپېچي، مړې کړي، یا یې د بجلي په جټکو یې مړه کړي یا یې د لوړه ځای څخه رایله کړي مړ یې کړي وغیره، هو که چیري د مسلمانانو په ذریعه د اسلامي طریقې مطابق ذبح کوي نو هغو غوښتل راغوښتل جائز دي:

"ومنها (أی: من شرائط الذکاة) أن یکون (أی الذابح) مسلماً او کتاباً، فلا یؤکل ذبیحة اهل الشرك والمجوسی والوثنی وذبیحة المرتد" (بدائع الصنائع / ص: ٤٥ / ج: ٥ ـ الاختیار لتعلیل المختار / ص: ٢٢٩ / ج: ٤، ٢٢٨) (بحوث فی قضایا فقهیه المعاصرة / ص: ٢٥ / ج: ٢) (الدر المختار مع رد المحتار / ص: ٣٤٤ / ج: ٦)

اهل کتاب یعني یهودي او عیسایي که چیري دالله جل شانه نوم اخیستلو باندي حیوان ذبح کوي، نو هغه غوښي حلالي دي او راغوښتل یې هم جائز دي:

"اَلْیَوْمَ أُحِلَّ لَکُمُ الطَّیِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِیْنَ أُوْتُوا الْکِتَابَ حِلٌّ لَّکُمْ وَطَعَامُکُمْ حِلٌّ لَّهُمْ" (المائدة: ٥)

و تؤکل ذبیحة اهل الکتاب (بدائع الصنائع / ص: ٤٥ / ج: ٥) (الفتاوی الهندیة / ص: ٢٨٥ / ج: ٥)

سوال:......

د کټ قباله حکم څه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......په بعضي علاقو کي د کټ قبالــه رواج وي، او د دې صورت دا وي چې بعضي خلک د پیسو د ضرورت پر بناء باندې د خپل مملوکه مځکي ټوله یا څه حصه یو چا ته د پیسو په عوض لس یو لس کاله لپاره په دې شرط باندې پر خرڅوي چې مځکه خرڅلو والا چې کله دومره رقم بیرته ادا کړي نو په هغه مځکه به بیرته ورکوي تر هغه وخته پوري به مشتري (خریدار) د مځکي څخه نفع اخلي دا بیع صحیح نه ده . شرعاً دا بیع نه ده بلکه رهن دی د واپسي تر وخته پوري چې څومره آمدني وي هغه به د مشتري لپاره حلال نه ده، بلکه به د مځکي سره رهن وي، د مځکي بیرته ورکولو سره به آمدني هم بیرته ورکول لازمي دی:

"صورته أن يبيعه العين بألف على أنه إذا رد عليه الثمن رد عليه العين(الدر المختار) و فی حاشیة الفصولين عن جواهر الفتاوی هو أن يقول: بعت منك على أن تبيعه منی متی جئت بالثمن ، فهذا البيع باطل ، و هو رهن ، وحكمه حكم الرهن ، وهو الصحيح "(شامی / ص: ٢٧٦ / ج: ٥۔ المحيط البرهانی / ص: ٢٦٠ / ج: ٨۔ حاشية جامع الفصولين / ص: ٢٣٤ / ج: ٢)

سوال: ......

کرایه دار د دوو ورځو وروسته مکان یا دکان پر بېږدي نو څه به ورسره کوي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... زید یو دکان په لس زره روپۍ د میاشتي په کرایه ونیوی او مبلغ زر روپۍ پیشکي ورکړي، او دوې

ورځي په دې مكان كې د قيام وروسته ولاړې، نو كه چيري دا سړى د يو عذر په وجه سره ځي، چې شرعاً معتبر دى ، نو دوې ورځې وروسته عقد اجاره فسخ كولاى سي او د مكان مالک كه وغواړي نو د دوو ورځو كرايه د ده څخه وصول كولاى سي . او كه چيري بې له معتبر عذره څخه ځي، نو چونكه دا عقد ماهانه او مياشتانه دى، نو د دې وجهې د ټولې مياشتې كرايه ادا كول د ده پر ذمه دى ، په دې صورت كې دا سړى تر يوې مياشتې پورې مكان په خپله قبضه كې ايښوول وغواړي نو ايښوداى يې سي، د دكان وغيره هم دغه حكم دى:

"و إذا استاجر داراً سنة كل شهر بكذا فليس لواحد منهما فسخ الاجارة قبل اكمال السنة بغير عذر"(المحيط البرهانى / ص: ٢٣٧ / ج: ١١ ـ مجمع الانهر / ص: ٥٥٧ / ج: ٣ ـ الدر المنتقى على مجمع الانهر / ص: ٥٥٧ / ج: ٣ ـ الفتاوى الهندية / ص: ٤١٣ / ج: ٤)

سوال:......

د ماركيټ ريټ خرابول څنګه دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... هر سړى خپل شى په كوم قيمت باندې چې وغواړي خرڅوای سي، شريعت پر ده باندې هيڅ بنديز نه ده لګولى .

خو چې څنګه ډېره زياته ګټه اخيستل منع دي دغه رنګه تر نامناسبه حده پورې قيمتونه كمول او د ماركيټ د توازن خرابولو اجازت هم نسته . امام مالک رحمه الله پخپل كتاب "موطا" كې د حضرت عمر رضى الله عنه دا واقعه ذكر كړې ده:

"ان عمر بن الخطاب مرّ بحاطب بن ابی بلتعه و هو یبع زبیباً له بالسوق فقال له عمر بن الخطاب إما ان تزید بالسعرو إما ان ترفع سوقنا"

د مارکیټ رېتې څخه په ډېر کم قیمت باندي سامان خرڅول په اصل کي په مارکیټ کي اجاره داري قائمول او د نورو تاجرانو لاره نیول دي . په دې باندي په خاص توګه سره د کوچني تاجرانو ډېران تاوان کيږي او د دوی کاروبار کښېني د دې وجهي حضرت عمر رضی الله عنه و حضرت حاطب بن ابی بلتعه په ډېر کم قیمت باندي د کشمش خرڅولو څخه منع کړي .

"و للبائع أن یبیع بضاعته بماشاء من ثمن و لا یجب علیه أن یبیعه بسعر السوق دائماً و للتجار ملاحظة مختلفه فی تعین الاثمان و تقدیرها"(بحوث فی قضایا ی فقهیة معاصرة / ص: ٨ / ج: ١ ـ موطا امام مالك / ص: ٥٩١ ـ الجوهرة النیرة / ص: ٣٨٧ / ج: ٢ ـ السنن الکبری للبیهقی / ص: ٢٩ / ج: ٦)

سوال:......

په مارکیټ کي شی خالص دیوه دکانداره سره وي هغه يې په ګرانه بیع خرڅوي دا څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......که چیري سامان په مارکیټ کي خالص له یوه سړي سره وي نو د ده لپاره د عام مارکیټ څخه زیاته ګټه اخیستل صحیح نه ده ځکه چي په داسي صورت کي د مارکیټ څخه زیاته ګټه اخیستل د خلکو د مجبوري څخه د ګټي اخیستلو برابر ده چي دیو سړي د دې شي د رانیولو حاجت وي نو د هغه سړي څخه په رانیولو باندي مجبوره کیږي که څه هم د هغه قیمت څو مره زیات وي:

"وقال فی الدر المختار و فی النتف بیع المضطر و شراؤه فاسد، و قال

الشامی : هو أن يضطر الرجل إلى طعام و شراب او غيرها و لا يبيعه البائع إلا باكثر من ثمنها بكثير ، و كذلك فی شراء منه ... قال الخطابی : إن عقد البيع من الضرورة على هذا الوجه ، و أن لا يقتات عليه بما له ، و لكن يعاون و يقرض و يستمهل له إلى الميسرة ، حتى يكون له فی ذلك بلاغ ـ"(اعلاء السنن / ص: ٢١٣ / ج: ١٤ ـ بذل المجهود / ص: ٣٩ / ج: ١٥ ـ الدر المختار مع الرد / ص: ٥٩ / ج: ٥)

سوال:......

د مارکیټینګ (او سودا) په ذریعه د خلکو حق تلفي کولو په اړه څه حکم دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......اسلام چي څه رنګه تاجرانو ته د خریدارانو لپاره سامان مهیا کړی دی او هغو ته یې د خدمت کولو تعلیم ورکړی دی دغه رنګه یې تاجرانو ته یو د بل سره د تعاون ، روا داري او د ښه معاملې کولو او یو د بل سره د کومک او تعاون کولو تعلیم ورکړی دی ، یو او بل ته تاوان رسول او مقابله کول ، د بل د سامان په خرڅولو کي مسئله او رکاوټ وراچول هغو ته نقصان رسول په مقابله کي سره راسي قیمت ورته لاندي کړي هغه بل یوه ته د تاوان رسولو کوښښ کول، د بل ګیراکان اخیستل دغه رنګه نوري دندې کول د دې څخه اسلام منع کړې ده .

د حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی

چي نبي علیه السلام وفرمایل چي کامل مسلمان هغه دی چي د هغه د ژبي او لاس څخه مسلمان په امن وي او مهاجر هغه دی چي هغه د الله ...ل

شانه د منع سوو خبرو ښخه بند سي .
په یو بل روایت کي دي چي مومن هغه دی چي د هغه ښځه د خلکو مالونه او ځانونه په امن کي وي .
"عن عمرو بن يحيىٰ المازنى عن ابيه أن رسول الله ﷺ قال : لا ضد و لا ضرار"(موطا الامام مالك / ص: ٦٤٣ـ كشف المغطاء عن وجه المؤطا / ص: ٦٤٣ ـ مشكوة المصابيح ، كتاب الايمان / ص: ١٢ ـ ١٥)

سوال :......
د حرام مال لپاره د حلالولو حیله کول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... بعضي خلک د حرام مال حلالولو لپاره دا حیله کوي چي د یو غیر مسلم څخه قرض واخلي سامان او داسي نور شیان په واخلي او په حرامو پیسو باندي هغه قرض ور ادا کړي ، دا رقم حیلې کول جائز نه دي او په دا حیله باندي حرامي روپۍ نه حلالیږي . خالص دومره کیږي چي په قرض باندي کوم سامان واخلي هغه به حلال وي خو حرامي روپۍ ملکیت جوړول او په حرامو پیسو باندي قرض ادا کول ګناه ده . او د حیلې کولو او نه کولو نتیجه برابره ده .
"و فى شرح حيل الخصاف لشمس الائمة رحمه الله تعالى أن الشيخ أبا القاسم الحكيم كان يأخذ جائزة السلطان و كان يستقرض لجميع حوائجه ، و ما يأخذ من الجائزة يقضى بها ديونه ، والحيلة فى هذه المسائل ان يشترى نسيئة ثم ينقد ثمنه من اى مال شاء و قال ابو يوسف رحمه الله : سألت أبا حنيفة عن الحيلة فى مثل هذا ، قال : فأجابنى بما ذكرنا "(الهندية / ص: ٣٤٢ / ج: ٥ ـ الدر مع الرد / ص: ٣٨٥ / ج: ٦ ـ خلاصة الفتاوى / ص: ٣٤٩ /

ج: ٤ ـ الهـنـدية / ص: ۳۹۰ / ج: ٦ ـ سـنـن التـرمـذی / ص: ۲٤۹ / ج: ۱ ـ صحیح ابن حبان / ص: ۹ / ص: ۵ ـ رقم الحدیث ۱۷۲۳)

سـوال:......

مالِ مسروقه (غلا سوي مال) رانیول او خرڅول څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... په قصد سره د غلا مال رانیول جائز نه دی که چیري چا مال رانیوی د سودا کولو وروسته معلومه سوه چي دا مال د غلا دی نو پر خریدار (مشتري) باندي لازم دی چي مال اصل مالک ته بیرته ورکړي او خریدار د بائع څخه خپلي روپی بیرته واخلي.

او د کوم شي په اړه چي د قرائنو څخه غالب گمان داوي چي دا د غلا دی نو هغه دي نه رانیسي، او که چیري په غلط فهمي کي یې رانیوی او وروسته حقیقت واضح سو نو هغه شی دي د هغه اصل مالک ته بیرته ورکړي او مشتري (رانیونکی) بائع (خرڅولووالا) څخه بیرته خپلي روپی واخلي:

"ولو باع السارق المسروق من انسان اوملکه منه بوجه من الوجوه، فإن کان قائماً فلصاحبه أن یأخذه، لأنه عین ملکه، وللمأخوذ منه أن یرجع علی السارق بالثمن الذی دفعه "(بدائع الصنائع / ص: ۸۵ / ج: ۷ ـ البحر الرائق / ص: ٦۸ / ج: ٦ ـ شامی / ص: ٤۲ / ج: ۵)

سـوال:......

په دې شرط باندي بیع کول چي مبیع شپږ میاشتي وروسته حواله کوم دا څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... بعض خلک د دکان وغیره د

روان كاروبار او سازو سامان سره دا رقم سودا كوي چي د هغه قيمت معلوم سي خو خرڅولو والا وايي چي قيمت خو به اوس وصول كړو خو دكان به د سازو سامان سره شپږ مياشتي وروسته حواله كړو تر دا وخته پوري به په دكان كي موجود مالک داغه كاروبار كوي نو دا رقم بيع (رانيول او خرڅول) كول بيع فاسده ده شرعاً جواز نلري، ځكه چي په دې كي داسي شرط لګېدلى دى چي هغه د بيع د تقاضا منافي دى، او په دې كي يو فريق يعني بائع (خرڅولو والا) ته ګټه ده نو د دې وجهي د بيع دا صورت جائز نه دى، هو خو كه چيري بائع (خرڅولو والا) ته د روپو ډېر ضرورت وي او مشتري (رانيولو والا) د ده پر روپو وركولو راضي وي نو مشتري دي مالک ته في الحال د قرض حسنه په توګه باندي مطلوبه روپۍ وركړي چي په هغه باندي مالک خپل ضروريات پوره كولاى سي او چي كله قرض وركوي نو دا شرط دي نه لګوي چي شپږ مياشتي وروسته د دې په عوض كي بيع كوو خو شپږ مياشتي وروسته په خوښي باندي د قرض په عوض كي دكان رانيسي نو دا رقم معامله كول جائز ده:

"ومنها شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة للبائع او للمشترى او للمبيع إن كان من بنى آدم كالرقيق وليس بملائم للعقد ولا ما جرى به التعامل بين الناس نحو ما إذا باع داراً على أن يسكنها البائع شهراً ثم يسلمها اليه .... و نحو ذلك فالبيع فى هذا كله فاسد: لأن زيادة منفعة مشروطة فى البيع تكون رباً لانها زيادة لا يقابلها عوض فى عقد البيع وهو تفسير الربا... وأما بيع هذه الديون من غير من عليه والشراء بها من غير من عليه .... لم يجز بخلاف البيع و

الشراء بالدين ممن عليه الدين : لأن ما في ذمته مسلم له"(بدائع الصنائع / ص: ١٦٩ ١٨٢ / ج: ٥ ـ البحر الرائق / ص: ٨٦، ٨٥، ٨٤ / ج: ٦ ـ فقه البيوع / ص: ٤٨٧ / ٤٨٨ / ج: ١)

سوال :......

موجوده قانون په اعتبار سره چي كله سودا وسي نو د هغې سودا په نتيجه كي مبيع د مشتري په ملكيت كي منتقل سي او په عامو حالاتو كي مخكي تر قبضې ضمان هم مشتري ته منتقل سي دا څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ......د موجود قانون په اعتبار سره چي كله د يو شي بيع وسي نو د هغې سودا په نتيجه كي مبيع د مشتري خوا ته منتقل سي او په عامو حالاتو كي مخكي تر قبضې د دې ضمان هم د مشتري خوا ته نقل سي مثال لكه د يو موبايل سودا وسوه او تر اوسه پوري د موبايل خريدار لا قبضه نه وه كړې بلكه د بائع په قبضه كي وو نو د سودا كېدو په وجه د موبايل ملكيت د خريدار و طرف ته منتقل كيږي . او په دې صورت كي د موجوده ملكي قانون په اعتبار سره د موبايل ضمان هم د مشتري وخوا ته منتقل كيږي اوس كه چيري د بائع په قبضه كي هغه ضائع سي يا غلا سي يا خراب سي نو تاوان به د خريدار وي د بائع به نه وي . د دې وجهي چي په موجوده عام قانون كي د ضمان دارومدار پر قبضه باندي نه دی بلكه چي څنګه سودا وسوه ملكيت منتقل كيږي او د دې ضمان هم منتقل كيږي خو په اسلامي قانون كي دا رنګه نه دی بلكه په اسلامي قانون كي دوه شيان جلا جلا دي .

يو دا چي ملكيت منتقل كېدل دي او بل ضمان منتقل كېدل دي، په

شريعت كي چي تر څو پوري په رانيول سوي شي باندي د مشتري يا د هغه د وكيل يا نمائنده قبضه نه وي سوې تر هغو پوري شی د مشتري په ضمان كي نه منتقل كيږي كه قبضه حقيقي وي او كه عرفي، په دې كي هيڅ فرق نه راځي، په موجوده او شرعي قانون كي دا فرق دی:

"و أما ضمان المبيع بعد البيع ففيه تفصيل : فمذهب الحنفية والشافعية أن المبيع يبقى فی ضمان البائع إلی أن يسلمه إلی المشتری و ذلك لأن الضمان عندهم انما ينتقل من البائع إلی المشتری بقبض المشتری للمبيع لا بمجرد العقد : فلو هلك المبيع بعد قبض المشتری هلك من مال المشتری ... و إن هلك المبيع قبل أن يقبضه المشتری بآفة سماوية انفسخ البيع بالاجماع ... كل ما ذكرنا من أحكام انتقال الضمان ملحض للأحكام الشرعية ، و به يتبين دقة الفقهاء فی هذا الموضوع ،

أماالقوانين الوضعية فإنها لا تذكر القبض إو التخلية من شروط انتقال الضمان بل الأصل عندهم أن ضمان المبيع يتبع انتقال الملك ، فينتقل ضمان المبيع إلی المشتری فور انتقال ملك المبيع اليه ، و هذا ما صرحت به المادة : ٢٦ من قانون بيع المال السائد فی بلادنا و المبنی علی القانون الانكليزی "(فقه البيوع / ص: ٧٨٢، ٧٩٤، ٧٩٢، ط : معارف القرآن ـ شرح المجلة للاتاسی / ص: ٢٢٢، ٢٢٥ / ج: ٥، المادة: ٢٩٣، ٢٩٤ ـ درر الحكام شرح مجلة الاحكام / ص: ٢٥٢، ٢٤٩ / ج: ١، المادة: ٢٦٢، ٢٦٥ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ١٠٩، ١١٠ ـ المادة: ٢٦٥، ٢٦٢ و / ص: ١٢١، ٢١٠ / ج: ١ ـ المادة : ٢٩٣، ٢٩٤)

سوال :......

په زوره يا په مجبوره کولو باندي شى خرڅول څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چيري يو سړى د خپل شي په خرڅولو باندي راضي نه وي، نو هغه مجبوره کول، او شى په خرڅول جائز نه دى، د بيع د صحت لپاره د فريقينو رضامندي لازمي ده:

"ومنها الرضاء لقوله تعالى: إلا أن تكون تجارة عن تراض منكم.... فلا يصح بيع المكره إذا باع مكرها وسلم مكرها لعدم الرضا"(بدائع الصنائع / ص: ١٧٦ / ج: ٥ ـ شامى / ص: ٥٠٣ / ج: ٤ ـ البحر الرائق / ص: ٣٠٥ / ج: ٥)



سـوال: ......

متعين وزن والا شيان بې له وزنه خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... متعين وزن والا شيان چي د هغو وزن متعين او معلوم وي لکه بندي ډبې يا بيسکټ والا داسي نور شيان په هغو کي د بيا وزن کولو ضرورت نسته، بې له وزنه رانيول او خرڅول يې صحيح دي ځکه چې هر ظرف د اصطلاحي وزن يو آله ده . نيز په اوس وخت کي دوزن والا شيان بې له ډبې يا بيسکټ والا وغيره د عددي متقاربه په درجه کي راغلي دي او دوزن په اړه د دهوکې امکان ډېر کم دى ځکه چي په اوسني زمانه کي ناپ تول د مشيني آلاتو په ذريعه په کارخانو او فيکټريانو کي کيږي په دې کي په ښکاره د کمي او زياتي ګنجايش نه وي او په موجوده وخت کي په مشيني آلاتو باندي د خلکو اعتماد هم ډېر زيات وي، نو د دې وجهي معامله مشکوکه هم نه وي . او

بيع مجهوله نه وي:

"عن جابر رضي الله عنه قال : نهى رسول ﷺ عن بيع الطعام حتى يجرى فيه الصاعان، صاع البائع و صاع المشترى" (سنن ابن ماجه / ص: ۱۲۱ ط: قديمى. الهدايه / ص: ۷۷ / ج: ۳ ـ السنن الكبرى للبيهقى / ص: ۳۱٦ / ج: ۳ ـ رقم الحديث :۱۱۰۱۵ ـ الكفاية شرح الهداية على هامش فتح القدير / ص: ۱۱۱ / ج: ٦۳ ـ عناية على هامش فتح القدير / ص: ٤۷۷،۷۸ / ج: ٦ ـ اعلاء السنن / ص: ۲۳۹ / ج: ١٤)

سوال:......

يو څوک پر خپل جائيداد خرڅولو باندي مجبوره کول په کومو ځايو کي جائز دى او څوک کولاى سي چي (جائيداد) پر ده باندي خر څ کړي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... يو څوک د هغه د جائيداد پر خرڅولو باندي مجبوره کول جائز نه دى، تر دې په بعضو صورتو کي د حکومت يا مجازي اتهارټي د معقول معاوضې په عوض کي مالک پر خپل جائيداد باندي مجبوره کول جائز دى او د دې څه صورتونه دي هغه دا دي:

(۱):۔ اول صورت دا دى چي مقروض سړى خپل قرض نه ادا کوي او دده سره نقدي روپۍ هم نسته نو په عدالت کي د مقدمه کېدلو په صورت کي عدالت ده ته د خپل جائيداد په خرڅولو او قرض ادا کولو حکم ورکولاى سي، که چيري هغه د عدالتي حکم سره سره بيا هم ځان دوري دوري کوي نو عدالت د قرض خواه سره د انصاف کولو لپاره پخپله هم د ده جائيداد د مارکيټ په ريټ (قيمت) باندي خرڅولاى سي:

"و للقاضى يحبس الحر المديون ليبيع ماله لدينه و قضى دراهم دينه من

دراهمه و باع دنانيره بدراهم دينه و بالعكس استحساناً..... لا يبيع القاضى عرضه و لا عقاره) للدين (خلافاً لهما و به) أى بقولهما ببيعهما للذين (يفتى) ـ"(الدر المختار مع الرد / ص: ۱۵۰ / ج: ٦ ـ الموسوعة الفقهية / ص: ٤٦ / ج: ۳۹، حرف الميم ماده ملك) بدائع الصنائع / ص: ۱۷٤ / ج: ۷)

(۲):ـ دويم صورت دا دى چې يو سړى جائيداد په ګرو (رهن) ورکړى وي قرض يې اخيستى وي او هغه په مقرره وخت کي د قرض اداڼيکې نه کوي نو قرض خواه (مرتهن) په ګرو اينبى شى جائيداد خرڅ کړي خپل حق حاصلولاى سي کـه څه هم مقروض پـه راضي نـه وي پـه دې شرط چې عدالت يا قرض اخيستونکى د مارکيټ پر قيمت باندي خرڅول يقيني کړي:

"فإن حل الأجل و غاب الراهن أجبر الوكيل على بيعه و فى الرد (قوله : و غاب الراهن) ... و فيه رمز إلى أنه لو حضر الراهن لم يجبر الوكيل بل أجبر الراهن فإن أبى باعه القاضى عندهما و لم يبيع عنده قهستانى قال الرمل : و هذا فرع الحجر على الحر، و تقدم فى الحجر أن قولهما به يفتى اهـ"(الدر المختار مع الرد / ص: ٥٠٥ ـ و فيه ايضاً / ص: ٥٠٦ / ج: ٦ ـ الموسوعة الفقهية / ص: ۷۱ / ج: ۹)

(۳):ـ دريم صورت دا دى چې کله د غذايي (خوراک) شيانو قلت وي او څه خلګ دا شيان ذخيره کوي نو په دې صورت کي د حکومت لپاره دا اختيار سته چې دى (حکومت) و تاجرانو د دې خرڅولو حکم ورکړي او که چيري دوى د دې حکم تعميل و نه کړي نو حکومت د دوى د خوښي په خلاف پخپله هم دا غذايي شيان د مارکيټ په ريټ باندي خرڅواى سي:

"اذا خيف الضرر على العامة أجبر بل اخذ منه ما احتكره و باعه و أعطاه

المثل عند وجوده او قيمته و هذا قدر متفق عليه بين الائمه و لا يعلم خلاف في ذلك"(الموسوعة الفقهية / ص: ۹۵ / ج: ۲ ، مادة احتكار ط : كويت - الدر المنتقى على مجمع الانهر / ص: ۲۱۳ ، ۲۱٤ / ج: ٤)

(٤):۔ څلورم صورت دا دی چې د حکومت سره د عوامي مقاصدو لپاره د يو ځای حقيقي ضرورت وي او مالکان په خرڅولو باندي آماده نه وي نو حکومت هغه ځای په زور باندي هم اخيستی سي خو مالکانو ته د مارکيټ ريټ (قيمت) په حساب سره ادائيګي ضروري ده . د بازاري قيمت يا بې له دې چي يو متبادل ځای ور نه کړي د يو بنار اوسېدونکي د هغه د جائيداد څخه محروم کول جائز نه دي:

"ذهب الفقهاء إلى أنه إذا ضاق المسجد بالناس فيجوز توسعته على حساب الاراضي المملوكة ملكاً خاصاً و كذلك الأمر إذا احتاج الناس إلى شق طرف عامة أتوسعتها و نحو ذلك و لكن لابد من تعويض عادل يوقم بتقديره ذو الخيرة ، و قد نصت مجلة الأحكام العدلية على أنه : لدى الحاجة يؤخذ ملك كائن من كان بالقيمة بأمر السلطان و يلحق بالطريق لكن لا يؤخذ من يده ما لم يؤد له الثمن"(الموسوعة الفقهية / ص: ٦٥ / ج: ۳۹ ، ماده ، ملك) (درر الحكام شرح مجلة الاحكام / ص: ۲۳۳ / ج: ۳ ،المادة ۱۲۱٦) (شرح المجلة لرستم باز / ص: ۵۲۷ / ج: ۱، مادة : ۱۲۱٦ ايضاً)

سوال :......

د مجبور د مجبوري څخه فائده اخيستل څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... بعضي وخت يو سړی انتهايی د بې بسي او مجبوري پر بناء باندي خپل يو شی خرڅوي نو د داسي سړي

څخه د مارکیټ ریټ (قیمت) څخه پر ډېر کم قیمت باندې شی رانیول د انسانیت او مروت چونکه خلاف دی نو د دې وجهې صحیح نه دی . که څه هم مجبور سړی د مجبورۍ په وجه باندې په ښکاره خو راضي او خوشحاله وي بیا هم که څه کمې او بیشې راسې په قیمت کې څه قباحت نه دی خو په ډېر زیات فرق سره درست نه دی، نبي علیه السلام د زړه خوشحاله کولو تاکید کړی او دا خبره معلومه ده چې مجبوره سړی په خوشحاله زړه باندې په غیر معمولي او کم قیمت باندې خرڅولو لپاره تیار نه دی، نن سبا د مجبور سړي څخه په ارزانه باندې شی رانیول کمال بلل کیږي چې دا یوه ډېره ایله او ناخوښه رویه ده . د دې اصلاح ضروري ده کنې د الله رب العزت د رحمت او برکت څخه به محرومې راسي .

"نهی النبی ﷺ عن بیع المضطر" (سنن ابی داؤد / ص: ۱۲٤ / ج: ۲ - بذل المجهود / ص: ۳۹ / ج: ۱۵ - اعلاء السنن / ص: ۲۱۳ / ج: ۱٤)

سوال:......

محصول چونګی، ایکسائز او ټېکس اخیستل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... محصول چونګی، ایکسائز او ټېکس اخیستل جائز نه دي . نبي علیه السلام مبارک ویلي دي چې ټېکس اخیستلو والا جنت ته نه سي داخلېدای .

حضرت عمر ابن عبد العزیز یو والي (ګورنر) ته ولیکل چې د خلکو څخه محصول چونګی اخیستل بند کړه، ځکه چې دا محصول نه دی بلکه د ظلم ټېکس دی:

"کتب عمر بن عبد العزیز إلی عدی بن أرطاة أن منع عن الناس المائدة،

ومنع عن الناس المكس وليس بالمكس، ولكنه البخس الذى قال الله تعالى : ولا تبخسوا الناس أشياء هم ولا تعثوا فى الارض مفسدين..... "(كتاب الاموال لأبى عبيد / ص: ٦٣٢ رقم: ١٦٣٠)

سوال:.....

په مرابحه (گټه) كي د خيانت د شبه څخه ځان ساتل څنګه دى؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:..... د بيع مرابحه دارومدار پر امانت باندي دى، په دې كې د هر شي څخه ځان ساتل لازمي دي چې په هغه كي د دروا غو او خيانت شبه وي . نو د دې وجهي كه چيري بائع (خرڅولو والا) يو شى په پور رانيوى نو د ګيراک د رانيولو قميت وربښولو او خرڅولو په صورت كي دا هم وربښول ضروري دي چي ما دا شى په دومره قيمت باندي په پور رانيولى دى او په دومره ګټه باندي يې خرڅوم . ځكه په پور كي په عامه توګه باندي د نقدو په نسبت باندي قيمت زيات وي، او ګيراک نقدي روپى قيمت وبولي او په رانيولو باندي راضي سي او د پور په صورت كي راضي نه وي نو د دې وجهي د خيانت شبه سته، په مرابحه كي د دې څخه ځان ساتل لازمي دي كني نو مشتري (خريدار) ته د حقيقت معلومېدو وروسته به د بيع فسخ كولو اختيار وي:

"ومن اشترى غلاما بألف درهم نسيئة فباعه بربح مائة ولم يبين فعلم المشترى فإن شاء رده وإن شاء قبل، لان للأجل شبه بالمبيع الايرى أنه يزاد فى الثمن لاجل الاجل والشبه فى هذا ملحقة بالحقيقة... والإقدام على المرابحة يوجب السلامة عن مثل هذه الخيانة فإذا ظهرت يخير كما فى

العيب "(الهداية / ص: ٧٦ / ج: ٢ ـ الدر مع الرد / ص: ١٤٢ : ١٤١ / ج ٥ ـ بدائع الصنائع / ص: ٢٢٤ / ج: ٥)

سوال:

په مرابحه کي په دهوکو باندي د زياتو روپو اخيستلو حکم څه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چيري په بيع مرابحه کي بائع (خرڅولو والا) درواغ وويل يا يې په دهوکوه باندي د مشتري څخه زياتي روپۍ واخيستي مثال لکه په ۵۰ روپۍ باندي رانيولي شي باندي پر دې ورته وويل چي دا مي په ۶۰ روپۍ باندي رانيولی دی او هغو ته يې نوري ۵ روپۍ گټه ور زياتي کړې او په ٦٥ باندي يې خرڅ کړی، وروسته معلومه سوه چي بائع درواغ ويلي او دهوکه يې راکړې نو په داسي صورت کي مشتري لره اختيار دی د ده خوښه ده چي ذا سودا چي پر کوم قيمت باندي سوې ده پر هغه قيمت باندي يې قبوله کړي يا يې بيرته ورکړي د بائع څخه خپلي روپۍ بيرته واخلي . د تاوان يا د زيادتي واپسي (بيرته ورکولو) مطالبه نسي کولای:

"فإن اطلع المشترى على خيانة فى المرابحة فهو بالخيار عند ابى حنيفة رحمه الله تعالى إن شاء أخذه بجميع الثمن و إن شاء تركة "(الهداية / ص: ٧٤ / ج: ٣ ـ كنز الدقائق مع البحر الرائق / ص: ١١٠ / ج: ٣ ـ شامى / ص: ١٣٧ / ج: ٥)

سوال: ......

عقد مزارعت څه ته وايي؟ او د دې د صحت شرائط کوم دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د مزارعت عقد دې ته ويل

کیږي چې د مځکي مالک د یو کښتګر سره دا رقم معاهده وکړي چې کښتګر په دې مځکه کې کښتکري وکړي او چې کوم حاصلات یې حاصل سي د هغه نیمه یا دریمه یا څلورمه مثال په توګه کښت کر ته ورکول کیږي پاته به د مالک وي .

د مزارعت د صحیح والي لپاره اته شرطونه دي:

(١):۔ مځکه به د زراعت (کښت) صلاحیت لري .

(٢):۔ زمیندار او مزارع به د اهل عقد څخه وي .

(٣):۔ د مدت (وخت) تعین .

(٤):۔ د تخم ورکولو والا تعین .

(٥):۔ د حصې تعین .

(٦):۔ مزارع ته د مځکي قبضه ورکول .

(٧):۔ په حاصلاتو کي د دواړو د شرکت وینا او بیان .

(٨):۔ د تخم د جنس تعین .

"وعندهما تصح ، و به يفتى: .... (بشروط) ثمانية (صلاحية الارض للزرع ، و أهلية العاقدين و ذكر المدة) .... و ذكر (رب البذر)... (و جنسه) لا قدره لعلمه بأعلام الارض و شرطه في الإختيار و ذكر (قسط) العامل(الآخر) و لو بينا حظ رب البذر و سكتا عن حظ العامل جاز استحساناً و بشرط (التخلية بين الأرض) و لو مع البذر (والعامل و) شرط(الشركة في الخارج "(الدر مع الرد ص٢٧٥،٢٧٦ / ج: ٦)(البحر الرائق / ص: ١٥٩ / ج: ٨) (فتح القدير مع الكفاية / ص: ٤٧٥ ، ٤٧٦ / ج: ٩)

سـوال :......

د مزارعت فاسد او صحیح صورتونه کوم دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :......د مزارعت اوه صورتونه دي:

(۱):۔مځکه او تخم دواړه دیوه وي، دیوې کولو غویی او عمل د هغه بل، په نن زمانه کې ټریکټر اوعمل د هغه بل وي .

(۲):۔ مځکه دیوه وي پاته دا نور تخم او ټریکټر کرده د هغه بل وي .

(۳):۔عمل دیوه وي دا نور کرده د هغه بل وي .

(٤):۔ مځکه او غویی (ټریکټر) دیوه وي تخم او عمل د هغه بل وي .

(٥):۔غوا (ټریکټر) و تخم دیوه وي مځکه و عمل د هغه بل وي .

(٦):۔ غویی (ټریکټر) دیوه وي پاته دا نور ټول د هغه بل وي .

(۷):۔ تخم دیوه وي پاته دا نور ټول د هغه بل وي .

په دې اوو (۷) قسمو کې د مزارعت اول درې قسمونه صحیح دي او آخري څلور قسمونه د مزارعت فاسد دي:

"(وكذا) صحت (لو كان الارض و البذر لزيد، والبقر والعمل للآخر) أو لارض له و الباقى للاخر، او العمل له و الباقى للآخر) فهذه الثلاثة جائزة و بطلت فى أربعة أوجه، (لو كان الارض والبقر لزيد او البقر والبذر له، والآخر ان للآخر، والبقر أوالبذر له و الباقى للآخر فهى التقسيم العقلى سبعة أوجه "(الدر المختار مع الرد / ص: ۲۷۷، ۲۷۸ / ج: ٦ ـ البحر الرائق / ص: ١٦٠ / ج: ۸ ـ فتح القدير مع الكفاية / ص: ۲۷٦، ۲۷۷ / ج: ۹)

سوال :......

مساقات څه ته ویل کیږي او د مساقات شرائط کوم دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... د مساقاة معنی خپله درخته ...

باغ دیو بل چا په حواله کول د دې لپاره چې هغه يې او به کړي او د هغه کتنه کوي او چې هغه زياته مېوه وکړي او شرط دا وي چې د حاصلاتو يوه معينه حصه به په اجرت کې ورکول کيږي مثال لکه نيمه حصه يا دريمه حصه يا څلورمه حصه په اجرت کې ورکوي .

د مساقاة د صحيح والي شرطونه دا دي:

(۱):۔ عمل خالص د عامل په ذمه وي د باغ مالک په عمل کې شريک نه وي ، داغه د مساقاة تقاضا ده .

(۲):۔ باغ په پوره توګه سره د عامل په حواله کړي ، د دې لپاره چې د باغ درستګي جوړې پکښې جوړول زائد څوزان او پاڼې ځيني پرې کول دا کار کې کوي .

(۳):۔ د حاصلاتو د بعض معينو حصو اجرت دې مقرر کړي لکه نيمې دريمه يا څلورمه او که چيرې اجرت دا رقم متعين کړي چې د حاصلاتو څخه مثال لس منه به زما وي دا نور ستا دي نو عقد مساقاة باطليږي ځکه چې دا کېدای سي چې ټول حاصلات ګرده لس منه وي يا تر دې کم وي په دې صورت کې د عامل تاوان دی .

(۴):۔ مدت او وخت بايد متعين وي دومره مدت چې په هغه کې په آساني سره يو واري مېوه کوای سي او تيارېدای سي او هغه راشکوای سي .

او که چيري داسې مدت مقرر کړي چې په هغه کې په آساني سره يو واري مېوه نه سوای کولای او نه تيارېدای سوای نو په دې سره عقد مساقاة فاسديږي ځکه چې په حاصلاتو او مساقاة کې چې د دواړو د شرکت کوم مقصد دي هغه فوتيږي:

نوټ: .او که چیري ذیو فاسد شرط په وجه سره عقد مساقاة فاسد سي نو به ټوله مېوه د مالک وي او عامل ته به اجرت مثل ورکول کیږي:

”هي دفع الشجر إلى من يسقيه و يصلحه بجزء معين من ثمره“(ملتقى الابحر مع مجمع الانهر / ص: ١٤٨ / ج: ٤۔ الدر مع الرد / ص: ٢٨٦، ٢٨٥ / ج: ٦ ۔ البحر الرائق / ص: ١٦٤ / ج: ٨)

و إن سيما في المعاملة وقتا يعلم انه لا يخرج الثمر فيها، فسدت المعاملة لفوات المقصود و هو الشركة في الخارج و لو سميا مدة قد يبلغ الثمر فيها، و قد يتأخر عنها قليلا جازت: لأنا لا نتيقن بفوات المقصود، ثم لو خرج في الوقت المسمى فهو على الشركة لصحة العقد، و إن تأخر فللعامل أجر المثل لفساد العقد لأنه تبين الخطاء في المدة المسماة ... (الهداية / ص: ٤٢٩، ٤٣٠ / ج: ٤۔ الهندية / ص: ٢٧٧، ٢٧٨ / ج: ٥ ۔ البحر الرائق / ص: ١٦٤، ١٦٥ / ج: ٤۔ الدر مع الرد / ص: ٢٨٦، ٢٨٧ / ج: ٦)

سـوال:......

د مسائلو پر وربښولو باندي اجرت اخیستل څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... که چیري یو سړی د مفتي څخه مسئله وپوښتي او مفتي ته معلومه و نو وربښول فرض دي نو د دې وجهي پر دې باندي اجرت اخیستل جائز نه دی .

که چیري یو مفتي د خلکو د آساني او سهولت لپاره یې خپل وخت فارغ کړی وي خالص د مسئلو وربښولو او د لیکلو ورکولو لپاره یو ځای ناست وي نو چونکه دا رقم کول پر ده باندي فرض نه دی مخصوص وخت د دې کار لپاره د خاص کولو په وجه باندي د مسئلو پوښتلو والا څخه

اجرت اخیستی سي:

"یستحق القاضي الأجر علی کتب الوثائق والمحاضر والسجلات قدر ما یجوز لغیره کالمفتي فإنه یستحق أجر المثل علی کتابة الفتوی لأن الواجب علیه الجواب باللسان دون الکتابة بالبنان و مع هذا الکف اولی احترازاً عن القیل والقال و صیانة لماء الوجه عن الابتذال... "(الدر مع الرد / ص: ۹۲۰ / ج: ٦ ـ خلاصة الفتاوی / ص: ٤٨ / ج: ٤ ـ البزازیة علی هامش الهندیة / ص: ٤٩ / ج: ٥ ـ الهدایة / ص: ٤٧٤، ٤٧٥ / ج: ٤ ـ معین الحکام / ص: ٨٠)

سوال:......

پر مضارب باندي د تاوان شرط ایښول څنګه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... که چیري د عقد مضاربت په معاهدې کي د تاوان شرط پر مضارب باند کښېښوی، د مضارب د کوتاهي بغیر په تجارت کي تاوان وسو نو مضارب د تاوان ذمه دار نه دی او د دې شرط په وجه سره مضاربت نه فاسدیږي بلکه شرط خپله باطلیږي که چیري په تجارت کي ګټه وسوه نو تاوان په هغه باندي پوره کیږي او که چیري ګټه نه وسوه نو سرمایه ورکولو والا به تاوان پورته کوي:

"و غیر ذلك من الشروط الفاسدة لا یفسدها و یبطل الشرط کشرط الوضعیة علی المضارب"(الهدایة / ص: ٢٥٦ / ج: ٣) (الدر مع الرد / ص: ٦٤٨ / ج: ٥) (تبیین الحقائق / ص: ٥٦ / ج: ٥) (الفتاوی الهندیة / ص: ٣١٣ / ج: ٤) (تبیین الحقائق / ص: ٦٧، ٦٨ / ج: ٥)

سوال:......

د مضاربت فاسده حکم څه دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چيري د يو فاسد شرط په وجه باندي مضاربت فاسد سي نو د معاملې د ختمولو طريقه دا ده چي د هغه عقد څخه د حاصل سوي ټوله نفع به د رب المال وي مضارب ته به اجرت مثل ورکوي خو تر ايښول سوي نفع (ګټه) به زيات نه وي او که چيري په دې عقد کي ګټه نه وسوه نو د قول صحيح مطابق مضارب به د اجرت حقدار نه وي:

"و إذا عمل المضارب في المضاربة الفاسدة و ربح كان كل الربح لرب المال و للمضارب أجر المثل تاماً ، لأن المضاربة إذا فسدت تبقى اجارة ، و فى الاجارات الفاسدة إذا عمل الاجير كا ن له اجر مثله تاماً "(فتاوى قاضيخان على هامش هندية / ص: ١٦٢ / ج: ٣ ـ بدائع الصنائع / ص: ١٠٨ / ج: ٦ ـ الدر مع الرد / ص: ٦٤٦ / ج: ٥)

استحقاق رب المال لربح ما له فيكون جميع الربح له فى المضاربة الفاسدة والمضارب بمنزلة أجيره يأخذ أجر المثل لكن لا يتجاوز المقدار المشروط حين العقد ...(شرح المجلة للاتاسى / ص: ٦٦٢ / ج: ٤ ، المادة ١٤٢٦ ـ شامى / ص: ٢٤٦ / ج: ٥ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ٥٩٢ / ج: ٢)

سوال: ......

مضاربت په وخت باندي مقيد کول څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... مضاربت په وخت مقيد کول جائز دی خو که چيري د فريقينو څخه يو د مقرره وخت دمخه مضاربت ختم کول وغواړي نو هغه بل فريق ته به اطلاع ورکوي بيا يې ختم

کولای سي او که چيري يې د مقرره وخت دمخه ختم نه کړي نو د هغه مقرره وخت ختم کېدلو سره مضاربت ختم کيږي .

"و أما صفة هذا العقد فهوأنه عقد غير لازم ، و لكل واحد منهما اعنى رب المال والمضارب الفسخ لكن عند وجود شرطه و هو علم صاحبه لما ذكرنا فى كتاب الشركة و يشترط ايضا ان يكون رأس المال عيناً وقت الفسخ دراهم او دنانير حتى لو نهى رب المال المضارب عن التصرف و رأس المال عروض وقت النهى لم يصح نهيه"

(بدائع الصنائع / ص: ۱۰۹ / ج: ٦ ـ هداية المجتهد / ص: ۱۸۱ / ج: ۲ ـ ملتقى الابحر مع المجمع / ص: ٤٥٧ / ج: ۳

و إن وقت للمضاربة وقتا بعينه يتقيد به حتى يبطل العقد بمضيه (الهندية / ص: ۲۹۸ / ج: ٤ ـ شرح المجلة / ص: ۳٥٥ / ج: ٤ ، المادة : ۱٤۲۰ ـ الهداية / ص: ۲٦٥ / ج: ۳)

سوال:......

په اسلام کي د مضاربت څه اهميت دی؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب : ...... مضاربت يو ښه اوخوښ عمل دی: نبي عليه السلام د نبوت د اعلان دمخه د حضرت بي بي خديجې رضى الله عنها د مال سره د مضاربت لاندي تجارت وکړ :

"و قد خرج ﷺ فى قراض بمال خديجة رضى الله عنها"(المحلى بالآثار / ص: ۹٦ / ج: ۷) (الفقه الاسلامى و أدلته / ص: ۳۹۲٦ / ج: ٥ـ زاد المعاد / ص: ۱٥٤ / ج: ۱)

۲ . دغه رقم ابن عباس رضى الله عنه پر مخصوص شرائط باندي کاروبار

کوي کله چي نبي عليه السلام خبر سو نو نبي عليه السلام د خوښولو اظهار وکړی . (المبسوط للسرخسی / ص: ۲۲ / ج: ۱۸)

۳ .نبي عليه السلام وويل چي مضاربت کي برکت دی . (سنن ابن ماجه / ص: ۱٦۵)

۴ . حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه مضاربت کاوه . (نصب الرايه ۱۱۵ / ج: ۴ .

۵ . داغه رقم د حضرت عمر رضی الله عنه د زامنو شان کي واقعه سته مطالعه يې کړه . (المبسوط للسرخسی / ص: ۱۸ / ج: ۲۲)

سوال:......

د مضاربت لپاره کوم کوم شرائط دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......د مضاربت د صحيح والي لپاره څو شرائط دي چي د هنو څخه اهم شرطونه دا دي:

۱ . سرمايه نقدي يا زر ، بايد د سپينو زرو په صورت کي وي د تجارت د مال سره مضاربت جائز نه دی نقدي يا زر يا سره زر ضروري دي، د دې وجه دا ده چي د تجارت د مال په قيمتونو کي کمي و بيشي راځي چي د هغه په وجه سره د سرمايه قدر او د ګټي مقدار هم بدليږي لکه يو سړی وايي چي دا پنبه يا غنم يا کپړه (ټوکر) په زر روپۍ باندي دي دا پنبه يا غنم يا کپړا (ټوکر) واخله او دا د مضاربت پر بناء باندي خرڅ کړه دا معامله نه ده صحيح خو که چيري مضارب ته دا ووايي چي د تجارت دا مال واخله او د دې د خرڅولو وروسته چي کومه سرمايه حاصله سوه په هغه باندي زما سره مضاربت وکوه نو د مضاربت دا صورت جائز دی :

"منها أن يكـون رأس الـمـال من الدراهم او الدنانير عند عامة العلماء فلا تـجـوز المضاربة بالعروض ... و لأن المضاربة بالعروض تؤدى إلى جهالة الربح وقت القسمة لأن قيمة العروض تعرف بـالـحزر والظن و تختلف باختلاف الـمقومين والجهالة تفضى إلى المنازعة و المنازعة تفضى إلى الفساد و هذا لا يـجـوز و قـد قالوا : إنه لو دفع اليه عروضاً ، فقال له : بعها و اعمل بثمنها مضاربة بدراهم او دنانير و تصرف فيها جاز ، لأنه لم يضف المضاربة إلى العروض و إنما أضافها إلى الثمن والثمن تصح به المضاربة"(بدائع الصنائع / ص: ۸۲ / ج: ۲ ـ الـدر الـمختار مع الرد / ص: ٦٤٧ / ج: ٥ ـ شرح المجلة لرستم باز / ص: ٥٨٤ / ج: ۲ ـ المادة ـ ١٤٠٩)

۲ . د مضاربت د معاهدې په وخت کې د سرمايې مقدار معلومول ضروري دي د دې د وجهې چې بيا وروسته د سرمايې د مقدار په اړه جنګ و جګړې و نه سي:

"يشترط فى الـمضاربة أن يكون رأس المال معلوماً كشركة العقد ايضاً لئلا يقعا فى المنازعة"(شرح المجلة لرستم باز / ص: ٥٨٥ / ج: ۲ ، المادة : ١٤١١ ـ الدر المختار مع الرد / ص: ٦٤٧ / ج: ٥ ـ بدائع الصنائع / ص: ۸۲ / ج: ٦)

۳ . د مضاربت د معاهدې په وخت کې د سرمايه دار سره سرمايه ضروري ده کـه چيري پـر مـضـارب بـانـدي قـرض وي نـو د هـغـه پر بنيـاد بـانـدي د مضاربت معاهده کول صحيح نه ده خو که چيري مضارب ته د مضاربت د کاروبار شروع لپاره ديو بل سړي څخه د قرض وصول کولو وويل سي نـو مـضـاربـت صـحيح کيږي او په دې صورت کې د مضارب د قرض په وصولولو کې به د سرمايه دار نمائنده وي:

”و منها أن يكون رأس المال عيناً لا ديناً فإن كان ديناً فالمضاربة فاسدة و على هذا يخرج ما إذا كان لرب المال على رجل دين ، فقال له : إعمل بديني الذي في ذمتك مضاربة بالنصف أن المضاربة فاسدة بلا خلاف .... و لو قال لرجل : اقبض على فلان من الدين و اعمل به مضاربة جاز ، لأن المضاربة هنا أضيف إلى المقبوض فكان رأس المال عينا لا ديناً“(بدائع الصنائع / ص: ۸۳ / ج: ٦) و أما المضاربة بدين فإن على المضارب لم يجز ، و إن على ثالث جاز۔(الدر المختار مع الرد / ص: ٦٤٧ / ج: ٥)(تحفة الفقهاء / ص: ۲۰ / ج: ۳)

۴ . د معاهدې په وخت کي سرمايه د مضارب په قبضه کي ورکول ضروري ده د دې لپاره چي هغه په دې کي تصرف وکړي که چيري دا وويل سي چي سرمايه دار دمضارب سره حصه اخلي نو د مضاربت معاهده منسوخ کيږي:

”و كونه مسلماً إلى المضارب: ليمكنه التصرف ، و في الشامية : قوله : مسلماً) فلو شرط رب المال أن يعمل مع المضارب لا تجوز المضاربة “(الدر المختار مع الرد / ص: ٦٤٨ / ج: ٥ ۔

بدائع الصنائع / ص: ٨٤ / ج: ٦ ۔ البحر الرائق / ص: ٤٤٩ / ج: ٧)

٥ . د منافع (گټي) په اړه د مضارب حصه د گټي فيصد يا دتناسب په لحاظ سر معلومول ضروري دي . مثال لکه د گټي نيمی يا دريمه يا د گټي لس فيصده مضارب ته او نهه نوي ۹۹ فيصده سرمايه دار ته نو دا صحيح ده او که چيري دا وويل سي چي په دې سرمايه باندي کاروبار وکړه او د گټي څخه به تا ته دوه زره روپۍ در کول کيږي نو د مضاربت معامله

فاسديږي دغه رنګه داويل چي نيمه ګټه او د هغه ماسوا زر روپۍ هم درکوم نو دا صورت هم نه دی جائز:

"وكون الربح بينهما شائعاً : فلو عين قدر افسدت "(الدر المختار / ص: ٦٤٨ / ج: ٥ ـ بدائع الصنائع / ص: ٨٦ / ج: ٦ ـ مجمع الانهر / ص: ٤٤٦ / ج: ٣)

٦ . د مضارب حصه دي د ګټي څخه معلومه کړي د اصل سرمايه څخه مثلاً که چيري داوويل سي چي نيمه سرمايه ستا ده او د ګټي څخه هم دومره او دومره حصه ده نو دا صحيح نه ده، دغه رنګه مضارب ته د ګټي څخه نيمي يا د دريمي حصې ماسوا مياشتانه تنخواه هم ورکول داشرط هم صحيح نه دی . په دې صورت کي شرط باطليږي او د مضاربت معاهده صحيح ده او مضارب ته به تنخواه نه ورکول کيږي خو د ګټي څه به متعينه حصه ورکول کيږي او که يې چيري داشرط کښېښوی چي مضارب ته د اوسېدلو لپاره سراى مکان يا د کښت لپاره مځکه هم ورکول کيږي نو د مضاربت معاهده فاسديږي:

" و ذكر محمد فى المضاربة إذا قال رب المال للمضارب لك ثلث الربح و عشرة دراهم فى كل شهر ما عملت فى المضاربة صحت المضاربة من الثلث و بطل الشرط ... و على هذا الاصل قال محمد : فيمن دفع الفاً مضاربة على أن الربح بينهما نصفين على أن يدفع اليه رب المال أرضه يزرعها سنة او داراً يسكنها سنة فالشرط باطل و المضاربة صحيحة لانه الحق بها شرطاً فاسداً لا تقتضيه فبطل الشرط و لو كان المضارب و هو الذى شرط عليه أن يدفع أرضه ليزرعها رب سنة او يدفع داره إلى رب المال ليسكنها سنة فسدت المضاربة لانه جعل نصف الربح عوضا عن عمله و عن أجرة الدار و الارض فصارت

حصة العمل مجهولة العقد فلم يصح العقد"(بدائع الصنائع / ص: ٨٦ / ج: ٦ - تبيين الحقائق / ص: ٥٥ / ج: ٥ - المبسوط للسرخسی / ص: ١٧ / ج: ٢٢)

٧ . که چیري د مضارب سره د سرمایه کاري مال یا مالي ذرائع د کرو و په توګه ورسره وي او سرمایه دار د مضارب څخه قرض اخیستی وي نو پر داسي سرمایه باندي مضاربت صحیح نه دی:

"و منها ان يكون رأس المال عيناً لا ديناً ، فإن كان ديناً فالمضاربة فاسدة و على هذا يخرج ما إذا كان لرب المال على رجل دين ، فقال له : اعمل بديني الذي في ذمتك مضاربة بالنصف أن المضاربة فاسدة بلاخلاف... و لو قال لرجل : اقبض مالي على فلان من الدين و اعمل به مضاربة جاز (أن المضاربة هنا أضيف إلى المقبوض فكان رأس المال عيناً لا ديناً"(بدائع الصنائع / ص: ٨٣ / ج: ٦ - الدر المختار على الرد / ص: ٦٤٧ / ج: ٥ - تحفة الفقهاء / ص: ٢٠ / ج: ٣)

سوال:......

محترم مفتي صاحب د مضاربت د مدت په اړه مؤدبانه څه معلومات راکړئ؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د مضاربت د معاهدې د مدت په اړه دا څو خبري یاد وساتئ:

١ . په مضاربت کي د سرمایه دار او مضارب څخه چي هر یو فریق یا دواړه فریقه چي کله وغواړي د مضاربت معاهده منسوخ کولای سي . که چیري د مضاربت په معاهده کي د دوو څخه زیات افراد شامل وي نو هغه پاته افراد د مضاربت معاهده بر قراره ساتلای سي:

"و أما صفة هذا العقد فهو أنه عقد لازم و لكل واحد منهما اعنى رب المال و المضارب الفسخ "(بدائع الصنائع / ص: ۱۰۹ / ج: ٦ ـ درر الحكام شرح مجلة الاحكام / ص: ٤٥٦ / ج: ٣ـ شرح المادة : ١٤٢٤ ـ الدر المختار مع الرد / ص: ٦٥٤ / ج: ٥ ـ مجمع الانهر / ص: ٤٥٦ / ج: ٣ ـ الفقه الاسلامى و ادلته / ص: ٣٩٢٩ / ج: ٥ـ

۲ .د مضاربت معاهده تر يو خاص وخته پوري هم کېدای سي او تر لا محدوده وخته پوري هم کېدای سي:

"و جزم فى الخانية بأنها تتوقت حيث قال : والتوقيت ليس بشرط لصحة هذه الشركة و المضاربة ، و إن وقتا لذلك وقتاً بأن قال : ما اشتريت اليوم فهو بيننا صح التوقيت فما اشتراه بعد اليوم يكون للمشترى خاصة و كذا لو وقت المضاربة لانها و الشركة توكيل والوكالة مما يتوقت ... اه "(شامى / ص: ۳۱۲ / ج: ٤ ـ فتاوى قاضيخان على هامش الهندية / ص: ٦١٣ / ج: ٣ ـ فتاوى قاضيخان على هامش الهندية / ص: ٦١٣ / ج: ٣ ـ مجمع الضمانات / ص: ٢٩٨ / ج: ١)

۳ . که چیري د مضاربت معاهده د دوو افرادو په مابين کي وي نو د يوه فريق په مرګ سره معاهده ختمېږي خو د دوو څخه تر زياتو افرادو په صورت کي د مضاربت معاهده پاته خلک جاري ساتلای سي .

"و تبطل المضاربة بموت احدهما"(الدر المختار مع الرد / ص: ٦٥٤ / ج: ٥) (مجمع الانهر / ص: ٤٥٦ / ج: ٣ ـ الاختيار لتعليل المختار / ص: ٢٤ / ج: ٣ ـ)

"فلو كانوا ثلاثة فمات احدهم حتى انفسخت فى حقه لا تنفسخ فى حق الباقيين "بحر عن الظهيرية (شامى / ص: ٣٢٧ / ج: ٤) (البحر الرائق / ص: ٣٠٨ / ج: ٥) (الفتاوى التاتارخانية / ص: ٤٧٦ / ج: ٧)

۴ . د مضاربت معاهده چې پخواپر کومو شرائطو باندې سوې وې پر هغو شرائطو باندې يې روانه ساتي سې مثال لکه د مضاربت معامله تر يو معين وخت پورې وسوه او چې کوم کار شروع سو هغه تر مقرره مدت دمخه لا ختم سو په دا صورت کې مضارب سرمايه تر پاتې وخته پورې په بل کاروبار کې لګولای سي خو په دې صورت کې د ګټې تاوان په حواله سر د فقهاؤ اختلاف دی .

سوال :......

په مضاربت کې د دفتري کاروايي مصارف به څنګه ادا کيږي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... مضارب په مضاربت کې د تجارت په کار کې سرمايه لګولو والا له خوا څخه وکيل وي . د دې وجهې د مضاربت ټوله اخراجات د سرمايه لګولو والا د سرمايې څخه به ادا کيږي بيا که چيري په تجارت کې ګټه وسوه نو تر ټولو دمخه به اصل سرمايه پوره کيږي بيا د دې وروسته پاته ګټه به د مضارب او سرمايه لګولو والا په مابين کې د معاهدې مطابق تقسيميږي او که چيري په تجارت کې ګټه نه وسه نو پر مضارب باندې هيڅ شی نه لازميږي او مضارب ته به د هغه د عمل بدله نه ورکول کيږي:

”و يملك المضارب فی المطلقة التی لم تقيد بمكان او زمان او نوع البيع ... والشراء والتوكيل بهما والسفر برا وبحرا... و الابضاع) أی دفع المال بضاعة ... و يملك الايداع و الرهن و الارتهان و الاجارة و الاستئجار) الدر المختار - وفی رد المحتار : (قوله و الاستئجار) أی استئجار العمال للاعمال و المنازل لحفظ الاموال والسفن والدواب ... و الاصل ان التصرفات فی المضاربة ثلاثة

اقسام : قسم هو من باب المضاربة ، و توابعها فیملکه من غیر أن یقول له اعمل ما بدالك کالتوکیل بالبیع والشراء والرهن والارتهان والاستئجار والایداع والابضاع والمسافرة"(الدر مع الرد / ص: ٦٤٨ / ج: ٥ ـ الدر مع الرد / ص: ٦٥٨ / ج: ٥ ـ قاضیخان علی هامش الهندیة / ص: ١٦٦ / ج: ٣ـ الهندیة / ص: ٣١٣ / ج: ٤ ـ شرح المجلة للاتاسی / ص: ٣٦٣ / ج: ٤ ـ المادة : ١٤٢٧ ـ بدائع الصنائع / ص: ١٠٨ / ج: ٦ ـ تحفة الفقهاء / ص: ٢٥ / ج: ٣)

سوال:......

چي پر یو مځکه باندي مقدمه شروع وي مالک یې هم نه وي معلوم د دې مځکي خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چیري پر یو مځکه باندي مقدمه وي نو چي تر څو پوري فیصله نه وي سوې تر هغو پوري دا خرڅول جائز نه ده ځکه چي تر فیصلې دمخه مالک څوک دی معلوم نه دی که چیري بالفرض مالک څوک وي معلوم وي بیا هم د عدالت د فیصلې څخه دمخه په حواله کولو باندي به قدرت نه وي او مبیع (خرڅ سوی شی) حواله کولو باندي قدرت نه درلودلو په صورت کي بیع صحیح نه ده:

"و شرط المعقود علیه ستة : کونه موجوداً مالاً متقوماً مملوکاً فی نفسه ، و کون الملك للبائع فیما یبیعه لنفسه و کونه مقدور التسلیم فلم ینعقد بیع المعدوم ... و لا بیع ما لیس مملوکاً له و إن م لکه بعده ... و لا بیع معجوز التسلیم"(شامی / ص: ٥٠٥ / ج: ٤)(البحر الرائق / ص: ٢٥٩ / ج: ٥ـ بدائع الصنائع / ص: ١٤٧ / ج: ٥ ـ امداد الفتاوی / ص: ٣٤ / ج: ٣)

سوال:......

ملاوټ کول څه حکم لري؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چیري په یو شي کي ملاوټ وو خالص شی نه وو نو خرڅولو په وخت کي دي ګیراک ته دا وواېي چي دا خالص نه دی په دې باندي فلانکی شی ګډ دی نو دا جائز دی .او که چیري د ملاوټ والا شی د خالص په نامه باندي خرڅوي نو د درواغو او دهوکې په وجه باندي ناجائز او ګناه ده .

"قال الله تعالی:يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ "(سورة النساء :۲۹)

"عن أبی هريرة رضی الله عنه أنّ رسول الله ﷺ مرّ برجل يبيع طعاماً فسأله : كيف تبيع ؟ فأخبره ، فاوصی اليه أن ادخل يدك فيه ، فأدخل يده فاذاهو مبلول، فقال رسول الله ﷺ ليس منّا من غش "(بذل المجهود / ص: ۲۷۳ / ج: ۵ ـ مشكوة المصابيح / ص: ۲٤۸ ـ تبيين الحقائق / ص: ۳۳۵ / ج: ٤ ـ)

سوال:......

زید په اوړو کي یا په داسي بل شي کي ملاوټ کړی دی اوس عمر د ملاوټ په اندازه تاوان اخیستی سي او که نه

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ......د ملاوټ په اندازه باندي تاوان وصول کول جائز دی مثال عمر اوړه رانیوله او پاخه یې کړل نو معلومه سوه چي په دې کي کچره یا داسي بل شی ګډ دی عمر بیرته وروړل او هغه بائع (زید) د ملاوټ په اندازه باندي وړه ورکړل نو دا معاوضه اخیستل صحیح ده . د ملاوټ تر اندازې زیات اخیستل صحیح نه دي او که یې فر

ق ډېر کم وو نو د هغه په عوض کې هم تاوان اخیستل صحیح نه دی:

"رجل اشتری حنطة فوجود فیها تراباً قال الشیخ الامام هذا رحمه الله تعالی : إذا کان التراب مثل ما یکون فی الحنطة و لا یعد عیباً عند الناس لیس له أن یرد و إن کان یعد عیباً عند الناس إلا أنه لیس بفاحش کان له أن یرد و إن کان التراب فاحشاً کان الخیار للمشتری إن شاء أخذ الحنطة بقسطها من الثمن و إن شاء رد الحنطة و یأخذ کل الثمن کما لو اشتری حنطة علی أنها عشرة أقفزه فوجدها تسعة کان له الخیار علی هذا الوجه "(قاضیخان علی هامش الهندیة / ص: ۱۹۹ / ج: ۲ ـ شامی / ص: ۲٦ / ج: ٥)

سـوال:......

کـه چیري ملاوټ پـه یو شي کې معمولي وو په عرف کې اعتبار نه وو ورته نو بیا مشتري مبیع واپس کولای سي او که نه؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... کـه چیري پـه یوشي کې ملاوټ معمولي وو پـه عرف و رواج کې دې تـه اعتبار نـه وو نو پـه دې باندې پر بیع (رانیول او خرڅول) باندې اثر نه کوي او مشتري لره د مبیع (رانیولي شي) د واپس کولو بیرته وروړلو اختیار نستـه:

" اشتری خمس مائة قفیز حنطة فوجد فیها تراباً، إن کان ذلك التراب مثل ما یکون فی مثل تلك الحنطة ، و لا یعده الناس عیباً لیس له أن یرد"(الهندیة / ص: ۷٤ / ج: ۳ ـ بزازیة علی هامش الهندیة / ص: ٤٤١ / ج: ٤ ـ فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة / ص: ۱۹۹ / ج: ۲)

سـوال:......

د میموري کارډ رانیول او خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... د خالي ميموري کارډ تجارت جائز دی او که چیري (ميموري کارډ) خالي وو هغه ته يې يو شی ور اچولی وو نو په دې کي تفصيل دا دی
چي که چيري يې و دې ته د قرآن شريف آيا تونه، سورتونه يا نظمونه نعمتونه او تقريرونه ور اچولي وو نو د دې رانيول او خرڅول جائز دي او آمدن يې هم حلال دی او که چيري يې فلم، ډرامې د ذی روح تصوير، فحش مواد، او غزلي، ګانې ور اچولي وې نو د داسي ميموري کارډ تجارت او رانيول و خرڅول جائز نه دی او د دې روپۍ هم حرامي دي:
"جواز البيع يدور مع حل الانتفاع به و حرمة الانتفاع بها"(مجمع الانهر / ص: ۱۵۱ / ج: ۳ ـ الفقه الاسلامی و ادلته / ص: ۳٤۳۱ / ج: ٥ ـ الدر المختار مع الرد / ص: ۲٦۸ / ج: ٤ ـ جامع الترمذی / ص: ۱٥٤ / ج: ۲ ـ الفتح الكبير فی ضم الزيادة إلى جامع الصغير / ص: ۳۱٤ / ج: ۳ ـ مشكوة المصابيح / ص: ۲٤۲)

سوال: ......
چي مال نه وي ورسره پر نمونه ورښکاره کولو باندي بيع کول څنګه ده؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... بعضي کاروباري خلګ داسي وي چي مال نه وي ورسره دوی د ځان سره د مال نمونه (سيمپل) ايښی وي کيراک ته د مال نمونه يا سيمپل ورښکاره کړي بيا سودا کوي او د معامله کېدو وروسته د بل دکاندار يا مِل والا څخه مال رانيسي او مشتري ته يې ور کوي، په دې اړه شرعي حکم دا دی چي کوم مال وسره نه وي د هغه نمونه ورښکاره کولو باندي سودا کول جائز نه ده، شرعاً دا بيع نه کيږي ځکه چي د داسي شي خرڅول چي هغه پخپل ملکيت کي نه وي

شرعاً جواز نلري .

خو ددې جـائـز صـورت دا دى چـې دكـاندار يا كـاروبـاري حضـرات دې كيـراك تـه نـمـونـه وربنـكاره كړي د مال آرډر دې واخلي او دا به بيـع وعده وي بيـع نـه ده او پـر دې بيـع بـانـدي احكام هم نه جاري كيـږي مثلا دكاندار كيـراك تـه دا ووايـي چـې د دې نـمـونـې د مال اړډر ما ته راكړه زه هغه درته راوړم او كـه چيـري كيراك پر دې آرډر باندې د مال روپۍ دمخه وركړي نو بيـا دي ورتـه ووايـي چې دا امانت دى يا قرض دى او بيع (سودا) هغه وخت كيـږي چـې كـوم وخـت مـال وصـول سي يا چې كوم وخت آرډر واخلي هغه وخت دي بـالـكـل پيسـې نـه اخلـي بلـكـه چې كوم وخت يې مـال ځيني واخيست بيا دي روپۍ وركړي، په دې دواړو صورتو كي نمونه وربنكاره كولو باندې معامله كول جائز ده:

"عـن حكيم بن حزام قال : نهانى رسول الله ﷺ أن ابيع ما ليس عندى ـ رواه الترمذى فى رواية له و لابى داؤد والنسائى ، قال : قلت يا رسول الله يـأتينى الرجل فيريد منى البيع و ليس عندى فاتباع له من السوق ، قال: لا تبع ما ليس عندك "(مشكوة المصابيح / ص: ٢٤٨ ـ فقه البيوع / ص: ٧٧ / ج: ١ ـ درر الحكام إلى مجلة الاحكام / ص: ١٤٠ / ج: ١ ـ المادة : ١٧١)

سـوال :......

زيـد و يـوې كـمـپـنـۍ يـا كـاريـكـر تـه مـال جوړولو آرډر وركړى هغه مال د نمونې مطابق جوړ نه كړى نو مال واپس كول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب :...... كه چيري يو سړي يو كمپنۍ يا يو كاريګر ته د مال جوړولو آرډر وركړى او هغه (كمپنۍ يا كاريګر) هغه

مال د نمونې مطابق جوړ نه کړ نو بيرته ورکول صحيح دی، هو که چيري د نمونې مطابق يې جوړ کړی وو نو بيرته ورکول (واپس کول) صحيح نه دی .

ياد ساته چې په آډر باندې مال ور جوړولو ته د شريعت په اصطلاح کې استصناع وايي او په عقد استصناع کې چې کله د نمونې مطابق مال جوړ نکړی نوو اپس کول بيرته ورکول صحيح دي او که چيري يې د نمونې مطابق جوړ کړی وو نو بيا يې نه سي واپس کولای .

"اذا انعقد الاستصناع فليس لاحد العاقدين الرجوع و إذا لم يكن المصنوع على الاوصاف المطوبة المبينة كان المستصنع مخيراً "(شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی / ص: ٤٠٦ / ج: ٢ ـ المادة : ٣٩٢ ـ شرح المجلة لسليم رستم باز / ص: ١٧٦ / ج: ١ ـ امادة / ٣٩٢ ـ الموسوعة الفقهية / ص: ٣٢٩ / ج: ٣ ، حرف الالف)

سوال:......

زاړه نوټونه (د روپو کاغذان) په کم يا زيات قيمت باندې رانيول او خرڅول څنګه دي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب:...... څيري زاړه نوټونه په کم يا زيات قيمت باندې رانيول و خرڅول جائز نه دي هو که چيري څيري زوړ نوټ يې د نوټ ماسوا په بل شي يا په يو بل جنس د روپو په عوض باندې چې څه رقم وغواړي رانيول او خرڅول يې جائز دی:

"فالصحيح الراجح فی زماننا ان مبادلة الاوراق النقدية انما تجوز بشرط تماثلها ، ولا يجوز التفاضل فيها "(تكملة فتح الملهم / ص: ٥٩٠ / ج: ١ ـ

الهدية / ص: ٨١ / ج: ٣)(بحوث في قضايا فقهيه معاصرة ص ١٦٤ ط دار العلوم کراچی۔)

سوال:......

د نيلام مال رانيول څه حکم لري که چيري حکومت د مقروض (مديون) د مالونو نيلامولو حکم وکړي؟

الجواب باسم الملهم الصدق والصواب: ...... که چيري حکومت د مديون (مقروض) اموال د نيلامولو او خرڅولو حکم وکړي نو هغه اموال رانيول جائز دي که مقروض خوشحاله (راضي) وي او که ناراض وي په دواړه صورتو کي جائز دي او دا د صاحبينو مسلک دی:

"ولوله عقار يحسبه) أي (ليبعه و يقضي الدين) الذى عليه (ولو بثمن قليل) بزازية وسيجئ تمامه(قوله : وسيجئ تمامه في البحر) قال : المصنف رحمه الله و الشارح رحمه الله هناك و القاضي يحبس الحر المديون لبيبع ماله لدينه و قضى دراهم دينه من دراهمه يعنى بلا أمره ، و كذا لو كان دنانير و باع دنانيره بدراهم دينه و بالعكس استحسانا لاتحادهما في الثمنية لا يبيع القاضي عرضه و لا عقاره للدين خلافا لهما ، و به اى بقولهما ، بيعها للدن يفتى اختيار و صححه في تصحيح القدوری ، و يبيع كل ما لا يحتاجه للحال اهـ وحاصله : أنه إذا امتنع عن البيع يبيع عليه القاضي عرضه و عقاره و غيرهما ـ و في البزازية و فرع عليه صحة الحجر أنه يترك له دست من الثياب ، و يباع الباقي و تباع الحسنة و يشترى له الكفاية و يباع كانون الحديد و يشترى له من طين ، و يباع في الصيف ما يحتاجه للشتاء و عكسه "(الدر مع الرد / ص: ٣٨٧ / ج: ٥ - التصحيح والترجيح للعلامة قاسم بن قطلو بغا : / ص: ٢٤٤ ، ط: دار الكتب العلمية ـ الاختيار لتعليل المختار / ص: ٩٨ / ج: ٢)

